# د افغانستان د اساسي حقوقو مبادي

**An Introduction to the Constitutional Law of Afghanistan**

AFGHANISTAN LEGAL EDUCATION PROJECT

د افغانستان د حقوقي زده کړو پروژه (ALEP)
د سټانفورډ پوهنتون د حقوقو پوهنځۍ


Stanford Law School
alep.stanford.edu
afghanistanlegaleducation@gmail.com
Stanford Law School
Crown Quadrangle
559 Nathan Abbott Way
Stanford, CA 94305-8610
www.law.stanford.edu

**ALEP Authors**

*Rose Leda Ehler*
*Elizabeth Espinosa*
*Jane Farrington*
*Gabe Ledeen*
*Daniel Lewis*

**ALEP Editors**

*Stephanie Ahmad*
*Catherine Baylin*
*Jane Farrington*
*Sam Jacobson*
*Jay Minga*
*Ingrid Price*

**AUAF Contributing Faculty Editors**

*Nafay Choudhury*
*Ghizaal Haress*
*Mohammad Isaqzadeh*
*Jenn Round*

**ALEP Faculty Advisor**

*Erik Jensen*

**AUAF Chair of the Department of Law**

*Taylor Strickling*

**Stanford Law School Rule of Law Fellow**

*Megan Karsh*

# فهرست

سریزه اوکوروداني..................................................................................................................د
لومړی څپرکی: دمشروطیت سریزه ...................................................................................................... ۱
دوهم څپرکی: د قواوو تفکیک .......................................................................................................... ٤٤
دریم څپرکی: اجرائیه قوه ............................................................................................................... ۱۱۰
څلورم څپرکی: حکومت اواداره........................................................................................................ ۱۳۷
پنځم څپرکی: مقننه قوه ................................................................................................................. ۱٦٦
شپږم څپرکی: قضائیه قوه.............................................................................................................. ۱۸٦
اووم څپرکی: د اتباعواساسی حقونه – مدنی اوسیاسی حقونه،اواقتصادی، ټولنیزاو کلتوری حقونه................................ ۲۱۹
اتم څپرکی: د اتباعواساسي حقونه - د جنايي متهمينوحقونه.................................................................... ۲۹۸
اصطلاحات ................................................................................................................................ ۳۲٦

# سریزه او کورودانی

د ستانفورد حقوقو پوهنځی د افغانستان د حقوقي زده کړو پروژه(ALEP) د ۲۰۰۷ کال په مني کې د حقوق پوهانو د راتلونکو نسلونو د روزنې په موخه د افغاني پوهنتونونو سره د محصلینو د ښوونې لپاره پیل شوه. د افغانستان د حقوقي زده کړو پروژه ماموریت او موخه د حقوقو په هکله د اصل متن سره د لوړ کیفیت درسي کتابونو څیړنه، لیکنه او چاپول، او د افغانستان په امریکایی پوهنتون (AUAF) کې د لوړ کیفیت درسي پروګرام برابرول دي. د AUAF پرمختیایی لرلید د راتلونکي نسل مشرانو ښوونه او روزنه ده چې د افغانستان بیا رغوني او جوړوني مسؤلیت په غاړه واخلي.

د افغانستان د اساسي حقوقو مبادي د حقوقي زده کړو پروژې پنځم درسی کتاب دی. د افغانستان د حقوقي زده کړو پروژه تر دې د مخه د افغانستان د حقوقو مبادی (دریم چاپ)، د سوداګری حقوق (دوهم چاپ)، د افغانستان د جزا حقوق (دوهم چاپ)او بین المللی حقوق په افغاني نظر (لومړی چاپ) خپاره کړي دي. د افغانستان د حقوقي زده کړو پروژه شپږم او اووم درسي کتابونه - حرفه ای مسؤلیت او مدني مکلفیت راتلونکي خپروني دي. اوس مهال د افغانستان د حقوقي زده کړو پروژه د افغانستان امریکاي پوهنتون په کابل کې د ټولنیزو علومو او د حقوقو د لیسانس(B.A.-LL.B) بشپړه پنځه کلنه دوره تر لاس لاندې لري. پدې وروستیو کې د زیات شمیر محصلینو په غوښتنه د فعال افغان او پیاوړو بین المللي استادانو په مرسته د افغانستان په امریکایي پوهنتون کې د حقوقو دیپارتمنت جوړ شوی دی. د ټولنیزو علومو او د حقوقو د لیسانس پروګرام موخه د افغان محصلینو روزنه ده تر څو د مسلکي حقوق پوهانو په شان فکر، لیکنه، خبرې او عمل وکړي، اړین حقوقي خدمات او روزنه وړاندې کړي او په داسې مشرانو بدل شي چې د راتلونکي افغان نسل د هیلو او آرزوګانو په تحقق کې مرسته وکړي.

د افغانستان د حقوقي زده کړو پروژه ټیم غواړي له هغو افرادو او مؤسسو څخه چې دا پروژه یې شونې کړه، مننه وکړي. افغانستان د حقوقي زده کړو پروژه د امریکې د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو په وزارت کې د نشه ای توکو او د قانون د تنفیذ بین المللي دفتر (INL) څخه د سخاوتمندانه مرستو او ملاتړ له امله مننه کوي. د ستانفور د حقوقو پوهنځی اوسني رئیس االیزابت مګیل، پخوانی رئیسې لری کرامر او زوموالت، د ستانفورد پوهنتون عمومي سلاکار او د افغانستان امریکایی پوهنتون د امنا هیئت غړي چې د پروژې د رامنځ ته کیدو په لومړیو کلونو کې یې دوامداره ګټوره مرسته کړې ده، کورودانی وایي. همدا شانې د ستانفورد پوهنځی اوسنی رئیس الیزابت ماګیل دافغانستان د حقوقي زده کړو پروژی سره بنسټیزو مرستو ته دوام ورکړ. دافغانستان د حقوقي زده کړو پروژی مشارکت د تیرو شپږو کلونو په اوږدو کې د افغانستان په امریکایي پوهنتون کې د حقوقو پوهنځی، د سیاسي علومو د اړونده غړو او د افغانستان امریکایي پوهنتون د مشرتابه هیت: ډاکتر شریف فایز (بنسټ ایښودونکي)، ډاکتر مایکل سمیت(رئیس)، او ډاکتر ډاون ډیکل (ناظم) د هر اړخیزې مرستي سره تړاو لري. په وار سره، غواړم د افغانستان د حقوقي زده کړو پروژی د ټولو هغو وټلو محصلینو څخه مننه وکړم چې ددې درسي کتاب په لیکلو کې یې ونډه اخیستې، د جان فاربنګټون په شمول چې د چاپ لپاره یې د کتاب په تیارولو کې زیار ګاللی، مننه وکړم .

په ځانګړې توګه د افغانستان د اساسي حقوقو د درسي کتاب په خاطر، دافغانستان د حقوقي زده کړو پروژه د افغانستان د امریکایي پوهنتون له پروفیسور محمد اسحق زاده څخه چې د کتاب د لومړی مسودې د هر څپرکي په هکله یې بیل بیل انتقادي نظر وړاندې کړی، مننه کوي. افغانستان د حقوقي زده کړو پروژی همدا شانې غواړي د ستانفورد له پروفیسور ګرهارد کاسپیر د تطبیقی اساسي حقوقو د تدریس د علمی کتنو له امله مننه وکړي. پردې سربیره، افغانستان د حقوقي زده کړو پروژه د البیروني له پوهنتون څخه د ښاغلي یما کشاورز، د ننګرهار له پوهنتون څخه د ښاغلي نقیب احمد خپلواک، او کابل پوهنتون استاد فهیم برمکی، د ستانفورد په پوهنځی کې ټولو میلمنو پوهانو څخه چې د افغانستان د اساسي حقوقو، د اسلام حقوقو په هکله یی خپله پوهه زموږ سره شریکه کړی، او ژباړې له امله مننه کوي.په پای کې افغانستان د حقوقي زده کړو پروژه غواړي له پروفیسورانو نادر نادری، غزال هارس او روح الله عزیزی څخه چې درسي کتاب یی په صنفونو کې معرفي کړی، مننه وکړي.

اریک جنسین د افغانستان د حقوقي زده کړو پروژی داستادانو سلاکار

پالو آلتو، کالیفرنیا

مارچ ۲۰۱۳

# لومړی څپرکی: د مشروطیت سریزه

## لومړی. مشروطیت

*"دتېرو دوو پېړیو په ترڅ کې موږ له داسې یو حالته څخه چې نژدې هېڅ یو هېواد لیکل شوی اساسي قانون نه درلود، بل داسې یو پړاو ته چې نژدې ټول هېوادونه مدون اساسي قوانین لري، تېر شوي یو."* [١]

ولې د نړۍ نژدې هر یو هېواد اساسي قانون لري؟ آیا دا ددې لپاره چې د اساسي قانون شتون دموکراسي، سوله او اقتصادي هوساینه تضمینوي؟ په ډاډ سره ویلای شو چې نه. ډېر وروسته پاتې هېوادونه هم د اساسي قانون درلودونکي دي. په واقعیت کې نړۍ " د لیکل شوواساسي قوانینو څخه ډکه ده چې د هغو زیات شمېر هغه څه چې غواړي پرې نه پوهېږي، پداسې حال کې چې یو شمېر نور هغه څه چې غواړي سر ته يې نه رسوي. "[٢]د دې خبرې ویل چې اساسي قانون هم د هېواد په دننه او هم په نړیوال ډګر کې د هېوادونو لپاره یو ډول اعتبار ګڼل کېږي، سم ښکاري چې کېدای شي په عمل کې مؤثریت ولري او یا نه[٣] د هغه څه چې اساسي قانون يې حکم کوی او هغه چې هېوادونه يې په عمل کې پلي کوي، تر منځ یوه تشه (خالیګاه) شته چې د اساسي قانون او مشروطیت ترمنځ توپیر په ګوته کوي.

پدې څپرکي کې د یاد شوي تشې (خالیګاه) په هکله بحث کېږي. په لومړي برخه کې موږ د مشروطیت د معاصرې نظریې او د افغانستان په اساسي قانون کې د هغه د انعکاس څېړو. په دوهمه برخه کې د اساسي قانون په کړنو باندې په عامه توګه او هم په خاص ډول خبرې کوو. په دریمه برخه کې په افغانستان کې د ٢٠٠۴ کال تر اساسي قانون پورې د هېواد اساسي قوانینو تاریخ ته لنډه کتنه کوو. په څلورمه برخه کې موږ د اساسي قانون د تفسیر ډولونه وړاندې کوو او تاسو ته د اساسي قوانینو د مطالعې لپاره د شننې چوکاټ وړاندې کوو. په پای کې د اساسي قوانینو د تعدیل د بهییر په څرنګوالي باندې بحث کوو.

### الف. د مشروطیت تعریف

موږ دا څپرکی د "مشروطیت" په تعریف سره پیل کوو چې د هغه څخه مو موخه څه ده. په ډېر عام مفهوم سره مشروطیت د "محدود شوې حکومت" په توګه تعریف کېږی.[٤] په بل عبارت، مشروطیت له سیاسي قدرت څخه د خپل سري ګټه اخیستلو[٥]، او " د قانون نه بلکه د اشخاصو حکومت"[٦] د درلودلو په

---

[1]Donald S. Lutz, Principles of Constitutional Design 4 (2006).

[2]Gerhard Casper, Constitutionalism *in* Vol. 2 Encyclopedia of the American Constitution 479 (Leonard W. Levy et al. eds. , 1986).

[3]William G. Andrews, Constitutions and Constitutionalism 24 (William Andrews ed. , D. Van Nostrand Company 1968).

[4]*Id*. at 13

[5]B. O. Nwabueze, Constitutionalism in the Emergent States 1 (Farleigh Dickinson University Press 1973).

[6]Mark Tushnet, *Constitutionalism and Critical Legal Studies*, *in* Constitutionalism: The Philosophical Dimension 150 (Alan S. Rosenbaum editor, 1988). توشتیت استدلال کوي چه په واقعیت کې" د قانون حاکمیت یوازې هغه مهال د محدودیت وړ دی چه د خلکو د یوې ډلې له خوا چه ټاکلي ګډ ارزښتونو لري، عملی شی – یعنې ، د قانون حاکمیت باید د خلکو حکومت وی."چه د هغه نتیجه دا ده " سره ددې چه مشروطه حکومت ضرور دی، خو ناشونی دی."

مفهوم دی. د محدود حکومت اوسني مفهوم د پېړیو په اوږدو کې بشپړشوې، نو لدې امله د هغو څېړونکود نظریاتو یادونه چې د مشروطیت اوسنی مفهوم رامنځ ته کړی، ګټور دی.

## حکومت د څه لپاره؟

د قدرت د محدودیت او د حکومت د موخې په هکله د ډېرو نامتو متفکرانو څخه یو هم د ۱۷ پېړۍ انګلیسی فیلسوف جان لاک دی. د جان لاک سیاسینظریی بنسټ پردې ولاړ دی چې د حکومت او خلکو ترمنځ د " ټولنیز تړون" شتون لری. نوموړی د دوهمې رسالې تر سرلیک لاندې پخپل اثر کې څرګندوی چې وګړي ولې په ټولنه کې سره یوځای کېږی او حکومت جوړوی:

§ ۴. د سیاسی قدرت د سم پوهیدو او د هغه د رېښو پلټنې لپاره، موږ باید داسې حالت په نظر کې ونیسو چې ټول وګړي په طبیعی ډول په هغه کې ژوند کوي.

په طبعی وضعیت کې خلک کې په خپلو کارونو او د خپلو مالونو په تصرف کې مطلقه آزادي لري او یوازنـي قوانین چې پر هغوی حکم چلوی، د طبیعت قوانین دی او په دې حالت کې وګړي د یو کار د سرته رسولو لپاره د نورو اجازې ته اړتیا نه لري او د چارو د سمون په اړه د نورو په ارادې پورې تړلي نه دی. همداشانې طبیعی وضعیت د برابرۍ حالت دی چې په هغه کې د ټولو خلکو قدرت او واک یو شان دی او هیڅوک د نورو په پرتله زیات قدرت په واک کې نه لري.[7]

§۱۲۳. که چیری یو انسان هغسې چې ما یی یادونه وکړه، هومره آزاد، د ځان او خپلې شتمنۍ مطلق حاکم وي چې د ډېرو لویو کسانو سره برابر وی او له هیچا څخه ټیټ نه وي نو بیا ولې له خپلې آزادۍ او ولکې څخه لاس واخلی ؟ولی خپل مشري له لاسه ورکوي او ځان د یو بل چا تر فرمان لاندې راولي؟ د دې پوښتنو ځواب څرګند دی:

که څه هم په طبیعی حالت کې انسان د ټولو حقونو درلودونکی دی، بیا هم له دې حقونو څخه ګټه اخیستنه روښانه نه ده او د هغه حقونه په دوامداره ډول د نورو له خوا تر ګواښ لاندې راځي. . . . نو لدې امله دا په ځان مني چې له هغه حالت څخه چې د بشپړې آزادۍ لرونکې دې، خو د نورو د ګواښ او د دوامداره خطر ډار ورسره مل وي، لاس اخلي. نو په دې وجه دا نامعقوله نه ده کله چې هغه هڅه کوي تر څو د نورو سره یوځای د ځان، آزادۍ او خپل مال د ساتلو په مقصد د نورو سره یو ځای شي. . . .[8]

§ ۱۳۱. سره ددې چې وګړي د ټولنې سره د یوځای کېدو او د حکومت او دولت په جوړېدو سره له برابرۍ، خپلواکۍ او اجرایی قدرت څخه چې په طبیعي حالت کې یی لري، لاس اخلي. . . . د هغو هر یو دا کار یوازې د خپل ځان، خپلې خپلواکۍ او خپلو

[7] John Locke, Two Treatises on Government: A Translation Into Modern English 70 (Industrial Systems Research 2009) (1690).
[8] *Id*.

مالونو د ساتنې په خاطر تر سره کوی( ځکه هېڅ یو عاقل موجود نه غواړي چې خپله وضع په بد حالت بدله کړي). نو د ټولنې واک او یا هغه قوانین چې هغوی یی رامنځ ته کوي هیڅکله هم د ګډو ګټو پرته دوام نه مومی.[9]

وګړي د متقابل رضایت له لارې " ټولنیز تړون " کوي چې د هغه په نتیجه کی د حاکمیت په له لاس ورکولو باندی هوکړه کوي او دځان او نورو د حالت د ښه والي لپاره ځانونه د ټاکلو قوانینو په رعایت باندې مکلف ګڼي.

له هغه وروسته متفکرینو، لکه د ۱۸ پیړۍ متفکر ژان ژاک روسو، د لاک د آثارو پر اساس دې نظریی ته نوره پراختیا هم ورکړه او دا یې وښودله چې څرنګه دولت کولای شی په ډېر ښه ډول د افرادو حقونه او ګټې خوندي کړي.د دې موضوع په اړه، روسو په " ټولنیز تړون " کې لیکي" دا ستونزمن کار دې چی داسی یوه ټولنه جوړه شي چې په هغې کی د ګډ ځواک او ګډو هڅو په ترڅ کی د ټولنې د غړو د مال او ځان ساتنه وشي او د ټولنې هر غړې په داسی حال کی چی ځان د نورو سره یوځای او متحد بولي د پخوا په شان خپله خپلواکي وساتي او یوازې د خپل ځان پیروي وکړي."[10] داچې خلک نه غواړي د ټولنې سره د یوځای کېدو په صورت خپلې ټولې آزادۍ له لاسه ورکړي، نو یوازنې مشروع حکومت هغه حکومت دي چې په هغه کې مقننه قوه یوازې په خلکو پورې (نه پادشاه یا دیکتاتور) اړه ولري. بالآخره، پداسې حال کې چې ټولنیز تړون له اساسي قانون څخه توپیر لری، اساسي قانون په منطقي ډول له ټولنیز تړون څخه منځ ته راځي. اساسي قانون د حکومت سازمان ورکونې ته قوت ورکوي او د وګړو د حقونو او امتیازنو ساتنه کوی[11]

<table>
<tr><td>

**تاریخی مخینه**[12]

امکان لري تاسو د یو بل انګلیسي فیلسوف توماس هابز په هکله هم اورېدلي وي چې نوموړی هم د "ټولنیز تړون" په اړه د خپلو نظریاتو په خاطر شهرت لري. هابز چې له ۱۵۸۸ – ۱۶۷۹ پورې یی ژوند کاوه، پدې باور درلود چې ژوند په "طبیعی حالت" کې "انفرادی، بی وزله، تند او زیانمنونکې، حیواني او لنډ دی". په نتیجه کې خلک ټولنیز تړون رامنځ ته کوي او د لا ډیر امن په خاطر د خپلو ځینو حقونو څخه تېرېږي. د لاک او روسو خلاف (د هغه نه مخکې متفکران)، هابز استدلال کوي چې د اختلافونو او کورنیو جګړو د مخنیوی لپاره ټولنه یو نسبتاً مطلق حاکم ته اړتیا لري. ددې خبرې ید ساتل مهم دي چې هابز د انګلیسی بې رحمانه کورنۍ جګړې په وخت (۱۶۴۲ – ۱۶۵۱) کې ژوند کاوه او پدې هکله یی لیکنې کولې چې د ګډوډۍ یوه مرګونې دوره ده. جګړې په غوڅه توګه د امنیت په خوندی ساتلو کې د مرکزي قدرت د رول په هکله د هابز پر نظریاتو اغېز درلود. آیا بی ثباته چاپیریال د

</td></tr>
</table>

[9] *Id*.

[10] Jean-Jaques Rousseau, The Social Contract §6 (1762). http://ebooks. adelaide. edu. au/r/rousseau/jean_jacques/r864s/book1. html#section7

[11] Casper, *supra* note 2, at 476.

[12]. ددې موضوع په اړه د محمد اسحق له تبصرې څخه مننه کوو.

افغانستان د حکومت په اوسني بڼه او شکل چی د ۲۰۰۴ کال په اساسي قانون کې تسجيل شوي، ورته اغيزه نه لری؟

د هابز خلاف، د دوهم جيمز حکومت پر مهال د کورنی جګړې له پای ته رسېدو وروسته د لاک لید لوري شکل وموند. پدې ترڅ کې باید وويل شي چې د پادشاه په توګه مطلق قدرت لاس ته راوړلو په خاطر د دوهم جيمز هلو ځلو پرګنيزی ناامنی را وپارولې. نو په همدی اساس لاک د مطلق حاکميت نظريه تر پوښتنې لاندې راوسته او د هغې په ځای یی د محدود حکومت په هکله استدلال وړاندې کړ.

## *مشروطه حکومت د څه لپاره؟*

پدې باندې په پوهېدو سره چې ولی د دولت مشروعيت د خلکو د هوکړی (توافق ) او محدود دولت سره تړلی دی، موږ د مشروطه دولت تعريف ته راګرځو. د " محدود دولت" په توګه د مشروطه دولت د تعريف په پراختيا ورکولو سره ويلای شوچې " د مشروطيت په اړه پر دولت باندې دوه ډوله محدوديتونه وضع کيږي: [۱] د قدرت محدوديت، [۲] د کړندود يا طرزالعل محدوديت". [13]

مشروطيت په دولت کې تشکيلاتی او بنسټيزو محدوديتونو ته اشاره کوي.[14] په عمل کې، اساسي قوانين چې مشروعيت منعکسوی په ټاکلو عرصو کې (لکه د افرادو مختلفې آزادي) د دولت اقدام منع کوي او د تګ لارو د جوړلو، تطبيق او ننګوني لپاره يو شمير اصول ټاکی.د دې خلاف، ديکتاتور د نامحدود قدرت له لارې کولای شي له محدوديت (د خپل نامحدود قدرت د ممنوعيت) پرته او د خپل هوا او هوس له مخې (له قانونی الزاميت پرته)عمل کوي، پدې توګه ديکتاتوري نظام هرڅومره که خيرخواه هم وي، پر قانون باندې ولاړ يو حکومت نه دی.[15]

څرنګه چې يو څېړونکي وايي، مشروطه دولت " په دوو جلا اما يو د بل سره تړلو اړيکو باندې حکومت کوي:

لومړی، د وګړو سره د دولت اړيکې، دوهم، د يو بل سره د دولتی چارواکو اړيکې."[16]يو بل پوه پدې باور دې چې:

> حکومت د اساسي قانون په نتيجه کې منځ ته راځي. دا اساسي قانون دې چې دولتی ارګانونه جوړوی، هغوی په خپل واک سره مجهز کوی او پدې ډول ددې کار په سرته رسولو سره د هغوی د فعاليت محدوده ټاکي. هغه دولت چې د اساسي قانون سره سم

---

[13] Andrews, *supra* note 3, at 13.
[14] Nwabueze, *supra* note 5, at 1.
[15] Nwabueze, *supra* note 5, at 1.
[16] Andrews, *supra* note 3, at 14.

فعالیت کوي، باید د هغه د حکمونو سره مطابقت ولري؛ د دولت پواسطه د اساسي قانون له چوکات څخه سېوا یا د قدرت هر ډول نا جایز اعمال د اعتبار وړ نه دی.[17]

په ورته وخت کې، دا به تېروتنه وي چې د اساسي قانون درلودل د مشروطیت سره یو شان وګڼو. لکه چې مخکې وویل شول، د نړۍ نژدې ټول هېوادونه لیکل شوي اساسي قوانین لري. ولې ټول هېوادونه د مشروطیت له حیاتي آزموېنې څخه نه دي تېرشوي: آیا اساسي قانون د دولت واک محدودوي؟ په ځینو هېوادونو کې، اساسي قوانین له محدودیت پرته د حکومتونو د موخو بیان، ستاېلو او اعلان څخه بل څه نه دي. د حکومت د مهار کولو پرځاي، هغوی یوازې د مطلق قدرت سره مرسته یا هغه ته مشروعیت ورکوی.[18]

**"مشروطه" دیکتاتوري**

د شمالي کوریا[19] له اساسي قانون څخه، چې حکومت یې په نړۍ کې د ډېرو مستبدو حکومتونو څخه دی، لاندنیو مادو ته نظر وکړي. پدې مادو کې د وګړو د اساسي حقونو څخه یو هم نه پلې کېږي:

۶۷ ماده: وګړو ته د بیان، رسنیو، ټولنو، تظاهراتو او غونډو آزادي تضمین ده.

۷۵ ماده: وګړي د هستوګنې د ځاې غوره کولو او سفر کولو آزادي لري.

۶۴ ماده: دولت باید د واقعی حقونو او دموکراتیکو آزادیو او همدارنګه د ټولو وګړو مادي او کلتوري هوساینه په اغېزمنه توګه تضمین کړي.

ستاسو له نظره ولې د شمالي کوریا په شان استبدادي رژیمونه اساسي قوانین تدوین او تصویبوي؟په یاد ولرئ چې پخوانی شوروی اتحاد هم د اساسي قانون تر نوم لاندې فعالیت کاوه.

همدارنګه کېدای شي دا هم سمه نه وي چې مشروطیت د دموکراتیک حکومت سره یو شان وګڼو، که څه هم دا دوه مفاهیم په زیاترو مواردو کې یو د بل سره تړلي دي. ځیني داسې استدلال کوي چې دموکراتیک انتخابات او د خپلواکې محکمې تر حمایت لاندې مدنی آزادۍ، د مشروطه دولت د لازمو عناصرو څخه ګڼل کېږي. سره د دې ، نور پوهان بیا داسې استدلال کوي چې د وګړو مدني آزادۍ د مشروطه دولت (نه د دموکراسي) مهم عنصر دی. له دې پلوه، هغه حکومت چې د مدني آزادیو څخه ملاتړ کوي د مشروط کېدو لپاره د وګړو انتخاب ته اړتیا نه لري. [20]د مثال په توګه، د مشروطه شاهی دولتونو (د حکومت یو شکل دی چې په هغه کې د پادشاه کړنې د اساسي قوانینو په چوکات کې تر سره کېږي) په یو شمېر بنو

[17] Nwabueze, *supra* note 5, at 5.
[18] *Id*. at 2.
[19]. د اساسي قانون له مخې، شمالي کوریا په رسمي توګه د کوریا د خلکو دموکراتیک جمهوریت په نوم یادېږي. وګورئ: http://en. wikisource. org/wiki/Constitution_of_North_Korea_%281972%29
[20] Nwabueze, *supra* note 5, at 10-12.

کې د حکومت کولو د پام وړ قدرت لري خو بايد په عيني محدوده کې عمل وکړي (د مثال په توګه د حقونو منشور).

**د مباحثې پوښتنې**

۱. په خپلو کلماتوسره، مشروطه دولت تعريف کړي؟ آيا تاسود دې سره موافق ياستي چې د "محدود دولت" تعريف، د هغه لپاره سم دی، يا ځيني نور عناصر هم شته چې بايد په دې تعريف کې يی يادونه وشي؟

۲. څرنګه چې په ۶ شمېره لمن ليک کې يادونه وشوه، مارک توشنيت Mark Tushnet، استدلال کوي چې "د قانون حکومت يوازې او په هغه کچه د محدوديت سره مخ کېږي چې د ټاکلو ګډو ارزښتونو درلودونکې ډلې په واسطه اعمال شي – يعني د قانون حکومت بايد د خلکو حکومت وي." دا کار نوموړی دې نتيجې ته رسوي چې "مشروطيت د ضرورت سره سره، ناشونی دی." پام وکړي چې ستاسو له نظره د اساسي قانون او د تطبيق کوونکو اشخاصو ترمنځ ارتباط څومره مهم ګڼل کېږي. آيا تاسو د مارک توشنېت ددې استدلال سره موافق ياستی؟

۳. آيا د مشروطه دولت مفهوم " لوېديز" مفهوم دی او يا دا چې دا مفهوم په هر ځای کې د کارولو وړ دی؟ آيا تاسود دې استدلال سره موافق ياستی چې دموکراسي د مشروطيت يو اساسي عنصر نه دی؟

### دوهم. اساسي قوانين

"اساسي قانون کولای شي خلک مهار او همداشانې هغوی آزاد کاندي"[۲۱]

کولای شو چې اساسي قانون " په پرانېستې ژبه او ښکلو کرښو وليکو داسې چې د پېړيو په ترڅ کې دوام وکومي". [۲۲] اساسي قوانين کېدای شی لنډ وي (لکه د متحده ايالاتو اساسي قانون چې ۴۴۰۰ کلمې لري) او يا اوږد وی (لکه د هند اساسي قانون چې ۱۱۸۳۶۹ کلمې لري.) [۲۳]د ګوتو په شمېر هيوادونه، لکه بريتانيا، مدون اساسي قانون نه لري. د اساسي قانون د بڼې يا شکل اوژبې له مخې يو او بل ته ورته والی لري ځکه چې د ډېرو لارو څخه د خدمت د تر سره کولو تمايل لري. اساسي قوانين هغسې چې په مشروطيت کې راڅرګندېږی، ډېر کارونه (او کله هم لږ) سرته رسوي، پدې توګه اوس موږ خپل بحث ته د اساسي قانون په ځانګړو کړنو سره دوام ورکوو.

**د لوست تمرکز**

[21] James T. McHugh, Comparative Constitutional Traditions 1 (Peter Lang 2002).
[22] Laurence Tribe, *Foreword* to American Constitution Society, It Is A Constitution We Are Expounding 7 (2009).
[۲۳]. د افغانستان د اساسي قانون انګليسي ژباړه نژدې ۱۰۴۰۰ کلمې لري.

ځرنګه چې تاسو د اساسی قوانینو د موخو په هکله معلومات تر لاسه کړل، دې ته پام وکړی چې کوم حکمونه یا د اساسي قانون مادې په ښه توګه کولای شی ددې سند او تدوین کوونکو موخې پرځای کړي. د بیلګی په توګه، که چیرې د سند لیکونکي غواړي د بشری حقونو څخه دفاع تأمین کړي، لازمه ده چې هغوی باید د دفاع وړ دایمی حقونو څخه یو ټاکلی فهرست په دې سند کې شامل کړي یا د بشري حقونو د ملاتړ ټولیز اصول په اساسي قانون کې درج کړي او د دفاع وړ ځانګړي حقونه قاضیانو او مقننه قوې ته حواله کړي؟

**الف. د حاکمیت مظاهر**

لومړنۍ موخه چې اساسي قانون یی د پلې کولو هڅه کوي د لوړو حقونو او د هېواد د سیاسي نظام بیانول دي. اساسي قانون دولت تعریفوي او د هغه د حاکمیت سرچینې په ګوته کوي یعنې د سیاسی عالی قدرت (د بیلګې په توګه د خلکو د حاکمیت دوکتورین یعنې دا چې دولت د خلکو پواسطه جوړ شوی دی او د خلکو د غوښتنو او ارادې تابع دی). د ټولو قوانینو سرچینه باید اساسي قانون وي، ځکه دا تر ټولو لوړه ملي وثیقه ده. هغه قوانین چې د اساسي قانون سره په ټکر او مغایرت کی واقع شي د تعریف له مخی غیر قانوني دي او بې اعتباره ګڼل کیږي. دا موضوع د افغانستان د اساسي قانون په۱۶۲ ماده کی هم تائید شوی چې وایي :د دې اساسي قانون په نافذیدو سره، ټول هغه قوانین او تقنیني فرمانونه چی د اساسي قانون له حکمونو سره ټکر لري، بې اعتباره ګڼل کیږي.

د نوي اساسي قانون د لیکلو پر مهال، د هغو تدوین کوونکي باید په نوي حکومت کې د حاکمیت سرچینه او دا چې ځرنګه هغه د حکومت پر جوړښت باندې اغېزه کوي، په نظر کې ونیسي. مثال، آیا د حکومت سرچینه خلک؟ خدای (ج) یا دین؟ یا یوه ټاکلې کورنۍ ده ؟

**د ۲۰۰۴ کال له اساسي قانون څخه لاندې احکام په پام کې ونیسي**

**سریزه**

موږ د افغانستان خلک:. . . پدې درک سره چې واحد او یو موټی افغانستان ددې خاورې په ټولو قومونو او خلکو پورې اړه لري؛

**۳ ماده**

په افغانستان کې هېڅ قانون نشی کولای چې د اسلام د سپیڅلي دین د معتقداتو او حکمونو مخالف وي.

**۴ ماده**

په افغانستان کې ملي حاکمیت په خلکو پورې اړه لري چې په مستقیم ډول یی په خپله یا یی د خپلو

استازو له لارې عملي کوي.

د اساسي قانون د سريزې په شمول د هغه هېڅ يوه برخه نه بنايي له پامه و غورځول شي. په واقعيت کې، د افغانستان اساسي قانون سريزه د حکومت د مشروعيت د سرچينې په اړه ضروري اطلاعات برابروي. د افغانستان دولت "واحد او يو موټی" او "ددې خاورې په ټولو قومونو او خلکو پورې اړه لري." پر دې سر بېره، په سريزه کې راغلي دي چې د افغانستان د خلکو موخه "د خلکو پر اراده او پر دموکراسی ولاړ نظام د تأسيس لپاره" ده. د اساسي قانون ۴ ماده د دولتي حاکميت په "ملت" پورې تړلی بولي (لومړۍ فقره)، "چې له هغو ټولو افرادو څخه چې د افغانستان تابعيت لري، جوړېږي" (دوهمه فقره).

**ب. د قدرت جوړښت او محدوديتونه**

اساسي قانون د دولت جوړښت بيان او د قدرت حدود ټاکي. يعنې اساسي قانون دا بيانوي چې د هېواد سياسي نظام پارلماني يا رياستي دی او وګړي له کومو لارو څخه کولاې شي چې دا شونې کړي چې غړ يې واورېدل شي. د مثال په توګه، د افغانستان اساسي قانون رياستی سيستم په ګوته کوي چې د هغه پر بنسټ جمهور رئيس د مستقيمو انتخاباتو له لارې انتخابېږي (۶۱ ماده)، خو يوازې د مقننې قوې غير مستقيم انتخابات، د مشرانو جرګې غړي يا د جمهور رئيس يا د ولايتي او ولسوالي شوراګانو له له خوا انتخابېږي (۸۴ ماده). په همدی توګه، اساسي قانون دا په ګوته کوي چې څرنګه قوانين طرح او تصويبېږي او څرنګه هغه د ننګونو سره مخامخ کېږي. امکان لري دا کار يوې خپلواکه قضا ئيه قوې ته اړتيا ولري او د و ګړو اساسي حقونه، لکه د بيان آزادي حق، وټاکي.

د مشروطيت نظريی د عملي کولو لپاره د دولت جوړښت په ټاکلو کې د اساسي قانون رول ضروري دي. د قدرت د محدوديت او اعلام شوو قواعدو په چوکات کې دمشروطيت تعريف په ياد ولری. د حکومت جوړښت څرنګوالی په دواړو موضوعاتو باندې اغيزه کوي. څرنګه چې په راتلونکو څپرکيو کې به دا موضوع په زيات تفصيل سره تر بحث لاندې ونيول شي، " د قواوو تفکيک " د بنې حکومتولۍ مرکزی نظريه ده. په عمومي توګه د واک د ويش بنه لاره داده چې واک د درې ګونو قواو په منځ کی وويشل شي. يوه اضافی خو مرتبط مفهوم دادي چې درې ګونی قواوی د"چک او بيلانس" يا " د کنترول او انډول " د اصل له مخې د يو بل فعاليت څاري.

د افغانستان اساسي قانون د دولت د درې ګونو قواوو ترمنځ واک بېلوي: اجرائيه قوه، چې جمهور رئيس يې په سر کې دی (د اساسي قانون ۳ څپرکی)، حکومت (۴ څپرکی)، مقننه قوه (۵ او ۶ څپرکي) او قضائيه قوه (۷ څپرکی) راځي. همدارنګه اساسي قانون د مختلفو قواو تر منځ د څارنی د مختلفو لارو د ايجاد په بنسټ غواړي چې د کنترول او انډول اصل رامنځ ته کړي.

پر دولت باندې د محدودیتونو په وضع کولو سره، اساسي قانون کېدای شي په ښکاره او یا ضمني توګه عمل وکړي. د ضمني محدودیت میتود، د قواوو تفکیک دی: په عام ډول هېڅ ډول ځانګړي محدودیتونه پر حکومت نه وضع کېږی، اما مختلفو ارکانو ته د قدرت ویش څخه هدف د فردی آزادیو حمایت دی چې په ټولیزه توګه د حکومت د قدرت په محدودیت سره صورت مومي. د قدرت د څرګند یا ښکاره میتود څخه منظور، د ملاتړ وړ ځینو فردي حقونو ټاکل دي. د افغانستان اساسي قانون د اتباعو د اساسي حقوقو او وجایبو تر سرلیک لاندې دا بحث په دوهم څپرکی تسجیل کړی دی. یا د مثال په توګه، کیدای شی اساسي قانون دا څرګنده کړي ټول هغه قدرت چې په ښکاره حکومت ته نه دی ورکړل شوی، په خلکو پورې اړه لری. [24]

د یادشوو دوو میتودونو یعني د څرګندو او ضمني محدودیتونو باوجود، کېدای شي د مشروطیت ځینې قاعدې نا لیکلي پاته شي. حکومت یوازی په هغه صورت کې محدود پاته کېږي چې د هغه د محدودیت لپاره ضرورت پیدا شي او هغه حقونه چې د ګواښ سره مخ نه وي، په څرګند ډول یی له حمایت څخه یادونه نه کېږي. [25] په بل عبارت، اساسي قانون خپل ځان ته ددې زحمت نه ورکوي تر څو ځینې بشري منل شوي حقونه تسجیل کړي، لکه د آزادۍ هوا تنفس کول. د عملي میتود له مخې دا شونې ده چې نا اټکل شوي سازمانی ربړې رامنځ ته شي خو د هغوی د حل او فصل لارې په مدون اساسي قانون کې نه تسجیل کېږي او د هغوی د حل لارې په عادی توګه د نا لیکل شوو اصولو په توګه باقی پاته کېږي (مګر دا چې که هغه د قانون د تعدیل له لارې څرنګه چې په څلورمه برخه کې پرې بحث شوی دی، تصویب شي ). [26]په ټولیزه توګه، داچې هېڅ یو اساسي قانون هره ممکنه سناریو تر پوښښ لاندې نه نیسي، په وروستیو کلونو کې د قانون تفسیر ، د دولت په جوړښت، میتود او قدرت کې د پام وړ رول لوبوي.

## ج. اصول او هیلې

پر ټاکلو کړنو لکه د حکومت جوړښت یا د جمهور رئیس لپاره د عمر اړوند شرایطو په تشریح سر بیره، [27] اساسي قوانین د یو هېواد د راتلونکې لپاره ارزښتونه او آرمانونه بیانوي. دا د افغانستان د اساسي قوانینو له پیل څخه څرګند ده ځکه چې د هغه په سریزه کې راغلی دي چې د نورو موخو تر څنګ دا اساسي قانون دلاندی موخو لپاره جوړ تدوین شوی دی: د هېواد دا سند د ملی وحدت ټینګښت، د دموکراسي رامنځ ته کول، له ظلم او استبداد، تبعیض او تاوتریخوالی څخه د پاکې ټولنې چې د ټولو اوسیدونکو لپاره د هوسا ژوند او د ژوندانه سالم چاپېریال رامنځ ته کړي. د راتلونکې په هکله دا لرلید باید د یو داسې حکومت له لارې چې د ټاکلو اصولو پر بنسټ او د ځانګړو موخو لپاره جوړ شوی وی، حمایه او وساتل شي.

[24]. د مثال په توګه و ګوری: د امریکی د متحده ایالاتو لسم تعدیل چه وایي" هغه واک چه د اساسي قانون له مخې ایالاتونو ته نه دی ورکړ شوی او نه هم د هغه ممانعت شته، په ترتیب سره پخپله د اړونده ایالتونو او د هغو د وګړو لپاره خوندي دی."

[25] Andrews, *supra* note 3, at 22.

د مثال په توګه د امریکی متحده ایالاتو د اساسي قانون نهم تعدیل وایی چه :"د یو شمېر ټاکلو حقونو تسجیل نه باید د نورو وګړو د حمایت و ړ حقونه رد او یا بی اعتباره کړي."

[26] Andrews, *supra* note 3, at 22.

[27]. د افغانستان اساسی قانون، ۶۲ ماده، ۲ بند.

اساسي قانون کم ترکمه څلور بنسټيز اصول وړاندې کوي. دوه اصله ئی په (۱) ماده کې راغلي دی: " افغانستان، خپلواک، واحد او نه بېلېدونکی اسلامي جمهوري دولت دی". دا ماده څرګندوي چې افغانستان يو واحد اسلامی جمهوري، (نه فدرالي دولت) دولت دی.[۲۸]

دريم اصل دا دی چې افغانستان يو دموکرات هېواد دی چې د اساسي قانون د نورو برخو تر څنګ، دا مطلب د ۴ مادې په ۱ فقرې کی يادوي، دا پدې معنا دی چې خلک خپله اراده " په مستقيم ډول پخپله او د خپلو استازو له لارې عملي کوي ". (چې دا د حکومت د "جمهوری" بڼې سره مطابقت لري). دا پدې معنا ده چې اساسي قانون پداسې حال کې چې " د خلکو د استازو له لارې د قدرت عملی کولو ته اشاره کوي، او په دموکراسی کی د استازيتوب اصل ته ژمن دی"، په همدی توګه د مستقيمو انتخاباتو او ټول پوښتنې وړاندوينه هم کوي.[۲۹]

څلورم اصل د قانون حاکميت دی چې د اساسي حقونو لړ ليک پکې راځي. د قانون له حاکميت څخه په سريزه کې په ښکاره يادونه شوې ده او د يو شمېر نورو مادو په ترڅ کېد ددې يادونه چې دولت له قانون څخه لوړ نه دی، دا نظريه پياوړې کوي. د بيلګی په ډول، د ۱۲۱ مادې له مخې د هېواد ستره محکمه د "اساسي قانون د حکمونو سره سم د نورو قوانينو د مطابقت څېړلو صلاحيت لري." او د ۵۰ مادې ۲ فقره زياتوي چې "اداره خپل اجراآت په بشپړه بې طرفي او د قانون له حکمونو سره سم عملي کوي."[۳۰]

د راتلونکې د انځورولو په موخه اساسي قانون کېدای شي ټاکلي ټولنيز او اقتصادی موخې وټاکي او هغو ته د رسېدو لپاره د دولتی اقداماتو او هڅو غوښتنه وکړي.[۳۱] دا آرماني کړنه د افغانستان د اساسي قانون په ټولو برخو کې په ښکاره تر سترګو کېږي. لاندې مادو ته پام وکړي:

**د افغانستان اساسي قانون**

**۶ ماده**

دولت، د انساني کرامت په ساتلو، بشری حقونو د ملاتړ، د دموکراسي د تحقق، ملي وحدت د تأمين، د ټولو قومومونو او قبايلو ترمنځ د برابری او د هېواد په ټولو سيمو کې د متوازني پراختيا او ټولنيز عدالت پر بنسټ د يوې هوسا او پرمختللې ټولنې په جوړولو مکلف دي.

**۱۷ ماده**

دولت په بېلابېلو سطحو کې د معارف د ودې اود ديني زده کړو د پراختيا، د جوماتونو، مدرسو او ديني مرکزونو د وضعې د ښه والي او تنظيم لپاره لازم تدبيرونه نيسي.

---

[28]Ramin Moschtaghi, Max Planck Manual on Afghan Constitutional Law, Volume One: Structures and Principles of the State 21 (2009).
[2929]*Id.* at 22
[۳۰]. تر يوې اندازې ۱۵۷ ماده ددې سره تړاو لري چه پر اساسي قانون باندې د څارنې کميسيون د جوړېدو حکم کوي.
[31] Andrews, *supra* note 3, at 24-25.

**۴۴ ماده**

دولت مکلف دی د ښځو د زده کړو د پراختیا او توازن د ایجاد په منظور، د کوچیانو د زده کړو د ښه والي او په هېواد کې د بې سوادۍ د له منځه وړلو لپاره اغېزمن پروګرامونه طرح او تطبیق کړی.

**۵۲ ماده**

دولت د افغانستان د ټولو اتباعو لپاره د ناروغیو د مخنیوي او د وړیا علاج وسیلې او روغتیایي آسانتیاوې د قانون د حکمونو سره سم تأمینوي.

تاسو پدې مادو کې د اساسي قانون ژمنې او ننګونې کتلای شي. له یوې خوا، پدې کې موخې شتون لري لکه "د ناروغیو درملنه او مخنیوی" (۵۲ ماده)، خو له بلې خوا، د اړونده موضوع د تفسیر په اړه پیچلتیا شتون لری یعنې داچې اساسي قانون د روغتیای آسانتیاوو څرنګوالی نه مشخص کوي او نه هم دا وایي که چېرې حکومت د ناروغیو د درملنې او مخنیوي، یا وړیا زده کړو (لکه ۴۳ ماده) لپاره کافي بودیجه و نه لري، نو بیا به څه کېږي.[۳۲]

موږ د اساسي قانون دری لویې موخې په ګوته کړې: د دولت تعریف (حاکمیت)، د دولت د جوړښت څرنګوالی (د واک جوړښت او محدوده)، او د هغه څه بیان چې دولت یې د تحقق په هڅه کې دی. هر یوه لیکوال ته بویه چې د اساسي قانون د منځپانګی یا محتوا جوړلو په وخت کی دا لویی موخې (اصول او هیلې) په نظر کې ونیسي.

اساسي قوانین د راتلونکې وړاند وینه نه کوي. دا سند یوه ټولیزه اوبنسټیزه طرحه ده، چې ددې طرحې اجرا کېدای شي نا تمه شوې پایلې رامنځ ته کړي. اساسي قانون له ټولو اړخونو څخه بشپړ نه دی. اساسي قانون د مصالحې محصول دی چې د پیچلتیا او ناځیرتیا سره مل وي او د کلونو په اوږدو کې د نویو شرایطو سره یو ډول انعطاف پذیري او د تطابق ته اړتیا لري.[۳۳] لکه چې ترګود مارشال (Thurgood Marshall)، چې د ۱۹۶۷ – ۱۹۹۱ کلونو په اوږدو کې د امریکا د سترې محکمې قاضي وو، د امریکا د اساسي قانون په هکله وایي، اوسني شرایط "له هغو چې تدوین کوونکو پکې دوه پېړۍ مخکې په سختۍ د اساسي قانون طرح جوړه کړې ده، ډېر توپیر لري" او تدوین کوونکو" د دې تغییراتو وړاند وینه نشوای کولای".[۳۴] دا انګېرنه د هر یو اساسي قانون په هکله چې د پام وړ مودې لپاره دوام مومي، صدق کوي. پدې ترڅ کې نه یوازې اساسي قوانین او د هغو تفسیر بشپړېږي بلکه همدا شانې د دې امکان شته چې د هغه یوه برخه نافذه شي.

[۳۲]. د افغانستان اساسی قانون ۴۳ماده " زده کړه د افغانستان د ټولو اتباعو حق دی چه د لېسانس تر درجې پورې وړیا د دولت له خوا تأمینېږي."
[33]Alan S. Rosenbaum, Constitutionalism: The Philosophical Dimension 2-3 (Alan S. Rosenbaum editor, 1988).
[34]Thurgood Marshall, *Reflections on the Bicentennial of the United States Constitution*, Volume 101 Harvard Law Review 2, 5 (1987).

**د بحث لپاره پوښتنه**

۱. آیا د هېواد د راتلونکي هغه انځور چې د افغانستان اساسي قانون یی وړاندې کوی" سم " دی؟ آیا دا وړاند وینه په واقعیت ولاړه ده او که نه او که په کومه زماني محدوده کې؟

**اضافی دنده**

د امریکا په سیاست کې د پایښت وړ یو مفهوم دادی چې اساسي قانون د " ځان وژنې پیمان" په توګه نه انګېرل کېږي. دا ددې حقیقت ښکارندوی دی چې پرحکومت باندې د اساسي قانون محدودیتونه باید د وګړو او دولت د اړتیاوو سره متوازن وي – د ناورین د ګواښ شتون په صورت کې، د هېواد بقا د اساسي قانون له پیروي څخه مهمه ده. دا پدې معنا ده چې اساسي قوانین باید د شرایطو سره سم اود نورو انګیرونو تر څنګ د عملي اړتیاوو په وړاندې ړانده نه وي. د معاصر دولت د جوړښت او د کړنو د نیمګړتیاوو په هکله او داچې اساسي قوانین د ستونزو په رامنځ ته کولو او پدې برخه کې د حل د لارو چارو په برخه کې څرنګه رول لوبولای شي، لاندی دوه مقالې وڅېړی.

الف. *د کالیفورنیا درد: له هغه ځایه څخه درسونه چې د معاصر لوېدیز دولت په هکله دېرې نیمګړتیاوې سره راټولوی.* ایکانومیست، د مارچ ۱۷، ۲۰۱۱.

ب. *لوېدیز لور ته ولاړ شه، ځوان بېروکرات؛ مخ پر ودې آسیا کولای شي د حکومت په هکله ډېر شیان لویدیز ته ور زده کړي*، ایکانومېست، د مارچ ۱۷، ۲۰۱۱.

### ج. د تاریخ په وړاندې غبرګون

ټول اساسي قوانین د یو لړ ځانګړو شرایطو او پېښو د ځواب لپاره لیکل شوي او په همدې دلیل هغوی د ځانګړو تاریخي شرایطو د شننې په رڼا کې د پوهېدو وړ دي.

**پر اساسي قوانینو باندې د تاریخي اغېز یوه بېلګه**

د امریکی متحده ایالاتو اساسي قانون د برتانوي امپراتوري خلاف انقلابي جګړه په مهال لیکل شوی دی. د برتانیې امریکایي مستعمرو له خپل استازیتوب پرته د بریتانیا د پارلمان حکومت کولو اقتدار رد کړ (همدا وو چې" له استازیتوب پرته مالیات نه ورکوو" غږ پورته شو) او د بریتانیا د واکمن پادشاه دریم جورج خلاف ئې جګړه پیل کړه. دا لاملونه د امریکا متحده ایالاتو په اساسي قانون کې منعکس شوی دی چې د دموکراتیک استازیتوب او جمهور رئیس قدرت اړونده مسئلو ته په کی خاصه پاملرنه شوی ده.

د افغانستان د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون سریزه ددې اغېز څو مواردو ته اشاره کوي:

- د تېرو بې عدالتيو او ناخوالو په درک او زمونږ پر هېواد راغليو بې شمېره بې شمېره مصيبتونو ته ته په پام سره؛
- د افغانستان د ټولو خلکو د سرښندنو، تاريخي مبارزو، جهاد او بر حق مقاومت د ستايلو او د وطن د آزادۍ د لارې د شهيدانو لوړ مقام ته ارزښت ورکولو سره؛
- موږ د افغانستان خلکو " د هېواد تاريخي، فرهنګي او ټولنيزو واقعيتونو او د وخت له غوښتنو سره سم مو دغه اساسي قانون . . . تصويب کړ. "

د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون د پخوانيو اساسي قوانينو د عدم ثبات څخه په بشپړې خبرتيا چې له څو مخکنيو اساسي قوانينو څخه يو هم د کافی وخت لپاره په برياليتوب سره نه وو ليکل شوي ، دا اساسي قانون د څو تېرو لسيزو په ترڅ کې جګړې او دوامداره ناآراميو او اطمينان نه شتون ته په پام سره ليکل شوی دی. د اساسي قانون تدوين کوونکو دا شرايط په پام کې نيولي دی. د مثل په توګه " اساسي قانون ولايتونو ته د هيڅ ډول سياسی يا اداري واک له ورکولو پرته، د بشپړ مرکزي دولت جوړېدل تسجيل کړي دي."[۳۵] که څه هم د قدرت ددې ډول جوړښت په هکله د پام وړ بحثونو ځای درلود، په اوسنيو شرايطو کې د "فدرالي دولت" انتخاب تر اندازې زيات ګواښوونکی و ګڼل شو. "ددې وېره وه چی د د مرکزي حکومت نشتوالی په آساني سره د دوامداره څو ټوټې کېدنې پيلامه کېدای شی."[۳۶]

پردې سربېره، د يو پارلماني يا نيمه رياستي سيستم پر ځای د پياوړي جمهور رئيس سره رياستي سيستم پدې دليل تصويب شو چې جمهور رئيس بايد د نورو سياسي لوبغاړو په پرتله د قوي واک درلودونکی وي تر څو په نور سياسي لوبغاړو خپل حاکميت وساتلای شي.[۳۷]

### دريم. د افغانستان د اساسي قانون تاريخچه

> "په تېرو اتيا کلونو کې افغانستان د اساسي قانون په هکله هم خورا زياته او هم ډېره لړ تجربه لري."[۳۸]

د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون په ګډون، هر اساسي قانون د پوهيدو لپاره، تاسو بايد د هغه د تاريخي مخينې له کبله د مسودې د جوړېدو بهير او د مخکنې اساسي قانون په هکله معلومات ولري. د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون د پام وړ نوي نوښتونه لري، خو په ورته وخت بيا تر ډېرې کچې پر مخکنيو اساسي قوانينو په ځانګړې توګه د ۱۹۶۴ کال په اساسي قانون باندې تکيه کوي. پدې څپرکي کې تاريخي کتنه، د افغانستان د تقنيني تاريخ هر اړخيزه څېړنه نه ده، بلکه پر هغو پېښو باندې تمرکز لري چې د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون څخه زموږ د پوهې سره مرسته کوي.

### الف. لومړني (د ۱۹۲۳ او ۱۹۳۱کلونو) اساسي قوانين

[35] J. Alexander Thier, *The Making of a Constitution in Afghanistan*, Volume 51 New York Law Review 557, 574 (2006-2007).
[36] *Id.* at 576.
[37] International Crisis Group, Afghanistan: The Constitutional Loya Jirga 3 (Dec. 12, 2003) [hereinafter CLJ].
[38] *Id.* at 559.

امان الله پادشاه په ۱۹۲۳ کال کې د افغانستان لومړنی اساسي قانون د مرکزیت، رسمیاتو او سیکولارکېدني په هیله تصویب کړ. د ۱۹۲۳ کال اساسي قانون د زیاتو سرچینو څخه لکه د فرانسي او ترکیې اساسي قوانینو تر اغېز لاندې وو. د ۱۹۲۳ کال اساسي قانون د پادشاه په لاس کې د قدرت د تمرکز له لارې تر زیاتې اندازې د مذهبي او قبیلوي مشرانو ولکه محدودد کړ. دا اساسي قانون د قانون جوړوني ټول واک د مقننه قوې پر ځای، پر پادشاه پورې و تاړه. همداشاني دا اساسي قانون له رسمي محکمو پرته نورې ټولې محکمې منع شوې او تر ډېره یې د مذهبي محکمو او د غیر رسمي عدلی میکانیزمونو واک را کم کړ.ددې قانون ۵۵ ماده وایی چې د له رسمي محکمو پرته هېڅ محکمه نشي کولای قضیې وڅېړي. دا د افغانستان په تاریخ کې د عدالت پر غیر رسمي سسیتم باندې تر ټولو مهم محدودیت وو. اوس مهال، د د غیر رسمی عدالت څخه د ګټه اخیستلو یا د هغه د محدودیت په هکله د افغانستان په اوسني اساسي قانون کې هیڅ یو حکم نشته.

په نوي اساسي قانون کې دوې مهمې پرمختیاوې په فردي حقونو او د دولت پر حاکمیت پورې اړه لري. اساسي قانون د آزادیو د پراخه ډولونو له هغه جملې د مطبوعاتو (۱۰ماده)، خصوصي شرکتونو (۱۱ماده)، ښووني او روزني (۱۴ماده)، په دولتي منصبونو کې په شرایطو وړ کسانو ګمارل (۱۷ ماده) او مالونو (۱۹ ماده) آزادي څخه ملاتړ کوي. په هغه کې شکنجه او اجباري کار هم منع ګڼل شوي (۲۲ او ۲۴ مادې). ۱ ماده په قطعي شکل سره پر خپلواکي ټینګار کوي. امان الله په زغرده پدې باور وو ترڅو پورې چې له بهرنیو ځواکونو په ځانګړي توګه د بریتانیا څخه چې د خپلواکی جګړې تر پایه یعني تر ۱۹۱۹ کال پورې یی په افغانستان باندې کنترول درلود، بشپړه خپلواکي نه وي تر لاسه کړي، افغانستان به خپلواک نه وی.

سره ددې چې د ۱۹۲۳ کال اساسي قانون تر ډېره د "مترقي" او "لیبرال" قانون په توګه شهرت لري، د واک د تمرکز او د افغانستان د خپلواکۍ لپاره یی د امان الله کوښښ هم وښود – داسې موخې چې تل د لیبرالي مفهوم سره اړخ نه لګوي. د ۱۹۲۳ کال د اساسي قانون منځپانګه یا محتوا او هم د هغه د مسودې برابرول د اصلاحاتو په اړه د امان الله چلند په ګوته کوي. نوموړي په ټولنیز، سیاسی او حقوقي خوځښت کې د لږ شمېر افرادو په دخالت سره، ځان د ننګونو سره مخامخ کړ او د دوهم ځل لپاره یی خپل شخصي اقتدار ته د عمل جامه ور واغوستله. که څه هم دې اساسي قانون د ځینو مادو په ترڅ کې فردي مساواتو اوحقونو ته پراختیا ورکړه، خو بیا نورې مادې یا خو په دی هکله شتون نه درلود او یا هم د امان الله خان د مترقي توب او مرکزي حکومت د لید لورو او هیلو ته یی ځواب نه وایه.

امان الله پدې اساسي قانون کې په دواړو مواردو یعني د فردي حقونو د پراختیا او د واک تمرکز په برخه کې د مخالفت سره مخامخ شو. په ۱۹۲۳ کال کې د نوي اساسي قانون د تصویب لپاره د ۱۰۰۰ استازو په ګډون لویه جرګه جوړه شوه. استازو د دیني عالمانو په قدرت باندې د محدودیتونو په وضع کولو، د ښځو لپاره د زیاتو حقونو له امله هغه رد کړ، او د ټولو لپاره د ښووني او روزني برابرول، او په قانون کی د حنفي فقهې د نه یادولو غوښتنه وکړه.ددې مخالفتونو سره سره، امان الله بیا د یوې کوچنی ډلې چې شمېر یی ۱۰۰ استازو ته رسېده غونډه جوړه کړه او د اساسي قانون د تصویب لپاره یی د هغو ملاتړ تر لاسه کړ.

په مرکزي حکومت کې د واک تمرکز په هغه وخت کې د ديني رهبري په منځ کې قوی مقاومت را وپاراوه. په ۱۹۲۵ کال کې پادشاه د بلوا سره مخامخ شو او له هغه حالت څخه د را وتلو او د ځايي مشرانو د ملاتړ لاس ته راوړلو لپاره يې بله لويه جرگه راوغوښتله.ددې جرگې استازو د بلوا د کرارولو په وړاندې د هغه څخه د اساسي قانون د تعديل غوښتنه وکړه. په دې ډول د اساسي قانون د تصويب جرگې د راغوښتلو دود رواج او تر ننه دوام لري. د ۱۹۲۵ کال تعديل يا اصلاحيه پر اساسي قانون کې د دين په رسمي توگه ځای پر ځای شوه. تر ټولو لوی تغيير په ۲ ماده کې رامنځ ته شوچې په ۱۹۲۵ کال له تعديل وروسته د هغه متن داسي دی:

د افغانستان د دولت دين د اسلام سپيڅلی دين او رسمي او عمومي مذهب يې سپيڅلی حنفي مذهب دی – د نورو اديانو پيروان چې په افغانستان کې شته لکه هندوان او يهوديان د دولت تر حمايي او ساتنې لاندې نيول کيږي په دې شرط چې عمومي امن او نظم ته زيان ونه رسوي، جزيه ورکړي او د ځانگړو جامو او نښو لرونکي وي.

په ۱۹۲۵ کال کې د اصلاحاتو باوجود، امان الله پر قدرت باندې ولکه له لاسه ورکړه او په ۱۹۲۹ کال کې له هېواد څخه ووت. د ۱۹۲۳ کال اساسي قانون د متمرکز کولو يو ليد لوري او هغه ته رسميت ورکول وستايل، ولې د محلي او مذهبي مشرانو اندېښنو سره اشرافی ډوله چلند ، په نهايت کې د رژيم د چپه کېدو سره مرسته وکړه. ورپسې حکومتونه په قانون کې د غوره اصلاحاتو د طرح کېدو نه مخکې، د محلي احساساتو سره له زياتې ځيرتيا او احتياط څخه کار واخيست. د خپلو محدوديتونو سره سره، د ۱۹۲۳ کال اساسي قانون راتلونکي رژيمونه احتياط کولو ته اړ کړل ځکه چې د مشروطه دولت بنسټ يې دود کړه.

د امان الله له تېښتې وروسته د هغه ځای ناستی هم ډېر ژر ووژل شو، او د امان الله يوه ملاتړي تاج او تخت تصرف کړ. د پخواني مشرتابه په نسبت يې د هر ډول همدردي او غوره والي د مخنيوي لپاره، نادرشاه د امان الله اصلاحات يوې خواته کړل او د حنفی مذهب فقهي ته يې خپله ژمنه څرگنده کړه. نادر شاه د اساسي قانون په تصويب کی د محدوديت احساس کاوه ځکه پخواني حکومت په دی هکله د محدوديت دود رواج کړی وو. د نادرشاه د ۱۹۳۱ کال اساسي قانون د ترکيې، ايران او فرانسې اساسي قوانينو او د ۱۹۲۳ کال اساسي قانون او همدارنگه د حنفي فقهي پر ډېرو اړخونو او ځايي عرف باندې ولاړ وو. يو څېړونکي دا اساسي قانون د " گډوډو عناصرو يوه نابريالی"[٣٩] ټولگه نومولې ده. د امان الله برخلاف، نادرشاه د تسوېد په بهير کې د ديني مشرانو سره سلا او مشوره وکړه چې په نوي اساسي قانون کې د خلکو د احساساتو په نظر کې نيول په اړه د نوموړې د هوډ ښکارندوی دی.

د ۱۹۳۱ کال اساسي قانون د امان الله د سکولار او ټولنيز اصلاحات اړونده ځينې حکمونه را کم کړل اود قانون له متن څخه يې د ښځو په هکله ټول موارد ليرې کړل او په قطعی ډول ی حنفي فقه او شريعت په رسميت و پيژندل شول. [٤٠] پدې اساسي قانون کې، سني اسلام او حنفي فقه د افغانستان د قوانينو د

[39]*Id.* at 464.
[40]Said Amir Arjomand, Constitutional Development in Afghanistan: A Comparative and Historical Perspective, 53 Drake Law Review 943, 949 (2005).

بنسټ په توګه ومنل شول او اعلان وشو چی ټول قوانین باید له اسلام او شریعت څخه پیروي وکړي. په واقعیت کې، د پارلمان تصویب شوي قوانین د اساسي قانون د سیستم یوې برخې په توګه، وضعي سیستم ګڼل کیده او د شریعت د نا لیکل شوي قانون په پرتله، اهمیت یی کم وو. پردې سربېره، په (۵) ماده کې ویل شوي دي چې پادشاه خپلې دندې د شریعت او حنفي فقهې د حکمونو مطابق تر سره کوي. د ۸۸ مادې پر بنسټ له محکمو څخه غوښتل شوي دي چې د قضیو په پرېکړو کې د سپېڅلو مذهبي حکمونو سره سم عمل وکړي.

د ۱۹۳۱ کال په اساسي قانون کې له پام وړ نوښتونو څخه د دوه مجلسه پارلمان جوړول دي: د سنا مجلس (د اعیانو مجلس) او ولسي جرګه (ملی شورا). د ولسي جرګې غړي د درې کلونو لپاره په اړونده ولسوالیو کې د خلکو له لوري انتخابېدل، پداسې حال کې چې د سنا مجلس غړي د پادشاه له لوري ټاکل کېدل. خو ددی سره سره په عمل کې د "ولسي جرګې غړي چې شمیره یی د سنا د مجلس د غړو شمیر سره برابر وو د شاه له خوا ټاکل کیدل." په همدی توګه پارلمان د اوړي په موسم کی قومي مشران په کابل کی د دی لپاره له خپلو اړونده ولایتونو او ځایونو څخه لری ساتل چی نا آرامیو ته لمن و نه وهي.[41] مقننه قوې د قانون جوړونې هېڅ رسمي واک نه درلود، ولې پادشاه ته یی د قوانینو سپارښتنه کولای شوه.

د اساسي قانون له توشېح وروسته نادر شاه ډېر ژر ترور شو او د هغه زوی محمد ظاهرشاه د هغه ځای ناستې شو. په ورپسې ۳۰ کلونو کې د نسبي ټیکاو یا ثبات او پرمختیا پړاو دوام و موند ولې د کلمې په دقیق مفهوم سره دا د مشروطېت پړاو نه وو. یوازې له دوهمې نړیوالې جګړې وروسته د یو څو لنډو کلونو په اوږدو کې د ښاروالیو او ملي انتخابات تر سره شول (په ترتیب سره په ۱۹۴۷ او ۱۹۵۰ کلونو کې ).[42] د ۱۹۴۹ کال فعالیت د ځانګړې پاملرنې وړ دی. د خپل نظارتي رول په نظر کې نیولو سره، اصلاح غوښتونکو غړو د بودجې اړونده مسئلو په هکله یی د وزیرانو د استجواب لړی پیل کړه او قدرت او بډاینې ته د رسېدو لپاره یی فساد د بوې غوره او ښکاره بېلګې په توګه تشخیص کړ.[43] یو شمېر وزیران ځواب ورکولو ته حاضر نه شول او د پارلمان د واک په هکله یی ستومانوونکي بحثونه را وپارول.[44]

دا لیبرالي پړاو تر ۱۹۵۳ کال پورې وغزېد او دا هغه وخت دي چې محمد داوود خان لومړی وزیر شو او د رژیم مخالفین یی په سخته وټکول. [45] داوود هم د ښځو لپاره ښوونه او روزنه پرانیستله او د قوانینو د تدوین یوه لویه پروژه یې تر لاس لاندې ونیوه. د افغانستان د قوانینو تدوین د داوود تل پاتې میراث ګڼل کېږي. نوموړي د افغانستان د مدني قانون د پراختیا کار پیل کړ چې تر لا تراوسه هم دوام لري.

### ب. لیبرال پړاو: د ۱۹۶۴ کال اساسي قانون

---

[41] *Id.* at 949.
[42] Arjomand, *supra* note 40, at 950.
[43] Louis Dupree, Afghanistan 494 (Princeton University Press 1973).
[44] *Id.* at 495.
[45] Martin Ewans, Afghanistan: A New History 117-18 (Curzon Press 2001).

د مخکنیو اساسي قوانینو خلاف، د ۱۹۶۴ کال اساسي قانون د پراخه خبرو اترو، بحثونو، او د عامه نظر غوښتنې محصول وو.ددې اساسي قانون د مسودې کار د داوود له استعفا یوازې څو اونۍ وروسته د ۱۹۶۳ کال د مارچ په میاشت کی پیل شوه. ظاهر پادشاه د اوو غړو کمیسیون د نوي لیبرال اساسي قانون د مسودې د جوړولو لپاره وګماره چې د کال په اوږدو کې یې نژدې هره ورځ غونډې کولی او د افغانستان د بېلا بېلوډلو د نظریو د راغونډولو په لټه کې وو.[٤٦] د ۱۹۶۴ کال په فبرورۍ کې کمیسیون یوه مسوده تیاره کړه چې وروسته بیا د ۲۹ غړو په ترکیب سره د دوهم کمیسون له لوري وڅېړل شوه او پدې توګه پادشاه وروسته د تصویب لویه جرګه را وغوښتله.[٤٧]

افغانستان چې د څو لسیزو ټیکاو او نسبي پرمختیا تجربه یې درلوده، ولې یې په ۱۹۶۴ کال کې نوی اساسي قانون تصویب کړ؟ تر ډېره ددې ځواب د لومړي وزیر په توګه د داوود لس کلن حکومت (۱۹۵۳ – ۱۹۶۳) په دوره کې نغښتی دی. پدې اړوند، د مارتین ایوان له کتاب څخه هغه مطلب ته را اخلو چې د داوود د استعفاء په هکله یې لیکلی:[٤٨]

> که څه هم دا ډېره مهمه وه خود پاکستان سره له په ټپه درېدلو اړیکو څخه د راوتلومسله [د "پښتونستان" مسئله]، یوازیني اړتیا نه وه، ولې بیا یې هم د داوود سقوط د ځان سره درلود. له یوه کال یا له هغه څخه زیاته موده کې، شاهی کورنی د هېواد راتلونکې تر څېړنې لاندې درلوده او زیاتې کتنې یا ملاحظات یی درلوده. تر یوه بریده هغوی په شوروي اتحاد پورې د هېواد تړاو چې د محمد داوود د حکومت د تګلارې په اساس رامنځ ته شو، نا آرامه کوونکي وبلل. بیا هم تر ټولو مهمه موضوع داوه چې د نوې تحصیل لرونکې طبقې په راڅرګندېدو سره د محمد داوود تر حده زیاد مستبد حکومت د خلکو کرکه را وپاروله. په واقعیت کې، پداسي حال کې چې د سیاسي، ټولنیز، معارف او اقتصادي تګ لارو ترمنځ نا انډولي موجوده وه داوود خان په یو څه بریالیتوب سره د قدرت ستنی په خپل لاس کې ساتلې. شاهي کورنی د منځنې ختیځ په څو هېوادونو کې هغه پرمختیاوې څارلې چې په نتیجه کې یې دودیز حاکمان رانسکور او ځای یی انقلابی رژیمونو ونیو. په ځانګړې توګه په ۱۹۷۵ کال کې د عراق پادشاه فیصل او د نوموړي د لومړي وزیر نوري وژل کېدل. . . د هغوی لپاره ټکان ورکوونکی وو. د شاهي کورنی ټولیزه انګېرنه داسې وه چې د مشروطه سلطنت او دموکراتیکې حکومتولی په لوري حرکت یو ضرورت دی تر څو دوې په ورته برخلیک باندې ګرفتار نشي. دې موخې ته د رسېدو لپاره لومړی ګام د داوود لیرې کول وو. . . .

اوس موږ د ۱۹۶۴ کال د اساسي قانون ځینې ځانګړتیاوې چې په پراخه توګه ددې اساسي قانون لپاره د یو مهم بنسټ په توګه ګڼل کېږي، اشاره کوو.[٤٩] د خپل تصویب په مهال، د ۱۹۶۴ کال اساسي قانون په اسلامي نړۍ کې بې ساري وو ځکه چې په هغه کې د دین او حکومتي بنسټونو تر منځ بېلتون منل شوی

[46]*Id.* at 566.
[47]*Id.* at 566.
[48]Martin Ewans, Afghanistan: A New History 117-18 (Curzon Press 2001).
[49]*See, e. g.* , Thier, *supra* note 35, at 561.

وو. د اساسي قانون ۱ ماده، د دین پر ځای د خلکو په اراده او حاکمیت ولاړ یو دولت په جوړېدو حکم کوي. د ۲ مادې پر بنسټ، اسلام د هېواد د رسمي دین په توګه پخپل حال پاته شو، پدې ترڅ کې د دین مختلف رول د پام وړ دی. نور نوي نوښتونه عبارت دي له : د قانون په وړاندې د سړیو او ښځو او ټولو قبایلو برابر حقونه، د فکر او بیان آزادي، د خصوصي ملکیت څخه ساتنه او د سیاسی ګوندونو د جوړېدو حق.

ښایي د ۱۹۳۱ کا اساسي قانون سره د هغه تر ټولو لوی توپیر د شریعت په وړاندې د وضعي قوانینو غوره والی یا رجحان وی. د ۱۹۳۱ کال اساسي قانون برخلاف، وضعی قوانین د پارلمان له تصویبېدو او د پادشاه له توشیح وروسته په رسمي توګه غوره ګڼل شوي دی، سر بېره پر دې، د (۱۰۲) مادې سره سم محکمه د قضایاوو د حل او فصل په برخه لومړی باید د اساسي قانون حکمونو او نورو اړونده قوانینو ته مراجعه وکړي. له هغه وروسته چې د ۱۹۶۴ کال اساسي قانون تصویب شو، شریعت (په رسمي توګه) د اړونده قضایاوو په اړوند د وضعي قانون د نه شتون په صورت کې د استفادې وړ وو. دا چلند اوس مهال په افغانستان کې د قضیاوو په حل او فصل کې د شریعت د رول اهمیت په ګوته کوي.

همدا شان د ۱۹۶۴ کال اساسي قانون د لومړي ځل لپاره، قضائیه قوه د اجرائیه قوې (پادشاه) او مقننه قوې سره برابره د دولت د یو خپلواک رکن په توګه تثبیت کړه، او د قواوو د اوسني تفکیک چې د ۲۰۰۴ کال په اساسي قانون کې تسجیل شوی، بنسټ جوړوي. پداسې حال کې چې دا برابری په قانون کې تسجیل شوې وه خو د لاندې علتونو په وجه په عمل کې پلی نه شوه: ۱) د تجربه لرونکو قاضیانو او قانون پوهانو له حده ډېر کمښت چې د قانون د حکمونو سم د قانون تطبیق تأمین کړي ؛ ۲) محلي او ځایي دودونه چې رسمي سیستم یې کمزوری کاوه او ۳) د پادشاه او لومړي وزیر لوړتیا یا تفوق.[50]

همدارنګه د ۱۹۶۴ کال اساسي قانون د مقننه قوې ترکیب یعنی ولسي جرګې (د استازو مجلس) او مشرانو جرګه (د سنا مجلس) باندې تغیر کړ. د ولسي جرګې غړي د څلورو کلونو لپاره د عمومي انتخاباتو له لارې انتخابېدل. د مشرانو جرګې یو په دریمه غړي د پادشاه له لوري، دوهمه یو په دریمه غړي د ولایتي شوراګانو له لوري او پاته یو په دریمه غړي د ولایتي شورا د جرګو د رئیس له خوا ټاکل کېدل. د قانون لایحه د دواړو مجلسون له تصویب وروسته په قانون بدلېده. مقننه قوه د بودجې د کنترول(۷۵ ماده)، د تړونونو د تصویب (۶۴ ماده)، د اجرائیه قوې د تأیید یا انحلال مسوده (۸۹ – ۹۳ مادې) په برخو کې پراخه اجرائیوې او نظارتی واک درلود. د قضائیه قوې په شان، مقننه قوې تر عمل نه په کاغذ کې پیاوړې وه.[51] بې نظمه او غیر فعال انتخاب شوو غړو داسې انګېرل چې مقننه قوه"په هر کار کې د مداخلې کولو حق لری."[52]

د ۱۹۶۴ کال اساسي قانون له مخې دوه پارلماني انتخابات تر سره شول[53] د خپرونو د پرمختیا، د محصلینو مظاهرو او سیاسی خوځښتونو په[54] لنډه موده کې دموکراتیک حکومت ته لوري وټاکل. دا موده

---

[50]*Id.* at 564.
[51]*Id.* at 563
[52] Thier, *supra* note 35, at 563.
[53]*Id*. at 560.

د افغانستان په تقنيني تاريخ کې د قوانينو د تدوين، راټولونې او متمرکز کولو تر ټولو ګټور پړاو ګڼل کېږي. دا پړاو چې داوود پيل کړی وو د قوانينو په تدوين له هغه جملې د جزا قانون، مدني قانون او د محاکماتو د جزايي اصولو په برخه کې تر ټولو لوړ ځای لري. د افغانستان د اوسنيو قوانينو ډېره برخه چې لا تر اوسه نافذه ده، د هغه وخت د پارلمان يا ملي شورا له لوري تصويب شوي دي. د جزا جامع قانون، جرمونه او سزاګانې تعريف کړې او قضايي نظام تر ډېره نظم وموند.ددې پړاو حقوقي سيستم په اوسني وخت کې د افغانستان د معاصر قانوني جوړښت، په ډېره ښه توګه ځرګندوي .

سره ددې هم دا د هيلو ډک اساسي قانون او د هغه له تصويبېدو وروسته پارلماني انتخابات، پدې دليل تر نيوکې لاندی راغلل چې د افغانستان د خلکو ژوندانه سره يې تړاو نه درلود. د نويو مفاهيمو په هکله بې سواده خلکو معلومات او پوهه نه درلوده. سره ددې پارلمان د اساسي قانون د اصولو د تطبيق لپاره د قانون جوړونې واک درلود، خو د خلکو ملاتړ څخه بې برخې وو.

**د بحث پوښتنې**

۱. آيا هر اساسي قانون، په خپل ذات کې "پياوړی" وي او يا د يو اساسي قانون اغېز هميش په هغو وګړو پورې تړلی چې قانون تطبيقوي؟

۲. د افغانستان پخواني اساسي قوانين د "مشروطيت" په پايښت کې د ماتې سره مخامخ شول، خو دا ماتې مختلف دليلونه لري. د ۱۹۲۳، ۱۹۳۱ او ۱۹۶۴ کلونو د اساسي قوانينو غوره نيمګړتياوې په څه کې دي؟

۳. اوس هر هغه نيمګړتيا چې د دوهمې پوښتنې په اړه مو په ګوته کړې، بيان کړی. هره نيمګړتيا يا عيب تحليل او دا ووايې چې آيا دا د جوړښت يا يوه ساختاري ستونزه ده (مثال، يوه بده نظريه چې هيڅکله د کارولو وړ نه وي) ؛ د پلي کولو يا تطبيق يوه ستونزه يا پرابلم، پدې معنا چې د کاغذ پر مخ سمه وي خو د عملي کولو وړ نه وي؛ يا تر دې لويه ستونزه لکه بې وزلي او يا بی سوادي چې په بشپړ ډول د اساسي قانون څخه سيوا يوه موضوع ده؟

### ج. له ۱۹۷۳ کال وروسته نا آرامي

په ۱۹۷۳ کال کې داوود د مارکسېستی عناصرو په مرسته ظاهرشاهی حکومت را نسکور کړ او شاهی حکومت يی لغو او ځان يی د جمهور رئيس په توګه اعلان کړ. داوود د سلا او مشورې لپاره د مرکزي کمېټې په نوم يو ارګان جوړ کړ او په ورته وخت کې يی خپلې حکمروايی ته د مطلق قدرت سره د فرمانونو له لارې دوام ورکړ. پدې پړاو کې د داوود غوره کار د ځمکې د بيا وېشلو سيستم وو چې د

[54] Arjomand, *supra* note 40, at 953 (citing Dupree, *supra* note 34, at 587-623).

حکومت په مرسته او د خصوصي ملکیت د پراختیا په موخه تر لاس لاندې ونیول شو. د ۱۹۷۷ کال په جنوري کې لویه جرګه را وغوښتل شوه چې د فبرورۍ په ۲۴ یې اساسي قانون تصویب کړ.

دا اساسي قانون له مخکنیو اساسي قوانینو څخه توپیر درلود. دوې غوره نوښتیاوې یې د ښځو حقونو ته څرګنده اشاره او په انتخاباتو کې د هر وګړی د رای ورکولو حق وو. د دین رول په اساسي قانون کې راکم شوی دی ځکه چې په هغه کې د رسمي دین په توګه د اسلام حنفي فقهي ته هېڅ اشاره نه ده شوې. په ټولیزه توګه، دې اساسي قانون د وخت سوسیالیستی ایدیولوژی راغبرګه کړې ده. په واقعیت کې، ۱۷ او ۱۸ مادې د حکومت له لوري د اقتصاد تنظیم هڅوي او ۱۳ مادې د هېواد ټولې طبیعي زېرمې ملي اعلان کړې.

د ۱۹۷۷ کال اساسي قانون هېڅکله نافذ نشو ځکه چې د ۱۹۷۸ کال د اپرېل په میاشت کې د داوود حکومت د یوې کودتا په پایله کې له منځه ولاړ. له کودتا وروسته سمدلاسه د نورمحمد ترکي تر مشرتابه لاندې افغانستان د خلق دموکراتیک جمهوریت انقلابی شورا نوی حکومت تشکیل شوچې ژر د شوروی اتحاد د سیاسي ببرو په شان بدل شو. دې حکومت د مقننې قوې پر ځای د پلان جوړونې کمېټې له لوري د فرمانونو د صادرولو له لارې د خلکو له استازو پرته حکومت کاوه.

د ۱۹۷۹ کال په دسمبر کې شوروی اتحاد پر افغانستان وسله وال یرغل وکړ. شوروي اتحادد دې برید په ترڅ کې چې د افغانستان نامتو مارکسېست ببرک کارمل سره یې همغږي کړې وو، جمهور رئیس حفیظ الله امین وواژه او کارمل د جمهور رئیس په توګه وټاکل شو. په ۱۹۸۰ کال کې انقلابي شورا د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د اساسي اصولو تر نامه لاندې لنډمهال اساسي قانون جوړ کړ.ددې اصولو ۳۶ مادې انقلابي شورا په هېواد کې د یوازني حاکم ارګان په توګه تسجیل کړ. ښایي د خلکو احساساتو د درناوي په خاطر وي چې دا اساسي قانون مارکسېزم ته اشاره نه کوی، بلکه دین ته یې لوړ مقام ببل کړی دی. د قانون ۵ ماده په حکومت کې د اسلام د دین د رول په هکله وایی:

> د افغانستان به دموکراتیک جمهوریت کې د اسلام د سپېڅلي دین درناوی، رعایت او ساتنه تأمینېږي او د ټولو مسلمانانو لپاره د دیني او مذهبي مراسمو د سرته رسولو آزادي تضمینېږي. د نورو ادیانو پیروان د خپلو دیني او مذهبي مراسمو په سرته رسولو کې چې د ټولنې هوسایني او امنیت اخلال نه کاندي بشپړه آزادی لري. له اتباعو نه هېڅوک حق نه لري چې له دین څخه د ملي ضد او د خلکو ضد تبلیغاتو او د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت او د افغانستان د خلکو د ګټو خلاف د نورو اعمالو د ارتکاب د وسیلې په موخه ګټه واخلي. دولت د روحانیونو اودیني عالمانو وطنپالونکي کړنې او د هغوی د دندو او مکلفیتونو په پای ته رسولو کې مرسته او همکاري کوی.

په ټولیزه توګه، دتېرو کلونو په پرتله دین ته درناوی د زیاتې پاملرنې وړ وګرځېد. په واقعیت کې، په تېره کمونېستي دوره کې د دین په وړاندې چلند دومره سخت وو چې که به څوک د لمانځه د اداکولو لپاره جومات ته ولاړ، نو ځورول کیده. سره ددې هم د افغانستان د اساسي قانون په تاریخ کې لومړی ځل وو چې د ۱۹۸۰ کال په اساسي قانون کې اسلام د هېواد د رسمي دین په توګه ونه پېژندل شو.

د روسي ژبې د اجباري زده کړې سره یو ځای د ښووونې اور وزنې عیارولو په ګډون، نږدې د حکومت ټول نهادونه د شوروي اتحاد دسیستم په شان بیا و رغول شول. مذهبې روزنه د کمونستي ایدیولوژۍ په زده کړې ور زیاته شوه. په ټولیزه توګه، ټول قوانین شوروي قوانینو او قانون جوړونې په شان شول. ځایي حکومتولي د ځایي شوراګانو او د جرګې له لوري په ګډه سره تر سره کېده. دا ځایي جرګې په ظاهر کې د اقتصادي، سیاسي او ټولنیزو چارو د ادارې مسؤلیت په غاړه درلود، اما په واقعیت کې د اجراآتو لپاره د مرکزي چارواکو اجازې ته اړتیا وه چې دا د ځایي جرګو د چارو د کار خنډ ګرځېده.

ډېر ژر کارمل د ډاکتر نجیب پواسطه عوض شو او نوموړي هڅه وکړه چې د کمونستي حکومت خلاف مخ په زیاتېدونکی پاڅون آرام کړي. د ۱۹۸۷ کال په جنوري کې، نجیب الله د ملی پخلاینې لپاره فوق العاده کمیسیون جوړ کړ تر څو د نوي اساسي قانون مسوده جوړه کړي. د ۱۹۸۷ کال په نوامبر کې لویی جرګې نوی اساسي قانون تصویب کړ.ددې اساسي قانون پر بنسټ د ۱۹۸۸ کال په لومړیو کې انتخابات تر سره شول او څو ګوندیز حکومت منځ ته راغی. پدې ډول، د اساسي قانون ۲ ماده د ۱۹۳۱ کال د اساسي قانون په شان حکم کوي چې اسلام د هېواد رسمي دین دی او اعلان یی وکړ چې په افغانستان کې هېڅ قانون د اسلام د سپېڅلي دین او پدې اساسي قانون کې نورو درج شوو ارزښتونو خلاف نشي کېدای. همداشانې د ۱۹۸۷ کال په اساسي قانون کې رسمي مقننه قوه هم تسجیل شوه، ولی ټول واک د سیاسي ببرو سره وو. قضائیه قوې خپلې د قانون سره سم پرېکړې کولی. خو بیا هم، دا اساسي قانون دا نه مشخص کوي چې دا اساسي قانون د مدونو وضعی قوانینو اوشریعت په وړاندې غوره والي لري او که څنګه.

د دولت خلاف د مجاهدینو د زیاتېدونکو بریدونو د دوام سره شوروی اتحاد د ژنیو توافقاتو پر بنسټ باندې د خپلو عسکرو ایستل د ۱۹۸۹ کال د فبروری په میاشت کې بشپړ کړل. که څه هم د شوروي تر ملاتړ لاندې جمهور رئیس نجیب الله طرفداران په مقننه قوه کې په اقلیت کې وو، نوموړي په قدرت کې پاته شو او تر ۱۹۹۲ کال پورې د حکومت چارواکې پخپل لاس کې درلودې.

په ۱۹۹۲ کال د افغانستان اسلامي دولت د رهبری لپاره لنډ مهاله حکومت جوړ شو. په واقعیت کې دا حکومت یوازې په نوم کې حکومت وو ځکه د لنډ مهاله حکومت په توګه یی په ډېره سختې سره پر کابل باندې کنترول درلود. کله چې برهان الدین رباني په ۱۹۹۲ کال کې قدرت تر لاسه کړ، نوموړي د افغانستان د اسلامي دولت نوی اساسي قانون جوړ کړ. د مخکنیو ټولو اساسي قوانینو څخه په توپیر د ۱۹۹۲ کال اساسي قانون حکم کوي چې دولت پر قرآني آیه ولاړ او حاکمیت په الله (ج) پورې تړلی دی. دې اساسي قانون دا حکم د ۱۹۶۴ کال د اساسي قانوند ددې حکم سره چې وایي په افغانستان کې ملی حاکمیت په ملت پورې اړه لري، په تضاد کې دی. په همدې ترتیب، د ۱۹۹۲ کال اساسي قانون د ټولنې په اداره او د قضایاوو په حل و فصل کې مدونو قوانینو لپاره د هېڅ رول وړاندوینه نه کوي.ددې پر ځای، دا قانون یوازې له شریعت څخه افراطی تفسیر وړاندې کوي. دا اساسي قانون په ۱۹۹۲ هېواد کې د بې نظمي او ګډوډی له امله، د پلې کېدو وړ ونه ګرځېد. په کابل کې رسمي حکومت د هېواد پر نورو برخو او قبیلوی ډلو باندې چې د قدرت تر لاس کولو لپاره یی مبارزه کوله، کنترول نه درلود.

د کورنۍ جګړې په دوام سره، د جګړې په ډګر کې او له کابل څخه بهر د زيات شمېر نورو ښارونو په تصرف کولو سره يو بل حکومت سر راپورته کړ. په ۱۹۹۴ کال کې د مذهبي زده کوونکو يوې ډلې د طالبانو د تحريک بنسټ کېښود. هغوی د د مجاهدينو ترمنځ جګړو، په هېواد کې د عمومی ناکراريو او د ښځې تښتوني څخه راپيدا شوو دردونو او رنځونو، ستړي کړې وو. د ملا محمد عمر تر مشرۍ لاندې، طالبانو زيات شمېر کډوال او ديني زده کوونکي د ځان سره ملګري کړل او د راپورونو له مخې د امريکې د متحده ايالاتو، پاکستان او سعودي عربستان ورسره مالي مرسته کوله. د ۱۹۹۶ کل تر سېپټمبر پورې کابل سقوط وکړ او د افغانستان د قلمرو زياته برخه د طالبانو تر کنترول لاندې راغله. لدې وروسته، طالبانو خپل حکومت په کابل او قندهار کې ټينګ کړ. ملا عمر د عالي شورا مشرتوب په غاړه درلود. طالبانو به ددې اعلان کاوه چې ددوی موخه له فساد څخه د پاک افغانستان او د اسلامي اصولو سره سم د پاکې ټولنې جوړول دي.

د طالبانو د واکمنی په لومړيو کې په نه ستړې کېدونکی کوښښ سره د فساد جرړې را وايستي او نظم او قانون يې په ټولنه کې رامنځ ته کړ. د طالبانو د برياليتوب دليل پدې کې دی چې د هېواد په زياترو سيمو کې د مجاهدينو ترمنځ نښتې ودربدې او د لېږد رالېږد لارې په ټول هېواد کې پرانستل شوې. خو دا برياوې د معاصرو حکومتي تشکيلاتو په قېمت تر لاسه شوې. پخوانی دولتي بنسټونه، وزارتونه، مکتبونه او د عامه خدمات نور بنسټونه له کاره ولوېدل.

په کابل او قندهار کې د جوړو شوو شوراګانو له لارې حکومت کول، طالبانو له شريعت څخه د افراطی تفسير پر بنسټ اسلامي حکومت جوړ کړ. دې اصولو د ژوندانه بېلابېلې برخې له حجاب څخه نيولې بيا د يوه سړي د ږيرې تر اوږدوالي او مناسب کورني ژوند پورې په بر کې درلودل. دا ډول اصولاو مقررات د کابل او قندهار په شاوخوا سيمو کې خپاره شول تر څو خلک د هغوی له شرايطو څخه خبر شی. د دې ټولواصولود تطبيق مسؤليت د امر بالمعروف او نهی عن المنکر اداربپه غاړه درلود چې کله ناکله به د تاوتريخوالي سره هم مل وو.

ددې دورې په اوږدو کې، ښځو هېڅ ډول قانوني حقونه نه درلودل. نجوني ښوونځيو ته په تلو قادره نه وې. له هېواد څخه د ناحکومتي بهرنيو مؤسسو د کارکوونکو شړلو په هکله د طالبانو د تګ لارې له امله د بهرنيو مرستې کچه ډېره کمه شوه. مثال، د ۲۰۰۰ کال د جولای په ۱۰ د طالبانو حکومت دستور ورکړ چې ټول بهرنی مرستندويه مؤسسي او سازمانونه بايد افغان ښځينه کارکوونکي له دندی ګوښه کړي. دا قانون په نامنظمه او غير عادلانه توګه پلی شو. په هېواد کې د ګوتو په شمار مدون قوانين او د محکمو يو څو رسمي اصول او يو څو منظمو محکمو شتون درلود.

۱ شکل: د افغانستان اساسي قوانين


1923
له بریتانیا څخه د خپلواکۍ تر لاسه کولو وروسته د امان الله خان پواسطه توشېح شو.
1931
د ۱۹۲۹ کال بلوا او د امان الله له لیرې کېدو وروسته د نادرشاه پواسطه نافذ شو.
1964
د ظاهر شاه له لوري نافذ او په ۱۹۷۳ د داود خان د کودتا په پایله کېتعلیق شو.
1977
د حکومتی اړدوړ په اوږدو کې د داوود له خوا نافذ شو.
1980
پر افغانستان باندې د شوروي له یرغل او اشغال وروسته د ببرک کارمل " لاس پوڅي حکومت" په وخت کې تصویب شو.
1987
د شوروی یرغلګرو ځواکونو له وتلو وروسته د نجیب الله د حکومت په وخت کې د ملي پخلاینې په موخه تصویب شو.
1990
د شوروي ځواکونو له وتلو او د کمونیستي وروستی ځالي له ړنګېدو وروسته د ۱۹۸۷ اساسي قانون تر ډېرې اندازې تعدیل شو.
2004
د بن د ۲۰۰۱ کاب د هوکړې وروسته په ۲۰۰۴ کال کې نافذ شو.

## څلورم. د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون

د پېښو د پام وړ لړۍ په پایله کې د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون رامنځ ته شو.ددې کیسې پیل د هغو پېښو سره تړاو لري چې نژدې ۷۰۰۰ میله له کابل څخه لرې رامنځ ته شوې. د ۲۰۰۱ کال د سپټمبر په ۱۱ د امریکې په متحده ایالتونو باند ې ترهګري برید د امریکا په مشرۍ وسله والو عملیاتو لپاره لاره پرانیستله چې د څو میاشتو په اوږدو کې یې د طالبانو حکومت را نسکور کړ. د رژیم د ړنګېدو وروسته د قدرت تشې څخه د ګټې اخیستنې په موخه، د افغانانو نامتو ډلې (نه استازې) د آلمان د بن په ښار کې سره راټول شول ترڅو د ملي حکومت د جوړېدو طرح جوړه کړي. [55] په نتیجه کې، د ۲۰۰۱ کال په دسمبر کې د بن هوکړې په هېواد کې د سیاسي اوښتون یوه درې پړاویزه طرحه و ټاکله.

لومړی پړاو، د لنډ مهاله اداري جوړېدل (IA) وو چې د هغه دنده په لنډ وخت کې د حکومتي چارو سرپرستی کول او په قضایي او ملکي خدماتو په برخو کې د اصلاحاتو راوړلو لپاره د زمینې برابرول وو. حکومت د ۱۹۶۴ کال د اساسي قانون د حکمونو مطابق (په پادشاه، اجرائیه او مقننه قواوو اړوندو مقرراتو پرته) عمل کاوه. [56] حامد کرزی د لنډ مهاله اداري د رئیس په توګه د ۶ میاشتو لپاره و ټاکل شو چې وروسته بیا دوهم پړاو پیل شو.

دوهم پړاو، منځمهاله(انتقالي) اداري یا حکومت (TA) جوړېدل وو چې د ۲۰۰۲ کال د جون په میاشت کې جوړه شوه. بېړنۍ لویې جرګې (چې د لنډ مهاله اداري له لوري جوړ او په لاره اچول شوی وه) حامد کرزی د منځمهاله اداري د رئیس په توګه او د هغه کابینه انتخاب کړه. د منځمهاله اداري قدرت هم د لنډ مهاله اداري په شان وو. [57] خو د هغه ماموریت توپیر درلود: منځمهاله حکومت دنده درلوده تر څو د اساسي قانون د کمیسیون په جوړېدو سره د نوي قانون اساسي مسوده پیل او د ۱۸ میاشتو په اوږدو کې د هغه له تصویب څخه (د اساسي قانون لویې جرګې له لارې) څارنه وکړي. دریم پړاو د نوي اساسي قانون د تصویب څخه وروسته د ۲۰۰۴ کال په جنوري کې پیل شو. دا پړاو د ۲۰۰۴ کال د اکتوبر په میاشت کې د لومړنیو ولسمشریزو انتخاباتو د ترسره کېدو پورې دوام موند کله چې حامد کرزی د افغانستان د و لسمشر په تو ګه انتخاب شو.

باید وواېو چې د بن په هوکړه کې د یادشوي مهال ویش په دقیق ډول پلی نشو. د مثال په توګه، د بن هوکړې ددې وړاندوینه کړې وه چې د نوي اساسي قانون د مسودې د تیارولو لپاره د اساسي قانون کمیسیون باید د منځمهاله حکومت له جوړېدو وروسته د دوو میاشتو په اوږدو کې جوړشي. په عمل کې، کمیسیون د حکومت له جوړېدو پنځه میاشتې وروسته جوړ شو (یعنې درې میاشتې و ځنډېده). د اساسي قانون د لویې جرګې په اړه باید وویل شي چې د هغې جوړېدل هم باید د منځمهاله حکومت له جوړېدو ۱۸ میاشتې وروسته تر سره شوی وای. لدې امله د اساسي قانون د مسودې جوړولو کمیسیون په هغه

[55]. د بارنیت روبین په قول، د افغانستان د اساسي قانون په مهندسي کې څلورو ډلو چه د شمال ډله یې تر ټولو پیاوړې وه، ګډون درلود. وګورئ:
Volume 15, Number 3, Journal of Democracy 5, 6 (2004),
[56]International Crisis Group, Afghanistan's Flawed Constitutional Process 12 (June 12, 2003) [hereinafter ICG].
[57]Rainer Grote, *Separation of Powers in the New Afghan Constitution*, Max Planck Institute, 901 (2004).

وخت کې د ۱۶ پلان شوو میاشتو په ځای، ۱۳ میاشتې وخت په واک کې درلود.[58] پداسې حال کې چې دې طرح یو ټولیز انځور وړاندې کاوه، د اساسي قانون د مسودې د کار د بهیر په اړوند یې د ټولیز درک عملي جزئیات ښودل.

**۲ شکل: د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون جوړېدو مهال وېش**

څرنګه چې تاسو په شکل کې ګورئ، د اساسي قانون د مسودې تیارول او تصویب د مهال وېش یا تیارشوي پلان سره سم نه دې تر سره شوی. پورتنی ردیف د پلان مطابق فعالیت، مهال وېش یا بهیر په ګوته کوي او لاندني ردیف فعالیت یا پایله ښیي. دوه منځني ردیفونه پلان شوې نېټه او د فعالیت واقعي نېټه ښیي – د ځینو فعالیتونو په اړه توپیر نشته.

| پلان شوی فعالیت | پلان شوې نیټه | واقعی نیټه | د فعالیت عملی سر ته رسول |
|---|---|---|---|
| د بن هوکړې لاسلیک | ۲۰۰۱ د د سمبر ۵ | | |
| له پروفیسور ربانی څخه لنډ مهاله ادارې ته د قدرت لېږد | ۲۰۰۱د دسمبر ۲۲ | | کرزی د لنډ مهاله ادارې د رئیس په توګه و ټاکل شو |
| د لنډ مهاله ادارې څخه ۶ میاشتو وروسته، د منځمهاله حکومت جوړېدو لپاره د بېړنۍ لویه جرګې جوړېدل | ۲۰۰۲ د جون۱۱ ـ ۲۲ | | د۱۶۵۰ استازو په ګډون بېړنۍ لویی جرګې حامد کرزی د منځمهاله حکومت د رئیس په توګه و ټاکه |
| د منځمهاله حکومت جوړېدو څخه ۲ میاشتې وروسته د اساسي قانون د کمیسیون جوړېدل | اګست ۲۰۰۲ | ۷ نومبر ۲۰۰۲ | د محمد ظاهر شاه له خوا د اساسي قانون د ۹ کسیز کمیسیون پرانیستل(کرزی هغه د اکتوبر پر ۵ نېټه اعلانوي) |
| د یوناما د اساسي قانون ملاتړ برخې له لوري پلان جوړ ل (له قانوني الزامیت پرته). | جنوری ۲۰۰۳ | ۲۶ اپریل ۲۰۰۳ | کرزی ته د اساسي قانون د مسودې وړاندې کول او تر ۳۵ غړو د اساسي قانون د کمیسیون پراختیا |

[58] ICG, *supra* note 56, at 13.

| | | | |
|---|---|---|---|
| | جون – اگست ۲۰۰۳ | | د خلکو د وړاندیزونو او نظریو د راټولول لپاره د اساسي قانون کمیسیون غړي ولایتونو ته سفر کوي. د عامه نظرغوښتني لپاره مسوده نشته |
| د عامه نظر غوښتني لپاره د اساسي قانون د مسودې خپرول | اگست ۲۰۰۳ | اخیری سیپتمبر ۲۰۰۳ | کرزي ته د بیا کتل شوې طرح وړاندې کول |
| له کرزی څخهد دېتوقع چې مسوده عامه شي. (تر سره نه شو) | سیپتمبر ۲۰۰۳ | ۳ نومبر ۲۰۰۳ | د کرزی له خوا د مسودې ایدت او د هغه په هکله د عامه نظر غوښتنه |
| د اساسي قانون لویه جرگه (د یوناما پلان سره سم) | اکتوبر ۲۰۰۳ | ۱۳ دسمبر ۲۰۰۳ | ۵۰۲ استازو په گډون د اساسي قانون د لویی جرگې راغوښتل |
| د اساسي قانون لویه جرگې جوړول (د۲۰۰۴ کال د جنوری مخکې، د لنډ مهاله اداري څخه ۱۸ میاشتې وروسته. | ٤جنوری ۲۰۰٤ | | داساسي قانون اساسي لوېي جرگې اساسي قانون تصویب کړ |
| د بېړنی لویی جرگې څخه وروسته د ۲ کلو نو په اوږدو کې د عمومی انتخاباتو تر سره کول | د ۲۰۰۴ تر جون پورې | ۹ اکتوبر ۲۰۰٤ | د ولسمشري انتخاباتو په نتیجه کې، حامد کرزی د جمهور رئیس په توگه ټاکل کیږي. |

**الف. د مسودې د برابرولو بهیر**

د منځمهاله حکومت د رئیس په توگه، حامد کرزي د ۲۰۰۲ کال په اکتوبر کې د اساسي قانون د مسودې تیارولو ۹ کسیز کمیسیون و ټاکه.[۵۹] دا کمیسیون چې له ۷ سړیو او ۲ ښځو څخه جوړ شوی وو،[۶۰] ډېر ژر " په دوو ډلو ووېشل شو [ یوه ډله د شهراني او بله ډله د محمد موسی معروفي تر مشرۍ لاندې]،چې

[۵۹]. د ظاهرشاه له لوري پرانیستل نه شوه او پدې ډول د ۲۰۰۲ کال تر نوامبر پورې د کار د پیل وړ نه و ه.

[۶۰]. دا اشخاص عبارت وو له ۱) نعمت الله شهراني (د لنډ مهاله اداري مرستیال او د کمیسیون مشر)، ۲) قاسم فاضلي (هغه څوک چه کړکېچ بین المللی ډلې په حواله یی د کمیسیون په غونډو کې هېڅ برخه وا نه اخیستله)، ۳) رحیم شېرزوی، ۴)عبدالاسلام عظیمي، ۵)محمد موسی اشعری، ۶)موسی معروفی، او ۷) محمد سرور دانش. مېرمنې عبارت وې له ۱)آصفه کاکړ او ۲)مکرمه اکرامي.

او هره ډله د خپلې مسودې په جوړولو بوخته شوه."[61] د جوړېدو څخه ۶ میاشتې وروسته، په کمیسون کې د بې نظمۍ او د کار د ډېر کم پرمختګ کړی له له کبله له بهر څخه د سازماندهی او ملاتړ کچه ډېره راټیټه شوه.[62] سره ددې د ۲۰۰۳ کال په لومړیو کې د اساسي قانون لومړۍ مسوده کرزي ته وړاندې شوه. د مسودې دا نسخه د عامه نظرغوښتنې لپاره نه وه خپره شوې. د رپوټونو له مخې دا د شهراني مسوده وه چې تر ډېره د ۱۹۶۴ کال له اساسي قانون څخه د "قطع کولو او سرېښولو" په طریقه برابره شوې وه.[63] وروسته بیا حکومت د مسودې کمیسیون ته پراختیا ورکړه او د نوو اشخاصو په معرفي کولو سره یې د کمیسون د غړو شمېر ۳۵ تنو ته ورساوه تر څو د عامه نظر غوښتنې، عامه پوهاوي او د مسودې د وروستي کولو بهیر وڅاري.

**د اساسي قانون کمیسیون د غړو د غوره کولو کره کتنه[64]**

د اساسي قانون د کمیسیون جوړېدل د پام وړ ځنډ سره مخامخ شو، او د ملي ګټو له نظر نیولو پرته. . . د کابینې په کچه ګوندي نااندریو په هغه کې دخالت درلود.

تر هرڅه بده خبر دا وه چې د کمیسیون د ترکیب په هکله د " پراخه نظر غوښتنې د ژمنې" سره سره، د ولایتونو د چارواکو، د جهادي تنظیمونو او په کابل، مزارشریف او جلال آباد کې د مدني ټولنې استازو سره د آي. سي. جي (د کړکیچ بین المللي ډله) مرکې دا په ګوته کوي چې په لدې بهیر څخه درک ډېر کمزوری وو، که نه د هغو منلو او جوړجاړي خبرې ته اړتیا نه پیداکېږي.

[پدې بهیر کې د جمهور رئیس کرزي له لوري ټاکل شوي غړي] د پنجشېر د نظار شورا د ځواکمنو چارواکو چې پخوا د مجاهدینو په مشر احمد شاه مسعود پورې تړلې وو او په پراخ ډول یې په ملي کچه . . . د نظامي او سیاسي قدرت څخه برخمن وو، تر اغېز لاندې وو.

په کمیسیون کې یوازې ۷ ښځو غړیتوب درلود. . . د مسودې د تیاري کمیسیون تجربه دا په ډاګه کوي چې په شرایطو برابرو، وړ او اغېزمنو ښځو دغړیتوب پر ځای، هغه افراد په نیړ کې ونیول شول چې د ګوندي موخو په خدمت کې وو.

دا چې څرنګه ګولای شو پر داسې ډلې باندې باور وکړو ترڅو د مشورې غوښتنې د بهیر مسؤلیت په سمه تر سره کړي یا په مسوده کې د ملي مالکیت احساس منعکس کړي، نا څرګنده پاتې شوه.

د کمیسیون د غړو د شمیر په نظر کې نیولو سره، تر ډیره بریده دا کمیسیون "د لومړي کمیسیون په پرتله د پراخه سیاسی او قومي استازیتوب بنه درلوده."[65] دې کمیسیون د اساسي قانون مسوده په هر اړخیز ډول

[61] ICG, *supra* note 56, at 14.
[62] Thier, *supra* note 35, at 567.
[63] ICG, *supra* note 56, at 15; Rubin, *supra* note 55, at 10.
[64] ICG, *supra* note 56, at 16-17 (all citations omitted).
[65] Thier, *supra* note 35, at 567.

وکتله، خو په هکله یی عام وګړو ته هېڅ و نه ویل شول. د ۲۰۰۳ کال د جون په میاشت کې دوه میاشتني عامه نظر غوښتنه پیل شوه چې په ترڅ کې یی بحثونه یوازې په عامو اصولو باندې متمرکز وو ځکه عامه خلکو ته مسوده په واک کی نه وه ورکړل شوې. په واقعیت کې، له هماغه پیل څخه بحث پدې وو چې آیا د اساسي قانون مسودې د تیاري په بهیر کې د خلکو پراخه ګډون اړین دی او که نه. ځینې پدې باور وو چې په هغه کې د خلکو پراخه ونډه د هغه د مشروعیت کچه چې لوړوي، پداسې حال کې چې یو شمېر نورو استدلال کاوه چې د خلکو پراخه ګډون کولای شي دا حساس بهیر بې ثباته کړي او د لانجمنو مسئلو په اړه د هغه عادی تګ لوری زیانمن کړي.[٦٦] بیا هم د مشورو غوښتلو تر پایه پورې، کمیسیون د ډېر شمېر خلکو سره د اړیکو نیولو (د سلګونوغونډو له لارې په زرګونو نظرونه تر لاسه او ثبت کړل) په برخه کې بریالی وو.[٦٧] د لیکوالانو څخه یو پدې نظر دی چې "د خلکو څخه راټول شوي نظریات په وروستیو شیبو کې د پردې تر شا معاملو کې د فرش لاندې پټ پاته شول یعنی ځای یی و نه نیو."[٦٨]

کمیسون خپله مسوده د ۲۰۰۳ کل د سپټېمبر په وروستیو کې جمهور رئیس کرزي ته وړاندې کړ.[٦٩] پداسې حال کې چېډ دېمسودې د ځینو مواردو سره موافق نه وو، د جمهور رئیس کرزي د کابینې او د ملی امنیت شورا غړي په اجرائیه قوه کې د خپل ځان لپاره د زیات قدرت د خوندي ساتلو په خاطر د هغې ځینې برخې دوباره اصلاح کړې.[٧٠] د ۲۰۰۳ کا په نوامبر میاشت کې، د اساسي قانون جرګې له جوړېدو یوازې پنځه اونۍ مخکې، د لومړي ځل لپاره د جمهور رئیس کرزی له لوري د اساسي قانون مسوده د عامه نظر غوښتنې لپاره خپره شوه. د ۲۰۰۴ کال د دسامبر په ۱۳ د ۵۰۲ استازو په ګډون د اساسي قانون لویه جرګه د کابل په ښار کې جوړه شوه. د جرګې ګډونوال چې د ولسوالۍ په کچه چې غوره شوي وو، پراخ استازیتوب یی کاوه. د ښځو ونډه ۲۰ سلنې ته رسېده.[٧١] د څارونکو په آند، د اساسي قانون لویه جرګه " د بېړنۍ لویی جرګې په پرتله چې بې نظمه او ستونزمنه وه، ښه او سازمان شوې مدني پېښه وه."[٧٢]خو بهرني څېړې او لاسونه، د اساسي قانون په هکله د شدیدو بحثونو خنډ و نه ګرځېده.

پداسې حال کې چې په نوي اساسي قانون کې ځینې تسجیل شوې مادې د ۱۹۶۴ کال په اساسي قانون کې رېښې لري، د هغه ډېر مهم عناصر نوي او د بېلا بېلو ډلو او ګټو ترمنځ د شدیدو سیاسی مانورو او جورجاړیو پایله وه. څرنګه چې د کړکېچ نړیوالې ډلې څرګنده کړې، د مسودې بهیر "تر ډېره بریده د عینی اړتیاوو پواسطه دیکته کېده تر څو د سیاسي سیالۍ غوره لوبغالي سره یوې لارې ته سم کړی – دا داسې یو وضعیت وو چې هم د اساسي قانون د کار د څارنې کمیسیون په ترکیب او د کار په طریقه او

[66]*Id.* at 568.
[67] Rubin, *supra* note 55, at 10; Michael Schoiswohl, *Linking the International Legal Framework to Building the Formal Foundations of a "State at Risk": Constitution-Making and International Law in Post-Conflict Afghanistan*, Volume 39 Vanderbilt Journal of Transnational Law 819, 833 (2006).
[68] Thier, *supra* note 35, at 569.
[69]*Id.* at 568.
[70]*Id.* at 568.
[71]Amy Waldman, *Meeting on New Constitution, Afghan Women Find Old Attitudes*, New York Times, Dec. 16, 2003, at A13.
[72] Thier, *supra* note 35, at 570.

همله هغه وروسته د جمهور رئیس کرزی په کابینه کې د مسودې د بیا کتنې په کار کې څرګند وو."[۷۳] څواکمنو ډلو د مهمو مسئلو لکه د اسلام رول، ښځه او بشري حقونه، د جمهور رئیس د مرستیالانو شمېر، ملي ژبې او د دولت جوړښت په سر مبارزه کوله.[۷۴] د بیلګې په ډول، جمهور رئیس کرزی د پیاوړی جمهور رئیس پلوی اساسي قانون څخه ملاتړ کاوه، پداسي حال کې چې بنسټ پالو ډلو او غیر پښتانه لږکیو د یو پیاوړي پارلمان او د اساسي قانون د محکمې په ګټه چې له دې لارې څخه په قدرت کې برخه واخلي، د جمهور رئیس د قدرت د محدودولو کوښښ کاوه.[۷۵] دیني محافظه کارانو استدلال کاوهچې اساسي قانون باید د اسلامي قوانینو پر بنسټ او شریعت ته په څرګنده او روښانه اشارې سره ولاړ وي، پداسي حال کې چې ښې لاسه اود بشری حقونو ډلو پر ښځو باندې د هغه اغېز له کبله داسې چلند د ننګوني سره مخامخ کړ.[۷٦] بیا هم د تاوده استدلال، د غونډو پرېښودل، او یا د هغو تحریم ګواښونو، شکایتونه د پردې تر شا معاملو او د حکومت د د خالت[۷۷] د شکایت سره سره، د ۲۰۰۴ کال د جنوري په ۴ نېټه استازو نوی اساسي قانون تصویب کړ.

ماضي ته په کتو سره کېدای شي پدې خبره باندې باور کول آسان وي چې د اساسي قانون د لویې جرګې په سوله ایز توب او بریالیتوب کې هېڅکله تردید نه وو، یا داچې د اساسي قانون اوسنی بڼه حتمی وه. بیا هم دا مهمه ده چې جرګې وخت او زمینه په پام کې ولرو او دا چې بې ثباتي او فوق العاده بې باوري په هغه وخت کې موجود وو.

**پرتله ایزه شننه او تحلیل: د سویلي افریقا اساسي قانون د مسودې جوړلو بهیر**

د سویلي افریقا د اوسني اساسي قانون په ۱۹۹۷ کال کې د مشارکتي یوه اوږده بهیر وروسته تصویب شو. د یو اساسي قانون بڼه جوړول، له اپارتاید وروسته د لېږد پړاو یوه برخه وه د مسودې جوړلو بهیر د سویلي افریقا د اکثریت وګړو په استازیتوب د ملي کانګرس (ANC)او د لږکیو او وړو ګوندونو په استازیتوب د ملي ګوند (NP) ترمنځ د جوړجاړي انعکاس وو. د افریقا ملي کانګرس ګوند غوښتل چې په اساسي قانون کې دموکراتیک استازیتوب تأمین شي، خو ملي ګوند غوښتل تر څو د لږکیو د حقونو څخه اطمېنان تر لاس کړی.[۷۸]

د ملي کانګرس ګوند و ملي ګوند په یو درې پړاویز پلان په سر هوکړه وکړه. لومړی، داسې پرېکړه وشوه چې ټول سیاسي ګوندونه د اساسي قانون په یوه کنفرانس کې سره راټول شي او په هغه کې د لنډ

[73] CLJ, *supra* note 37, at 11.
[74] Carlotta Gall, *Chairman Walks Out of Afghan Council*, New York Times, Dec. 31, 2003, at A11 [hereinafter Chairman].
[75] Thier, *supra* note 35, at 570.
[76] *Afghans Struggle Over Islam's Role*, CBS/AP News, Dec. 19, 2003, *available at* http://bit. ly/nnABeb.
[77] *Id.* at 570; Chairman, *supra* note 74; Carlotta Gall, *Afghans Clash at a Conference to Work Out a New Constitution*, New York Times, Dec. 30, 2003, at A10.
[78] Catherine Barnes and Eldred De Klerk, *South Africa's multi-party constitutional negotiation process*, Volume 13 Accord 26, 26 (2002).

مهاله حکومت پر جوړښت او د اساسي قانون د اصولو پر ټولګه باندې د رایو په اتفاق پرېکړه وکړی. دوهم، انتخاب شوی لنډ مهال حکومت د مسودې متن برابروي. دریم، د اساسي قانون محکمه دا ټاکي چې آیا د مسودې برابر شوی متن د اساسي قانون د اصولو سره چې په اوله کې پری هوکړه شوی وه مطابقت لري او که نه. یوازې د مطابقت وروسته اساسي قانون تصویب کېدلای شی.

ددې بهیر پلویان د ډېرو داسي ننګونو سره مخامخ شو چې په ښکاره ساده او د حل وړ بریښیده. نژادې تاوتریخوالي دوام درلود. د غوره سیاسي ګوندونو او کوچنیو ګوندونو ترمنځ اختلافونو د افریقا د ملی کانګرس او ملی ګوند ترمنځ توافق د ګواښ سره مخامخ کړی وو. داسې پېښیل شوې وه چې د کار په بهیر کې نوي بنسټونه لکه د اساسي قانون محکمه جوړه شي.

دا بهیر چې د ۱۹۱۹ کال په نوامبر کې پیل شو، د ډېرو خنډونو سره مخامخ شو. د اصولو پر سر د هوکړې لومړی هڅه د ماتې سره مخامخ شوه. د ۱۹۹۲ کال په مارچ کې خبرې اترې ودرېدې او تاوتریخوالي ډېر شوی د. څو میاشتې وروسته، د افریقا ملي کانګرس ملي ګوند خبرې له سره پیل کړې او پدې وخت کې هغوی پدې وتوانېدل تر څو د ټولو خواوو لپاره د منلو وړ اصول تدوین کړي. دا اصول په لنډمهاله اساسي قانون کې شامل شول او د اساسي قانون ټاکل شوی ټولنی یا کمیسیون[79] ته دنده وسپارل شوه تر څو په وروستني مسودې باندې څارنه او د اساسي قانون محکمه جوړه کړي.[80]

د اساسي قانون کمیسیون د خلکو د ونډې اخیستنې په لټه کې وه. د ډله ایزو تبلیغاتو او عمومي غونډو له لارې، ټولنې وګړو ته د مسودې کولو د بهیر په هکله روزنه ورکړه. کمیټې د سویلي افریقا ټولو وګړو ته بلنه ورکړه تر څو پدې هکله خپل وړاندیزونه وسپاري چې په پایله کې له ۱۳۰۰۰ وړاندیزونه چې زیاتې برخې یې په افرادو پورې اړه درلوده، را ټول کړل.[81] له دوو کالو مشورې غوښتنې او خصوصي خبرو اترو وروسته، ټولنې د ۱۹۹۶ کال د مې په میاشت کې پر یوه متن باندې توافق وکړ.

تر هغه پورې چې د اساسي قانون محکمې د اساسي قانون د وضع شوو اصولو سره د متن مطابقت نه وو تایید کړی، اساسي قانون نافذ نه شو. لدې امله، محکمې د ۱۹۹۶ کال د مې په میاشت کې د پراخه دلیلونو له اورېدو وروسته دا وموندله چې د څو اصولو احکام نقض شوي دي. لدې امله د بیاکتنې پرته اساسي قانون نشي نافذ کېدای. ټولنې په اړونده مواردو کې اړین تغیرات رامنځ ته کړل او د اساسي قانون محکمې د اساسي قانون متن تصویب وکړ. بالآخره، اساسي قانون د ۱۹۹۷ کال په فبروري کې د ۵ کلونو رسمي خبرو اترو له پیل وروسته تصویب شو.

## د مباحثې پوښتنې

[79] Interim Constitution of South Africa, Chapter 5, Section 68.
[80] Interim Constitution of South Africa, Chapter 7, Section 98.
[81] *Id*. at 32.

۱. ولې لنډ مهاله حکومت د اساسي قانون د تصویب وروستنی واک ددې پر ځای چې د وګړو نظر غوښتنې (ریفراندوم) ته راجع کړي، د اساسي قانون محکمې ته ورکړ؟ د اساسي قانون د تصویب لپاره د قضایی څارنې څخه ګټه اخیستل څه ښېګڼه لري؟ یا د هغه نیمګړتیاوې څه دي؟

۲. د سوېلي افریقا میتود زیاتره پر سیاسی ګوندونو تکیه درلوده. آیا دا کار په افغانستان کې اغېزمنتیا درلود؟

۳. په سوېلي افریقا کې د اساسي قانون د مسوېدې جوړول د افغانستان سره پرتله کړی. له ددواړو میتودونو څخه کوم عناصر اغېزمنتیا لری؟ ولې؟

## پنځم. د اساسي قانون د تفسير میتودونه

په مخکنیو برخو کې مو د اساسي قانون بنسټیز اصول، موخې او د هغه د رامنځ ته کېدو تاریخچه و څېړله. دا ټول مخکنې معلومات هغسې چې له اساسي قانون څخه په ورځني حکومتي چارو او ملکي ژوند کې ګټه اخلو، مرسته کوي. اساسي قانون یوازې یو ټولیز لارښود دی او ډېرو پوښتنو ته روښانه ځواب نه وايي. پردې سربېره، ډېر کم داسې پېښېږي چې یوازې یو "درست" ځواب موجود دی. خو دا پدې معنا نه ده چې قاضیان او هغوی چې اساسي قانون تفسير کوي د شخصي انګېرنو او علاقې له مخې د اساسي قانون د معنا او مفهوم په هکله تصمیم نیسي – داسې چلند په همغه لومړي مرحله کی د اساسي قانون د د موخو سره اړخ نه لګوي. لدې امله، ثابت، منصفانه، منطقي او تاریخي نظره معتبر تفسیر، د تفسیر کلي ده.[۸۲]

دا چې اساسي قانون باید څرنګه تفسیر شي په دی پوښتنی پوری تړلی چې څوک باید اساسي قانون تفسیبر کړي یا د اساسي قانون د تفسیر واک څوک لري. په تشکیلاتي کچه، قضائیه قوه او/یا د اساسي قانون خپلواک کمیسیون د اساسي قانون د تفسیر واک لری. د تفسیر پر سر اختلاف چې کوم بنسټ یا نهاد د وروستني واک درلودونکی دی، د اساسي قانون له نظره پخپله هم د تفسیر موضوع ګڼل کېږي چې په بشپړه توګه به په شپږم څپرکي کې د قضائیه قوې په بحث کې په تفصیل سره بیان شي. خو په همدې اندازه مهم و لې ناڅرګند، پدې اړوند د افرادو رول دی. حقوق پوهان او قاضیان یوازني کسان نه دي چې اساسي قانون تفسیر کوي. جمهور رئیس، د ملی شورا غړي او د دولت وزیران نژدې هره ورځ د اساسي قانون سره سر او کار لري.[۸۳] د اساسي قانون ۶۳ ماده وايي چې جمهور رئیس لوړه کړې تر څو "د اساسي قانون او نورو قوانینو رعایت او څارنه وکړي." په همدې ترتیب ۷۴ ماده وزیران د "اساسي قانون په رعایت" مکلف ګڼي او د ملی شورا غړي باید قانون ته له رای ورکولو یعنی د تفسیر څخه د

[۸۲]. د مثال په توګه وګوری:
Robert H. Bork, *in* The Great Debate: Interpreting Our Written Constitution 43 (Federalist Society ed. , 2005).

[۸۳]. همدارنګه " د اساسي قانون د حکمونو پیروی، د قوانینو اطاعت او د عامه نظم او امنیت رعایت د افغانستان د ټولو خلکو وجیبه ده." (۵۶ ماده)

مخه دا په پام کې ولري چې د نظر وړ قانون د اساسي قانون د حکمونو سره مطابقت لري. دمثال په توګه، که چېرې ملي شورا داسي قانون تصویب کړي چې د جمهور رئیس له نظره د اساسي قانون مخالف دی او قضائیه قوې لا هم پدې هکله رایه وي صادره کړې، پدې صورت کې آیا لازم دي چې جمهور رئیس دا قانون توشېح کړي؟ تاسو څه فکر کوی چې "د اساسي قانون درناوی او د هغه پر اجرا باندې څارنه" پدې اړوند په څه معنا دي؟

په دی برخه کې د اساسي قانون پنځه ډوله تفسیرونه وړاندې کېږي: لفظي یا متني تفسیر، قیاسي تفسیر، اصلي تفسیر، پراګماتیزم یا عملي تفسیر او قضایی رویه. پداسې حال کې چې ځیني کېدای شي استدلال وکړي چې د تفسیر یوازې یو درست میتود شته، نور ډېرکسان بیا ددې سره کېدای شی داسې ووایي چې د تفسیر هېڅ یو مېتود قطعي او بشپړ نه دی. پداسې حال کې چې ددې میتودونو ترمنځ ټاکلې توپیر شتون لري او له نظري اړخه د هغوی ځیني نور میتودنه نه مني، تر ډېره بیا دا ګټور ښکاري چې د موضوع په شننه او تحلیل کې له څو او یا له ټولو تفسیرونو څخه کار واخیستل شي.

متني تفسیر او قیاسي تفسیر د تفسیر تر ټولو مهم میتودونه ګڼل کېږي. پداسې حال کې چې د ځانګړو کلمو د معنا په هکله د نظر د توپیر بحث ځای لري یا داچې د کلمو د ځانګړو جوړښتونو څخه منظور څه دي، هر څوک په دې باور دي چې د اساسي قانون کلمات او جوړښت د هغه د معنا سره تړاو لري. لدې امله، موږ د اساسي قانون بحث پاروونکي مېتودونه له هغه جملې اصل تفسیر، پراګماتېزم یا عملي تفسیر او قضایی رویه تر بحث لاندې نیسو. دا دری مېتودونه ځکه ډېر مهم دي چې د اساسي قانون متن او جوړښت مبهم او نا مشخص وي، او یا هم کله چې متن او جوړښت په یوازېتوب سره د موضوع په اړه لارښوونه نه وړاندې کوي. هماغسې چې تاسو یې تصور کولای شی د اساسي قانون د "مفهوم" او "موخې" په هکله ډېر بحثونه شته.

## الف. متني یا لفظي تفسیر (Textualism)

د اساسي قانون د متنی تفسیر میتود چې له نورو تفسیرونو څخه کم بحث پاروونکی دی پخپله پرمتن باندې تمرکز کوي. په ځینو برخو کې، د اساسي قانون کلمي روښانه وي او چټک ځواب وړاندې کوي. د بیلګې په ډول، کله چې: "د افغانستان پایتخت د کابل ښار دی." (۲۱ ماده)، ددې مادې متن څرګند او روښانه دی. سره ددې هم، پداسې حال کې چې اساسي قانون د ځینو مواردو په برخه کې صراحت لري اما د نورو مواردو ژبه بیا پیچلې او ناڅرګنده کېدای شي. پردې سربېره، متن ته لومړیتوب ورکول لزوماً پدې معنا نه دي هر هغه څه چې نه وي لیکل شوي، د یادښت وړ نه دي. په بل عبارت، "د یوې موضوع په اړه متن ته د بنسټ او یا د پایلې په توګه د الزامي بڼې ورکولو قایل کیدل، لزوماً د متن د بې ساري توب یا یوازیتوب او د اساسي قانون د مقام لپاره د تشې ډکولو په معنا نه ده."[۸٤]

په واقعیت کې د اساسي قانون لیکونکی فکر نه کوي چې دا سند جامع او بې ساري دی. د بیلګې په توګه. د ۲۷ مادې په ۲ فقره کې ویل کېږي: "هېڅوک د قانون له حکمونو پرته تعقیبېدای، نیول کېدای او یا

[84]Lawrence H. Tribe, *American Constitutional Law*, *in* It Is A Constitution We Are Expounding 22 (American Constitution Society for Law and Policy ed. , 2009).

توقیف کېدای نشي مګر د قانون د حکمونو سره سم ." ځکه چې اساسي قانون "د قانون له حکمونو پرته" نه په ګوته کوي. پخپله ددې مادې متن د قانوني تعقیب، نیول او توقیف مفهوم د موضوع په اړه لږ معلومات وړاندې کوي. موږ دا مورد د "متقابلې ارجاع" په نوم یادولای شو ځکه چې لوستونکی په موضوع د پوهیدو لپاره اړین مواد باید پخپله اساسي قانون او یا له هغه څخه د باندې ولټوي.

ډېر کم داسې پېښېږي چې په یوازیتوب سره د اساسي قانون متن صراحت ولري او د هغه خلاف هر مورد واضح کړي. په زیاترو مواردو کې دا مشخصه نه ده چې آیا یو متناقض مورد یا له متن څخه د منلو وړ څو تفسیرونه شته او که نه. پدې ننګوونکو شرایطو کې، متن یوازې د پیل ټکی دی. د یوې مبهمې کلمې یا عبارت د درک لپاره موږ کولای شو د اطراف ژبې ته نظر وکړو چې د اساسي قانون په نورو ځایونو کې د هغه څخه څرنګه ګټه اخیستل شوې ده او څرنګه په مسوده او یا مخکنیو اساسي قوانینو کې کارول شوې ده. مثال، موږ په ۲۷ ماده کې "د قانون حکمونو سره سم" مفهوم او معنی د اساسي قانون په نورو مادو کې موندلای شو. د توقیف په هکله، اساسي قانون د "قانون د حکمونو سره سم" له مفهوم څخه د حمایت[٨٥] بنسټیزه طرح لکه په محکمه کې د حاضرېدو حق[٨٦]، د مدافع وکیل د درلودلو حق[٨٧]، د نه شکنجه کیدلو حق[٨٨] یا اجباری اقرار ورکول حق[٨٩]، وړاندې کوی. تاسو به وګورئ چې متن د اساسي قانون د پوهېدو لپاره د پیل ټکی دی، اما اکثره دا لازمه او ګټوره ده تر څو اساسي قانون د نورو زاویو څخه و کتل شي.

## ب. قیاسي تفسیر (Structuralism)

د اساسِي قانون جوړښت یا ساختار د سند د معنا او مقصد په پوهېدو کې مرسته کوي. "جوړښت" پدې اړوند دا معنا ورکوي " هر هغه څه چې متن یی څرګندوی، په مستقیمه توګه یی نه وایي[٩٠] پدې کې د جملې د جوړښت، د کلمې غوره کولو، د کلمې تکرار او متني جوړښت راځي. مثال، اساسي قانون په واقعې بڼه د " قواوو تفکیک" نه کاروي خو داسې ښکاري چې د هغه د متن له جوړښت څخه مقصد او مختلفو ارکانو ته د قدرت سپارل: د جمهور رئیس، ملي شورا، او قضائیه قوې په هکله مادې، باید په ځانګړو څپرکیو کې یو له بله بېلې وي.

پروفیسور لاورینس ترایب (Lawrence Tribe) د جوړښتي شننې او تحلیل یو جالب مثال ته اشاره کوی. هغه وایي: " یوه کلمه چې معمولاً د اساسي قانون د متن څخه حذف خو په ضمني توګه د هغه په متن کې درج وی، د "صرف یا یوازې" کلمه ده.[٩١] د دې کلمې نشتوالي ته جدی اهمیت ورکول به سم نه وي. باید د اساسي قانون د متن په جوړښت کېد دېکلمې د کارولو څرنګوالی په نظر کې ونیول شي. که

---

[85] United Nations Assistance Mission in Afghanistan, Arbitrary Detention in Afghanistan: A Call For Action (Volume II) 5 (Jan. 2009).

[٨٦] .د افغانستان اساسی قانون ۳۱ ماده.

[٨٧] . د افغانستان اساسی قانون ۳۱ ماده.

[٨٨] . د افغانستان اساسی قانون ۲۹ ماده.

[٨٩] . د افغانستان اساسی قانون ۳۰ ماده.

[90] Tribe, *supra* note 84, at 23.

[91] Laurence H. Tribe, *Taking Text and Structure Seriously: Reflections on Free-Form Method in Constitutional Interpretation*, 108 Harvard Law Review 1221, 1240 (1995).

څه هم د ترايب د يادونه د امريکې د متحده ايالتونو د اساسي قانون سره تړاو لري، خو د هغه مفهوم د افغاستان د اساسي قانون په هکله هم صدق کوي. د مثال په توګه، ۶۴ ماده حکم کوي: " جمهور رئيس لاندې واکونه او وظيفې لري: "ددې واکونو څخه يو هم د جګړې اعلان او سوله ده. دا ماده نه وايي چې " يوازې رئيس جمهور"ددې واک درلودونکی دی، خو د کلمې ضمني مفهوم پدې معنا دي. اساسي قانون د جګړې د اعلان واک ملي شورا ته نه ورکوي، په ورته وخت کې، د اساسي قانون پر بنسټ باندې ملي شورا د دولت د بودجې د تصويبولو واک لری (چې يو پياوړی نظارتي مکانيزم کولای شي د جګړې بودجه را کمه کړی ).

**د مباحثې پوښتنې**

۱. داسې بېلګې چې د اساسي قانون په ډېرو مادو کې د "صرف يا يوازې" کلمه په ضمني توګه کارول شوې ده. څو ځايه دا کلمه په څرګنده هم کارول شوې ده. په ۱۴۹ ماده کې دواړه حالتونه يعنې ضمنی کارونه په ۱ فقره او څرګنده يا صريح کارونه په ۲ فقره کې ليدل کېږي:

(۱) د اسلام د سپېڅلي دين له حکمونو څخه د پيروي اصل او اسلامي جمهوريت نظام نه تعديلېږي.

(۲) د اتباعو د اساسي حقوقو تعديل يوازې د هغوی د حقوقو د ښېګنې په منظور جواز لری.

(۳) ددې اساسي قانون د نورو موادو تعديل د زمان د غوښتنو او تجربو له مخې، ددې اساسي قانون د او شپېتمې او يو سل او شپږ.څلوېښتمې مادو د حکمونو په رعايت سره، د جمهور رئيس يا د ملي شورى د اکثريت په پېشنهاد کېږي.

**شننه او تحليل:** په ۱ فقره کې د "يوازې" کلمې ضمني کارول (د فقرې د لومړۍ کلمې په توګه) د ۳ فقرې سره تړاو لري او داسی صراحت لري چې د ۱ – ۳ مادو په استثنی د اساسي قانون هره ماده د تعديليدو وړ ده. د "يوازې" کلمې صريح کارونه په دوهمه فقره کې ښيي چې د افغانانو د اساسي حقونو لړليک يوازی پراخه کېدای شي ولې محدود کيداې نه شي.

آيا تاسوددې نظر سره چې د "يوازې" کلمه د ۱ فقرې په شان په ځينو مواردود کې په ضمني ډول کارول شوې ده تر څو په نورو ځايونو کې ددې کلمې د صريح کارولو په برخه کې د اساسي قانون د تدوين کوونکو سره مرسته وشي، موافق ياستي؟ (لکه ۲ فقره)

## ج. اصلي تفسير Originalism

اصلي تفسير د اساسي قانون يو فلسفي تفسير دی چې اساسي قانون د مسودې ليکونکو، مذاکره کوونکو او پلويانو پر ښکاره يا ضمني قصد باندې ټينګار کوي. ماهوي تفسير که څه هم په اروپا کې ډير رول او اغيزې نه لري، په امريکايي حقوقو کې يوه ګډه موضوع ده.ددې تفسير طرفداران استدلال کوي د هغه څه درک چې د اساسي قانون تدوي کوونکي يې په پام کې درلود اساسي قانون ته د وفاداره پاتې کيدو د اثبات په لاره کې يو مهم ګام دي. څرنګه چې پروفيسور ترايب ليکي: د ډيرې متقاعد کوونکې توجيې پرته، په اساسي قانون کې د يو مفهوم لپاره د يوه عبارت پکارول به سم نه وي ځکه امکان لري د هغو چا لپاره چې اساسي قانون ليکي، لولي او تصويبوي يې، اړونده عبارت بېلکل بله معنا ولرى.[92] د تدوين کوونکو لپاره د يو مفهوم د عبارت مشخص کول يوه ننګونه ده په خاص ډول کله چې يو اساسي قانون څو لسيزې او يا څو پيړۍ مخکې تصويب شوی وي.

که څه هم د افغانستان اساسي قانون په ۲۰۰۴ کال کې تصويب شو، خو د هغه د تدوين بهير ناشفاف او د تصويب لويه جرګه هومره بې نظمه وه چې آن پخپله د مسودې ليکونکو ته روښانه نه وه چې په اساسي قانون کې د ډېرو حکمونو له تسجيل څخه منظور څه وو. له دې پراو څخه د لاس رسي وړ اسناد، د بحثونو شديد اختلافات او د هغو د جوړجاړي شکمني لارې چارې (نه د نظر يووالى) په ګوته کوي. پردې بنسټ، کله چې د اساسي قانون د حکمونو پر سر د نظر اختلاف رامنځ ته کېږي، د معنا پر سر د دلايلو په اړوند، د برابروونکو منظور، توقع او انديښنو په هکله زياتره دوه يا له دوو زيات يو شان هڅوونکي لوري شتون لرى.

پر هغه نا ډاډمنتوب سربېره چې تاريخي اسناد يې ښيي، د اصلي تفسير دوه بنې شتون لري. يو دا چې په دې اړه کيداې شي پوښتنه وشي چې د اساسي قانون جوړونکو به په ده اړه څه کړې وای؟ دا چلند دا نظريه تقويه کويچې اساسي قانون بايد يوه سخته ډبره ــ د ثابت درک سره د زمان په يوه خاصه نکته کې قرار لري.[93] دوهمه بڼه پوښتي: د مسودې د جوړولو په مهال، د هغې ليکونکو په ذهن کې له کومو اصولو څخه پيروي کوله او نن ورځ دا اصول څرنګه تطبيق او عملي کېږي؟ دا چلند د موخو او توقعاتو د ټوليز اصلي يا ماهوی مفهوم په درک کولو کې، د منلو وړ ښکاري. پداسې حال کې چې نن ورځ د ماهوی تفسير دا دوې بڼې به بشپړه توګه يو له بله د بېلولو وړ نه دی او کېدا ی شي د وخت په تېرېدو سره د دوی ترمنځ توپير ښکاره او څرګند شي. د ۴۷ مادې اړونده ۲ فقرې کره کتنې لوست ددې ننګونې په ښوولو کې مرسته کوي. د ياد شوې مادې په ۲ ماده کې راغي دي:

> دولت د مؤلف، مخترع او کاشف حقوق تضمينوي او په ټولو برخو کې عملي څېړنې هڅوي او ملاتړ يې کوي او د هغو له نتيجو څخه د اغېزمني ګټې اخيستل د قانون له حکومونو سره سم عاموي.

په دقيق ډول دا په څه معنا ده؟ دولت د مؤلف حقوق په څه ډول تضمينوي او د څومره وخت لپاره؟ کېداې شي د اساسي قانون بنسټ ايښودونکو پخپل ذهن کې ددې پوښتنې ځواب درلود او تاريخي سوابق زموږ

[92] Tribe, *supra* note 84, at 26.
[93] Geoffrey R. Stone, Louis M. Seidman, Cass R. Sunstein, Mark V. Tushnet & Pamela S. Karlan, Constitutional Law 718 (5th ed. 2005).

لاربښوونه وکړي، خو تر ۲۰۴۰ کال پورې به دحل دا لارې چارې مناسبې پاتې نه شي. بنايي د علمي اکتشافاتو څخه د ملاتړ موده د وخت په غزېدو او یا را کمېدو ته اړتیا ولري، یا د مؤلف حقوقو قرارداد یا پراخېدو ته اړتیا پیدا کړي. په ۲۰۴۰ کال کې قانون جوړوونکي، قاضیان او قانون پوهان ممکن داسې استدلال وکړي چې بنسټ ایښودونکو دایمی چلند په نظر کې درلود (هغه چلند چې دوی یی په ۲۰۰۴ کال کې وړاندوینه کړې وه)، او یا داچې هغوی د علمي اکتشافاتو د ملاتړ او بدلې د اصل اندېښنه درلوده.

**د مباحثې پوښتنې**

۱. د ۴۷ مادې په ۲ فقره کې مهمی کلمي کومې دي او څرنګه تاسو هغه تفسیر کوی؟ د یادشوې ۲ فقرې په اړه ستاسواستدلال په کوم اصل ولاړ دی؟

۲. د ډنمارک اساسي قانون د لومړي ځل لپاره په ۱۸۴۹ کال کې تصویب شو او دهغه تدوین کوونکو په سختي سره د مبایل تلیفون، کمپیوټر، تیزرفتار موټرو او الوتکو اوسنی نړۍ پېژندله. افغانستان به هم په راتلونکو کلونو د بدلونو په اساس له ورته حالت څخه تیریږي چې د ۲۰۰۴ اساسي قانون تدوین کوونکو د هغو وړاندوینه نشو کولای. که چېرې په راتلونکې کې داسې شرایط رامنځ ته شي چې اساسي قانون هغو ته رغنده ځواب و نه لری، آیا دا مهمه نه ده چې د اساسي قانون بنسټ ایښودونکو باید هغه په نظر کې نیولای وای؟ آیا لازمه نه ده تر څو پدې و پوهیږو هغه اصول چې دوی په ذهن کې درلودل، کوم دي؟

### د. قضایی رویه

د متن ښکاره اصطلاحګانې او هغه سکلتی جوړښت چې په هغو کې دا اصطلاحګانې ځای لري، په اساسي قانون پوازې د پرمختګ په حال کې یو حقوقي سیستم د بشپړېدو د پیل حیثیت لري.[94] په بل عبارت، اساسي حقوق نه یوازې د اساسي قانون واقعی مادې په بر کې نیسي، بلکه د هېواد د سترې محکمې هغه نظریی یا رایی هم را نغاړي چې د خپلو پرېکړو په هکله د اړونده مادو تفسیر دی. داچې په افغانستان کې سیستم د پخېدو په حال کې دی او ورسره یو ځای د هېواد د سترې محکمې پرېکړی هم جمع او ترتیبیږي او په نتیجه کې حقوق پوهان او قاضیان هم کولای شی چې د اساسي قانون حکمونه د مخکنیو قضایی تفسیرونو له مخې مطالعه کړی.[95]

"قضایی رویه" د جوړیدو او بشپړیدو په حال کی ده. لکه، په ۲۰۰۷ کال کې د سپنتا په هکله چې تاسو به دا موضوع په دوهم څپرکي کې په تفصیل سره د قواوو د دتفکیک لاندې مطالعه کړئ، ستره محکمه د ۹۲ مادې څخه مهم تفسیر وړاندې کوي. محکمې قرار صادر کړ چې وزیر نشي کیدای د هغه مسئلو ته د

[94] Tribe, *supra* note 84, at 31.

[95]. د مثال په توګه وګورئ:
Sotirios A. Barber & James E. Fleming, Constitutional Interpretation: The Basic Questions 135 (2007).

نه رسيدګۍ په خاطر چې له واک څخه يی بهر دي د نه باور رايي لپاره وغوښتل شي. احتمال لري په راتلونکي کې که دا پوښتنه رامنځ ته شي، په يقين سره چې محکمه به ورته ځواب ورانديږ کړی – دا هماغه څه دي چې موږ يی د قضايی رويی په نوم يادوو.

ولې د ستري محکمې پريکړې د قضايي رويې ارزښت لرونکي دي؟ د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د قضائيه قوې د محکمو د تشکيلاتو او صلاحيت قانون په ۷ ماده کې راغلي دي: محکمې د قضيو د څېړنې په وخت کې د اساسي قانون او نورو نافذو قوانينو حکمونه تطبيقوي. . . . "[۹۶] پداسې حال کې چې دا پدې معنا ده چې لاندني محکمې د ستري محکمې د پريکړو په مراعاتولوباندې ملزمه نه ده. د ۲۶ مادې ۱فقره زياتوي چې" که چېرې د ستري محکمې ديوان د اعتراض ور فيصلې د څېړنې په وخت کې وممومي چې د لاندينې محکمې فيصله له قانون سره په مخالفت يا د هغه په تطبيق يا تأويل کې په خطا صادره شوې ده يا د اساسي قانون د ۱۳۰ او ۱۳۱ مادو خلاف ده . . . "، فيصله نقض کوی (ټينګار زيات شوی دی). لدې امله کله چې د هېواد ستره محکمه اساسي قانون په يوه ځانګړي ميتود سره تفسير کړي، دا کار يا تصميم په ډېر احتمال سره به پر قضيو باندې په راتلونکې کې واقعي اغېز ولري. د لاندنيو محکمو قاضيان کېدای شی دې ته پام ولري چې که د ستري محکمې د مخکنيو پريکړو خلاف ميتود غوره کړي، هغه به په آسانه رد شي. د هېواد ستره محکمه پخپل وار سره بايد کوښښ وکړي تر ممکنې اندازې په خپلو پريکړو او د قوانينو تفسير کی ثبات ولري، ځکه چې دا کار په ټولنه کی د حقوقي سيستم پايښت، ټيکاو يا /او ثبات ورټيا لوروي. په افغانستان کې ځانګړې ننګونه دا ده چې د هېواد ستره محکمې لا هم خپلې ډېرې پرېکړې د وګړو په واک کې نه دي ورکړې. د هغه څه له سم درک پرته چې محکمه يی پرېکړه کوي، د قضايی روېې د تثبيت لپاره که ناممکن نه وی نو ډېر ستونزمن دي.

امکان لري چې د هېواد ستره محکمه د وخت په تېرېدو سره د اساسي قانون د حکمونو د تفسير ميتود تغير کړي. لکه چې پروفيسور ترايب ليکی:

> تغير د څه لپاره؟ د اساسي قانون متن چې د هېواد ستره محکمه يی په لومړي پړاو کې د يوه ميتود له مخې تفسير کوی، امکان لري په بل پړاو کې يی په بل ډول تقسير کړي. "دا ډول سمونې يا تصحيحات" د اساسي قانون پر حکمونو يا د هغه په جوړښت باندې د بيا کتنې په معنا نه دي بلکه د افرادو پواسطه پر اصطلاحاتو باندې د کتنې د ښه کولو له لارې د اساسي قانون د اصلي معنا ساتل دي. دا نه يوازې د قضايي فورمولونو بريالیتوب نه دی، بلکه د تغيراتو باعث هم کېدای شي. د ژوندانه په بېلابېلو يعنې سياسی، اقتصادی او ټولنيزو برخو کې د "بشری پېښو بهير" – د عبرت وړ درسونو څخه ډکې دي چې انسان په نوې ميتود د ورته متن لوستلو ته اړ باسي. دا ډول درسونه کله کله پدې باندې منتج کېږي چې نوی لوست – داسې لوست چې د اساسي قانون د درست درک لپاره ورته اړتيا ده ـ بايد په پرله پسې توګه متن ولوستل شي. . . په بل وخت کې، کېدای شی داسې نتيجه ګيري وشي چې مخکنی لوست پخپل وخت په بشپړه توګه مناسب وو خو له

[۹۶]. د افغانستان اسلامی جمهوريت د محاکمو د تشکيل او واکونو قانون (۲۰۰۵).

پېښو نه د مخه وو. په ورته وخت کې په نورو مواردو کې، د لوست تغير د دواړو يعني په تېرو تېروتنو باندې اعتراف او د تغير شوو پېښو پېژندنه ده.[۹۷]

### ه. پراګماتېک يا عمل پلوی تفسير

پراګماتېزم د اصلي تفسير مخالف لوري کې قرار لري. پداسې حال کې چې د اصلي تفسير پلويان په ژوره توګه د هغه څه چې د مؤسسينو د نظر وړ دی، اندېښمن دي، د عملي تفسير پلويان د يوې تفسيري تصميم پايلو ته خوار زيات لومړيتوب ورکوي. په بل عبارت، ممکن دي عملي تفسير پلوي قاضي ځيني وخت له يو تصميم چې د ماهوي تفسير پلوي قاضي له نظره "تيروتنه" ګڼل کېږي حمايت کړي، ځکه چې دا کار د هغوی له نظره د هوساينې او ثبات سره مرسته کوی. د پراګماتيزم ځيني کره کتونکي استدلال کوي چې دا مېتود د اساسي قانون د تفسير نه بلکه د مشروطيت او د قا نون د حاکميت ردول دي. دا کره کتونکي باور لري چې پراګماتيزم په داسې تصميم نيونې منتج کېږی چې يوازی پر هغه څه چې په حاضر کې مناسب او عموميت لري، ولاړ دي، نه دا چې د قانوني چوکات او اصولي ارزښتونو سره متناسب وی.[۹۸] سره ددې هم، پراګماتېزم لزوماً هومره افراطی نه دی، او کېدای شي دا کار د قاضيانو د حيرانتيا وړ وي چې د هغوی پرېکړې اهميت نه لري.

**د جندر يا جنسيت ستونزه ؟**

په پراګماتېزم کې يوه په زړه پورې تجربي فرضيه کولای شو د اساسي قانون د ۲۲ مادې په بررسي سره را برسېره کړو. پدې ماده کې داسې راغلي دي:" (۱) د افغانستان د اتباعو ترمنځ هر راز تبعيض او امتياز منع دی. (۲) د افغانستان اتباع ښځې او نارينه د قانون په وړاندې مساوي حقوق او وجايب لری." په لنډه ويلای شو چې اساسي قانون له توپير پرته د ښځو او سړو ترمنځ د برابري غوښتونکی دی.

که چېرې مقننه قوه داسې قانون تصويب کړي چې د هغه په اساس په راتلونکو دريو کلونو کې ټولی استخدام کوونکي او ګمارونکي اداری پخپلو کارونو کې بايد ٪۵۰ ښځې وګماري، مثال که چېرې له نن څخه وروسته په راتلونکو دريو کلونو کې يو شرکت ۱۰۰ کارکوونکې ګماري نود دېقانون د حکم له مخې بايد ۵۰ کارکوونکي يی ښځې وي، آن که همدا نن ورځ هم ۱۰ شرکت ۱۰ کارکوونکي هم په کار باندې ګماري. آيا دا ډول قانون د اساسي قانون سره سمون لري؟

له يوې خوا، مقننه قوه د اساسي قانون د ۲۲ مادې له مخې د جنسيتی برابري په هڅه کې ده، خو له بلې خوا، آيا دا قانون د ښحو او سړو ترمنځ"توپير" په ګوته کې ترڅو د هغه له مخې شرکتونه د ګمارنې په مهال، جنسيت په نظر کې ونيسي؟ که چېرې د مقننه قوې مقصد د دندو په برخه کې د ښځو سره مرسته کول وی، پدې صورت کې دا به سمه وي چې د ښځو د ګمارنې په برخه کې قانون تصويب شي – آن که

[97] Tribe, *supra* note 84, at 31.

[۹۸]. د مثال په توګه وګوری:

Barber, *supra* note 95, at 174.

دا کار له کار څخه د ځينو نارينه کارکوونکو د اخراج او بې برخې کېدو سبب هم شي؟

د اساسي قانون له مخې د يو پراګماتېست قاضي عکس العمل به د دا ډول قانون په وړاندې څه وي؟ آيا د ماهوي تفسير پلوي قاضي چلند به يل ډول وی؟ او د متني تفسير پلوي قاضي ميتود به څه ډ، ل وي؟

**شپږم. د اساسي قانون تعديل**

امکان لري چې اساسي قانون د شرايطو د تغير او د حکومت د رول په هکله د ټولنيزې اجماع د را منځ ته کولو په خاطر، تغير ته اړتيا پيدا کړي. د اساسي قانون د تعديل تصويب چې د يو ځانګړي حالت منعکس کوونکی وی، د عادي قوانينو د تعديل په پرتله ستونزمن کار دي. د هېوادونو تر منځ د اساسي قانون د تعديل لارې چارې يو تر بله ډېر توپير لري.

د اساسي قانون د مسودې برابروونکي د اساسي قانون د نه بدلون قصد نه لري. په واقعيت کې، په راتلونکي کې د اساسي قانون د تعديل د احتمال په اړه په خپله اساسي قانون کی ئی وړاندوينه کيږي. د مثال په ډول، د افغانستان د اساسي قانون په سريزه کې راغلي دي چې "موږ د افغانستان خلکو . . . دا اساسي قانون د هېواد تاريخي، فرهنګي او ټولنيزو واقعيتونو او د زمان له غوښتنوسره سم. . . تصويب کړ. " او د ۱۴۹ مادې ۳ فقره وايي چا اساسي قانون" د زمان د غوښتنو او تجربو له مخې. . . " تعديل کېدای شی. دا حکمونه پردې باندې دي چې افغانستان پرمختګ کوي او ورسره يوځای شرايط تغير مومي پدې ډول اساسي قانون هم تغيراتو ته اړتيا پيداکوی او نورې مادې پرې ورزياتې شي،حذف يا پرې بيا کتنه وشي. يو بل دليل دا چې ددې احتمال هم شته تر څو په اساسي قانون کې نيمګړتياوې مشخصې شي. پدې برخه کې د اساسي قانون تعديل تر بحث لاندې نيول کيږي.

**اساسي قانون د "مخکنی ژمني" په تو ګه**

څرنګه چې څېړونکی ستيفان هولمزيرو(Stephen Holmesobserv) وايي، اساسي قانون او پرګنيزه دموکراسي په ښکاره کې يو دبل سره په تضاد کې قرار لري: اساسي قانون د حقوقي او حکومتي مؤسسو (نهادونو) د بنسټيز کولو له لارې (ځکه چې د اساسي قوانينو تعديل په پرتله ايز ډول ستونزمن دي) له دموکراتيک بهير څخه ځانګړي پريکړې حذفوي او په راتلونکي نسل باندی د هغوی د راي ورکولو څخه پرته په هغوی باندی الزامي کوي. طبيعي پوښتنه داده چې ولې د خلکو يوه کوچنی ډله (د اساسي قانون بنسټ ايښودونکي) پر راتلونکو نسلونو باندې د اغيز ښندلو دومره لوی واک ولري ؛ آيا داسمه نه ده چې د هر نسل افراد د هغو اصولو په ټاکلو کې چې پر دوی باندې حکومت کوي، د ارادې څرګندولو حق ولري؟

هولمز دا تناقض پدې استدلال چې د اساسي قانون محدوديتونه په واقعيت کې د يوې مهمې دموکراتيکي

کړنې په خدمت کې قرار لري، سره پخلا کوي: عملي او اغېزمنه دموکراسي باید د پریکړه نیونې واک په منظمه توګه مهار او کنترول کړي څو د سلا مشورې د بهیر، چې د دموکراسۍ مرکزی اصل دی، ساتنه وشي. " مخکنۍ ژمنه" د سختو او نه بدلیدونکو اصولو مجموعه ده چې د زمان په اوږدو کې ثبات رامنځ ته کوي ( دې ته اړتیا نه رامنځ ته کېږي چې په پرله پسې توګه حکومت جوړ شي) او د عامه احساساتو په وړاندې پیاوړې او معتدله اما باالقوه زیان رسوونکې کړنه یا عملکرد لري.[۹۹]

**د مباحثې پوښتنه**

آیا لازمه ده ترڅو د اساسي قانون هر عنصر د اصلاح لپاره پرانېستی وی؟ د دولت د ماهیت په هکله د اساسي قانون مادې څه وایي؟ د بشري حقونو څخه د دفاع اړونده مادو په هکله څه فکر کوي؟

لومړی، مهم دي په یاد ولري چې اساسي قانون په دوو حالتونو کې، کله چې د سیاسی دخالت د ګواښ تر خطر لاندې د راشي د تعدیل وړ نه دي: په بیړني حالت کې او کله چې جمهور رئیس په مؤقت ډول د چارو واګې په لاس کې لري؟

**پر تعدیل باندې مؤقت یا لنډمهال بندیز**

**۱۴۶ ماده**

د اضطرار په حالت کې اساسي قانون نه تعدیلیږي.

**۶۷ ماده، ۵ فقره**

د جمهور رئیس لومړی مرستیال د لنډمهاله جمهور رئیس په توګه، د وظیفې د ترسره کولو په موده کې لاندینی چارې نشي تر سره کولای:

۱. د اساسي قانون تعدیل؛

۲. د وزیرانو عزل؛

۳. تولپوښتنه.

[۹۹]. د مخکنی ژمنتیا په هکله د ا بکس د هولمس نظریات وړاندې کوي. د زیاتو معلوماتو لپاره لاندې اثر کتلای شی:
Stephen Holmes, Passions & Constraint: on the Theory of Liberal Democracy (Univ. of Chicago Press 1995).

په نورو ټولو حالاتو کې اساسي قانون د تعديل وړ دی، د ياولو وړ ده چې دا بهير ساده تر سترګو کېږي. د نورو قوانينو په پرتله د اساسي قانون تعديل سخت دی اودا د اساسي قانون بنسټيز توب په ګوته کوي ځکه اساسي قانون داسې يو سند دی چې په هغه کې غوره جوړښتونه او ارزښتونه بيان کېږي چې نه بنايي د خلکو د احساساتو او قهر تابع وي. ۱۴۹ او ۱۵۰ مادې هغه کړندودونه په ګوته کوي چې د هغو پر بنسټ د اساسي قانون د تعديل او تصويب وړانديز تر سره کېږي.

| |
|---|
| **۱۴۹ او ۱۵۰ مادې**<br><br>**۱۴۹ ماده**<br><br>(۱) د اسلام د سپېڅلي دين له حکمونو څخه د پيروي اصل او اسلامي جمهوري نظام نه تعديلېږي.<br><br>(۲) د اتباعو د اساسي حقوقو تعديل يوازې د هغو د حقوقو د ښېګڼې په منظور جواز لري.<br><br>(۳)د دېاساسي قانون د نورو موادو تعديل د زمان د غوښتنو او تجربو له مخې، ددې اساسي قانون د اوه شپېتمې او يو سل او شپږ څلوېښتمې مادو د حکمونو په رعيات سره، د جمهور رئيس يا د ملي شورا د اکثريت په پيشنهاد کېږي.<br><br>**۱۵۰ ماده**<br><br>(۱)د تعديل د پيشنهاد لپاره د جمهور رئيس په فرمان د حکومت، ملی شورا او سترې محکمې د غړيو له منځه، يو هيئت جوړېږی او د تعديل طرح تياروي.<br><br>(۲) د تعديل د تصويب لپاره د جمهور رئيس په فرمان او د لويی جرګې د فصل له حکمونو سره سم لويه جرګه دابرېږي.<br><br>(۳) که لويه جرګه د ټولو غړو له دريو څخه د دوو برخو په اکثريت د تعديل طرح تصويب کړي، د جمهور رئيستر توشېح وروسته نافذېږي. |

۱۴۹ مادې ته په پام سره، ولمسشر تعديل پيشنهاد او ملي شورا هغه د رايو په اکثريت (۵۱٪) سره تأييدوی. سرهد دېهم ځيني مبهم ټکي د متن په صحيح نسخه کې شته، يعني داچې آيا د ۱۴۹ مادې حکم په وروستی جمله کې د "او"، د "يا" پر ځای کارول شوې او که څنګه. که چېرې متن داسې وي: " د جمهور رئيس په وړانديز "يا" د ملي شورا د اکثريت غړو پواسطه صورت نيسي"، پدې حالت کې د هغو مفهوم به دا وي چې يا جمهور رئيس او يا ملي شورا کولای شي د اساسي قانون تعديل پيشنهاد کړی (ملی شورا، د تعديل پيشنهاد د رايو په اکثريت تصويبوی). په هغه صورت کې چې په متن کې " او" معتبر و پېژندل شي، بيا نو داسې ښکاري چې يوازې جمهور رئيس کولای شی تعديل پيشنهاد او له هغه وروسته ملي شورا د رايو په اکثريت هغه تصويب کړي. د ملی شورا له لوري د پيشنهاد تصويب يوازې لومړنی ګام دی، ځکه چې لويه جرګه هم بايد هغه تصويب کړي.

د پيشنهاد له تصويب وروسته هغه بايد د هغه کړندود سره سم چې په ۱۵۰ ماده راغلی، مخکې ولاړ شی. پدې ترتيب، د تعديل د مسودې د برابرولو لپاره "يو کميسون چې په هغه کې د حکومت، ملی شورا او همدرانګه د هېواد دسترۍ محکمې استازي غړيتوب لري، جوړېږي." دا څرګنده نه ده چې دا کميسيون څه رول تر سره کوی او د "تعديل د مسودې برابرول" په څه معنا دي. پدې اړوند څو احتمالات شتون لري: ۱) آيا دا کميسيون د جمهور رئيس نظر چې د ملی شورا له لوري تصويب او وروسته په يوه رسمي پيشنهاد بدلوي؟ ۲) آيا کميسيون پيشنهاد شوې مسوده ايديت کوی، ۳) آيا دا کميسيون لويه جرګه جوړ او رهبري کوي؟ څرنګه چې لومړی دوه مورده کېدای شي د اساسي قانون د ۱۴۹ مادې سره په ټکر کې راشي، څرګنده خبره ده چې تر ټولو ښه ژبنيزتفسير په ۱۵۰ ماده کې راغلي چې کميسيون د لويې جرګې د جوړېدو مسؤليت په غاړه لري، نه کوم بل څه. کله چې د تعديل پېشنهاد لويې جرګې ته رسېږی، د لويې جرګې دوه په دريو غړي د انفاذ په خاطر تعديل تصويبوي.

## اووم. نتيجه

دا مقدماتي څپرکی د معلوماتو مخينه او نظري چوکات برابروي چې د کتاب وروسته څپرکيو ته به ګټور وي. په لومړی برخه کې موږ د اساسي قانون او مشروطيت په هکله بحث درلود اوددې په ترڅ کې مو د اساسي قوانينو په مختلفو مقاصدو باندی په عام ډول او د افغانستان اساسي قانون په هکله مو په ځانګړې توګه خبرې درلودی. همدارنګه موږ وويل چې ولې داساسي قانون په پرتله د مشروطيت مفهوم پراخه دی؛ دا په محدود واک لرونکي حکومت کی د قانون جوړوني د پروسې په اړوند نظريه ده.

د مشروطيت له بحث څخه موږ يو غوره مفهوم لاس ته راوړ دادی چې پدې برخه کې د بشري فکتورونو څخه سترګې نشو پټولای. د اساسي قانون مشروعيت او اوږدمهاله پايښت په نه بېلېدونکې توګه د هغو افرادو سره تړاو لری کوم چې هغه تطبيقوي. اساسي قوانين په هغه صورت کی ماتېدونکي ديچې: حکومتي مسؤلين له واک څخه ناوړه ګټه واخلي؛ يا اداري فساد کې ښکيل وي چې په حکومت باندې د خلکو اعتماد له منځه وړي بحث په افغانستان کې د اساسي قانون په تاريخ چې سره دوام مومي. افغانستان د کلونو په اوږدو کې اساسي قوانين درلودل چې له هغو څخه کېدای شي ټاکلي درسونه تر لاس شي يعني دا چې هغه څرنګه ليکل شي، څرنګه تصويب او يا هم تطبيق شوی دي. همداشان دا اساسي قوانين د خپل تکامل بهير او سياسی – ټولنيزو تغييراتو او د هغو د دوام په هکله معلومات وړاندې کوی. له هغه وروسته د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون تاريخ چې، غوره ميتودونه او د هغه وروستني متن باندې د ټولنيزو اغېزمنو لاملونو يادونه وشوه.

وروسته موږ د اساسي قانون د تفسير د ميتودونو په هکله بحث وکړ.د دېکتاب په اوږدو له تاسو څخه به وغوښتل شی چی د ځينو کړنو د قانونيت او يا نه قانونيت په هکله فکر وکړې. دا د هر هغه چا لپاره چې غوارې حقوق پوه، قاضی، قانون جوړوونکی يا د دولت وزير شي يوه ارزښتناک تجربه ده، ځکهچې ياد شوي کسان په داسي دريځ کې دي چې هره شېبه د اساسي قانون په اړه پوښتنو لکه دا چې اساسي قانون څه دی؟ دا قانون د څه شی اجازه او له څه مو منع کوی؟ او دا ډول نورو پوښتنو سره مخامخ کېږي. موږ د اساسي قانون د پنځو بيلا بيلو ميتودونو په هکله بيان کړل. په ورته وخت کې بايد ووايو چې د

اساسي قانون نور معقول مېتودونه هم شته. اساسي موضوع داده تر څو وپوهېږو چې څرنګه يو شخص اساسي قانون تفسيروی ځکه چې د اساسي قانون د تفسير مختلف ميتودونه مختلفي پايلي د ځان سره ولري.

په پای کې موږ د اساسي قانون د تعديل څرنګوالی وړاندې کړ. دا په بحث کې يو ځانګړی مورد دی پدې دليل چې اساسي قانون يو ژوندی سند دی چې د نويو شرايطو په پام کې نيولو سره کېدای شي بښه والی او تغير وکړي. لکه چې يادونه وشوه له يوې خوا اساسي قانون ماتېدونکی دی، خو له بلې خوا انعطاف پذيری هغه ته پياوړتيا او پايښت ورکولای شي. د کتاب د لوستنی پر مهال په پام کې ولرې او په ښه ځيرتيا سره فکر وکړې چې کوم ډول بدلونونه د اساسي قانون په ښه والی کی اغيزمن ثابت کيدای شي.

# دوهم څپرکی: د قواوو تفکیک

## لومړی: سریزه

په ۲۰۰۷ کال کې د افغانستان ملي شورا د اساسی قانون د ۹۲ مادې سره سم د هېواد د بهرنیو چارو وزیر رنګین دادفر سپنتا ته د نه باور (عدم اعتماد) رایه ورکړه.[100] د و لسمشر له نظره ولسي جرګه ددې کار واک نه لري او لدې امله دا موضوع یې د اساسي قانون د ۱۲۱ مادې له مخې د هېواد سترې محکمې ته حواله کړه.[101] د هېواد د سترې محکمې په نظر کې ویل شوی دي، چې ولسي جرګه د وزیر سپنتا د ګوښه کېدو واک نه لري ځکه، چې د مقننه قوې د نه باور دا رایه د اساسي قانون د ۹۲ مادې سره سمون نه لري.[102] خو د سترې محکمې د حکم له صادرېدو وروسته، مقننه قوې ددې موضوع په هکله د سترې محکمې حکم و نه ومانه. که څه هم ملی شورا د سترې محکمې له حکم منلو څخه مخ واړاوه، سپنتا په حکومت کې پاته شو.[103] دا موضوع د افغانستان حکومت په د ننه کې د واک وېش په هکله موږ ته څه وایي؟

د اساسي قانون مادې ددې موضوع په اړوند لاندې مواردو ته اشاره کوی:

**د افغانستان اساسي قانون**

**۹۲ ماده**

(۱)ولسي جرګه د ټولو غړو د شل سلنې په وړاندیز کولای شي له هر یو وزیر څخه استیضاح وکړي.

(۲)که چیرې وړاندې شوې توضیح د قناعت وړ نه وی، ولسي جرګه د نه باور د رایی موضوع څیړي.

(۳)په وزیر باندې د نه باور رایه باید صریحه، مستقیمه او پر پخو دلایلو ولاړه وي. دغه رایه د ولسي جرګې د ټولو غړو د رایو په اکثریت صادرېږي.

**۱۲۱ ماده**

---

[100] J. Alexander Thier, U. S. Inst. of Peace, Resolving the Crisis over Constitutional Interpretation in Afghanistan 3 (2009).
[101] *Id*
[102] Spanta Opinion, The Supreme Court of the Islamic Republic of Afghanistan (May 13, 2007).
[103] J. Alexander Thier, U. S. Inst. of Peace, Resolving the Crisis over Constitutional Interpretation in Afghanistan 3 (2009).

(۱) د اساسي قانون سره د قوانینو، تقنیني فرمانونو، بین الدول معاهدو او بین المللی میثاقونو څیړل د حکومت یا محکمو په غوښتنه او د هغو تفسیر د قانون د حکمونو سره سم د سترې محکمې صلاحیت دی.

لاندې شکل د سپینتا قضیه انځوروی:

ولسي جرګې د نه باور رایې په هکله ۹۲مادې د حکم پر بنسټ باندې بهرنیو چارو وزیر ته د نه باور رایه ورکړه

ولسمشر کرزی باور نه لري چه ګوښه کول سم دی او له سترې محکمې څخه غواړي تر څو د ۱۲۱مادې له مخې د موضوع په هکله نظر وړاندې کړي

ستره محکمه د ۹۲له مخې د وزیر د ګوښه کېدو د ناسموالي حکم صادروی

ملي شورا د سترې محکمې حکم و نه مانه

**د بحث پوښتنې**

۱. ددې څېړکې او موضوع له لوستلو مخکې، د سپینتا د قضې په اړوند د خپلی شخصي تجربې او پوهې په اساس، لاندې پوښتنو ته څرنګه ځواب ورکولای شی؟
۲. ددې بهیر له پای ته رسېدو وروسته آیا سپینتا لا هم د بهرنیو چارو د وزیر په توګه پخپل ځای پاته شو؟
۳. آیا ولسي جرګه د د وزیر د ګوښه کولو واک لري؟
۴. آیا جمهور رئیس د ولسی جرګې ا قدام سترې محکمې ته د څېړلو په موخه استولای شي؟
۵. آیا ستره محکمه د دې واک لري تر څو د ولسي جرګې له خوا د د اقدام (کړنې) د سم والي او یا ناسم والي په هکله پرېکړه وکړي؟
۶. آیا ولسي جرګه د سترې محکمې پرېکړې د نه منلو واک لري؟
۷. د اساسي قانون د تفسیر د څرنګوالي په اړوند څوک د پریکړې نیوني کولو واک لري؟

۸. په افغانستان کې د یو قاضي یا قانون پوه په توګه تاسی د دې پوښتنو ځواب چېرې لټوی؟

د حکومتی بېلابېلو لوبغاړو د واکونو او مکلفیتونو په هکله پوښتنې د اساسي حقونو نظریی یوه غوره برخه ده چې د " قواوو د تفکیک" په نوم یادېږي.

**دوهم: د قواوو تفکیک: ټولیزه نظري ارزونه**

د دموکراسي تر ټولو غوره عنصر دا دی چې وګړي په حکومت کې د خپلو استازو د ټاکلو لپاره رایه ورکوی چې له هغه وروسته هغوی وګړو ته ځواب ورکوونکي (مسؤل) دي. خلکو ته ځواب ورکونه پدې معنا ده چې استازي د خلکو اړتیاو او غوښتنو ته ځواب ووايي. په هر حکومت کېد دېګواښ شته، چې د ځینو خلکو په لاس کې له بریده زیات قدرت متمرکز شي، پداسې حال کې، چې د نورو غږ بیا نه اورېدل کیږي. په دموکراسي کې ددې ګواښ شته، چې د اقلیت (لږه کی) په پرتله یو لوی اکثریت ډله د حکوت زیات شمېر مقامات و ټاکي او پدې توګه بیا د مقننه قوې اجندا په خپل کنترول کې راولي او د خپل ځان په ګټه قوانین تصویب کړي. پداسې یو حالت کې لږه کی نشي کولای د خپلو ګټوڅخه دفاع وکړي او یا هم د خپلو اساسي حقوق ساتنه وکړي. او د اکثریت د ارادې په وړاندې آن د خپلو اساسي حقونو څخه دفاع وکړي.

د مثال په توګه، داسې فکر وکړي چې په هېواد کې به څه پېښ شي که چېرې ملي شورا داسې قانون تصویب کړي، چې د هغه له مخې په ملي شورا کې د اقلیت د ګوندونو غړي د اکثریت ګوندونو له اجازې پرته، خپل نظریات نشي خپرولای. دا وړاندیز شوی قانون د افغانستان د اساسی قانون د ۳۴ مادې حکم څخه سرغړونه ده، چې پکې راغلی دی: " هر افغان حق لري د قانون د حکمونو سره سم مطالب، بې له دې چې هغه مخکې له مخکې حکومتي مقاماتو ته وښیي، خپاره او نشر کړي. خو که ملی شورا په حکومت کې ټول واک پخپل لاس کې ولري، څوک به په مقننه قوه کې د اکثریت مخنیوي وکړي چې د اساسي قانون مخالف قانون تصویب نه کړي؟

د فرانسی سیاسی متفکر منتسکیو چې د ۱۷ او ۱۸ پېړیو د رڼولی په دوره کې یی ژوند کاوه، د قواوو تفکیک نظریی له امله شهرت لري، هغه لیکي:

> کله چې تقنیني او قضایي واکونه یو په بل کې ادغام شي او د یو شخص یا د وکیلانو د لوی ډلې په اختیار کې راشي، بیا نو آزادی له منځه ځي؛ ځکه شونې ده داسې اندېښنه رامنځ ته شي هسی نه چې پادشاه یا د سنا مجلس استبدادي قوانین تصویب او په استبدادي طریقو سره یی پلې نه کړي.

که قضائيه قوه له مقننه قوې او اجرائيه قوې څخه بيل نه شي بيا به هم هيڅ آزادي او خپلواکي شتون ونه لري. د مقننه قوې سره د قضائيه قوې يو ځای کېدل، د فرد ژوند او آزادي به د خپل سري ځارنې لاندې راولي ځکه پدې صورت کې قاضی پخپله قانون جوړوونکی هم دی. او که چېرې قضائيه قوه د مقننه قوې سره يو ځای شي، کېدای شي قاضي له ځانه د عمل سختوالی وښيي او د خلکو په حق تېری وکړي.[١٠٤] هر څه به له لاسه ولاړ شي که چېرې يو فرد او يا ډله چې له نجيبو افرادو يعنې اشرافی يا ورته افرادو څخه جوړ شي، چې درې واړه کارونه يعنی د قوانينو جوړول، د تګ لارې پلي کول او يا د افرادو د جرمونو او اختلافونو قضاوت په غاړه واخلي.

د قواوو د تفکيک نظريې موخه د حکومتي ارکانو (وزارتونو او تر هغو ټيټو اداري واحدونو) تر منځ د قدرت ويشلو له لارې د استبداد يا مطلقه حکومت د ستونزې مخنيوی دی. دا جدا ارګانونه وروسته د "ځارنې او انډول" له لارې يو پر بل باندې خپل صلاحيتونه اعمالوي. ځارنه او انډول داسې ميکانيزمونه دي، چې د هغو پواسطه د حکومت هر رکن تر يوه بريده د نورو حکومتی ارګانو د کړنو ځارنه کوي تر څو د يوې ډلې د مطلق صلاحيت څخه مخنيوی وشي. د قواوو د تفکيک نظريې ته په پام سره، دا سيستم څلور ښېګنې لري:

(١)**د قواوو تفکيک د ناسمو دلايلو له امله د قوانينو تصويبول را کموي.** دا ځکه چې د نورو ارګانو د ځارنې په صورت کې د قانون جوړوونکو لپاره د شخصی ګټو او انګېزولپاره کار کول ډېر سخت وي. په نتيجه کې قوانين کيدای شي بې پرې او د عام وګړو په ګټه وي.[١٠٥] مثال، که چېرې پادشاه د مطلق قدرت درلودونکی وي، هغه کولای شي د خپلې ګټې لپاره قانون نافذ کړي ځکه چې د هغه په صلاحيت باندې هيڅ محدوديت نشته. په يوه داسې حکومت کې، چې د قواوو د تفکيک پر بنسټ فعاليت کوی، د هغه نورې برخی لکه مقننه قوه، قضائيه قوه نوموړی د داسې قوانينو د تصويب څخه منع کوي چې يوازې دده په ګټه وي.

(٢)**دا سيستم د فردي حقونو له خونديتوب څخه ملاتړ کوي.** لکه څرنګه چې مخکې يې يادونه وشوه، د اقليت (لږه کيو) حقوق هغه وخت ښه خوندي کيدای شي چې اکثريت په خپلو کړنو کې مطلقه خپلواکي ونه لري تر څو د خپلو سرو کړنو مخه يې ونيول شي او هر څه چې زړه يې غواړي تر سره نه کړي.[١٠٦] مثال، که چېرې د مقننه قوه اکثريت غړي سوداګر وي او د داسې قوانينو تصويب وغواړي چې د سوداګرو په ګټه خو د کروندګرو په زيان وي، کروند ګر د قواوو د تفکيک د اصل څخه په ګټې اخيستنې سره د هغو مخنيوی کولای شي.د دې امکان وجود لري چې کروندګرجمهور رئيس دی ته وهڅوي، چې دا ډول قانون ويټو کړي. د اساسي قانون سره د تناقض په صورت کې، ددې امکان هم شته چې قضائيه قوه هغه بې اعتباره اعلان کړي.

[104] Charles de Secondat Montesquieu, 1 *The Spirit of Laws*, bk. XI, chap. 6 (J. V. Prichard, ed. , rev. ed. 1991; Thomas Nugent, trans. , 1st ed. , 1750).
[105] Richard Bellamy, *The Political Form of a Constitution: The Separation of Powers, Rights and Representative Democracy*, *reprinted in* The Rule of Law and the Separation of Powers 253, 255 (Richard Bellamy, ed. , 2005).
[106]*Id*

(۳)د حکومت د کړنو اغیزمنتوب زیاتېږی ځکه **هر رکن قادر دی، چې په ټاکلي او تخصصي کار باندې تمرکز وکړي.** داچې په کومه کچه د کار وېش د لا اغیزمن اقتصاد باعث کیږي، د کار دا ډول وېش باید حکومت لا زيات اغیزمن کاندي.[107] دا دول تخصصي کړنې د مسلکي او تخصصي مهارتونو په ساتلو کی مهم دی په ځانګړې توګه انتصابي مقاماتو لکه د قاضیانو او بیوروکراتانو د مهارتونو په ساتلو کی.ددې نظریی پر بنسټ، قاضیان کولای شي چې د قانون متخصصین واوسي او حکومتي اقتصاد دانان د اقتصاد متخصصین واوسي ځکه دوې ټول عمر په اړونده برخه کی د تخصص او پوهې لاس ته راوړلو لپاره تیر کړې نه ددی لپاره چې ځانونه مطرح او په ټاکنو کې بيا ځانونه کاندید کړي. کارپوهنه رسمي مقاماتو ته ددې اجازه هم ورکوي تر څو د کار په اړونده عرصو کې له مستقیم سیاسي فشار څخه وژغورل شي. لکه، قاضیان کولای شي د قانون په رڼا کې هغه احکام چې د دوی له نظره سم ښکاري صادر کړي. ددوی پریکړې پخپل پست کې د بیا انتخاب کېدو او یا هم د هغو سیاسي چارواکو د خوښې لپاره، چې دوی يی ټاکلي دي نه وي.

(٤)**د حکومت درې ګونې قواوی یو بل ته ځواب ویونکي دي**، تر څو ددې ډاډ تر لاسه شي، چې د هغوی هر یو د خپل واک په چاپېر کې عمل کوي.[108] دا پدې معنا دي، چې د دری ګونو قواوو څخه هره یوه د بلې فعالیت څارلی او کنټلای شي، داسې چې هر یو بل ته ځواب ویونکی وي. مثال، مقننه قوه د باور رایی له تر لاس کولو پرته د جمهور رئیس له خوا د وزیرانو ټاکلو واک محدودوي. همداشانې، جمهور رئیس د وېټو د حق له لارې د مقننه قوې واک محدودوي.

د دې څپرکي د لوستلو په مهال، دا مهمه د ه، چې په یاد ولرو، چې په حکومت کې د قواوو د تفکیک لپاره یوه واحده او "منل" شوې طریقه نشته او په نړۍ کې حکومتي جوړښت یو تر بله د پام وړ توپیر لري.

## الف. د قدرت افقی تفکیک د عمودي تفکیک په وړاندې

دا څپرکی د قواوو **په افقي تفکیک متمرکز** دی، یا دا چې د حکومت پر فدرالي کچه باندې د لوبغاړو ترمنځ د قواوو تفکیک ته ځانګړې شوی دی. د قواوو د تفکیک بل ډول – **د قواوو د تفکیک عمودي**ډول دی چې د ملي او محلي حکومتونو تر منځ د واک له ویش څخه بحث کوي. مثال، په افغانستان د قواوو افقي تفکیک په مرکزي حکومت کې د قدرت د ویش یعني اجرائیه، مقننه او قضائیه قواوو ترمنځ د قدرت ویش ته اشاره لري. په افغانستان کې د قدرت عمودي بېلتون د مرکزي حکومت، ولایتي حکومتونو او ځايي حکومتونو ترمنځ د قدرت ویش تر بحث لاندې نیسي.

---

[107] *Id*

[108] *Id*

د امريکې متحده ايالات د فدرالي حکومت د جوړښت يوه بېلګه ده (د قواوو عمودي تفکيک پیاوړي سيستم). په متحده ايالاتو کې ټول ايالتي حکومتونه پخپله قوانين وضع کوي، خپل محکمې اداره کوي او په خپل قلمرو کې د پام وړ واک لري. په زياترو کثيرالقومي ټولنې محکمې د فدرال حکومت پلوي کوي او له دې لارې کوښښ کوي تر څو د مختلفو قومي ټولنو تر منځ د قدرت هدفمند ويش تر سره کړي.[۱۰۹] د دې سيستم څو نمونې د بوسنيا هرزګوينيا، کوسوا او قبرس هېوادونه دي.[۱۱۰] دا ټول حکومتونه د قدرت د ويش عمودي ډول عملي کوي. له بلې خوا افغانستان په مرکزي حکومت کې د قدرت په تمرکز سره واحد مرکزي سيستم غوره کړی دی.

دا څېرکی په بشپړه توګه د قدرت افقي وېش ته ځانګړي شوي دی. تاسو به په افغانستان کی د قواوو د عمودي تفکيک په هکله د حکومت او ادارې تر سرليک لاندې په څلورم څېرکي کې معلومات تر لاسه کړي. که څه هم تاسو لا تر اوسه هغه نه دی لوستی، د کتاب د پاتې برخې د مطالعې په ترڅ کې د غير متمرکز سيستم په وړاندې د متمرکز سيستم د ښېګڼو او نيمګړتياوو په هکله فکر وکړي.

## ب. د قواوو د تفکيک څرنګوالی

مختلف هېوادونه د قواوو د تفکيک لپاره بېلا بېلې لارې غوره کوي. لدې جملې څخه د قواوو د تفکيک لپاره دوه مېتوده يعنې رياستي او پارلمانی تر ټولو زيات دود دي.[۱۱۱]

*رياستي سيستمونه*

| *رياستي سيستمونه*[۱۱۲] |
| --- |
| د اجرائيه قوې مشرد وګړود هماغه حوزې(د وګړو د ډلو) په مرسته چې مقننه قوه ټاکې، انتخابېږی. |
| مختلف ګوندونه کولای شي اجرائيه قوه او مقننه قوه کنترول کړي. |
| جمهور رئيس کابينه ټاکي |
| اجرائيه غړي يوازې په اجرايي دندو کې کار کولی شي او د مقننه قوې غړی يوازې په مقننه قوه کې کار کولای شي. |
| د پارلماني سيستم په پرتله، په دی سيستم کی اجرائيه قوه او مقننه قوه په دقيقه توګه يو له بل څخه جلا |

[109] Ranier Grote, *Separation of Powers in the New Afghan Constitution*, 64 ZaöRV 897, 913 (2004).
[110] *Id*
[۱۱۱]. ددې څېرکي په هکله له پروفيسور ګېرهارد کاسپېر څخه د وړاندې شوو مشورو له امله مننه کوو.
[112] Vicki C. Jackson & Mark Tushnet, Comparative Constitutional Law 779 (2d ed. 2006).

والي لري.

مثال، افغانستان، د امريکی متحده ايالات، او د لاتيني امريکی ډېر شمېر هېوادونه

په رياستي سيستمونو کي، د قواوو تفکيک دری غوره اجزا لري:

(۱) د اجرايوي، قضايي او تقنيني اعمالو تر منځ وېش،

(۲) حکومتونه په جلا اجرايوي، تقنيني او قضايي ارکانو ويشل کيږي او

(۳) هر يو رکن مختلف وګړي ګماري. مثال، د حکومت هېڅ يو وزير نشی کولای د ملي شورا په کار کې ونډه واخلي او د مقننه قوې هېڅ يو غړی نشي کولای په محکمه کې د قاضي په توګه دنده تر سره کړي.[۱۱۳]

په رياستي سيستم کې د قواوو تفکيک په لاندې ډول سره انځور کېدای شي:




ددې جوړښت د غوښتنو تر شا استدلال پدې کې دی، چې که چېرې د افرادو يوه ډله قوانين وضع کړي، د هغوی بله ډله يې پلي کوي او په همدې ډول دريمه ډله هغه تفسير کوي. د حکومتي ادارو لپاره به دا ډېره ستونزمنه وي چې خپلو ګټو د چوکاټ څخه د باندې کړنې ترسره کړي ځکه د نورو ادارو او ارګانونو شتون د هغوی قدرت تر محدوديت لاندی راولي. سرهد ديهم، پداسي حال کې، چې د قواوو د

[113] Richard Bellamy, *The Political Form of a Constitution: The Separation of Powers, Rights and Representative Democracy*, *reprinted in* The Rule of Law and the Separation of Powers 253, 254 (Richard Bellamy, ed. , 2005).

تفکیک نظریه د دری واړو قواوو دندې په دقیق ډول ټاکي، خو عملي موجودو اړتیاوو ته په پام سره د هغوی تر منځ کله کله وظیفوي تداخل رامنځ ته کیږي.

په ریاستي سیستمونو کې، مقننه قوه قوانین تدوین او تصویبوي، خو جمهور رئیس د معمول سره سم د قانون د ویټو کولو حق لري. بیا هم مقننه قوه کولای شي د جمهور رئیس ویټو د فوق العاده اکثریت له لارې (معمولاً د رایو دوه په درې) باطل او قانون تصویب کړی. تاسو به په ریاستي سیستم کې په افغانستان کې د قانون جوړونه، تر سرلیک لاندې چې د ریاستی سیستم څخه پیروی کوي، د قانون جوړونې په هکله نور معلومات تر لاسه کړي.

***پارلماني سیستمونه***

**پارلماني سیستمونه**[114]

د کابینې په شمول، حکومت او لومړي وزیرد مقننه قوې له لوري ټاکل کیږي او د هغه په وړاندې ځواب ویونکي دې.

اجرائیه او مقننه قواوې د یو ګوند یا د ګوندون د ائتلاف (اما مختلف ګوندونه کولای شي د مقننه قوې مختلف مجلسونه کنترول کړي) کنترول کیږي.

د اجرائیه قوې مشر کولای شي د مقننه قوې غړیتوب و لري.

که لومړی وزیرد مقننه قوې د "باور رایه" له لاسه ورکړي، کېدای شي د راتلونکی دورې انتخاباتو د مودی څخه مخکې نوي انتخابات تر سره شي.

پدې سیستم کې د معمول سره سم، د دولت مشر (جمهور رئیس)، د پام وړ محدود واک او د حکومت رئیس(لومړی وزیر)، چې په واقعیت کې د حکومت مشرتوب په غاړه لري، شتون لري.

د ریاستي سیستم په پرتله د اجرائیه او مقننه قواوو تر منځ استقلالیت یا د قواوو تفکیک لږ دی.

مثال، انګلستان، آلمان، جنوبي افریقا، عراق، تایلند، او ډېری لوېدیز هېوادونه.

په پارلماني نظامونو کې، دواړه مجلسونه د رای اخیستنې نه مخکې، باید د قانون د طرح پر سر باندې توافق وکړي. پدې اړوند باید وویل شي، چې هیڅ اجرائیوي غړې د ویټو حق نه لري ځکه، چې اکثراً لومړی وزیر د پارلمان غړیتوب لري.[115] په پارلمانی نظامونو کې د قواوو د تفکیک اصل په دودیز ډول

[114] Vicki C. Jackson & Mark Tushnet, Comparative Constitutional Law 779 (2d ed. 2006).

[115]. د لا زیاتو معلوماتو لپاره وګوری:

د یوې خپلواکه قضائیه قوې شتون دی.[۱۱۶] دلیل یی دادی، چې د ریاستی سیستم په پرتله، پدې سیستم کې د تفکیک لپاره لږ موارد شتون لري. له دې امله یو پارلمانی سیستم کولای شی لاندې بڼې ولري:




که څه هم کېدای شي چې د اکثریت ګوند هم اجرائیه او هم مقننه دواړه قوې پخپل کنترول کې ولري، د اقلیت ګوند په پارلماني سیستم کې د قدرت درلودونکی دی.[۱۱۷] بیلګې په توګه، په انګلستان کې د پارلماني اقلیت غړي د اکثریت ګوند د فعالیت په څارنې باندې تاکید کولای شي. دا کار په ځانګړې توګه په انګریزي دود کې د پوښتني کولو پر مهال ښکاره ده، چې د هغه په ترڅ کې د مقننه قوې غړي د حکومت له وزیرانو څخه د نظر وړ پوښتني کولای شي. آن که په پارلماني نظام کې د اکثریت ګوند پر دواړو اجرائیه او مقننه قواوو باندې کنترول هم ولري، د اقلیت ګوند د اجرایوي اقداماتو په هکله د پوښتني کولو حق لري.[۱۱۸]

**د لوست تمرکز**

تاسو ددې څپرکي او کتاب د پاتې برخې د لوستلو سره یو ځاي پدې هکله فکر وکړئ، چې که افغانستان د ریاستي سیستم پر ځاې یی پارلماني سیستم غوره کړی وای، د هغه د قانون جوړوني توپیر به په څه کې وو؟ د مطالعې پر مهال تل په یاد ولري د قانون جوړونې هغه سیستم چې افغانستان ترې ګټه اخلي، د قانون جوړوني یوازنۍ لار نه بلکه له ډېرو لارو څخه یوه لاره ده.

http://www. parliament. uk/about/how/laws/passage-bill/.

[۱۱۶]. د قضایی خپلواکي د مفهوم اړوند هر اړخیزو معلوماتو لپاره د قضائیه قوې تر سرلیک لاندې شپږم څپرکي ته مراجعه وکړی.

[۱۱۷]. ددې نظر د څرګندولو په خاطر د پروفیسور ګرهارد کاسپیر څخه مننه کوو.

[۱۱۸]. ددې ټکي د وړاندې کولو له امله د پروفیسور ګرهارد څخه مننه کوو.

## *ترکیبي سیستمونه*

ځیني هېوادونه له ریاستي او پارلماني سیستمونو څخه یو ترکیبي (ګډ) حکومت رامنځ ته کوي. ددې سیستم ډېره ښه بېلګه د فرانسې حکومت دی. په دې هېواد کې، د ریاستي سیستم په شان، جمهور رئیس د وګړو له خوا په مستقیم ډول انتخابېږي. جمهور رئیس پراخه صلاحیتونه لري، چې لومړی وزیر، وزیران او منشیان و ټاکي. سره ددې هم، جمهور رئیس باید لومړی وزیر او او کابینه د هغه ګوند څخه و ټاکي چې پارلمان په کنترول کې لري، آن تر دې که اړونده ګوند د جمهور رئیس ګوند هم نه وي. سر بېره پردې، حکومت د جمهور رئیس پر ځای، پارلمان ته ځواب ویونکی دی.ددې مېتود په نظر کې نیولو سره، د فرانسې سیستم یو پارلماني سیستم ګڼل کیږي.

## *په وېشل شوو ټولنو کې پارلماني سیستمونه د ریاستي سیستمونو په وړاندې*

په **ریاستي رژیمونو کې،** مقننه او اجرائیه قوې دوه بېل بنسټونه، هر یو په جلا توګه د خلکو له خوا انتخابېږي. د هغوی څخه هېڅ یو یې هم د بل د ګوښه کولو واک نه لري. په نتیجه کې، مقننه قوه او اجرائیه قوه باید د تګ لارې په هکله یو د بل سره همکاري او همغږي ولري.[119] ددې خلاف، په **پارلماني نظامونو کې،** مقننه او اجرائیه قواوې یو د بل سره تړلي دي. یوازې مقننه قوه د وګړو له خوا په مستقیم ډول انتخابېږي، او مقننه قوه، اجرائیه قوه (د لومړي وزیر تر مشرتابه لاندې) تشکیلوی. دا پدې معنا ده، چې اجرائیه قوه د خپل کار د دوام لپاره د مقننه قوې باور رایی ته اړتیا لري. که چېرې مقننه قوه د اجرائیه قوې په اړه خپل باور له لاسه ورکړي، مقننه قوه د هغو د ګوښه کولو واک لري. په ورته وخت کې، پدې سیستم کې د معمول سره سم لومړی وزیر د پارلمان د منحل کېدو او نویو انتخاباتو تر سره کولو واک لري. دا ډول ترتیب دواړه قوې دې ته اړ باسي تر څو یو د بل پر منلو سره توافق یا هوکړه وکړي.[120]

یادشوو مواردو ته په پام سره، تاسو څه فکر کوئ، چې په وېشل شوو ټولنو لکه افغانستان کې د یاد شوو سیستمونو څخه کوم یو ښه دي؟ په دودیز ډول، ډېر سیاست پوهان پدې باور دي چې پداسې مواردو کې پارلماني سیستم یو څه زیات ټیکاو رامنځ ته کوي او مقننه او اجرائیه قوې دې ته اړ کیږي چې په سیاست کولو کې سره توافق وکړي. په نړۍ کې د با ثباته او دوامداره پارلماني رژیمونه یو بیلګه د سکندیناویا هیواد دی، چې په کې د سیاسي ګوندونو ترمنځ اختلافونه ډېر کم دي. کله چې پدې سیستم کې سخت دریځ ګوندونه صحنې ته رراوځي، هغوی قدرت ته د رسېدو ډېر ښه فرصتونه لري او اقلیتونه ګواښوي. دا ډول حالت د دوو نړیوالو جګړو ترمنځ په آلمان او فرانسې او په دې وروستیو کې په شمالي آیرلند کې رامنځ ته شو. له بلې خوا، ریاستي سیستم چې په شدت سره د امریکې په متحده ایالاتو کې وېشل شوی دی، ډېر ځله داسې پېښېږي، چې په هغه کې د دوو مجلسونو ترمنځ د نه توافق له امله حکومت د تګ لارې په جوړولو کې پاته راځي.[121]

---

[119] Gabriel Almond et al. , "Government and Policymaking," in *Comparative Politics Today: A World View* (2009).
[120]*Id*.
[121]*Id*.

اوس مهال، **د پارلماني نظام پلویان** پدې باور دي چې په وېشل شوو ټولنو کې پارلماني نظام "د اړونده خواوو تر منځ د توافق وړ یو چوکات رامنځ ته کوي چې په هغه کې مختلفي اقتصادي، قومي او مذهبي ډلې استازي ولري او خپل اختلافونه د خبرو او اترو له لارې حل و فصل کړي."[122] سربېره پردې، د دوو انتخاباتو ترمنځ د حکومت د بدلېدو شونتیا هم لیدل کیږي. د پارلماني نظام پلویانو له نظره ددوه دلایلو په اساس ریاستي نظامونه په وېشل شوو ټولنو کې د اختلاف د راپیداکېدو احتمال زیاتوي.[123] لومړی، پیاوړی جمهور رئیس کولای شي د خپل اجرائیوِی واک څخه د خپلو مخالفینو په ټکولو کې ګټه واخلي.[124] که چېرې جمهور رئیس په حکومت کې د پراخو واکونو درلودونکی وي، په ځینو مواردو کې هغه کولای شي د قوانینو د تصویب لپاره د مقننه قوې دنده تر سره کړي او پدې ډول د اساسي قانون حکمونه مات کړي. دا ډول کړني د لاتیني امریکې په ډېری هېوادونو کې پېښېږي.[125] دوهم، د مختلفو ګوندونو له خوا د اجرائیه او مقننه قواوو کنترول، چې ځینې وختونه توافق ته نه رسېږي، دموکراتیکه ماتې شوني ده.[126] پروفېسور بروس آکرمن لیکي چې د امریکې ریاستي نظام د قانون حاکمیت ته یو ګواښ دی ځکه چې جمهور رئیس د مقننه قوې سره د نویو قوانینو په جوړولو کې د همکارۍ پر ځای، موجوده قوانین د ادارې سیاسي کولو ته هڅوي.[127]

له بلې خوا، د ریاستي سیستم پلویان پدې باور دي، چې په وېشل شوو ټولنو کې ډېرې نوې راڅرګندېدونکې دموکراسۍ له ریاستی سیستم څخه پیروي کوي.[128] پروفیسور ستیون کالابریسي[129] استدلال کوي چې ریاستي سیستمونه زیات دموکراتیک دي ځکه، چې اجرائیوِی لومړی شخص د خلکو له لوري په مستقیم ډول انتخابېږي، ګوند باید پداسې انتخاباتو کې په مختلفو سیمو کې بریالیتوب تر لاسه کړي او د یو څه اوږدې دورې په ترڅ کې د حکومت بشپړ کنترول په لاس راولي.[130] همدا ډول، نوموړی پدې باور دي چې ریاستي سیستمونه زیات ثبات لري ځکه، چې په پارلماني نظامونو کې مقننه قوه کولای شي څو ځلې انتخابات تر سره کړي چې د ځان سره په پرله پسې توګه د حکومت بدلون د ځان سره لري. د کالابیرس په نظر د جمهور رئیس د وېټو حق د قوانینو تصویب مشکل کوي او د احمقانه قوانینو څخه مخنیوی کوي او په قوانینو کې د پایښت وړ اوږد مهاله ثبات هڅوي.[131]

| |
|---|
| **د بحث پوښتنې** |
| ۱. که چیرې د حکومت د تشکیل واک ستاسو سره وي، تاسې کوم سیستم غوره کوئ، ریاستي او که |

[122] *Id*.
[123] *Id*.
[124] *Id*.
[125] Bruce Ackerman, *The New Separation of Powers*, 113 Harvard Law Review 633 (2000).
[126] Gabriel Almond et al. , "Government and Policymaking," in *Comparative Politics Today: A World View* (2009).
[127] Bruce Ackerman, *The New Separation of Powers*, 113 Harvard Law Review 633 (2000).
[128] Gabriel Almond et al. , "Government and Policymaking," in *Comparative Politics Today: A World View* (2009).
[129] Steven G. Calabresi, *The Virtues of Presidential Government: Why Professor Ackerman is Wrong to Prefer the German to the U. S. Constitution*, 18 Const. Comment. 51 (2001).
[130] *Id*.
[131] *Id*.

پارلماني سیستم ؟ ولې؟

۲. آیا تاسو فکر کوئ چې ریاستي سیستم د افغانستان لپاره غوره انتخاب دی؟

۳. که چیرې د افغانستان نظام پارلماني وي، د هغه د حکومت توپیر ب په څه کې وي؟

### ج. د قواوو د تفکیک کره کتنه

د قواوو پر تفیک باندې لویه نیوکه داده چې کېدای شی هغه د اساسي قانون پر ماتې منتج شي داسې چې یو رکن هم له قانون څخه سرغړونه و کړي اوهم ورسره خپل ځان د قانون جوړوونکي په توګه وښیي.[۱۳۲] دا حالت زیات هغه مهال رامنځ ته کیږي، چې مختلف ګوندونه د مقننه قوې او اجرائیه قوې کنترول په لاس کې ولري ، د حکومتي چارو د اداري پر سر باندې توافق د خنډ سره مخامخ کیږي.[۱۳۳] د معمول سره سم پداسې شرایطو کې اجرائیه قوه د ټول حکومت چارې په لاس کې اخلي.[۱۳٤] دا نیوکه د هغې نیوکې سره اړخ لګوي، چې وایی پیاوړې اجرائیه قوه له اندازې زیات قدرت د یو شخص په لاس کې متمرکزوي. ځینې وایی، چې د قواوو د تفکیک نظریه لاتیني امریکې ته د متحده ایالاتو تر ټولو ګواښوونکې واردات دي ځکه، چې د لاتیني امریکې ډېر شمېر جمهور رئیسان مقننه قوه ړنګه او خپل ځانونه د دېکتاتورانو په توګه ټاکي.[۱۳۵] ددې نیوکې ځواب دادی، چې د څارنې او انډول یو پیاوړی سیستم کولای شي دا ګواښ ډېر راکم کړي.

### لومړی - د افغانستان په اساسي قانون کې د قواوو تفکیک

### الف. د اساسي قانون تاریخچه او طرح

په افغانستان کې د قواوو د تفکیک نظریه د لومړي ځل لپاره په ۱۹۶۴ کال کې رامنځ ته شوه یعني هغه مهال چې محمد ظاهر شاه مشروطه سلطنت د اجرائیه، مقننه او قضائیه قواوو په تفکیک سره تصویب کړ.[۱۳۶] د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون د ۱۹۶۴ کال پر اساسي قانون باندې ولاړ دي، چې د قواوو د تفکیک نظریه یې د حکومت درې ګونو ارګانونو ترمنځ د قدرت د وېش له لارې منلې ده.[۱۳۷] د افغانستان لپاره د ۱۹۶۴ او ۲۰۰۴ کال اساسي قوانینو ترمنځ د کتنې وړ توپیر د اجرائیوی قدرت د پراختیا څرنګوالی دی.

---

[132] Bruce Ackerman, *The New Separation of Powers*, 113 Harvard Law Review 633 (2000).
[133] *Id*.
[134] *Id*.
[135] *Id*
[136] Ranier Grote, *Separation of Powers in the New Afghan Constitution*, 64 ZaöRV 897, 897 (2004).
[۱۳۷]. ځینې کسان وایي چه د خپلواکو کمیسونو اداري لکه د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون او د اساسي قانون پر تطبیق باندې د څارنې خپلواک کمیسیون ، د حکومت "څلورم رکن" جوړوی. تاسو به پدې هکله د حکومت او اداري تر سر لیک لاندې په څلورم څپرکي کې معلومات تر لاسه کړی.

د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون جمهور رئیس ته هغه واکونه ورکوي چې د ۱۹۶۴ کال په اساسي قانون کی د پادشاه او لمړي وزیر لپاره ټاکل شوي وه.[۱۳۸] پدې معنا چې د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون نه یوازې د اجرائیه قوې مشري بلکه د افغانستان حکومت د کړنو مسؤلیت هم په بشپړه ډول جمهور رئیس ته سپارلي دی.[۱۳۹]د جمهور رئیس د دوه ګوني قدرت په هکله د اجرائیه قوه تر سرلیک لاندې په دریم څپرکي کې لا زیات معلومات وړاندې کیږي.

څرنګه چې مخکې وویل شول، د افغانستان اساسي قانون د یو پارلماني نظام پر ځای، ریاستي سیستم تسجیل کړي دی. ملي شورا چې د ۸۱ – ۱۰۹ مادو له مخې جوړېږي، پر نورو کړنو سر بېره د "قوانینو او تقنیني فرمانونو د تصدیق، اصلاح او یا لغو واک" هم لري.[۱۴۰] جمهور رئیس او حکومت (اجرائیه قوه)، چې د ۶۰ – ۸۰ مادو په ترڅ کې تری یادونه شوی، پر نورو مواردو سربېره د " اساسي قانون او نورو قوانینو د حکمونو او د محکمو د قطعی پرېکړو عملي کول" دنده لري.[۱۴۱] قضائیه قوه چې د ۱۱۶ – ۱۳۵ مادو له مخې تشکیلیږي، د نورو مواردو سربېره د "حقیقي یا حکمي اشخاصو ټولو دعوی ته رسیدګې" واک هم لري[۱۴۲] او د قانون حکمونو او ځانګړو مېتودونو له مخې "له اساسي قانون سره د قوانینو، تقنینی فرمانونو، بین الدول معاهدو او بین المللي میثاقونو د مطابقت څېړل" واک لري.[۱۴۳] د سترې محکمې له لوري د قضیو څېړنه د حکومت یا ټیټو محکمو د غوښتنې له مخې څېړل کیږي.[۱۴۴]

دا پدې معنا ده، چې ملی شورا واک لري د افغانستان رسمي قوانین تصویب کړي. اجرائیه قوه د قوانینو د اجرا کولو واک لري یا لدې څخه باید اطمینان حاصل کړي، چې د مقننه قوې مصوب شوي قوانین په هېواد کې په عمل کې پلي کیږي. د قضائیه قوې دنده د افرادو قضیو په برخه کې د قانون تطبیق او د اړتیا په صورت کې د قوانینو تفسیر دی. د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون د لویی جرګې له لارې په ۱۱۰ – ۱۱۵ مادو کې راغلي حکمونو له مخې پر قدرت باندې د یوې بلې څارنې یادونه هم کوي، چې " د هېواد خپلواکي، ملي حاکمیت، ځمکنۍ بشپړتیا او سترو مصلحتونو پورې د مربوطو چارو په باب تصمیم نیول"، " [ د دې ] اساسي قانون د حکمونو تعدیل، " او " جمهور رئیس محاکمه کول" دي.[۱۴۵]دغه اضافي ارګان په فوق العاده ملي مسایلو کی د پریکړه نیوني واک لري چې په دی توګه ددری ګونو قواو په واک باندی اضافي محدودیتونه وضع کوي.[۱۴۶] لویه جرګه په دوره ای توګه یوازې د ځانګړو مهمو مسئلو لپاره جوړېږي او د نورو دری ګونو قواوو په شان د قواوو په تفکیک کې جوړوونکی رول لري. پدې څپرکي کې یوازې پر اجرائیه، مقننه او قضائیه قواوو باندې تمرکز کیږي. په ۵ څپرکي کې د مقننه قوې تر سرلیک لاندې تاسو به د لویی جرګې په هکله نور معلومات هم ترلاس کړي.

138 Ranier Grote, *Separation of Powers in the New Afghan Constitution*, 64 ZaöRV 897, 904 (2004).
139 *Id.* at 905.

۱۴۰. د افغانستان اساسي قانون، د جنوري ۳، ۲۰۰۴ کال، ۹۰(۱) ماده
۱۴۱. هماغه ځای، ۷۵(۱)
۱۴۲. هماغه ځای، ۱۲۱ ماده
۱۴۳. هماغه ځای، ۲۱۱ ماده
۱۴۴. هماغه ځای، ۲۱۱ ماده
۱۴۵. هماغه ځای، ۱۱۱ ماده

۱۴۶. باید وویل شي چه د نورو ارګانو څخه د لویی جرګې نظارتي کړنه پدې فاکت سره محدود دی چه دا نهاد د ۱۱۰ مادې له مخې د ملي شورا له غړو څخه جوړېږي.

**د اجرائیه قوې تقنینی واک[۱۴۷]**

که څه هم په افغانستان کې د قانون جوړوني پراخ قدرت ملي شورا ته ورکړل شوی، اساسي قانون پدې بهییر باندې د پام وړ کنترول اجرائیه قوې ته ورکوي.

لومړی، د ۹۷ مادې سره سم، ملي شورا باید د حکومت له لوري قانوني طرحو او تړونونو ته لومړیتوب ورکړي.

دوهم، ۱۷۶ ماده حکومت ته د مقررو د تصویب اجازه ورکوي پرته له دی چې د تائید په موخه ئی ملي شورا ته راجع کړي، خو په دی شرط چی اړونده مقررې د بل کوم قانون سره مغایرت ونه لري.

دریم، د ۷۹ مادې پر بنسټ " حکومت کولای شي د ولسي جرګې د تعطیل په حالت کې له بودجې او مالي چارو پرته، د بېړنی اړتیا پر اساس تقنیني فرمانونه ترتیب کړي. "

د قواوو له تفکیک څخه د ګټه اخیستلو په موخه، د حکومت هر یو رکن باید د یو بل په وړاندې د ځواب ویلو په اړوند د واقعي واک درلودونکي وي. که چېرې د درې ګونو قواوو څخه هر یو په عمل کې د خپل صلاحیت په پلي کېدو باندې قادر نه وي، یوازې د کاغذ پر مخ د قواوو د تفکیک نظریې لیکل کومه ګټه نه لري. یو له هغو لارو څخه چې اساسي قانون یې د قواوو د تفکیک نظریې د پلی کولو لپاره وړاندې کوي، د څارنې او انډول سیستم دی. "څارنه او انډول" داسې مېکانیزم دی، چې له هغه طریقه د حکومت هر رکن د بل یو قدرت محدود او مهاروي.

## ب. د افغانستان په اساسي قانون کې د انډول اصل

داساسي قانون درې غوره انډولونه، (د قدرت مختلفو ارکانو ترمنځ د قدرت د وېش لارې) عبارت دي له: دوه جرګه ایز سسیتم، (۲) د حکومت د هر یو رکن لپاره مختلفې حوزې او د انتخابولو لارې چارې، او (۳) د هر حکومتي رکن لپاره د خدمت دورې مختلف شرایط. [۱۴۸] د افغانستان اساسي قانون دا درې واړه انډولونه تسجیل کړي دی.

*دوه جرګه ایز سیستم*

[۱۴۷] ددې بکس معلومات له لاندنی اثر څخه اخیستل شوی دی:
Ranier Grote, *Separation of Powers in the New Afghan Constitution*, 64 ZaöRV 897, 911 (2004).
[148] Donald S. Lutz, Principles of Constitutional Design 121 (2006).

دوه جرګه ایز سیستم په مقننه قوه کې د دوه بېلو جرګو درلودل، چې هر یو جرګه باید طرح او مصوبه باید د رایو په اکثریت تصویب کړي. پدې معنا ، چې د قانون جوړونې دوه بېلې جرګې شتون لري، چې هره یوه یې په مختلفه طریقه انتخابیږي او د هغوی هر یو قوانین د غوندې د حاضرو غړو رایو په اکثریت سره تصویب کړي. اساسی قانون دوه جرګه اې مقننه قوه تسجیل کړې ده: ولسي جرګه (د استازو مجلس)، او مشرانو جرګه (دلویانو مجلس). ۹۴ مادهد دېغوښتونکې ده چې هر دواړه مجلسه باید د قانون طرح د رایو په اکثریت تصویب کړي. " قانون هغه مصوبه ده چې د ملي شوری د دواړو جرګو له خوا تصویب او د جمهور رئیس له خوا توشېح شوې وي." ددی خبرې منطق په دی کې دی چی قوانین د هیواد د اکثریت وګړو د ارادې ښکارندوې دې، ځکه چې نوموړې قانون ددواړو جرګو له خوا تصویب شوې وي او ددی جرګو غړي د مختلفو حوزو (خلکو) له خوا په مختلفو طریقو سره انتخاب او ټاکل شوی وي.

## *مختلفې حوزی او د انتخاباتو طریقې*

دا واقعیت چې مختلفې حوزې د قدرت هر رکن د انتخابانو مختلفو طریقو له لارې ټاکې، پدې معنا ده چې د حکومت په دننه کې د قدرت څخه برخمن هر یو بنسټ د وګړو د مختلفو ډلو پواسطه د انتخاباتو بېلابېلو طریقو له لارې انتخابیږي. اساسي قانون ته په پام سره، جمهور رئیس د رای ورکوونکو پواسطه په مستقیم ډول انتخابیږي چې د بریالیتوب لپاره باید له ۵۰ څخه زیاتې رایې لاس ته راوړي.[۱۴۹] په همدې ډول د افغانستان وګړي د ولسي جرګې غړي "د هرې حوزې" یا هر ولایت[۱۵۰] د نفوس سره متناسب هم په مستقیم ډول انتخابوي.ددې په وړاندې، د مشرانو جرګې یو په دری غړي د ولایتي شورا له لوري انتخابیږي او یو پر دری غړي د ولسوالي شورا له خوا انتخابیږي او پاته یو پر دری غړي د جمهور رئیس له خوا ټاکل کیږي.[۱۵۱] د مقننه او اجرائیه قواوو خلاف، قضائیه قوه یوازې د انتصاب له لارې ټاکل ټاکل کیږي. د سترې محکمې قاضیان د جمهور رئیس په وړاندیز د "ولسي جرګې په تأیید" ټاکل کیږي.[۱۵۲] او د ټیټې رتبې قاضیان د "سترې محکمې په پیشنهاد او د جمهور رئیس په منظوری ټاکل کیږي."[۱۵۳]

ددې خبرې منطق، چې د حکومت هره برخه په مختلفو حوزو کې د بېلا بېلو انتخاباتو له لارې انتخابیږی، پدې کې ده، چې هر منتخب حکومتی مقام په مستقیم ډول د وګړو مختلفو ډلو ته ځواب ویونکي دي. جمهور رئیس ټول هېواد ته ځواب ویونکي دي. د ولسي جرګې غړي د اړوند ولایت وګړو ته، چې دوی پکې انتخابیږي، ځواب وایي ځکه رای ورکوونکي خپلې او د خپلې سیمې ځانګړې ګټې او اړتیاوې لري (کرهنیزه سیمه، د مثال په توګه کېدای شي په کرهنه کې ځانګړې علاقه ولري). د مشرانو جرګې غړو یو پر دری برخه ځایي حکومتونو ته ځواب ویونکي دي چې له هغه لارې د ځایي حکومت

---

[۱۴۹]. د افغانستان اساسی قانون، د ۲۰۰۴ کال د جنوری ۳، ۶۱ ماده
[۱۵۰]. هماغه ځای، ۸۳ ماده
[۱۵۱]. هماغه ځای، ۸۴ ماده
[۱۵۲]. هماغه ځای، ۱۱۷ ماده
[۱۵۳]. هماغه ځای، ۱۱۷ ماده

غړ په ملي سياست جوړونه کې اوربدل کيږی. اوس مهال، چې د ولسوالي شوراګانې لا نه دي جوړې شوی ، هره ولايتي شورا مشرانو جرګې ته دوه استازې انتخابوي او دا د مشرانو جرګې د غړو دوه پر دری برخه جوړوي.[١٥٤] هغه يو پر دری غړي چې جمهور رئيس يې ټاکي د ملي کارپوهانو، معلول افرادو او کوچيانو مشارکت په مقننه قوه کې خوندي کوي.[١٥٥] بالآخره، د قضائيه قوې انتصاب بايد د دوو حکومتي بنسټونو (جمهور رئيس او ولسي جرګه) له لوري تأييد شي، چې اجازه ورکوي ترڅو د هرې حوزې غړ په انتصاب کې په نظر کې ونيول شي. د انډول ددې ميکانيزمونو په اساس هر يو پر ملی سياسي اجندا باندې د يوې ډلې د لاس بري يا تسلط احتمال را کموي ځکه، چې اکثريت پرېکړی د حکومت څو لوبغاړو تأييد ته اړتيا لري، چې هر يو پخپل وار سره د ټولنې مختلفو برخو ته چې بېلا بېلې اړتياوې او ګټې لري، ځواب ويونکي دي.

### د خدمت دوری مختلف قوانين او مقررات

دريم مهم حکومتي انډول د حکومت په مختلفو برخو کې د انتخابي مقام د خدمت دورې مختلفو شرايطو سره تړاو لري. په افغانستان کې، د جمهور رئيس د خدمت دوره پنځه کاله،[١٥٦] ولسي جرګې د خدمت دوره پنځه کاله،[١٥٧] او د مشرانو جرګې د خدمت دوره دری، څلور او پنځه کاله ده.[١٥٨] د هېواد د سترې محکمې د قاضيانو لومړی ډله د څلورو، اوو يا لس کلونو لپاره و ټاکل شوه داسې، چې د هغه په نتيجه کې به د قاضيانود خدمت دوره هم په متناوب ډول پای ته رسيږي. لدې وروسته به انتخابات د لسوکلونو لپاره وی.[١٥٩] د خدمت دورې متناوب شرايط ډېر مهم دي ځکه، چې وګړو ته اجازه ورکوي تر څو خپل غوره والي په مختلفو وختونو کې بيان کړي، داسې چې مختلفې اکثريت ډلې په حکومت کې استازيتوب ولري ځکه، چې د اکثريت غوره والي د په مختلفو وختونو کې ټاکل کيږي.

فرض کړئ چې په ٢٠٠٨ کال کې د افغانستان خلکو يوازې د حزب وحدت اسلامی ګوند غړي انتخاب کړل. په ٢٠١١ کال کې لومړيتوبونو توپير وکړ او د افغانستان خلکو پرېکړه وکړه چې د ملي مشارکت ګوند غړو ته رايه ورکړي. که چېرې په ٢٠٠٨ کال کې هغوی د حکومت ټول استازي يوازې له حزب وحدت اسلامي څخه غوره او انتخاب کړي وای، پدې حالت کې کېدای شي، چې خلک په ٢٠١١ کال کال کې د داسې استازو سره پاتې شي، چې د هغوی غوره والي نه په ګوته کوي. سرهد دېهم، که د حکومت بېلابېل غړي د متناوبو شرايطو پر اساس باندې په مختلفو وختونو کې انتخاب شي، بيا نو د افغانستان خلک کولای شي خپل استازي د مختلفو ګوندونو څخه انتخاب کړي داسې چې حکومت په يوه وخت کې د دواړو ګوندونو يعنې حزب وحدت اسلامي او د ملي مشارکت ګوندونو استازي ونډه ولري.د دېسيستم له

---

[١٥٤]. ددې معلوماتو دوړاندې کولو په خاطر له پروفيسور محکمد اسحق زاده څخه مننه کوو.
[١٥٥]. هماغه ځای، ٨۴ ماده
[١٥٦]. هماغه ځای، ۶١ ماده
[١٥٧]. هماغه ځای، ٨٣ ماده
[١٥٨]. هماغه ځای، ٨۴ ماده
[١٥٩]. هماغه ځای، ١١٧ ماده

لارې، له نظري لحاظه حکومت په دوامداره توګه په مختلفو وختونو کې له مختلفو جغرافیوي واحدونو څخه په بېلګه اخیستنې سره، د عمومي افکارو جاج اخلي.

**لنډیز: د افغانستان په اساسی قانون کې انډول**

**۱. دوه جرګه ایز سیستم –** دواړه هم ولسي جرګه او هم مشرانو جرګه قوانین د رایو په اکثریت تصویبوي.

**۲. د حکومت د هر رکن لپاره د انتخاباتو مختلفې حوزې او طریقې –**

الف. جمهور رئیس په مستقیمه توګه په ټول هیواد کې انتخابیږي.
ب. ولسي جرګه په مستقیه توګه په ولایتونو کې د وګړو له خوا انتخابیږي.
ج. مشرانو جرګه د انتصاب له لارې ټاکل کیږي.
د. سترې محکمې غړي د جمهور رئیس په وړاندیز د ولسي جرګې په تائید ټاکل کیږي.
ه. ټیټې محکمې غړي د سترې محکمې له لوري پېشنهاد او د و لسمشر په تأیید ټاکل کیږي.

**۳. د هر رکن لپاره د خدمت دورې مختلف شرایط**

الف. جمهور رئیس: ۵ کلونه
ب. ولسی جرګه: ۵ کلونه
ج. مشرانو جرګه: ۳، ٤ او ۵ کلونه
د. ستره محکمه: ۱۰ کلونه

### ج. په اساسي قانون کې د څارنې اصل

د انډول د بشپړېدو لپاره، اساسي قانون څو ګونې "څارنه" یوه کړې ده چې د حکومت مختلف ارکان پدې قادروي ترڅو یو د بل واک محدود کړي. [۱٦۰]

<u>*د جمهور رئیس د ویټو کولو واک*</u>

د څارنې یو مهم ډول د جمهور رئیس د ویتو واک دی، چې د ۹۴ مادې په بنسټ جمهور رئیس ددی واک لري چې د ملي شورا تصویب شوي قوانین مسترد (ویتو) کړي، چې په دی توګه د ملي شورا د قانون جوړونې واک محدودیږي. سرهد دې ، د جمهور رئیس د قانون جوړونې په بهیر کې د مداخلې

[۱٦۰]. د څارنې او انډول په هکله وګورئ:
Donald S. Lutz, Principles of Constitutional Design 127-28 (2006).

واک محدود دي. ملي شورا کولای شي د رایو د دوه پر دریو اکثریت سره کولای شي د جمهور رئیس وېټو یوې خواته کړي او اړونده قانون تصویب کړي.




<u>*پر اجرائیه قوه باندې د مقننه قوې اقتدار*</u>

مقننه قوه د حکومتي وزیرانو په ټاکلو او واک کې پاته کېدو باندې د بوې اندازې کنترول په لرلو سره، پر اجرائیوِی واک باندې نظارت کوي. که څه هم جمهور رئیس وزیران ټاکي او هغوي په اجرایوي برخه کې خدمت کوي، ولسي جرګه واک لري چې: (۱) نوماند چارواکي تایید یا رد کړي، [۱۶۱] (۲) د نه باوررایی له لارې وزیر ګوښه کړي. [۱۶۲] په یاد مو وي چې که څه هم افغانستان له ریاستي سیستم څخه کار اخلي، پدې سیستم کې د نه باوررایې ځای نیولی، چې د پارلماني سیستمونو ځانګړتیا ګڼل کیږي. دا موارد مقننه قوې ته اجازه ورکوي چې د یوه محدودیت په توګه پر اجرائیوِی قوې باندې عمل وکړي او د وزیرانو د ټاکلو په هکله لدې څخه ډاډ تر لاسه شي، چې وزیران خلکو ته د ښه خدمت کولو لپاره، نه د جمهور رئیس رضایت په خاطر ټاکل شوي دي. همداشاني دا څارنه لدې څخه ډاډ ترلاس کول دي، چې وزیران د خپل خدمت په دوره کې د خلکو د ګټو د ښه کېدو لپاره کار کوي، ګټور تماميږي. له نظري (تیوریکي) اړخه، ملي شورا د جمهور رئیس له لوري د وزیرانو د ټاکلو او ګوښه کولو څخه په څارنې سره، د اجرائیه قوې په بېلابېلو حوزو کې نا انتخابي مقاماتو دوام او انتخاب ته اهمیت قایل ده.

پداسي حال کې چې ملي شورا د حکومت د وزیرانو د خلاف د نه باور رایې د تایید واک لري، د ملي شورا له لوري د جمهور رئیس ګوښه کېدل یوازې د بشریت ضد جرمونو، ملي خیانت او جنایت د ارتکاب په صورت کې طرح کېدای شي. [۱۶۳] پر جمهور رئیس باندې د مقننه قوې دا قدرت پر حکومت باندې د هغه له قدرت څخه ډېر لږ دي.

**د وزیرانو ټاکل او ګوښه کول**

---

[۱۶۱]. د افغانستان اساسی قانون، د ۲۰۰۴ کال د جنوری ۳و ۹۱ ماده
[۱۶۲]. هماغه ځای، ۹۲ ماده
[۱۶۳]. د افغانستان اساسی قانون، ۶۹ ماده




**د قواوو تفکیک په عمل کې: د نه باور رايه**

ددې کتاب له لوستلو او په افغانستان کې د خبرونو په نظر کې نيولو سره، کيدای شي تاسو دې ته ځير شوي ياست، چې ملي شورا د نه باور رايه ډېره نه عملي کوي. ستاسو له نظره د هغه دليل په څه کې دی؟ يوه احتمالي توضيح دا کيدای شي چې ملي شورا په عمل کې ډېر قدرت نه لري تر څو هر وخت له هغه څخه کار واخلي. پدې ترڅ کې تاسو همداشانې ممکن توجه کړې وي چې د اجرائيه قوې چارواکي اکثراً د نه باور رايی وروسته د گوښه کيدو لپاره نه حاضرېږي. کله چې اجرائيه قوه د نه باوررايی ته درناوی نه کوي، آيا کولای شو هغه پر قدرت باندې څارنه و نوموو؟

<u>*قضايي څېړنه*</u>

دريمه او مهمه څارنه چې د خپلواک ارگان له لوري تر سره کيږي – په افغانستان کې يا ستره محکمه يا پر اساسي قانون باندې د څارنې خپلواک کميسيون دی، چې د اساسي قانون د تفسير او د اساسي قانون سره د نورو قوانينو سمون او څرنگوالي واک لري، تر سره کوي. دا ميکانيزم، چې د " قضايي څېړنې " په نوم يادېږي، اجازه ورکوي تر څو يو دريم شخص د يوه خپلواک ارگان په توگه د دواړو ارگانو يعنې مقننه او اجرائيه قواوو پر کړنو څارنه وکړي تر څوددې ډاډ حاصل شي چې هغوی په اساسي قانون کې راغلي ارزښتونه مراعات کوي. د انتصابي چارواکو په پرتله، قاضيان د مسلکي مهارتونو په لرلو سره د قانون په تفسير کی د تقنيني تفسير څخه گټه اخلي، ځکه چې چارواکي د بيا ټاکل کيدو په هيله د اکثريت خلکو گټو او غوښتنو ته ځواب وائي. قضايي څېړنه د اساسي قانون يو لانجمن بحث دی. ځينې څېړونکي دليل راوړي، چې دا ميکانيزم د بريالی حکومت لپاره ضروري دی، پداسې حال کې، چې نور بيا استدلال کوي: دا غيردموکراتيک کړنه دی ځکه تقنيني اقتدار غير انتصابي قاضيانو ته سپاري. د اساسي قوانينو ډېری د قضايي څېړنې د واک يا صلاحيت وړاندوينه کوي، پداسې حال کې چې په نورو کې بيا دا مورد ځای نه لري. معلومه نه ده چې آيا دواړه ستره محکمه او د اساسي قانون پر تطبيق باندې د څارنې خپلواک کميسيون په افغانستان کې د قضايي څېړنې واک لري او که نه. دا موضوع به وروسته پدې څپرکې او په ۶ څپرکي کې د قضائيه قوې تر سرليک لاندې تر بحث لاندې ونيول شي.

## د. د قواوو تفکيک اصل په عمل کې

د کتاب په دی برخه کی د قواو د تفکيک اصل تر ډيره بريده د اساسي قانون د متن، محتوا او جوړښت له مخې تشريح کوو. دا هم بايد په ياد ولرو چې د پراتيک او عمل له لارې د قواوو تفکيک لپاره د قدرت تخصيص ضرور دی. د کاغذ پرمخ د اصطلاحاتو ليکل هېڅ معنا نه لري تر څو چې خلک پخپلو کړنو سره هغه عملي نه کړي. سر بېره پر دې، د قواوو تفکيک يو ژوندې بهير دی او د زمانې په تېرېدو سره تغير مومي.ددې لپاره چې د قواو په تفکيک ښه وپوهيږو نو اړينه ده چې پدې هم و پوهيږو چيد دولتدرې ګوني قواوې په عمل کی يو له بل سره څنګه همکاري کوي او څنګه يو له بل سره قدرت او واک شريکوي. درې لاندې کيسې د قواوو د تفکيک نظريې د تطبيق څرنګوالی په ګوته کوي. د هغو له لوستلو وروسته، لاندې پوښتنو ته ځواب ورکړي:

(۱) آيا دا عمل د افغانستان د اساسي قانون د له بنې سره سمون لري؟

(۲) آيا د اعمل د قواوو تفکيک نظريې سره سمون لري؟

(۳) که چېرې تاسو ځواب د لومړيو دوو پوښتنو څخه هرې يوې نه مثبت وي، د افغانستان د اساسي قانون بنې او د قواوو تفکيک نظريې سره د سمون لپاره بايد څه کار تر سره شي؟

*<u>د قواوو تفکيک په عمل کې: د حقوقي زده کړو خپلواک ملي مرکز</u>*

د عدليې وزارت د قاضيانو د ښوونې لپاره د حقوقي زده کړو خپلواک ملي مرکز (INLTC) جوړ کړ، خو ستري محکمه پريکړه وکړه چې د قواو د تفکيک اصل ته په پاملرنې سره عدليې وزارت (چې د اجرائيه قوې يوه برخه ده) او نشي کولای چې قاضيان وروزي ځکه اساسي قانون د يو خپلواکه قضائيه قوې په لرلو حکم کوي. له هغه وروسته د هېواد سترې محکمې د حقوقي زده کړو خپل يو خپلواک مرکز جوړ کړ.ددې موضوع په هکله چې د عدليې وزارت نشي کولای قاضيان وروزي، په اساسي قانون کې هېڅ نه دي ويل شوي. آيا د قواوو د تفکيک نظريه واقعاً هم د حقوقي زده کړو خپلواک ملي مرکز د قاضيانو له روزنې څخه منع کوي؟

*<u>د قواوو تفکيک په عمل کې: په ستره محکمه کې د خدمت دورې محدوديت</u>*

| د افغانستان اساسی قانون |
|---|
| **۱۱۷ماده**<br>(۱)ستره محکمه نهه تنه غړي لري چې د جمهور رئيس له خوا د ولسي جرګې په تأييد او . . . په پيل کې پدې ترتيب ټاکل کيږي:<br><br>(۲) دری تنه د څلورو کلو لپاره، دری تنه د اوو کلونو لپاره او دری تنه د لسو کلونو لپاره. وروستي |

| |
|---|
| انتخابات د لسو کلونو لپاره دي. د غړو ټاکل د دوهم ځل لپاره جواز نه لري. |

په ۲۰۰۶کال کې جمهور رئیس کرزي د سترې محکمې درې قاضیان: پوهاند عبد السلام عظیمي د سترې محکمې رئیس، قاضي محمد قاسم دوست او قاضي ضامن علي بهسودي د قانوني اصولو له مخې د څلورو کلو لپاره و ټاکل. باید وویل شي چې تر ۲۰۱۱ کال پورې ددې قاضیانو هر یو په اساسي قانون کې د یادشوې خدمت دورې څه زیاته موده په خپله دنده کې پاته شوی او لا تراوسه خپل کار ته دوام ورکوي او جمهور رئیس کرزی په یو اړخیز ډول د "سرپرست قاضي" په توګه د هغوی د کار دوره غزولې ده. د قواوو د تفکیک نظریی په رڼا کې د جمهور رئیس دا کړنې د تشویش وړ دې ځکه د جمهور رئیس یو اړخیزه کړنو د قاضیانو د خدمت موده اوږده کړه. نو په دی صورت کی ملي شورا نشي کولای چی د قاضیانو د انتخاب په پروسه کی هغه ونډه ولري چې اساسي قانون ورته ورکړې ده. سربېره پردې، اساسي قانون د هېواد سترې محکمې د قاضیانو د خدمت دوره یوه دوره ښودلې ده تر څو هغوی د یو بل ارګان د سیاسي کنترول څخه خوندي وساتي او هغوی خپلې پرېکړې په آزاده توګه او د عدالت پر بنسټ نه بلکه د سیاسي کتنو له مخې وکړي. که چېرې قاضیان د خدمت دورې د غزولو په خاطر د جمهور رئیس د رضایت په پام کې ونیسي، قضاء د سیاسي اغېز څخه خوندي نه شي پاته کېدای.

## <u>*د قواوو تفکیک په عمل کې: د انتخاباتو اختصاصي محکمه*</u>[١٦٤]

په ۲۰۱۱ کال کې جمهور رئیس کرزي د فرمان له مخې د انتخاباتو اختصاصي محکمه (SEC) جوړه کړه. اختصاصي محکمې پریکړه وکړه چې: په ۲۰۱۰ کال د ولسي جرګې انتخاباتو د ۲۴۹ غړو څخه د هغوی ۶۲ باید خپلې څوکی پرېږدي. ددوې پر ځای د پارلماني انتخاباتو هغه ۶۲ نوماندان چې خپلې څوکی یی له لاسه ورکړې وواو یا د ملي شورا د ۲۰۱۰ کال په انتخاباتو کې سلب صلاحیت شوي وو، باید د ولسي جرګې په غړیتوب ومنل شي. ۶۲ نوماندان چې د پارلمان له څوکیو څخه پاته وو او اختصاصي محکمې د هغوی د غړیتوب بیا منل پیشنهاد کړ، د جمهور رئیس کرزي له پلویانو څخه وو. کره کتونکي ادعا کوي چې جمهور رئیس کرزي اختصاصي محکمه د انتخاباتو نتیجې د ابطال په مقصد چې د هغه د مخالفینو په ګټه وو، جوړه کړه. د انتخاباتو خپلواک کمیسیون (IEC) او د انتخاباتي شکایتونو کمیسیون اعلان وکړ چې اختصاصي محکمه هېڅ قانوني بنسټ او پایه نه لري. د هغه په ځواب کې لوی څارنوال محمد اسحق الکو، د کمیسیون د غړو خلاف دعوې اقامه کړه. لدې وروسته ولسي جرګې د لوی څارنوال په وړاندې، چې د ولسشمر په استازیتوب یی اختصاصي محکمه پرانیسته، د نه باور رایه تصویب کړه. همداشاني ولسي جرګې د سترې محکمې د پنځو قاضیانو، چې د اختصاصي محکمې څخه یی ملاتړ کړي وو، د نه باور رایه ورکړه. پدې ترڅ کې ښاغلي الکو پدې دلیل د نه باور

---

[١٦٤]. د دی جدول معلومات له لاندینی سرچینی:
Ray Nordland, *Afghan Court Invalidates a Quarter of Parliament*, New York Times (June 23, 2011); Ray Rivera & Abdul WaheedWafa, *Under Guard in Kabul, Officers are Sworn In*, New York Times (Sept. 3, 2011); Alissa Rubin & Abdul WaheedWafa, *Afghan Court on 2010 Vote Is Shut Down*, New York Times (Aug. 11, 2011); APAP Legislative Newsletter (Aug. 11, 2011, Vol. 6, No. 5**),** او ویب سایت نه <u>www. sunyaf. org</u>; APAP Legislative Newsletter (July 1, 2011, Vol. 5, No. 22), ***available at*** <u>www. sunyaf. org</u> څخه اخیستل شوي دي

رايه د نصاب د نيمګړتيا له امله و نه منله ځکه چې د ولسي جرګې ۱۳۲ غړو څخه ۶۲ هغه نوماندان وو چې د اختصاصي محکمې د حکم پر اساس يې بايد خپلې څوکۍ پرې ايښې واى.
د پارلمان غړي ښاغلي محمد سرور عثماني فراهی جمهور رئيس کرزی د ۶۹ مادې په اعمال ګواښ کړ. ۶۹ ماده وايی چې ولسي جرګه کولای شي د جمهور رئيس محاکمه د بشري ضد جرمونو، ملي خيانت يا د جنايت د ارتکاب په تور پيشنهاد کړي.

جمهور رئيس کرزي له څو مياشتو اختلافونو او خبرور اترو وروسته، د اختصاصي محکمې د لغو پر سر توافق وکړ.ددې پرېکړې د يوې برخې په توګه، جمهور رئيس کرزي د انتخاباتو د لانجې د وروستي حل لپاره يو ځل بيا د انتخاباتو خپلواک کميسيون ته دنده وسپارله. د انتخاباتو خپلواک کميسيون د ۶۲ نوماندو څخه ولسي جرګې ته د اختصاصي محکمې د حکم له مخې د ۹ کسانو راستنيدلو پرېکړه وکړه. سره ددې هم ولسي جرګه داسې پرېکړه تصويب کړه چې د انتخاباتو د خپلواک کميسون په شمول هېڅوک د پارلماني انتخاباتو په نتيجه کې بدلون نشي راوستلای.

د ۲۰۱۱ کال د اګست ۲۰ نېټې ولسي جرګې د عمومي غونډې د مخه، د ولسي جرګې غړو په پارلماني چارو کې د دولت وزير ښاغلی همايون عزيز باندې تور ولګاوه، چې په عمومي غونډه کې د حضور په خاطر د ولسي جرګې غړو ته ګواښ کړې ده. د جرګې غړو ادعا وکړه، چې نوموړي دا کارددې لپاره کړي ده چې ولسي جرګه د ۹ غړو په وړاندې مقاومت و نشي کړای. د ولسي جرګې غړو د استهزا په توکه ښاغلی عزيز د " په پارلماني چارو کې د اجرائيه قوې وزير" په نوم يادوه ځکه چې اجرائيه قوې ته د نوموړي وفاداری ډېره زياته وه.

د ۲۰۱۱ کال په سپټمبر کې، د ملي شورا رئيس د ۹ نويو معرفي شوو غړو څخه د ۸ غړو د لوړې مراسم تر سره کړل. د پوليسو سل ګونه کسانو ولسي جرګې تالار ته د تعويض شوو وکيلانو د ننوتو د مخنيوي لپاره دروازې تړلې وې. د ملي شورا زيات شمېر غړو د لوړې د مراسمو په مهال تعويض شوو وکيلانو څخه د ملاتړ په خاطر د ولسي جرګې د تالار څخه بهر و لاړ وو.

دا پېښه په افغانستان کې د قواوو د تفکيک په هکله موږ ته څه وايي؟ آيا جمهور رئيس د اساسي قانون مطابق د اختصاصی محکمې د جوړولو واک درلود؟ ولسي جرګې د اساسي قانون مطابق د نه باور رايی تصويب واک درلود؟ آيا اساسي قانون اجازه ورکوي چې د انتخاباتو خپلواک کميسيون د انتخاباتو نتيجې تغير او تصريح کړي؟ آيا پدې اړوند ولسي جرګه کولای شي ۶۹ماده د جمهور رئيس خلاف وکاروي؟ آيا په پارلماني چارو کې د دولت وزير حق لري استازو ته ووايي چې په عمومي غونډه کې حاضر نشي؟

**د مباحثې پوښتنې**

۱. د قواوو د تفکيک يو د لومړنيو موخو څخه د لږکيو د حقونو څخه ملاتړ دی. ستاسو له نظره، د لږکيو حقونه په افغانستان کې حمايت کيږي؟

۲. آیا په افغانستان کې قوانین د شخصي ګټو پرځای د عامه ګټو د خوندي کولو لپاره تصویب او تطبیقیږي ؟

۳. آیا تاسو فکر کوی چې د افغانستان حکومت د قدرت ارکان د یو بل په وړاندې د څارنې او انډول په توګه عمل کوي؟

٤. که چیرې د افغانستان اساسي قانون د حکومتولۍ داسې سیستم رامنځ ته کړي چې د قواوو تفکیک پر نظریې ولاړ وي، بیا ولې په افغانستان کې د هغو له ښیګڼو څخه ګټه وا نه اخیستل شي؟

**د لوست تمرکز**

په یاد ولرئ، چې د قواو د تفکیک هیڅ یو ایډیال سیستم شتون نه لري. د قواوو له تفکیک څخه موخه ـ د نماینده حکومت له لارې د خلکو د ارادې څرګندول او د یو شخص یا ډلې په لاس کې د قدرت له تمرکز څخه مخنیوی دی. دې آرمان ته د رسیدو مختلفې لارې شته.ددې څپرکي په مطالعې سره، له ځانه و پوښتې چې د کومو نورو وسیلو او یا حکومتي جوړښتونو څخه د دموکراتیک حکومت عین موخې ته د رسیدو او د حقونو د ملاتړ لپاره ګټه اخیستلای شو؟

## څلورم:د قضائیه قوې تفکیک: قضایی څېړنه

قضائیه قوه د قواوو تفکیک په هر ډول طرح کې مهم رول لوبوي. د ډېرو هېوادونو د قوانینو د څېړنې واک یا د اساسي قانون سره د نورو قوانینو د سمون تشخیص (څرنګه چې تاسو په لومړي څپرکي کې مطالعه کړه چې اساسی قانون په هیواد کی تر ټولو لوړ قانون دی) سترې محکمې ته ورکوي. که چېرې محکمه دا معلومه کړي چې یو قانون د اساسي قانون سره سمون نه لري، نو هغه بې اعتبار یا لغوه کولای شي. دې ته "قضایي" څېړنه وایی. هغه څه چې د قضایی څېړنې د صلاحیت په ماهیت کې نغښتي دي، د اساسي قانون تفسیر واک یا صلاحیت دی. په عام مفهوم سره د قضایی څېړنې مختلف ډولونه شتون لري.[١٦٥]

(1) اجمالي څېړنه: د اساسي قانون محکمي ته د قضیی وړاندې کولو واک د دولت د لوړو ارګانو او مقاماتو (جمهور رئیس یا کابینه)، د پارلمان د غړو ډلي (یعني پارلماني اپوزیسیون)، او ورته

[١٦٥]. دا تعریف له:
Lech Garlicki, *Constitutional Courts versus Supreme Courts*, 5 International Journal of Constitutional Law 44, 46 FN 6, 7, 8 (2007). څخه اخیستل شوی دی

بنسټونو سره دي. د اساسي قانون سره د نورو قوانينو سمون په اجمالي توګه تر څېړنې لاندې نيول کيږي نه د يو ټاکلي قضيې يا حالت په صورت کې.

(۲) ټاکلي يا اتفاقي څېړنه: د اساسي قانون محکمه يا عالي محکمه د اساسي قانون اړونده قضيې د لاندېنيو محکمو له خوا راجع شوو پوښتنو پر بنسټ څېړي.

(۳) د اساسي قانون د حکمونو پر بنسټ باندې شکايت: دا کړنلاره د اساسي قانون محکمې ته د افرادو لاس رسي تأمينوي. هغه افراد چې د عادي محکمو په وړاندې يې خپلې دعوى بايللى، د خپلو حقونو د نقض په هکله د اساسي قانون محکمې ته عرض کولای شي.

د حکومت مختلف جوړښتونه قضايي څېړنه په مختلفو طريقو سر ته رسوي. د امريکې د متحدو ايالاتو سيستم ځانګړنه يو محکمه ای سيستم دی چې عالي محکمه د قضايي څېړنې واک لري. نور هېوادونه داسې سيستم پکاروي چې د اساسی قانون يوه تخصصي محکمه د اساسي قانون ټولې اړوندې مسئلې څېړي. سره ددی، چې نن ورځ ډېر حقوقي سيستمونه د قضايي څېړنې له مفهوم څخه ملاتړ کوي، مهمه ده په ياد ولرو چې دا موضوع کېدای شي بحث پاروونکې وي او کېدای شي هر څوک پدې باور ونه لري چې دا يو ښه نظر دی. د مثال په توګه ځينې داسې استدلال کوي چې نبايد قضائيه قوې ته د قوانينو د تفسير اجازه ورکړل شي ځکه چې دا کار د نويو قوانينو د جوړول په معنا دي چې دا کار په مقننه قوې پورې منحصر دی.

د لوست تمرکز

**کله** چې تاسوددې څېرکی پاته برخه او قضائيه قوې تر سرليک لاندې ۶ څېرکی مطالعه کړ، فکر وکړئ چې څوک کولای شي د اساسي قانون عالي محکمې او يا عالي محکمې ته يوه مسئله وړاندې کړي. آيا دا کار عادې وګړي کولای شي ؟ ټيټې محکمې؟ مقننه قوه؟ فکر وکړئ چې څرنګه د قضيې منشاء د قضائيه قوې او نورو ارګانو ترمنځ د قدرت په اختصاص اغېز لري؟

د افغانستان د اساسي قانون ۱۲۱ مادې ته په پام سره، ستره محکمه يوازې د حکومت او محکمو له خوا ارجاع شوي قضيې اوري. د لوست په ترڅ کې فکر وکړئ چې دا څرنګه د اجرائيه او مقننه قواوو سره د سترې محکمې پر فعاليت او تعامل باندې اغيز کوي.

### الف. د اساسی قانون محکمې: قضائيه عالي موازي واک

د اساسي قانون محکمه، یوه خپلواکه او تخصصي محکمه ده چې یوازې د اساسي قانون اړوند مسلو د تفسیر په هکله پرېکړې کوي.[١٦٦] د اساسي قانون محکمه یوې واحدې محکمې ته د قضایی څېړنې واک ورکوي، چې دا محکمه د محکمو له منظم او عادي سیستم څخه وتلې ده.[١٦٧] لدې امله، داسې سیستمونه کله کله د **قضایی متمرکزو سیستمونو** په نوم یادېږي.[١٦٨] هغه سیستمونه چې پکې د اساسي قانون محکمې شاملې دي، معمولاً دوه ډوله قضایی سیستمونه شتون لري، چې هر یو یې خپله عالي محکمه لري.[١٦٩] لومړی سیستم چې د اساسي قانون د تفسیر سره سر او کار لري، د اساسی قانون محکمې تر واک لاندې دی.[١٧٠] دوهم سیستم ځینې وختونه د عادی محاکماتی سیستم په نوم یادېږي او ټولې هغه موضوعګانې څېړي چې د اساسي قانون تر اختیار لاندې نه وي او د خپلې عالي محکمې تر واک لاندې وي.[١٧١] د اساسي قانون محکمې زیات شمېر رولونه لوبوي لکه: (١) په هغو موضوعګانو باندې غور کوي چې د اساسي قانون د مسودې او یا تعدیل سره تړلې وي، (٢) د تقنیني سندونو قضایی څېړنه، (٣) د اساسي قانون سره د اجرائیه قوې د کړنو سمون، او (۴) د سیاسي ګوندونو او انتخاباتي کړنو د قانونیت څرنګوالی.[١٧٢]

**د اساسي قانون محکمې** [١٧٣]

اختصاصي محکمه چې **یوازې** د اساسي قانون په حکم قضایی واک ولري؛

**یوازې** یوه محکمه د قضایی څېړنې او د اساسي قانون د تفسیر واک لري؛

د اساسي قوانینو د محکمو سیستم ځینې وخت د متمرکز سیستم په نوم هم یادېږي؛

زیاتره دوه قضایی سیستمونه پکې شامل وي: ١) پر اساسي قانون ولاړ محاکماتي سیستم، او ٢) مدنی یا معمولي محاکماتي سیستم.

د اساسي قانون محکمو درلودونکي هېوادونه (لړ. بېلګې له ډېرو څخه): اتریش، فرانسه، آلمان، ایتالیا، اسپانیا، روسیه، ترکیه، مصر، سوېلي افریقا، تایلند، اندونیزیا او نور.

---

[166] *Id*

[167] Lech Garlicki, *Constitutional Court Versus Supreme Courts*, 5 International Journal of Constitutional Law 44, 44 (2007).

[168] Andrew Harding, Peter Leyland & Tania Groppi, *Constitutional Courts: Forms, Functions and Practice in Comparative Perspective*, *in* Constitutional Courts: A Comparative Study 1, 3 (2009).

[169] *Id.*

[170] *Id.*

[171] *Id.*

[172] *Id. At 6 – 7.*

[173] *Id. At - 3*

**د قضائیه سیستم هغه شکل چي د موازي (برابر) او عالي اختیاراتو او اساسي قانون محکمی درلودونکي وي.**




**د افغانستان د اساسي قانون محکمه**

د افغانستان د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون په لومړی مسوده کي د اساسي قانون محکمه راغلي ده. د حکومت وروستنی مسوده، چي په پای کي د لویې جرګي له لوري و منل شوه، د هغې پر ځای یی ستري محکمي ته ځای ورکړ.[174]

<u>*د فدرال آلمان جمهوریت د اساسي قانون محکمه*</u>

د نړۍ د هیوادونو او د اروپائي هیوادونو په شان، آلمان د اساسي قانون اختصاصي محکمه لري. د آلمان د اساسي قانون محکمه ددې ډول ډېرو نورو محکمو لپاره په نړۍ کې د یو موډل په توګه ګڼل کیږي. د اساسي قانون د نورو محکمو په شان، د آلمان د اساسي قانون محکمه یوه دنده لري: د اساسي قانون سره د سمون د تشخیص په موخه د عامه ټولو اقداماتو مطالعه او څېړنه. دا محکمه د استیناف غوښتني نور لیکونه یا نورې مسئلې نه اوري؛ محکمه ټول پام دې ته را اړوي، چي آیا د اجرائیه او مقننه قواوو کړني د اساسي قانون د حکمونو سره سمون لري او که نه.

[174] Ranier Grote, *Separation of Powers in the New Afghan Constitution*, 64 ZaöRV 897, 911 (2004).

د اساسي قانون د تخصصي محکمې په هکله د آلمان هېواد پرېکړه پر دې باور باندې ولاړه ده چې قضائیه څېرنه یو سیاسي عمل دی ځکه چې پدې عمل کې د قوانینو او اجرائیوِی اقداماتو قضاوت شامل دی.[۱۷۵] آلمان دا وغوښتل، چې د اساسي قانون څېړل د یوې اختصاصي محکمې له لوري چې قاضیان یې د پارلمان له خوا ټاکل کیږي، تر سره شي نه د هغه محکمې له خوا چې د حقوقو تکنوکراتان پکې راټول شوي وي.[۱۷٦]

د آلمان اساسي قانون توګه د اساسي قانون محکمې واکونه په ځانګړې ډول لېست کړي.[۱۷۷] پدې معنا چې قانون دا په ډاګه کوي چې کوم موارد محکمه څېړلای شي او کوم موارد نشي څېړلای. د آلمان د اساسي قانون محکمه د پراخه واکونو درلودونکې ده. مثال، د اساسي قانون محکمه کولای شي د لاندې حکومتي مسئلو په هکله قضاوت وکړي:

(۱)د اساسي قانون محکمه واک لري سیاسي ګوندونه د اساسي قانون خلاف اعلان کړي.[۱۷۸] د دا ډول مواردو یوه بېلګه هغه مهال رامنځ ته شوه کله چې د دوهمې نړیوالې جګړې وروسته، دې محکمې د نویو نازیانو یو ګوند منع اعلان کړ.[۱۷۹]

(۲)د اساسي قانون محکمه واک لري د آلمان فدرالي حکومت ارګانونو ترمنځ د هغوی ترمنځ د قدرت د مناسب انډول ساتلو په موخه، قضاوت وکړي.[۱۸۰] د مثال په توګه، که چېرې د یو سیاسي ګوند نوم په رای پاڼه کې رانه شي، اړونده ګوند له محکمې څخه پدې هکله د حل او فصل غوښتنه کولای شي .[۱۸۱]

(۳)د اساسي قانون محکمه واک لري په ټاکلې قضایی څېړنه او یا داسې قضایی څېړنه کې چې په محکمه کې له عادي دعوا څخه راولاړه شوي وي، ګډون وکړي.[۱۸۲] دا پدې معنا ده چې که ابتدائیه محکمه د یوې ټاکلې موضوع د څېړلو په مهال دې نتیجې ته رسېږي چې موضوع په اساسي قانون پورې اړه لري، هغه د اساسي قانون محکمې ته استول کیږي.[۱۸۳] قضایي څېړنې ته ځکه اړتیا ده چې د دعوا د دواړو لورو څخه یو یې د اختلاف اړوند یوې موضوع په هکله عملاً یوه ادعا وړاندې کړی.

(٤)د اساسي قانون محکمه واک لري چې په **مجمله قضایی څېړنه** کې دخالت وکړي، پدې معنا چې محکمه پرېکړه کولای شي چې آیا یو خاص عامه عمل د اساسي قانون مطابق دي او که نه، آن

[175] Donald P. Kommers, The Constitutional Jurisprudence of the Federal Republic of Germany 3 (2d ed. 1997).
[176] *Id.*
[177] *Id. At 10*
[178] *Id. At 11*
[179] *Id.*
[180] *Id.*
[181] *Id.*
[182] *Id. At 13*
[183] *Id.*

تر دې که يو لوری هم د اختلاف وړ ادعا نه وړاندې کړي.[١٨٤] د مجمل يا انتزاعي څېړنې په اړه حکومت د يوې خاصې مسئلې په اړه دمحکمی څخه د پرېکړې غوښتنه کوي.[١٨٥] معولاً، د ولسي جرګې د اقليت غړي چې د يو ټاکلي قانون سره مخالفت کوي، د مجملې قضايي څېړنې موارد وړاندې کوي. د ټاکلې قضائي څيرنې بر خلاف په اجمالي قضائي څيرنه کی هيڅ څوک د اړونده مسئلی په هکله خپل شکايت ابتدائيه محکمی ته نه وړاندې کوي.

(٥)آلماني وګړې حق لري د اساسي قانون اړوند شکايت د اساسي قانون محکمې ته وړاندې کړي.[١٨٦] پدې معنا که چېرې د اتباعو د اساسي حقوقو د جملې څخه يو حق هم د "حکومتي چارواکو" يا د يوې حکومتي ادارې له لوري نقض شي، فرد کولای شي د اساسي قانون سره د داسې مورد مغايرت محکمې ته وړاندې کړي.[١٨٧]

د آلمان د اساسي قانون د محکمې د قاضيانو د خدمت موده دولس کاله دې چې د خدمت موده يی نه تمديديږي او نه هم قاضيان بيا ټاکل کيږي.[١٨٨] ټول قاضيان د ۶۸ کلمي عمر په بشپړېدو سره که څه هم دولس کلنه دوره يی نه وي بشپړه کړې، بايد تقاعد وکړي.[١٨٩] د اساسي قانون د محکمی نيمايي غړي د پارلمان د يوې جرګې او بله نيمايي يی د پارلمان د بلې جرګې له خوا انتخابيږي.[١٩٠] د عدليی وزير په شرايطو برابر د فدرالي قاضيانو يو لېست د انتصاب لپاره برابروي او پارلمان ددې لېست د نوماند و څخه د يوه په هکله رايګيري کوي.[١٩١] د رای ورکونې بهير فوق العاده سياسي دي، ځکه ددوه پردری برخه رايو اخيستل په پارلمان کی د اکثريت ګوند ته دا موقع په لاس ورکوي چې د قاضيانو په ټاکلو کی ډير کنترول او واک ولري .[١٩٢]

د اساسي قانون محکمه واک لری تر څو خپله بودجه د جرګې او د ماليي وزارت سره په مشوره برابره کړي.[١٩٣] د محکمې پريکړه نيونه پټه يا مخفي وي.[١٩٤] د نظر د ابراز په مهال، يو قاضي د خپلې نظري طرحه چې د محکمې د اکثريت نظر منعکس کوونکي وي، وړاندې کوي. رسمي نظر لاسليک نه لري او کم ترکمه بايد ۶ قاضيان د هغه په هکله توافق ولري.[١٩٥] که چېرې د وړاندې شوي نظر سره يو قاضي مخالفت ولري، نومو‌ړي د اکثريت سره د خپل مخالفت دلايلو څرګندولو په ترڅ کې کولای شي خپل نظر

[184]*Id.*
[185]*Id.*
[186]*Id. At 14*
[187]*Id.*
[188]*Id. At 21*
[189]*Id.*
[190]*Id.*
[191]*Id. At 21*
[192]*Id. At 22*
[193]*Id. At23*
[194]*Id. At 24*
[195]*Id. At 24 - 26*

په لیکلي بڼه او لاسلیک کړي.[196] په هر صورت، د اساسي قانون محکمه له ۹۰ سلنې څخه د ډېرو راپور شوو مواردو په هکله د رايو په اتفاق پرېکړه کوي.[197]

**د مباحثې پوښتنې**

۱.د مجمل یا انتزاعي قضائي څیړنې مفهوم څخه ستاسو انګیرنه څه ده؟ ښیګڼې یا د هغه نیمګړتیاوې څه دي؟

۲.ددې واقعیت په هکله چې عادي وګړي کولای شي د اساسي قانون اړوند شکایتونه د اساسي قانون محکمې ته وړاندې کړي، څه فکر کوي؟ آیا هغه ته ورته یو سیستم په افغانستان کې د اجرا وړ دی؟ ولې؟ او ولې نه؟

۳. آیاتاسو فکر کوی چې دا یوه ښه نظر دی چې د آلمان د اساسي قانون محکمه کولای شي سیاسي ګوندونه د اساسي قانون خلاف اعلان کړي؟ د افغانستان لپاره ددې نظریې ښه والی او بدوالی په څه کې دی ؟

۴. د افغانستان اساسي قانون د ۱۲۱ مادې مطابق، ستره محکمه کولای شي عامه اقدامات یوازې د حکومت یا محکمو د غوښتنې پر بنسټ وڅیړي. دا کار په څه ډول د آلمان د اساسي قانون محکمه د افغانستان له سترې محکمې بیلوي؟

۵. ستاسو نظر پدې مورد کې چې د اساسي قانون محکمې قاضیان د پارلمان پواسط انتخابېږي، څه دی؟ آیا دا ډول یو سیستم په افغانستان کې کارول کېدای شي؟ دا څرنګه د افغانستان سترې محکمې ته بدلون ورکولای شي؟

<u>*د مصر اساسي قانون محکمه*</u>

د ۲۰۱۱ کال له انقلاب د مخه، مصر هم د اساسي قانون محکه درلوده چې د اساسي قانون د عالي محکمې (SCC) په نوم یادېده.[198] سره ددې چې د مصر حکومتي نظام له ۲۰۱۱ کال څخه را پدېخوا د پام وړ تغییر موندلي، د اساسي قانون پخوانۍ عالي محکمه د څو لسیزو په اوږدو کې په بریالیتوب سره فعالیت کاوه او د اساسي محکمو لپاره د یو موډل په توګه ګڼل کېده. د اساسي قانون عالي محکمې د قضایي خپلواکۍ کچه د کلونو په اوږدو کې یوشان نه وه. د یادولو وړ ده چې جمال عبد الناصر د اساسي قانون شورا جوړه کړه او د هغې د قضایی استقلالیت د محدودولو په موخه یې د اجرائیه قوې تر

[196] *Id.*
[197] *Id.* At 26
[198] Clark B. Lombardi, *Egypt's Supreme Constitutional Court: Managing Constitutional Conflict in an Authoritarian, Aspirationally 'Islamic' State*, *in* Constitutional Courts: A Comparative Study 217 (Andrew Harding & Peter Leyland, eds. 2009).

کنترول لاندې راوسته.[۱۹۹] همداشانې په ۱۹۷۹ کال کې جمهور رئیس انور السادات د زیاتې قضایی خپلواکۍ په مقصد د اساسي قانون نوې عالي محکمه جوړه کړه.[۲۰۰]

بیاهم اجرائیه قوه په محکمو کې د قاضیانو پر انتصاب یا انتخاب باندې شدید کنترول لري.[۲۰۱] جمهور رئیس قاضي القضات د ولسمشري فرمان پر اساس و ټاکه. همدارنګه جمهور رئیس نور اړونده قاضیان هم وټاکل، داسې چې د دوو نوماندو ترمنځ چې یو د قاضی القضات له خوا او بل د محکمو د عمومي اسامبلې له خوا معرفي شوی وو.[۲۰۲] پدې ترتیب د اساسي قانون په عالي محکمه کې د قاضیانو د شمېر محدودیت نه وو او لدې فرصت نه په ګټې اخیستنې سره جمهور رئیسپه محکمه کې خپل پلویان ورزیاتول.[۲۰۳]

| **د مصر قانون نمبر ۴۸(۱۹۷۹)** |
|---|
| ۲۵ ماده لاندني غوره واکونه د اساسي قانون محکمې ته ورکوي:[۲۰٤] |
| (۱) د مصر د دوو محکمو ترمنځ د قضایی اختلاف اړوند مورد په هکله د وروستنۍ مرجع په توګه فعالیت کوي. |
| (۲) که چېرې مختلف قضایی بنسټونه (لکه، ملي محکمې او اداري محکمې) د مناسب تفسیر په هکله مخالفت ولري او پدې اړوند یوشان تفسیر مهم وي، د قانوني مادو د باور وړ تفسیرونو وړاندې کوي. |
| (۳) په ځانګړو مواردو کې قضایی ځېرنه چې ټیټې محکمې د تشخیص له مخې د اساسي قانون اړوند یوه مسئله باید حل او فصل شي. |

د مصر په نظام کې، ټیټې محکمې کولای شي د اساسي قانون سره تړلې موضوعګانې د اساسي قانون عالي محکمې ته راجع کړي چې د هغو په ارجاع سره محکمه د هغو په اوریدو مکلفه ده.[۲۰۵] په ټولیز ډول، ټیټې محکمې د اساسي قانون عالي محکمې ته د قضیو ارجاع ته حاضر وو او وګړو ته اجازه ورکړل شوه تر څود اساسي قانون اړونده خپلې قضیې د انترنېټ له لارې تر لاسه کړي.[۲۰٦]

د اساسي قانون عالي محکمه د ۱۹۹۰ کلونو په اوږدو کې پر سیاسي نظام باندې د اجرائیه قوې کنترول دمحدودیت لپاره یو شمېر پرېکړې وکړې لکه د انتخاباتو قانون باندې بیا کتنه او د مصر په اساسي حقوقو

[199] *Id.* at 219.
[200] *Id.* at 220.
[201] *Id.* at 224.
[202] *Id.* at 227.
[203] *Id.*
[204] *Id.* at 224.
[205] *Id.* at 225.
[206] *Id.*

کې د بین المللي بشري حقونو د نورمونو شاملول، وه.[۲۰۷] پداسې حال کې چې د مصر اساسي قانون په څرګنده د بشري حقونو تضمین نه کوي، خو د هغه ۶۴ او ۶۵ مادې د "قانون حاکمیت " تضمینوي.[۲۰۸] د اساسي قانون عالي محکمه حکم وکړ چې اساسي قانون باید د بشري حقوقو بین المللي ستانداردونه مراعات کړي ځکه چې د "قانون حاکمیت" مفهوم د اسلامي حقوقو سره یو ځای، د بشري حقونو بین المللي ستانداردونو کې شامل دی.[۲۰۹] لدې امله د مصر حکومت د اساسي قانون له نظره د بشري حقونو په بین المللي ستانداردونو مکلف وو که څه هم د هېواد په اساسي قانون کې دې ستانداردونو ته په مستقیمه اشاره نه ده شوې.[۲۱۰] د اساسي قانون عالي محکمه د اسلامي قانون اړونده مسلو زیاتره قضایاوې اورې او د اسلامي فقهې د دلایلو پر بنسټ رایه ورکوي.[۲۱۱]

د ۲۰۱۱ کال له انقلاب د مخه، مصر د یو دوامدار بېړني حکومت له لورې اداره کېده (دا موضوع وروسته تر بحث لاندې نیول کیږي). په ۱۹۷۹ کال کې، جمهور رئیس سادات د احوال شخصیه قانون په هکله بحث پاروونکي اصلاحات نافذ کړل چې د فرمان په ترڅ کې یې ښځو ته یو لړ اضافي حقونه ورکړل.[۲۱۲] نوموړي پرېکړه وکړه چې دا کار د بېړني فرمان له لارې تر سره کړي ځکه چې د تقنیني معمولې طریقې مطابق ددې کار اجرا د دیني کړیو د زیات مقاومت سره مخامخ کیده.[۲۱۳] په ۱۹۸۵ کال کې د اساسي قانون عالي محکمې دا پریکړه وکړه چې د احوال شخصیه قانون اصلاحات د اساسي قانون خلاف نافذ شوي دي او هغه یې باطل کړل.[۲۱۴] د اساسي قانون عالي محکمې استدلال وکړ چې په بېړنیو شرایطو کې د تقنیني سندونو د انفاذ لپاره جمهور رئیس باید د بېړني حالت د فرمان او دولتي امنیت ترمنځ تړاو ثابت کړې وای چې په هغه وخت کې یې شتون نه درلود.[۲۱۵] دا حکم د قضایي خپلواکي دا رغنده پیغام د ځان سره درلود چې اساسي قانون د اجرائیه قوې د هغو قوانینو انفاذ محدودوي چه د بېړنیو فرمانونو پواسطه نافذیږي. د داسې موضوعګانو په هکله لکه بشري حقونه او د بېړني حالت اړوند واک په هکله جمهور رئیس مبارک د اساسي قانون عالي محکمې د خپلو سیاسي پلویان په انتصاب سره خنثی کړه.[۲۱۶]

| د افغانستان ستره محکمه |
|---|
| د افغانستان اساسي قانون په ۱۲۱ ماده کې راغلي دي چې ستره محکمه د قوانینو مطابقت او دهغو تفسیر |

[207] *Id.* at 230
[208] *Id.* at 230.
[209] *Id.* at 231
[210] *Id.* at 231.
[211] *Id.* at 232 - 37.
[212] *Id.* at 229.
[213] *Id.* at 229.
[214] *Id.*
[215] *Id.* at 229 - 30.
[216] *Id.* at 239.

د " حکومت یا محکمو په غوښتنه" څېړي. د افغانستان جمهور رئیس کولای شي د ټیټو محکمو قاضیان د ملي شورا له تصویب پرته ګوښه او یا و ټاکي.[217] پدې ترتیب، دا مورد د سترې محکمو اړونده مسلو کې جمهور رئیس ته د پام وړ واک ورکوي.

**ب. نامتمرکزه قضایی څېړنه: د سترې محکمې موډل**

عالي محکمې پدې مفهوم چې "د اساسي قانون د تفسیر کولو واک [په همدې توګه قضایی څېړنه] یوې واحدې محکمې ته نه محدودېږي".[218] ټولې محکمې د یوه قضایی سیستم لاندې فعالیت کوي او ټولې محکمې عامه کړنې یعنې د عامه حقوقو اړونده مسلو، د قوانینو تفسیر او د اساسي قانون تفسیر تر سره کوي.[219] دا پدې معنا ده چې په عادي قضایی نظام کې قوانین تفسیروي او په اساسي قانون پورې تړلي موضوعات مشخص کوي. له کومه ځایه چې ډېری محکمې د قضایی څېړنې واک لري، د سترو محکمو سیستمونه کله کله د **نامتمرکز قضایی سیستم** په نوم یادیږي. څرنګه چې د محکمو عادي سیستم د اساسي قانون سره د قوانینو د مطابقت په هکله پرېکړې کوي، یوازې یوه ستره محکمه پر ټول حقوقي سیستم باندې واک لري.

**ستره محکمه [220]**

عامه محکمې د قضیو ټول ډولونه اورېدلای شي؛

د اساسي قانون د تفسیر واک پر یوې واحدې محکمې پورې نه محدودېږي؛

دا سیستم نامتمرکز دی؛

یوازې یوه ستره محکمه شتون لري؛

د سترې محکمې درولودونکو هېوادونه (څو بېلګې): د امریکې متحده ایالات، ارجنتاین، استرالیا، کانادا، هند، جاپان.

**شکل: د سترې محکمې او قضایی څېړنې مشخص کوونکی سیستم**

217 Ranier Grote, *Separation of Powers in the New Afghan Constitution*, 64 ZaöRV 897, 906-07 (2004).
218 Vicki C. Jackson & Mark Tushnet, Comparative Constitutional Law 465 (2d ed. 2006).
219 *Id.*
220 *Id.*




**د مباحثې پوښتنې**

۱. آیا د اساسي قانون د تفسیر لپاره یوه تخصصي محکمه ګټوره ده؟

۲. آیا د اساسي قانون تفسیر د څو کونو محکمو له خوا ګټور دی؟

۳. ستاسو په نظر د یوقضایی سیستم په وړاندې د دوو قضایی سیستمونو ښېګڼې او نیمګړتیاوې کومې دي ؟

*د نامتمرکز قضایی څېړنې نظری*

د فدرالیستانو یادښتونه د متحده ایالاتو حکومتي سیستم د تشکیلېدو په هکله کلاسیکي تبصرې لري چې د الکساندر هامیلتون، جان جې او جیمز مدیسون له خوا د امریکې متحده ایالاتو د اساسي قانون جوړېدو پر مهال لیکل شوي دي. (د انلسمې پېړۍ وروستي). فدرالیست ۷۸ شمېره د متحده ایالاتو د قضایی څېړنې د سیستم جوړېدو څرنګوالی طرح کوي:[۲۲۱]

> قضائیه قوه د خپل قضایی ماهیت له مخې، د اساسي قانون سیاسي حقوقو ته همیش لږ ګواښ متوجه کوي . . . قضائیه قوه. . . نه پر توره او نه هم د پیسو پر صندوق خپلوي؛ نه د پیاوړتیا او نه هم د ټولنې د شتمن کېدو لپاره کوم لاربنود لري او هېڅ ډول فعاله پرېکړه نشي نیولای. ویلای شو ، چې په واقعیت کې نه زور او نه هم اراده بلکه یوازې قضاوت لري. . .

[221] The Federalist No. 78 (Alexander Hamilton) (Clinton Rossiter ed. , 1961).

لدې پرته ویل کیږي، چې اساسي قانون کولای شي د خلکو استازي پدې باندې قادر کړي ترڅو خپله اراده د مؤکلینو په ارادې سره تعویض کړي. دا تر ډیره بریده منطقي ښکاري، چې محکمې د خلکو او مقننه قوې ترمنځ د منځګړي حیثیت لري تر څو مقننه قوه د اقتدار په محدوده کې وساتي.

د اساسی قوانینو تفسیر د محکمو مناسبه او ځانګړې برخه ده. په واقعیت کې، اساسي قانون باید د قاضیانو پواسطه د یو بنسټیز قانون په توګه په نظر کې ونیول شي. لدې امله دا په هغوی پورې اړه لري، چې د اساسي قانون معنا معلومه کړي، او همدارنګه د هر هغه اقدام معنا چې مقننه قوه یې تر سره کوي. . . .

دا نتیجه ګیري په هیڅ صورت پر مقننه قوه باندې د قضائیه قوې غوره توب نه په ګوته کوي. دا یوازې اټکل کوي چې د خلکو واک پر دواړو باندې غوره ده او کله چې په عادي قوانینو کې د مقننه قوې اراده په اساسي قانون کې د خلکو ارادې خلاف څرګنده شي، نو قاضیانو باید د اساسي قانون له حکمونو څخه پیروي وکړي نه له عادي قوانینو څخه.

د فدرالېستانو د یادښتونو پر بنسټ، په لنډه لاندې نتیجه لاس ته راوړلای شو:




د فدرالېستانو یاداښتونه دا په ډاګه کوي چې قضایي څېړني واک پدې معنا نه ده، چې قضائیه قوه تر مقننه قوې ډېر واک لري. دواړه د برابر واک درلودنکي دي، اما د خلکو قدرت د دې دواړو په پرتله غوره

والی لري. د اساسي قوانینو حکمونو سره د قوانینو مطابقت په څېړنه کې قاضیان نه باید خپله اراده د قانون پر ځای کښېنوي او یا دا چې شخصاً هر کار لازم ګڼي د قوانینو د تدوین په برخه کې تر سره کړي.د دېپرځای، قاضیان باید بې پرې پرېکړې د اساسي قانون او د نورو قانوني اصولو پر بنسټ باندې چې *د خلکو اراده تمثیل کړي.*

د دې متن د لوستلو په مهال یوه پوښتنه رامنځ ته کیږي چې: څنګه امکان لري چې قضائیه قوه د مقننه قوې په تناسب د خلکو په ارادې باندی ښه وپوهیږي؟ ځکه مقنه قوه د خلکو په رایه باندی ټاکل کیږي نه قضائیه قوه. دا د قضایی څېړنې په واک له نیوکو څخه یوه اساسي نیوکه ده. ځینې وایي چې قضایي څېړنه غیردموکراتیکه ده ځکه چې قاضیان د خلکو په رایه نه انتخابیږي او غوره خو داده چې دا ډول پرېکړې مقننه قوه وکړي.

دې نیوکو په ځواب کې دا مهمه ده چې د مشروطیت او وګړو د حاکمیت تیوري ته نظر واچوو. څرنګه چې تاسو په لومړي څپرکي کې د مشروطیت په هکله ولوستل، دې نظریې ته په پام سره خلک د خپل ځان فرمانروایان دي او د خلکو اراده په قانون کې بیان شوې ده. لدې څخه د ډاډ حاصلول چې ټول قوانین د اساسي قانون سره سمون لري، قضائیه قوه د خلکو د ارادې سره د ټولو قوانینو سمون ډاډمنوي.

د قضایي څېړنې لپاره نور عملي توجیهات هم شته. لومړی، ځینې کسان استدلال کوي چې د اساسي قانون تفسیر او حقوقي شننه او تحلیل پېچلي فني موضوعګانې دي، لدې امله دا د ټولنې په ګټه ده چې د و ګړو یوه ډله (معمولاً قاضیان) پدې موضوع باندې کار وکړي. دا کار د اساسي قانون او حقوقي شننې او تحلیل په برخه کې د مسلکي کیدو زمینه رامنځ ته کوي. دوهم، ځینې کسان پدې آند دي، چې دا به غوره وي تر څو د اساسي قانون او نورو قوانینو تقسیر د هغو کسانو له لوري تر سره شي چې تر مستقیم سیاسي فشار لاندې نه وي. که د اساسي قانون د حکمونو سره د نورو قوانینو مطابقت مسؤلیت انتخاب شوو اجرائیوي مقاماتو ته وسپارل شي، دا امکان لري چې هغوی به په دوامداره توګه خپلې پرېکړې د اساسي قانون او نورو قوانینو په ځای د خپلو نظریاتو له مخې د بیا انتخابېدو په موخه و کړي. درېیم، ځینې کسان بیا وایي پداسې حال کې چې قضایي څېړنه بشپړه نه وي، دا په موجوده حالت کې غوره انتخاب دی. پداسې حال کې، چې قاضیان هم بې عیبه نه دي، بې پرې یا بې طرفه کارپوهان چې د اساسي قانون اړونده مسئلو د تفسیر په هکله یې زده کړه کړې وي، د هغو مسؤلینو په پرتله غوره دې چې د بیا انتخابېدو په لټه کې وي.

ددې نظري استددلال باوجود، د متحده ایالاتو ستره محکمه زیاتره د قانون د اصولو پر ځای د سیاست پر بنسټ د پرېکړو کولو له امله تر نیوکو لاندې راځي.ددې پوښتنې چې د اساسي قانون څخه د ملاتړ تر ټولو غوره لار کومه ده، آسان ځواب نشته. او نه هم یو حکومت یا درست قضایي جوړښت د دې کار د سرته رسولو لپاره نشته. بلکه، مهمه داده وپوهېږو چې مختلف سیستمونه څه ډول کار کوي اوددې سیستمونو څخه د خلکو استدلال څه شی دی. پدې ډول تاسو کېدای شي خپلې نتیجې ولري.

**د مباحثې پوښتنې**

۱. څوک له خلکو څخه په ښه ډول استازيتوب کولای شي – قضائيه قوه او که مقننه قوه؟

۲. په افغانستان کې د اساسي قانون د تفسير واک د چا سره دي؟

## *د متحده ايالاتو عالي محکمه*

په نړۍ کې ډېر شمېر هېوادونه د اساسي قانون محکمې له موډل څخه پيروي کوي. خو د هغو هېوادونو لپاره، چې د سترې محکمې د موډل په لټه کې دي، د هغوی لپاره د متحده ايالاتو عالي محکم ښه موډل دي. د متحده ايالاتو عالي محکمه د آلمان د اساسي قانون محکمې له موډل څخه څو مهم توپيرونه لري.

د متحده ايالاتو عالي محکمه ۹ قاضيان غړي لري چې د جمهور رئيس له لوري ټاکل کيږي او د سنا مجلس (د کنګرې لوړه جرګه) د جمهور رئيس دا ټاکنې په ساده اکثريت تأييدوي. ددې هېواد د عالي محکمې غړي په عمل کې ډېر سياسي دی، او لدې امله دي چې عالي محکمه زياتره پدې هېواد کې د دوو سياسي ګوندونو ترمنځ د ايديولوژيکې جګړې په ميدان بدلېږي. له ټاکل کيدو وروسته، ددې هېواد د سترې محکمې غړي د ټول عمر لپاره په خدمت ګمارل کيږي پدې معنا، چې هغوی چې د پاته عمر لپاره قاضې پاته کيږي. د ټول عمر خدمت دورې منطق پدې کې دی چې محکمې ته فرصت ورکوي د اجرائيه يا مقننه قوو له سياسی فشار پرته پرېکړې وکړي.

ددې لپاره چې د متحده ايالاتو عالي محکمه يوه قضيه واوري (رسيدګي ورته وکړي) لازمه ده چې دا بايد د واقعي قضيې څخه چې ټيټو محکمو پرې پريکړه کړې وي، منشا اخلي. د متحده ايالاتو عالي محکمه د آلمان د اساسي قانون محکمې په شان له اجمالي يا انتزاعي قضايي څېړنې څخه پېروي نه کوي. همدارنګه، د اساسي قانون محکمو د ډېرو سيستمونو خلاف، په متحده ايالاتو کې ټيټې محکمې نشي کولای قضيې عالي محکمې ته راجع کړي. ددې خلاف ، ددې پر ځای، د دعوی طرفين د تحتاني محکمې په پريکړې باندې چې د اساسي قانون اړوند وي د غور لپاره ستره محکمه کی دعوی اقامه کولای شي.

پدې سربېره، پداسې حال کې، چې د آلمان اساسي قانون په ځانګړې توګه دا څرګندوي چې د آلمان د اساسي قانون محکمه د کومو قضيو د څېړنې واک لري، د متحده ايالاتو اساسي قانون په ښکاره نه وايي چې عالي محکمه د اساسي قانون سره د قوانينو د مطابقت واک لري. ددې خلاف، د هېواد عالي محکمې پخپله حکم صادر کړ چې هغه د قضايي څېړنې واک لري.

د نولسمې پېړۍ په پيل کې، متحده ايالات يو ځوان هېواد وو او په ۱۷۸۳ کال کې يی خپلواکي تر لاسه کړه. که څه هم متحده ايالاتو خپل اساسي قانون په ۱۷۸۷ کال کې تصويب کړ، د نولسمې پېړۍ په لومړيو کې دا هېواد لا هم د مختلفو قواو تر منځ د قدرت د ويش په لټه کې وو، لکه چې اوس د افغانستان د دېکار د سرته رسولو په حال کې قرار لري.

په ۱۸۰۱ کال کې، د وخت جمهور رئیس جان آدمز د خپل خدمت په ور ستیو شپبو کې د امریکې د متحده ایالاتو د جمهور رئیس په توګه دخپل سیاسي ځای ناستي توماس جفرسون د مخه څو قضایي انتخابات وکړې.[۲۲۲] دا قضایي ټاکنې په دې دلیل، چې آدامز د خدمت دورې د وروستی شپې په وروستیو شپبو کې وکړې، زیاتره د "نیمې شپې قاضیانو" په نوم یادوي. کنګرې چې د آدامز پلوي یی کول، داسي قانون تصویب کړ چې د آدامز له لوري یی د نیمې شپې قاضیانو په ټاکلو کې مرسته وکړه.[۲۲۳] آدامز دا ټاکنې هومره ناوخته وکړې چې د دېکار لپاره په وضعي قوانینو او اساسي قانون کې د اټکل شوو کړندودونو د پلټلو په مهال، ددې فرصت نه درلود تر څو حکم یا د هغه اړوند سندونه یو شمېر قاضیانو ته ورکړي تر څو دا ټاکنې په رسمي توګه اعلان شي. له کومه ځایه چې جان آدامز د هغه سیاسي سیال وو، جمهور رئیس جفرسون قضایي حکم ټاکل شوو قاضیانو ته ور نه کړ.[۲۲٤] نوې کنګرې چې له جفرسون څخه یی ملاتړ کاوه، دا قانون لغو او نوي قضایي پستونه یی رامنځ ته کړل.[۲۲٥]

د ټاکل شوو قاضیانو څخه یوه چې د خپلې ګمارنې حکم یی نه وو تر لاس کړی، ویلیام ماربوري وو. نوموړي د امریکې متحده ایالاتو ستری محکمې ته مراجعه وکړه او له هغې یی وغوښتل چې تر څو جمهور رئیس جفرسون دې ته اړ کړي چې و بهرنیو چاور وزیر جېمز مدیسون ته هدایت ورکړي چې د نوموړي د ټاکل کېدو حکم ورکړي. دې موضوع په متحده ایالاتو کې نوې او مهمې حقوقي مسئلې را پورته کړې چې د ماربورې د مدیسون په وړاندې قضې په نوم یی شهرت وموند.[۲۲٦]

د متحده ایالاتو اساسي قانون د دوهمې مادې دوهمه برخه جمهور رئیس ته واک ورکوي چې د "سنا په مشوره او موافقت" قاضیان وټاکي. پدې هکله جمهور رئیس آدامز د نیمې شپې د قاضیانو ټاکنو لپاره د سنا مجلس مشوره او موافقه لاس ته راوړې وه او نوموړې په هغه مهال د هېواد جمهور رئیس وو او د هغه قانون سره یی سم عمل کاوه چې کانګرس له خوا تصویب او د اعتبار وړ وو. د عالي محکمې په وړاندې دا موضوع طرح وه چې آیا جمهور رئیس جفرسون کولای شو د حکم نه ورکولو په اساس د قاضیانو ټاکل له پامه وغورځوي. محکمې داسي پرېکړه وکړه داچې ټاکنې د اساسي قانون سره سم تر سره شوې، جفرسون نشي کولای له هغو څخه سترګې پټې کړي او ماربوري باید خپل حکم تر لاسه کړي. پداسې حال کې، چې عالي محکمې د قضیې په اړه غور او پریکړه کولو کی مصروف وه ځینې کسانو د اجرائیوي چارو د قانونیت په اړه د سترې محکمی د قضائي څېړنې واک تر پوښتنی لاندې راوست.[۲۲۷]

ماربوري د دوو نظریو په خاطر شهرت وموند. لومړی، قضیه پدې مفهموم دلالت لري چې که اساسي قانون او یو بل کوم قانون په تعارض کې سره راشي، محکمه باید همېش لومړیتوب اساسي قانون ته ورکړي ځکه اساسي قانون په هیواد کی تر ټولو لوړ قانون دی. دوهم، د یوې لویی نظریی په خاطر

---

[222] Kathleen M. Sullivan & Gerald Gunther, Constitutional Law 1-2 (16th ed. 2007).
[223] *Id.* at 9.
[224] *Id.* At 1 - 2.
[225] *Id.* at 9.
[226] 5 U. S. (1 Cranch) 137 (1803).
[227] Kathleen M. Sullivan & Gerald Gunther, Constitutional Law 9 (16th ed. 2007).

شهرت وموند هغه داچې د متحده ایالاتو سترې محکمه "د نورو قواو د څارنې واک لري او د اساسي قانون د اصولو د غوره ساتونکي او د اساسي قانون د نورمونو ځانګړي تطبیقونکي په توګه عمل کوي."[۲۲۸] دا پدې معنا ده چې که جمهور رئیس او کنګره د اساسي قانون خلاف عمل وکړي، ستره محکمه پدې هکله د پرېکړې کولو واک لري. او په هغه صورت کې چې یو له قواو څخه اساسي قانون نقض کړي او محکمه د هغه په هکله پرېکړه کوي، بل رکن یا قوه باید په جریان کې ورته عمل سمدستي ودروي.

*لاندې متن ماربورې د مدیسون په وړاندې قضیې له اصلي متن څخه نقل قول شوی:*[۲۲۹]

<u>*ماربورې د مدیسون په وړاندې: د متحده ایالاتو عالي محکمه*</u>

<u>*(د۱۸۰۳ کال، فبروری ۱)*</u>

په یقین سره ټول هغه کسان چې لیکل شوي اساسي قوانین یې طراحي کړي دي په دې باور دې، دا قانون د بنسټیزو او د یو ملت د غوره قوانینو څخه ګڼل کېږي او په نتیجه کې ددې دول حکومت نظریه باید پر دې ولاړه وي، چې که چیرې د مقننه قوې عمل د اساسي قانون سره تناقض لري، اعتبار نه لری. [۲۳۰]

په قطعي ډول دا د قضایی ارګان دنده ده څو واضح کړي، چې قانون څه شی دی. هغه کسان چې حکمونه په ځانګړو مواردو کې تطبیقوي، باید د ضرورت په وخت کې هم د هغه تفسیر وکړي. که چېرې دوه قوانین یو د بل سره په ټکر کې وي، محکمې له عملیاتي لحاظه د هغو هر یوه په هکله پرېکړه کولای شي.

که چیرې یو قانون د اساسي قانون سره په ټکر کې وي یعنی په یوه قضیه کی هم عادي قانون قابل د تطبیق وي او هم اساسي قانون نو محکمه باید چی کوم قانون په قضیه باندی تطبیقوي: عادي او که اساسي قانون. په دی معنی چی ستره محکمه باید پریکړه وکړي چی د اساسي قانون پر ځای د عادي قانون د تطبیقوي او یا که د عادي قانون پر ځای د اساسي قانون.

لدې امله محکمې باید د اساسي قانون درناوی وکړي او اساسي قانون د مقننه قوې تر هر یو بل عادی تقنیني عمل لوړ دی، په داسی حالت کی د عادي قانون پر ځای، په اړونده قضیه کی باید اساسي قانون تطبیق شي.

هغه کسان چې په محکمه کې د یوه لوړ قانون په توګه، د اساسي قانون د پیروي د اصل سره مخالفت کوي، دې ته راتیتېږي چې محکمې باید له اساسي قانون څخه سترګې پټې کړي او یوازې وضعي قوانین ووینې.

---

[228] *Id.* at 1.

[۲۲۹]. ایدیت شوی متن له
Kathleen M. Sullivan & Gerald Gunther, Constitutional Law 6-9 (16th ed. 2007) (emphasis added). څخه ایستل شوی

[۲۳۰]. متناقض "مخالف یا په وړاندې" معنی ورکوي. "د اساسي قانون ناقض عمل" داسې یو عمل دی چه د اساسی قانون مخالف یا ناقض وی.

دا نظریه پخپله د لیکل شوو اساسي قوانینو بنسټ ګڼل کېږي. دا په ددې معنا ورکړي چې زموږ د حکومت د اصولو او نظریې له مخې چې یو اقدام چې په بشپړ ډول بې اعتباره او غیر قانوني دی خو په عمل کې بشپړ الزامیت لري. دا به اعلان کړي چې که مقننه قوه داسې یو کار تر سره کړی چې په ښکاره منع دی، داسې یو عمل د ممنوعیت باوجود، په عمل کې شوني دی، دا کار په عین روحیې سره چې خپل واک په یوه کوچنۍ محدوده کې منحصروي، کولای شي مقننه قوې ته عملي او مطلق قدرت ورکړي. [۲۳۱] دا محدودیتونه ټاکي او اعلان کوي چې کېدای شي په خوښۍ سره تېر شي.

د اساسي قانون متناقض قوانین اعتبار نه لري او محکمه او نور ارګانونه، باید د هغو پیروي وکړي:

کولای شو چې د سترې محکمې استدلال د لاندنیو مواردو پر بنسټ، ګام په ګام تحلیل کړو:

***ماربوری د مدیسون په وړاند ګام – په – ګام تحلیل***

مدون یا لیکل شوی اساسي قانون د یو ملت لوړ او عالي قانون دي، او لدې امله هر یو بل اقدام چه د اساسي قانون سره په ټکر کې د اعتبار وړ نه دي .

دا یوازی او یوازی د قضایه قوې دنده ده چې قانون تفسیر او تعریف کړي

که محکمه داسې قضیې سره مخامخ شي چې په هغه کې د اجرا وړ قانون د اساسي قانون مخالف وي په داسې حالاتو کی باید تل اساسي قانون تطبیق شي ،ځکه چې هغه د هیواد تر ټولو لوړ قانون دی.

د دولت ټول قواوې له اساسي قانون څخه پر پیروی مکلف دی او او نور ارګانونه د قضایه قوې له لوري د اساسي قانون تفسیر څخه په پیروۍ ملزم ګڼل کیږي.

ماربوري اکثراً د سیاسي انګېرنو له امله تر نیوکو لاندې راځي. جان مارشال د عالي محکمې رئیس اود دې نظریې لیکونکی د آدامز د پیاوړو پلویانو څخه وو او آن د هغه د حکومت په دوره کې یی د بهرنیو چارو د وزیر دنده درلوده. پدې اساس، مارشال د آدمز له خوا د نیمې شپې قاضیانو په ټاکلو کې دخیل وو او علاقه یی درلوده پدې باندې وپوهېږي، چې آیا د ګمارنې حکم سپارل شوی او که نه. مارشال د نظر وړاندې کولو په ترڅ کې ټینګار کاوه چې "په قطعي ډول دا د قضایي برخې دنده ده چې ووایي قانون څه شی دی" که څه هم دا یو عام او منل شوی واقعیت دی. هغه مفاهیم چې وایي قضائیه قوه د قوانینو د

---

[۲۳۱]. بشپړ قدرت د "د خورا زیات یا نامحدود واک یو حالت" ته ویل کیږي.

تفسیر انحصاری واک لري او دا چې محکمې د پرېکړو د بې اعتبار اعلانولو واک لري، هغه مهال نوي مفاهیم ګڼل کېدل. یو شمېر کسانو مارشال محکمې ته د زیات واک د مفهوم په ابداع باندې تورن کاوه.[232] لدې پرته چې ولې مارشال هغه څه چې یې غوښتل تر سره کړي د کاغذ پر مخ راوړل، دا نظریه چې قضائیه قوه د اساسي قانون او نورو قوانینو د تفسیر انحصاري واک لري او نورې ادارې او ارکان باید د محکمې حکم ته درناوی وکړي، اوس مهال د امریکې په متحده ایالاتو کې په عام ډول منل شوې ده.

ماربوري د مدیسون په وړاندې موضوع د امریکې متحده ایالاتو په تاریخ کې یوه ډېره مهمه پېښه ده. نن دا موضوع ډېره روښانه ده چې د هغه هېواد عالي محکمه واک لري د اساسي قانون د حکمونو سره د نورو حکومتي اقداماتو او وضعي قوانینو د سمون څرنګوالي په هکله پرېکړه وکړي او تر اوسه دې محکمې د اساسي قانون خلاف ډېر شمېر قوانین لغو کړي دي. تر دې لا مهمه دا چې نورې قواوې او ادارې د عالي محکمې د واک او نظر درناوی کوي. کله چې عالي محکمه حکم صادروي، نورې اداری هغه ته درناوی او د هغه مطابق عمل کوي. دمثال په توګه، کنګره د بودجې پیسې د عالي محکمې د پرېکړې پر بنسټ تخصیص ورکوي، اجرائیه قوه له خپل واک څخه په ګټه اخیستنې سره دا پرېکړې عملي کوي.

**د مباحثې پوښتنې**

۱. آیا تاسو فکر کوی چې د ماربوري د مدیسون په وړاندې موضوع کې د عالي محکمې دریځ سم وو؟

۲. د کومو قانوني اختیاراتو په نظر کې نیولو سره عالي محکمې د ماربوري په مسئلې کې یرېکړه وکړه؟

۳. د سیاسي انګیزو له امله پر ماربوري باندې تور لګولو په هکله ستاسو څه نظر دی؟

٤. آیا تاسو په متحده ایالاتو کې ماربورې د مېډیسون په وړاندې قضیې د رامنځ ته کېدو د وخت او د افغانستان د اوسني حالت ترمنځ کوم ورته والی او توپیر وینې؟

## *د پاکستان ستره محکمه*

پاکستان د ستری محکمې سیستم په ۱۹۷۳ کال کې تصویب کړ. د پاکستان ستره محکمه له قاضی القضات او ۹ تنو قاضیانو او ۱۶ نورو اضافي قاضیانو څخه جوړه شوې ده.[233] ددې محکمې د ویب پاڼې له مخې: " د پاکستان جمهور رئیس د پاکستان د سترې محکمې قاضیان د قاضي القضات د پیشنهاد له

[232] Kathleen M. Sullivan & Gerald Gunther, Constitutional Law 11 (16th ed. 2007).
[233] The Supreme Court of Pakistan, Composition of the Court & Appointment of Judges (last visited April 7, 2013), *available at*http://www. supremecourt. gov. pk/web/page. asp?id=115.

مخې د اشخاصو له منځ څخه د هغوی د پوهې او د اساسي قانون په مختلفو برخو د تخصص پر بنیاد، ټاکل کیږي.[234] څرنګه چې تاسو به لاندې د پاکستان اساسي قانون له مختلفو مادو څخه خبر شی،د دې هېواد ستره محکمه زیات اختیارات لري. دا محکمه د بین الحکومتي مشخصو اختلافونو، د پاکستان د شریعت فدرالي محکمې په شمول له ټیټو محکمو څخه د را پیدا شوو قضیو څېړنه او د جمهور رئیس د غوښتنې له مخې د مشورتي پرېکړو په هکله پراخه صلاحیتونه لري، دا محکمه د دواړو هم د اساسي قانون او هم د نورو قوانینو د څېړنې واک لري.[235]

| |
|---|
| **د پاکستان د ۱۹۷۳ کال له اساسی قانون څخه ځینې غوره شوې مادې**<br><br>**د سترې محکمې قضایي واک**<br><br>۱۸٤. د سترې محکمې اصلي قضایي واک.<br><br>(۱) ستره محکمه، د هرې بلې محکمې په حذف سره، د دوو یا څو حکومتونو ترمنځ په هر ډول اختلاف کې د اصلي قضایي واک درلودونکې ده. [شرح: پدې بند کې "حکومتونه " د فدرال حکومت او ایالتی حکومتونو په معنا دي]<br><br>۱۸۵. د سترې محکمې داستیناف قضایي واک.<br><br>(۱)ددې مادې موضوع داده چې ستره محکمه د اورېدنې، د استیناف څرنګوالي، فرمانونو او وروستنیو حکمونو په برخه کې قضایي واک لري.<br><br>(۲) هر ډول استیناف غوښتنه، فرمان، حکم یا وروستنی دستور سترې محکمې ته وړاندې کیږي .<br><br>۱۸٦. مشورتي قضایي واک.<br><br>(۱) که چیرې هر وخت جمهور رئیس لازم و ګڼي چې د قانون اړوند یوه موضوع چې د نوموړي له نظره د عامه اهمیت وړ وي، د سترې محکمې نظر وړاندې کولو ته اړتیا ولري، موضوع د څېړنې په موخه د سترې محکمې ته راجع کولای شي.<br><br>(۲) د سترې محکمه د دا ډول ارجاع شوې موضوع په هکله څېړنه وکړي او د هغه په باره کې جمهور رئیس ته رپوټ ورکړي. |

د پاکستان ستره محکمه په ټولیز ډول یوه فعاله محکمه ګڼل کیږي او څو ځلې د پاکستان د اجرائیه او مقننه قواوو سره په ټکر کی واقع شوې ده. په ۲۰۰۷ – ۲۰۰۸ کلونو کې محکمه د اجرائیه قوې سره په

[234] *Id*.
[235] Shoaib A. Ghias, Miscarriage of Chief Justice: Judicial Power and the Legal Complex in Pakistan under Musharraf 344, *inFates of Political Liberalism in the British Post-Colony: The Politics of the Legal Complex* 340-377 (Terence C. Halliday et al. , eds. , 2012).

یوه اوږده لانجه کې چې د اساسي قانون بحران یې رامنځ ته کړ، بوخته وه. دا اختلاف په ۲۰۰۷ کال کې پیل شو، کله چې د وخت جمهور رئیس پروېز مشرف، د فساد په دلیل د قاضي القضات افتخار چودري دنده و ځنډوله.[۲۳۶] د یادولو وړ ده چې په ۱۹۹۹ کال کې قدرت ته له رسېدو وروسته، چودری پخپله د مشرف انتخاب وو. له هغه کم وخت وروسته، چودري د ۱۲ قاضیانو په یوه منصفه هیئت کې د ضرورت پر بنیاد د کودتا مشروعیت توجیه کړ.[۲۳۷]

له هغه وروسته چې چودري په ۲۰۰۵ کال کې قاضي القضات مقرر شو، نوموړي د عدالت غوښتنې په یوه کمپاین کې چې د پروېز مشرف رژیم سره یې په جګړه کې راښکېل کړ، مخامخ شو.[۲۳۸] پدې عدالت غوښتنه کې محکمې د ایمني دلایلو له مخې د یوې حکومتي ودانۍ د کار بهیرد تم کیدو امر وکړ او کار یې تم کړ،[۲۳۹] تېل او د بورې قېمتونه د حکومت به کنترول څخه ووت،[۲۴۰] او د څو شرکتونو خصوصي کېدنه یې د فساد له امله بې اعتباره کړل.[۲۴۱] همداشانې چودري د بشري حقونو مرکز په ستره محکمه کې جوړ کړ[۲۴۲] او د "تروریزم خلاف جګړه کې" په د امریکې متحده ایالتو پورې اړوند نا قانونه ګرفتاریو په هکله یې فعال موقف خپل کړ او د کورنیو چارو له وزارت څخه یې د تري تم شوو اشخاصو د نوم لړ تیارولو غوښتنه وکړه.[۲۴۳]

په ورته وخت کې دا چې د پاکستان اساسي قانون حکم کوي چې جمهور رئیس نشي کولای په یوه وخت کې په دوو دندو باندې کار وکړي، د حقوقي ټولنې غړو د ۲۰۰۷ کال په ټاکنو کې د مشرف نوماندې د ننګونې سره مخامخ کړه ځکه نوموړی د اردو په رأس کې قرار درلود.[۲۴۴] له هغه وروسته چې چودري د رژیم د ګټو خلاف خپله اراده څرګنده کړه، مشرف متوجه شو چې د بیا انتخابېدو لپاره د وړتیا شرایطو په اړه د سترې محکمې ملاتړ د ځان سره نه لري. یوه ورځ له هغه وروسته چې محکمې له حکومت نه و غوښتل ترڅو د ۱۸۴ تري تم شوو کسانو د ساتلو د ځای په هکله د ۲۰۰۷ کال په مارچ کې خپل راپور وړاندې کړي، جمهور رئیس مشرف د چودري دنده تعلیق یا وځنډوله.[۲۴۵]

ددې واقعیت باوجود چې د پاکستان اساسي قانون جمهور رئیس ته ددې واک نه ورکوي تر څو په یو اړخیز ډول قاضي القضات له دندې ګوښه کړي، مشرف چودري د ولسمشري فرمان پر بنسټ، ګوښه کړ.[۲۴۶] د دېپرځای، اساسي قانون عالي قضایي شورا ته د قاضیانو د ګوښه کولو واک ورکوي. عالي قضایي شورى په ستره محکمه کې له دریو تر ټولو لوړو قاضیانو او په ایالتي محکمو کې له دوو تر ټولو

[236] *Id*. at 340.
[237] *Id*. at 345 -46.
[238] *Id*. at 346.
[239] *Id*. at 346 - 47.
[240] *Id*. at 347 - 48.
[241] *Id*. at 348 - 49.
[242] *Id*. at 346.
[243] *Id*. at 349.
[244] *Id*. at 350.
[245] *Id*. at 349.
[246] *Id*. at 357.

لوړو قاضیانو څخه جوړه شوې ده.[۲۴۷] مشرف په عمدي ډول چودري تعليق کړ څکه دوهم لوړ قاضی رانه بهاګوانداس چې رژیم د هغه له شتون څخه په وېره کې وو، د شخصي دلایلو له امله له هېواد څخه بهر وو.[۲۴۸]

د چودري له ګوښه کېدو وروسته، د پاکستان د مدافع وکیلانو ټولني په محکمو کې خپل حضور تحریم کړ او د هغه په ګوښه کېدو لوېو مظاهرو زور واخیست.[۲۴۹] د پاکستان ملي شورا د پخواني رئیس سید فخر امام له قوله ویل کیږي: "د پاکستان په تاریخ کې لومړی ځل لپاره یوه قاضي القضات جنرال ته له سترګګ وهلو پرته، کتلي دي. دا خلکو ته توان ورکوي تر څو د قانون څخه د دفاع په خاطر اعتراض وکړي، چې د دموکراسي یو تر ټولو غوره اصل دی."[۲۵۰] د ۲۰۰۷کال د جولای په ۲۰، د پاکستان سترې محکمې پرېکړه وکړه چې د هغو له مخې د قاضي القضات په توګه د چودري د بیا مقررېدو حکم کوي، خو د بیا راستندېدو موده کمه وه.[۲۵۱]

د ۲۰۰۷ کال د نوامبر په ۳، له ولسمشري انتخاباتو وروسته، مشرف اساسي قانون وځنډاوه او نظامي حکومت (مارشال لا) یی اعلان کړ او فرمان یی ورکړ چې: "ستره محکمه او یا هم کوم به محکمه د هیڅ داسی حکم د صادرولو واک نه لري چې د جمهور رئیس یا لومړي وزیر خلاف وي."[۲۵۲] کله چې د لوړې مراسمو د پرځای کولو لپاره ۶۴ قاضیان ددې فرمان لاندې حاضر نشول، مشرف د هغوی پرځای نور قاضیان و ټاکل.[۲۵۳] د سیاسي بحران او اساسي قانون بحران رامنځ ته کېدل د مشرف له خوا د قضائیه قوې رام کولو لپاره کوښښ وو، بیا هم دې کار د هغه سیاسي قابلیت زیانمن کړ. د استیضاح سره له مخامخ کېدلو وروسته په ۲۰۰۸ کال کې یی استعفا وکړه او د هغه ځای ناستی آصف علي زرداری د خپل سیاسي قدرت د پیاوړتیا په موخه ګوښه شوي قاضیان بېرته مقرر کړل.[۲۵۴] بالآخره، زرداري د ۲۰۰۹ کال د مارچ په میاشت کې د چودري او نورو قاضیانو د بېرته راستنېدو لپاره فشار ته تسلیم شو.[۲۵۵]

تر دم ګړئ (۲۰۱۳کال) چودري د پاکستان د سترې محکمې د قاضي القضات په توګه دنده لري.[۲۵۶] په ۲۰۱۲ کال کې، محکمې لومړی وزیر یوسف رضا ګیلاني، محکمې ته د سپکاوي په تور ګوښه کړ.[۲۵۷] له لنډې مودې وروسته د ۲۰۱۳ کال په لومړیو کې، محکمې د فساد په تور د هغه د ځای ناستي راجا

[247] *Id*. at 361.
[248] *Id*. at 361.
[249] *Id*. at 362 -63.
[250] *Id*. at 356.
[251] *Id*. at 365.
[252] *Id*. at 369.
[253] *Id*. at 369.
[254] *Id*. at 372.
[255] *Id*. at 372.
[256] The Supreme Court of Pakistan, Hon'ble Chief Justice of Pakistan (last visited April 8, 2013), *available at*http://www. supremecourt. gov. pk/web/page. asp?id=204.
[257] NasirHabib&Jethro Mullen, Pakistani Supreme Court Orders Arrest of Prime Minister in Corruption Case, *CNN Online*, Jan. 16, 2013, *available at*http://edition. cnn. com/2013/01/15/world/asia/pakistan-politics.

پرويز اشرف د نيول کېدو حکم صادر کړ.[258] د محکمې پلويان استدلال کوي، چې دې کار د پاکستان د پياوړې اجرائيه قوې څخه د څارنيزې نيوکې په توګه عمل کړی او پدې ډول پدې هېواد کې د دموکراتيک جوړښت بنسټ جوړوي. د محکمې منتقدين يا نيوکګر دا د "قضايي کودتا" د مانورې په توګه يادوي او محکمه په دې تورنوي، چې محکمه کورنی سياسي نا امنيو ته لمن وهي او د حکومت په ورځنيو چارو کې مداخله کوي چې په دې توګه په پاکستان کې ديموکراسي له دايمي ګواښ سره مخامخ کوي.[259] تاسو څه فکر کوي؟

**قضائيه قوه او اقتصادی آزادي کېدنه**

شعيب عبدالغياث[260] په پاکستان کې د اجرائيه قوې او سترې محکمې ترمنځ د رابطې په هکله لاندې استدلال وړاندې کوي. تاسو پدې هکله فکرکوی؟

" حقوقو پوهان وايي چې اقتصادي آزادکېدنه د قضايي واک د پراختيا باعث ګرځي، ځکه چې خپلواکه قضايي محکمې په ټيټه کچه د فساد په نښه کول، د قراردادونو عملي کول، د پانګه اچوونکو راجلبول او د ناسمو اقتصادي کړنو په خاطر مجازات کول، عملي کړي. رژيم ځکه خپلواکه محکمې زغمي چې د هغوی اقتصادي کړنې د چټکې ودې په حال کې دي. په پاکستان کې پداسې حال کې چې محکمې د ټيټې کچې فساد په نښه کوي، هغوی همداشانې، قراردادونه لغو، پانګوال تر کره څېړنې لاندې نيسي او د ناسمواقتصادي پاليلو له کبله رژيم رسوا کوي. حکومت، د چودري محکمه د رژيم د مشروعيت جوړونې په هکله د قضائيه قوې د سياسي کړنې په دليل ومنله. خو له پياوړي کېدو وروسته، محکمې د رژيم د ټولنيز کنترول په له منځه وړلو پيل وکړ او د رژيم د مشروعيت کونې له امله يې خپل باور له لاسه ورکړ."

### پنځم. د اضطراري حالت واکونه

تر دې ځايه موږ په عادي شرايطو کې د اساسي قانون پر کړنو تمرکز درلود. اما څه به رامنځ ته شي که يو ملت د بېړنيو ستونزو سره مخامخ شي؟ د بېړنيو شرايطو په اړه د اساسي قانون دری اصلي چلندونه شتون لري:[261]

---

[258] *Id*.
[259] Paula Newberg, The Court Rules in Pakistan, *Yale Global Online*, June 21, 2012, *available at*http://yaleglobal. yale. edu/print/7918.
[260] *Id*. at 351.
[261] Vicki C. Jackson & Mark Tushnet, Comparative Constitutional Law 840 (2d ed. 2006).

**(۱) ځينې اساسي قوانين د ځانګړو حکمونو وړاندوينه کوي چې د هغو پر بنسټ په اساسي قانون کې حکومت د قدرت له تسجيل شوي عادي انډول او اړونده کړنلارو څخه عدول کولای شي.**

هغه هېوادونه چې دا ډول چلند په کار اچوي، زياتره دا هم مشخص کوي چې کوم شرايطو ته "بېړنی حالت" ويلای شو او د ځانګړي واک غوښتونکي ده. اساسي قوانين زياتره بېړنی حالت په عام شکل تعريفوي. مثال، يرغل، د يو هېواد له قلمرو څخه بهر جګړه، پاڅون او مدني اخلال (د لنډ مهاله پاڅون په شمول)، طبيعي آفتونه او اقتصادي بحران.[۲۶۲] همداشاني، له هغه وروسته اساسي قوانين د ځانګړو واکونو ډولونه په ګوته کوي چې يو حکومت يې پدې حالاتو کې کاروي.

**(۲) نور اساسي قوانيند دېباور په نظر کې نيولو سره ليکل شوي، چې اساسي قانون ددې معلومولو ته اړتيا نه لري چې حکم وکړي کوم کار بايد په بېړني حالت کې اجرا شی. ددی پر ځای د قواو د توازن د اصل د تفسير څخه په ګټه اخيستنې سره بايد روښانه شي چې په داسی حالاتو کې د قواوو ويش او تاکل بدلون موندلای شی.**

پروفيسور ګروس دا مودل داسي بيانوي: "پداسي حال کې چې قوانين په کتابونو کې د بحران په مهال تغير نه کوي، اما په عمل کې قوانين د کتنې وړ تغييرات رابرسېره کوي چې د موجوده تقنيني اصولو د بيا تفسير له لارې د قانوني سيستم سره يوځای کيږي."[۲۶۳] دا مودل ځيني وخت د غير مسلکي والي له امله تر نيوکې لاندې راځي او په قدرت کې ولاړو کسانو ته اجازه ورکوي له بېړني حالت څخه د هېواد د ژغورنې په پلمه د قانون په سيستم کې تغير راولي.[۲۶۴] ددې مودل پلويان ځواب ورکوي چې د يو "عادي" حالت او بېړني حالت ترمنځ د څرګندې بېلوونکي کرښې کښل ناشوني دي او لدې امله بايد حقوقي نظام بايد واقعيتونه منعکس کړي.[۲۶۵]

**(۳) بالآخره، ځيني مودلونه ټينګار کوي چې حکومت نبايد په بېړنی حالت کې د قدرت له طبيعی انډول څخه عدول وکړي ځکه امکان لري د ځينی سياسي مشرانو پواسطه د بېړني حالت څخه په ګټې اخيستنې سره د خپل قدرت د زياتېدو او پياوړي کېدو کار ډېر آسانه کړي.**

پدې انتخاب سره، په بېړني حالت کې له عادي قانونی سيستم څخه عدول جواز نه لري. عادي قانوني نظام د هر ډول بېړني حالت لپاره د حل او فصل لازمي لارې چارې وړاندې کوي او اساسي قانون د جګړې او سولې په دواړه حالتو کې يو شان عملي کيږي. خوددې مودل نيوکګران وايي چې دا ډېر ساده نظر دی ځکه کله چې يو حکومت د جدي ګواښونو سره مخامخ کيږي، لزوماً هر ضروري اقدام تر لاس لاندې نيولای شي. دا ټکی هم د يادولو وړ دي امکان لري قانون او د حکومت واقعي عمل پداسي حالت

[262] *Id.* at 841.
[263] Oren Gross, *Chaos and Rules: Should Responses to Violent Crises Always Be Constitutional?* 112 Yale Law Journal 1011 (2003).
[264] *Id.*
[265] *Id.*

کې په شدت یو له بل څخه واټن ولري ، چې د حقوقي نظام غیر واقعي والي په ګوته کوي.[266] سربېره پردې، نیوکګر وایي چې که چېرې په اساسي قانون کې شرایط او کړنلارې په دقیقه توګه مشخص نه وي، په عادي حالت کې د حکومت لپاره د بېړني واک غوښتنه او په یوې قاعدې باندې د هغه بدلول ډېر ساده ښکاري.[267]

**د مباحثې پوښتنې**

١. ستاسو په نظر له یاد شوو موډلونو څخه یې کوم یو غوره دی؟

٢. آیا د ځانګړي بیړني حالت واک درلودل د بیړني حالت له تیرېدو وروسته د عادي حالت په راوستلو کې د حکومت لپاره د ستونزو سبب نه کیږي ؟ آیا داسې کوم بدیل شته چې بیړنې واک تر نا معلومې مودې پورې و غځول شي؟

٣. آیا کولای شو د بېړني او عادي حالتونو ترمنځ بیلوونکې کرښه انځور کړو؟ تاسو دا کرښه څرنګه انځورولای شی؟

٤. آیا دا ډېره سادګي نه ده چې فرض کړو چې ځیني دولتونه پرته له دی چې بیړنې واک ولري د بیړني حالاتو سره د مقابلې توان لري؟

٥. آیا په بېړني حالت کې حکومتونه باید د کړنو مختلف معیارونه ولري ؟

**په نویو راڅرګندېدونکو دموکراسیو کې د بېړني حالت د واک څرنګوالی**

پروفیسور ویکتور رامراج استدلال کوي چې په بنسټیز ډول د بېړني حالت واک باید په هغو هېوادونو کې چې د قانونیت د رامنځ ته کېدو لپاره کوښښ کوي د هغو هېوادونو په پرتله چې هلته د قانون حاکمیت بنسټیز شوی دی، په متفاوت ډول وکتل شي.[268] هغه پدې باور دی هغه هېوادونه چې د قانون د حاکمیت بنسټیز کېدو په لټه کې دي د یوه تناقض سره مخامخ دي چې په هغه کې امکان لري حکومت په هېواد کې د ثبات لپاره د لا زیات قدرت ادعا وکړي تر څو قانوني سیستم پرمختګ وکړي. اما په عین حال کې، په بېړني حالت باندې استناد کولای شي دا تصور رامنځ ته کړي چې حکومت د اساسي قانون او پخپله د قانون حاکمیت محدودیتونه په نظر کې نه نیسي.[269] آیا تاسوددې ادعا سره موافق یاستی؟

آیا اړینه ده چې مخ پر ودی دموکراسیو ته د بیړني حالت څخه ګټه اخیستنه او د اساسي قانون د ځنډلو

[266] *Id.*
[267] *Id.*
[268] Victor V. Ramraj, *The Emergency Powers Paradox*, *in* Emergency Powers in Asia: Exploring the Limits of Legality 21, 22 (2010
[269] *Id.*

زيات فرصتونه ورکړل شي ځکه هغوي د قانون د حاکميت د بنسټيز کولو په حالت کی دی؟ آيا نوې ځرګنديدونکي دموکراسيو ته هم هغه ستاندردونه وټاکل شي چې نورو لپاره ټاکل شوي تر څو د يو بد قضايي عرف د ترويج مخنيوي وشي؟

د افغانستان اساسي قانون له لومړي انتخاب څخه کوم چې يې مخکې يادونه وشوه پيروي کوي او د بيړني حالت په مهال د واک د مشخص کولو لپاره د ځانګړو حکمونو درلودونکې ده. د معمول سره سم، په بيړني حالت کې اساسي قانون د مقننه قوې په پرتله اجرائيه قوې ته زيات ته ډير واک ورکوي. پدې اړوند، اساسي قانون لاندې مواردو ته اشاره کوي:

**د افغانستان اساسي قانون**

**نهم فصل – اضطراري حالت**

**۱۴۳ ماده**

که د جګړې، دجګړې د خطر، وخيم اغتشاش او طبيعي آفاتو او يا ورته حالت له امله د خپلواکۍ او ملي ژوند ساتنه په هغه طريقه چې په اساسي قانون کې ټاکل شوې، ناشونې وګرځي د جمهور رئيس له خوا د ملي شورا په تأييد د هېواد په ټولو او يا ځينو برخو کې اضطراري حالت اعلانيږي.

که اضطراري حالت تر دوو مياشتو زيات دوام ومومي، د اوږدولو لپاره يې د ملي شورا موافقه شرط ده.

**۱۴۴ ماده**

په اضطراري حالت کې جمهور رئيس کولای شي د ملي شورا او د ستره محکمې له رئيسانو سره په مشوره، د ملي شورى ځينې صلاحيتونه حکومت ته انتقال کړي.

**۱۴۵ ماده**

په اضطراري حالت کې جمهور رئيس کولای شي چې د ملي شورا او د ستره محکمې د رئيسانو تر تأييد وروسته د اساسي قانون لانديني حکمونه و ځنډوي يا قيود پرې ولګوي:

١. د اوه ويشتمې مادې دوهمه فقره.
٢. شپږدېرشمه ماده.
٣. د اوه دېرشمې مادې دوهمه فقره.
٤. د اته دېرشمې مادې دوهمه فقره.

**۱۴۶ ماده**

د اضطرار په حالت کې اساسي قانون نه تعديليږي.

**۱۴۷ ماده**

که چېرې د جمهوري رياست دوره او يا د ملي شورا تقنيني دوره د اضطرار په حالت کې پای ته ورسيږي، د نويو انتخاباتو تر سره کېدل ځنډيږي او د جمهور رئيس او ملي شورا د غړو د خدمت موده تر څلورو مياشتو پورې تمديديږي.

که اضطراري حالت تر څلورو مياشتو زيات اوږد شي، لويه جرګه د جمهور رئيس له خوا را غوښتله کيږي.

د اضطراري حالت تر پای ته رسېدو وروسته، د دوو مياشتو د ننه انتخابات کيږي.

**۱۴۸ ماده**

د اضطراري حالت په پای ته رسېدو سره هغه اقدامات چې ددې اساسي قانون د (يو سل او څلور څلوېښتمې او يو سل او پنځه څلوېښتمې) مادې له مخې شوې، بې له ځنډه له اعتباره لويږي.

**الف. ۱۴۳ ماده**

د ۱۴۳ مادې لومړی بند دې پوښتنې ته چې "بېړنی حالت کوم حالت دی؟" ځواب وايي. دا بند د بېړني حالت څلور عيني شرطونه فهرست کوي: (۱) جګړه، (۲) د جګړې ګواښ يا خطر، (۳) وخيم اغتشاش، او (۴) طبيعي آفات. په همدې ترتيب پدې بند کې ويل شوي دي چې په "ورته شرايطو" کې د حکومت له لوري بېړنی حالت اعلانيږي. آيا دا واقعيت چې جمهور رئيس د "ورته شرايطو" پر بنسټ باندې بېړني حالت اعلان کولای شي – جمهور رئيس ته اجازه ورکوي هر کله چې وغواړي هغه اعلان کړي؟

لدې څخه لا مهمه خبر داده هغه شرايط چې له مخې يې جمهور رئيس د بېړني حالت د اعلان کولو واک تر لاسه کوي، پر هغو غوښتنو باندې محدود کيږي چې "د خپلواکي او ملي ژوند ساتنه د هغو مجراوو څخه چې په اساسي قانون کې بې وړاندوينه شوې ده، ناشوني شي." دا پدې معنا دي چې جمهور رئيس ممکن يوازې په هغو شرايط کې بېړنی حالت اعلان کړي چې ملت د طبيعي سيستم لاندې ژوند و نشي کولای. په عين حال کې، کېدای شي جمهور رئيس استدلال وکړي چې يو شمېر عوامل کېدای شي د اساسي قانون تر عادي شرايطو لاندې " ملي ژوند" ". . . ګډوډ کړي" او پدې توګه په آساني سره کولای شي بېړنی حالت اعلان کړي. د اساسي قانون متن زياتره مبهم د انعطاف وړ او د څو ګونو تفسيرونو لپاره پرانيستی وي. هغه کسان چې د اساسي قانون سره سر او کار لري بايد دا تشه ډکه کړي.

پداسې حال کې چې کېدای شي د بېړني حالت لپاره د جمهور رئيس واک پراخه تر سترګو شي، خو دا کار بايد د ملي شورا له تأييد وروسته تر سره شي. دا هغه مهمې لارې دي چې ملي شورا د هغو پواسطه کولای شي د د بېړني حالت د اعلان او غزولو په هکله د جمهور رئيس واک محدود کړي.

**ب. ۱۴۴ ماده**

دا ماده جمهور رئیس ته اجازه ورکوي چې له مقننه قوې څخه اجرائیه قوې ته د "واک یوې برخې" د لېږد په صورت کی جمهور رئیس زیات واک تر لاسه کړي. په زیات شمېر هېوادونو کې اجرائیه قوه د بېړنویوحالاتو په مهال ځان ته زیات واک ورکوي. د هغه دلیل دادي چې په بېړنیو حالاتو کې حکومت سملاسي اقدام ته اړتیا لري او د قانون جوړونې معمولي بهیر کېدای شي له اندازې زیات ورو او وخت ضایع کونکې وي.ددې نظریې پلویان ادعا کوي چې پداسې حالت کې یو هېواد زغرنده مشرتابه ته اړتیا لري او پدې اړوند اجرائیه قوه په ښه موقف کې قرار لري. پردې سربېره، جمهور رئیس اطلاعاتو او معلوماتي سرچینو ته تر ټولو ښه او هر اړخیز لاس رسی لري او د وسله والو ځواکونو سرقوماندان ګڼل کیږي. دا سمه ده چې د قانون جوړونې بهیر کېدای شي ورو او په ټپه و دریږي، خو د بېړني حالت په ترڅ کې د اجرائیه قدرت زیاتېدل هم پداسې حالاتو کې د ځان سره خطر لري.

دا واقعیت چې جمهور رئیس نظامي او اطلاعاتي دستګاه تر خپل کنترول لاندې لري، ددې واقعیت سره چې جمهور رئیس کولای شي پخپل نوښت سره په بیړه عمل وکړي، دا خطر راپیدا کوي چې جمهور رئیس کولای شي د بېړني حالت څخه په استفادې د اساسي قانون خلاف اقدام تر سره کړي. څرنګه چې پدې څپرکي کې مخکې یادونه وشوه، د مصر جمهور رئیس څو ځله له بېړني حالت څخه په استفادې داسې تقنیني فرمانونه صادر کړل چې د قانون جوړونې عادي بهیر له لارې ناممکن وو. په همدې دلیل، اجرائیه قوې ته د مقننه قوې د واک له لېږد نه د مخه، ۱۴۴ مادې پدې بهیر کې د نورو حکومتي لوبغاړو د برخه اخیستنې غوښتونکې ده. ۱۴۴ مادې ته په پام سره، د پارلمان د دواړو جرګو رئیسان او د قاضي القضات (د حکومت د نورو ارکانو رئیسان) له مقننه قوې څخه اجرائیه قوې ته د واک د لېږد نه د مخه باید توافق وکړي او له دوو میاشتو څخه د بېړني حالت د غزولو په هکله باید ملي شورا توافق وکړي.

د یادولو وړ ده، چې ۱۴۴ ماده دا نه وایي چې د بېړني حالت په مهال له مقننه قوې څخه اجرائیه قوې ته کوم واکونه باید و لېږدول شي. د "ځینو واکونو" عبارت په ظاهر کې په بېړني حالت کې له اجرائیه قوې څخه مقننه قوې ته د ټول واک لېږد په برخه کې خنډ ګڼل کیږي. خو دا چې د واک انتقال نا معلوم دې ددی امکان شته چې د بیړني حالت په صورت کې جمهور رئیس زیات مقننه واک په خپل لاس کې واخلي.

**ج. ۱۴۵ ماده**

۱۴۵ ماده د ملي شورا د رئیسانو په تأیید جمهور رئیس ته واک ورکوي چې د اساسي قانون ځینې حکومونه وځنډوي یا یې محدود کړي. تر ټولو مهمه دا چې اساسي قانون هغه حکمونه محدودوي چې ممکن دي اجرائیه قوه یې په بېړني حالت کې وځنډوي (لاندې څلور حکمونه)، پدې معنا چې په بېړني حالت کې نور ټول حکومونه یا مادې له تغیر پرته پخپل حال پاته کیږي:

**د افغانستان اساسي قانون**

**۲۷ ماده، ۲بند**

هيڅوک د قانون له حکمونو پرته تعقيبېدای، نيول کېدای او يا توقيفېدای نشي.

**۳٦ ماده**

د افغانستان اتباع حق لري چې د روا او سوله ايزو غوښتنو د تأمين لپاره له قانون سره سم بې وسلې غونډې وکړي.

**۳۷ماده، ۲بند**

دولت د اشخاصو د مخابرو او ليکونو د پلټنې حق نه لري، مګر د قانون د حکمونو سره سم.

**۳۸ماده، ۱بند**

. . . هېڅوک د دولت په ګډون نشي کولای د استوګن له اجازې يا د واکمنې محکمې له قرار پرته او بې له هغو حالاتو او لارو چې په قانون کې ښوول شوي، د چا کور ته ور ننوزي يا يې وپلټي.

**د مباحثېپوښتنې**

۱. تاسو څه فکر کوی چې د اساسي قانون د مسودې ليکونکو ولې د بيړني حالت په صورت کې د ځانګړي حکمونه د ځنډولو اجازه کړي؟

۲. د " اضطرار"په تعريف کې جګړه او طبيعي آفات هم شامل دي، اما داسي ښکاري چې ددې ځانګړو حکمونو ځنډول د کورني بلوا يا اغتشاش په ګواښ متمرکز دی. دليل يی څه د ی؟

۳. آيا تاسو فکر کوی چې ددې حکمونو ځنډول په بېړني حالت کې ضرور دي؟ آيا تاسو فکر کوی چې کيدای شی لدې ځنډ څخه کوم خطر را پيدا شي؟

٤. ولې جمهور رئيس په بېړني حالت کې د لا زيات واک په لټه کې وي؟

٥. بېړنی حالت څرنګه تعريفوی؟ څنګه پو هيدای شو چی بيړني حالت ختم شوی؟

آن تر دې چې په بېړني حالت کې له ځانګړي واک پرته، ددې حکمونو څخه هر یو په کورنیو محدودیتونو کې راځي:

(۱) ۲۷ ماده، ۲ بند د حکومت له لوري نیولو او توقیفولو ته اجازه ورکوي، اما نیول باید د قانون د حکم سره سم تر سره شي.

(۲) د اساسي قانون ۳۶ ماده د افغانستان وګړو ته حق ورکوی چې د ځانګړو شرایطو په مراعات سره غونډې او مظاهرې وکړي:

الف. دا مظاهرې باید سوله ایزې او بې وسلې وي.

ب. مظاهرې باید د قانون سره سمې تر سره شي. دا پدې معنا دي، چې حکومت په آسانۍ سره کولای شي د قانون جوړوني له لارې د مظاهرو خلاف قوانینو په تصویب سره تر هغه پورې چې دا محدودیتونه د اساسي قانون د نورو حکمونو سره په مخالفت کې رانشي، محدود کړي.

ج. مظاهرې باید یوازې د مشروع غوښتنو لپاره او سوله ایزې وي. لدې امله، د تاوتریخوالي سره مل مظاهرو ته چې نامشروع موخې ولري، اجازه نه ورکول کیږي.

(۳) د ۳۷ مادې ۲ بند یوازې د ناقانونه لارې حکومت د مراسلاتو او مخابراتو له تفتیش څخه منع کوي. که چېرې د قانون جوړوني طبعي بهیر له لارې د مراسلاتو د تفتیش په هکله قوانین تصویب شي، پدې صورت کې دا کار تر ۳۷ مادې لاندې مجاز دی.

(۴) د ۳۸ مادې ۲ بند حکومت د مقننه قوې (د قانون په اساس ) او یا قضائیه قوې (د یو قضایي دستور په اساس) له اجازې پرته، د شخص استوګنځي ته له ننوتلو څخه منع کوي. پردې اساس حکومت په عادي شرایطو کې د تفتیش کولو لپاره قانوني مجراوې په واک کې لري.

ددې حکمونو ترمنځ ګډ عنصر دادی چې په عادي حالاتو کې، اساسي قانون حکومت ته اجازه ورکوي یوازې د مقننه اویا قضائیه قوې په اجازه عمل وکړي. د بېړني حالت د مقرراتو ځنډول اجرائیه قوې ته اجازه ورکوي له خپل واک څخه په ګټه اخیستنې سره د مقننه یا قضائیه قوې له اجازې پرته عمل وکړي. دې ته په پام سره، آیا د بېړني حالت په هکله د حکمونو ځنډول موجه او ضروري دي؟

**د. ۱۴۶ ماده**

۱۴۶ ماده وایي چې اساسي قانون په بېړني حالت کې نه تعدیلیږي. دا مهمه ده ځکه اساسي قانون په هېواد کې تر ټولو لوړ قانون دی، او په بېړني حالت کې عادي مشورتي بهیر ځنډول کیږي چې د پراخو پرګنو د مشارکت غوره متضمن دی. که چېرې جمهور رئیس په یو اړخیز ډول په بېړني حالت کې اساسي قانون تعدیل کړي، طبعي خبره ده چې د هغه واکونه به نامحدود وي.

**ه. ۱۴۷ ماده**

۱۴۷ ماده کې راغلي دي که چېرې پلان شوي انتخابات د بېړني حالت سره سر وخوري، انتخابات ځنډېږي. له يوې خوا، دا منطقي ده ځکه د انتخابتو تر سره کول په بېړنيو حالاتو کې ډېر ستونزمن دي او پداسې وخت کې هېواد يوه تکړه مشر ته اړتيا لري. له بلې خوا، دا ماده په باالقوه توگه جمهور رئيس ته اجازه ورکوي چې بېړنی حالت د انتخاباتو د مخنيوي او د خپل قدرت د ساتلو او پياوړتيا لپاره وکاروی.

ددې انديښنو د ليرې کولو لپاره، ۱۴۷ ماده حکم کوي که چېرې بېړنی حالت له ۴ مياشتو څخه زيات دوام وکړي، لويه جرگه را غوښتل کيږي. سر بېره پردې، ۱۴۷ ماده د بېړني حالت له پای ته رسېدو وروسته د دوو مياشتو په ترڅ کې د انتخاباتو د تر سره کېدو غوښتونکې هم ده. اساسي قانون جمهور رئيس د لويې جرگه په جوړېدو باندې مؤظف گڼي. دلته يوه پوښتنه مطرح کيږي، چې که چېرې جمهور رئيس د انتخاباتو څخه د مخنيوي په موخه بېړنی حالت اعلان يا وغزوي او له ۴ څلورو مياشتو وروسته لويه جرگه را و نه غواړي، پدې صورت کې به د نورو لوبغاړو غبرگون څه وي؟

**و. ۱۴۸ ماده**

۱۴۸ ماده د بېړني حالت د دوامداره غزولو څخه د مخنيوي په هکله صراحت ورکوي: (۱) له مقننه قوې څخه اجرائيه قوې ته د واک لېږد او (۲) د بېړني حالت له پای ته رسېدو وروسته د اساسي قانون د ټاکلو حکمونو د تنفيذ د ځنډ سملاسي ليرې کول.

**ز. د اضطراري يا بېړني حالت پر واک باندې کره کتنه**

د بېړني حالت پر ځانگړي واک باندې اساسي نيوکه داده چې د "عادي" او "بېړني" حالتونو ترمنځ د بېلتون کرښې کښل ناشوني دي. زياتره ملتونه د اوږدو جگړو او کورنيو ناآراميو تجربه لري. که چېرې په يوه داسې هېواد کې چې ۳۰ کلنه جگړه يې ليدلې وي، آيا دا حالت ۳۰ کلن بېړنی حالت دی او يا دا چې په ځينو دورو کې يې "عادي" حالت هم درلود؟ که چېرې يو ملت د ژوندانه عادي حالت ته راگرځي، کوم څېزددې دواړو يعنې عادي او بېړني حالتونو ترمنځ توپير گڼل کيږي؟ دا د هغو هېوادونو لپاره چې د تروريزم گواښ سره مخامخ دي، يوه ستونزه ده. دا هېوادونه بايد په پرله پسې توگه د تروريزم خلاف مبارزه او په قواو باندې دموکراتيکي څارنې اصل تر منځ انډول وساتي.

ځيني هيوادونه ددی لپاره، چې د موجوده گواښونو سره مقابله وکړي تر نا معلومې مودې پوری بېړنی حالت غزوي. د بيلگې په توگه، کله چې په ۱۹۲۸ کال کې په شمالي آيرلېند کې د ځانگړو واکونو قانون

تصویب شو، (هغه هېواد چې له اساسي قانون څخه د راولاړ شوو اوږدو نښتو او د پروتستانت او کاتولیک مذهبي ډلو ترمنځ اختلاف یی تجربه کړی)، دا قانون د ۵ کلونو لپاره په نظر کې نیول شوی وو. خو دا قانون وروسته په یو دایمي قانون باندې بدل شو.[۲۷۰] په ورته ډول، اسرائیل په ۱۹۴۸ کال کې د تأسیس څخه تر اوسه پورې په بېړني حالت کې قرار درلود، که څه هم دا بېړنی حالت په پیل کې د جګړې په وخت کې د یو لنډمهاله اقدام په توګه په نظر کې وو.[۲۷۱] له ۱۹۷۴ کال راوروسته، حکومت د معمول سره سم حکومت د عادي شرایطو لکه پولي مسئلې او کارګري اختلافونو سره د مقابلې په موخه له بېړنیو واکونو څخه ګټه اخیستله.[۲۷۲]

د مصر په پخواني حکومت کې چې تر بېړني حالت لاندې يې قرار درلود، له ۱۹۸۱ کال څخه په ۲۰۱۱ کال د حکومت تر ړنګېدو پورې له تورلګولو پرته اوږد مهاله ګرفتاریو او ناقانونه لټونو ته یې اجازه ورکوله.[۲۷۳] د بېړني حالت د اعلانولو واک ددې اجازه ورکوله تر څو د اخوان المسلمین غړي چې په مصر کې تر ټولو لویه ډله ده په نظامي محکمه کې د نامعلومو تورونو له امله محکوم کړي چې د بشري حقونو د دفاع ډلو په شدت سره ددې اقداماتو مخالفت وکړ.[۲۷٤] څرنګه چې پدې څپرکي کې د مخه وویل شو، کله چې د مصر د اساسي قانون عالي محکمې د بېړني حالت پر مهال د جمهور رئیس له خوا یو شمېر قوانین چې د فرمانونو په ترڅ کې نافذ شوي وو باطل اعلان کړل، پدې کار سره یې له ځانه قضایي خپلواکي و ښودله. مظاهره کوونکي په مصر کې دوامداره بېړنی حالت د ۲۰۱۱ کال د جنوري د وګړنیز انقلاب د اساسي انګېزو څخه ګڼي.

> **بېړني واک په عمل کې**[۲۷٥]
>
> د ولسي جرګې د ۲۰۱۱ کال د اګست ۶ په عمومي غونډه کې ښاغلي سیاوش بکتاش (کابل) ادعا وکړه چې جمهور رئیس کرزی نظر درلود تر څو په افغانستان کې بېړني حالت اعلان کړي. "په وروستیو ورځو کې د جمهور رئیس له خوا په هېواد کې د بېړني حالت له اعلان څخه خبرې کیږي. زه غواړم ښاغلي کرزي ته په ډاګه کړم چې ددې کار لپاره هېڅ دلیل نشته او نوموړی دا کار د ملي شورا له تأیید پرته نشي کولای." ښاغلي سیاوش د خپلو خبرو په دوام د جمهور رئیس د دا ډول څرګندونو خلاف په منځنی ختیځ او شمالي افریقا کې پرګنیز پاڅون ته په اشارې سره خبرداری ورکړه چې دا ډول اقدام به افغانستان په "منځنی ختیځ" باندې واړوي. ښاغلي سیاوش ګواښ وکړ: "که چېرې جمهور رئیس د بېړني حالت موضوع طرح کړي، د نوموړي برخلیک به له ښاغلي مبارک څخه ښه نه وي."

[270] Oren Gross, *Chaos and Rules: Should Responses to Violent Crises Always Be Constitutional?* 112 Yale Law Journal 1011 (2003), *reprinted in* Vicki C. Jackson & Mark Tushnet, Comparative Constitutional Law 877 (2d ed. 2006).
[271] *Id*
[272] *Id at 879*
[273] *Egypt Renews Emergency Law Powers*, BBC Online, May 26, 2008, *available at* http://news. bbc. co. uk/2/hi/7420133. stm.
[274] *Id*
[۲۷٥]. ددې مثال متن له APAP Legislative Newsletter (11 August 2011, Vol. 6, No. 3). څخه اخیستل شوی او وګوری: www. sunyaf. org.

ښاغلي عبد الظاهر قدير هم ورته موضوع ته په اشارې سره وايي: "د بېړني حالت په هکله ګنګوسې شته، اما جمهور رئيس د ملي شورا له تأييد پرته ددې کار واک نه لري." د خپلو خبرو په دوام ښاغلي دير وويل که چېرې جمهور رئيس دې کار ته اقدام وکړي، دا کار به د نوموړي ډېره "بې پروايي" وي.

پدې ترڅ کې، ښاغلي نادر خان کټوازي د ختيځو ولايتونو د پکتيا له ولايت څخه د بېړني حالت موضوع يې "بې وخته" بحث ياد کړ. ښاغلي کټوازي استدلال وکړ: "د بېړنی حالت په هکله خبرې نه د جمهور رئيس او نه هم د هيڅ يوه بل مقام له لوري پېشنهاد او طرح شوې، لدې امله د هغه په هکله بحث بې وخته دی. "نوموړی د خپلو همکارانو سره موافق دی چې د جمهور رئيس له لوري د بېړني حالت اعلانول د ملي شورا تأييد ته ضرورت لري. "موږ ټول پوهېږو چې جمهور رئيس د ملي شورا له تأييد پرته نشي کولای بېړنی حالت اعلان کړي."

## شپږم.په بهرنيو چارو کې اجرايوي او د قانون جوړونې واک

په ډېرو هېوادونو کې د کورنيو چارو په پرتله په بهرنيو او نظامي چارو کې د اجرائيه قوې رئيس د مقننه قوې له رئيس څخه زيات واکونه لري. ډېر اساسي قوانين له هغه جملې د امريکې متحده ايالاتو، فرانسې او افغانستان په اساسي قوانينو کې راغلي دي چې جمهور رئيس د وسله والو ځواکونو اعلی سرقوماندان دی. مختلف اساسي قوانين د جګړې د اعلان او بين المللي تړونونو لاسليک په اړه واکونه د اجرائيه او مقننه قواوو تر منځ په مختلفو طريقو وېشي. د افغانستان اساسي قانون په بهرنيو چارو او نظامي چارو کې واکونه په لاندې ډول وېشي:

**د افغانستان اساسي قانون**

**۶۴ ماده**

۳ ــ د افغانستان د وسله والو ځواکونو ستر مشرتوب،

۴ ــ د ملي شورا په تأييد د جګړې او متارکې اعلان،

۵ ــ د ځمکنی بشپړتيا او د خپلواکی د ساتنې د دفاع په حالت کې د لازم تصميم نيول،

۶ ــ د ملي شوری په تأييد له افغانستان څخه بهر ته د وسله والو ځواکونو د ټولګيو لېږل،

۱۴ ــ په بهرنيو هېوادونو او بين المليو مؤسسو کې د افغانستان د سياسي نماينده ګيو د مشرانو ټاکل،

۱۵- په افغانستان کې د بهرنيو سياسي نماينده ګانو د باورليکونو نل ،

۱۷- د قانون له حکمونو سره سم د دولتونوترمنځ د معاهدو د عقد لپاره د باورليکونو ورکول.

**۷۵ ماده**

حکومت لاندینی وظیفې لري:

۴ ــ د بودجې ترتیبول، د دولت د مالي وضعې تنظیمول او د عامه شتمنۍ ساتل،

**۹۰ماده**

ملي شورا د لاندې واکونه لري:

۳ ــ د دولتي بودجې تصویب او د پور اخیستو یا ورکولو اجازه،

۵ ــ د دولتونو ترمنځ د تړونونو او بین المللي میثاقونو تصدیق او یا له هغو څخه د افغانستان بېلول ،

**۹۱ماده**

ولسي جرگه لاندې ځانگړي واکونه لري:

۲ ــ د پرمختیایي پروگرامونو او دولتي بودجې په باب تصمیم نیول،

۳ ــد دې اساسي قانون له حکمونو سره سم د مقرریو تأیید یا ردول.

**۹۵ماده**

د بودجې او مالي چارو په برخه کې د قانون د طرحې پېشنهاد یوازې د حکومت له خوا کېږي.

**۹۹ماده**

که چېرې د ملي شورا په اجلاس کې کلنۍ بودجه یا پرمختیایي پروگرام یا له عامه امنیت، د هېواد له خپلواکۍ او ځمکنۍ بشپړتیا سره مربوطه موضوع تر خبرو لاندې وي، د شورا د اجلاس موده د هغې تر تصویب مخکې پای ته نشي رسېدلای.

د افغانستان اساسي قانون د جگړې د اعلان او بهرنیو چارو په هکله نژدې ټول واک اجرائیه قوې ته سپاري، خو مقننه قوه پر اجرائیه قوې باندې مهم څارنیز رول لوبوي. له هغو څخه پر اجرائیه قوې باندې د مقننه قوې تر ټولو مهمه نظارتي کړنه، د بودجې تصویبول دي. یو هېواد نشي کولای د بودجې له تمویل پرته جگړه پر مخ بوزي، لدې امله د افغانستان حکومت نشي کولای د ملي شورا له لوري د بودجې له تصویب پرته، وسله وال پوځ ولېږي او یا یې په جگړه کې راښکېل کړي. پداسې حال کې چې ملي شورا باید د حکومت بودجه تأیید کړي، دا اجرائیه قوه ده چې بودجه تیاروي اوپه همدې ترتیب که څه هم مقننه قوه باید هغه تأیید کړي، اجرائیه قوه پر بودجې باندې د پام وړ کنترول لري.

پردې سربېره، پداسې حال کې چې اساسي قانون جمهور رئيس ته د مذاکراتو مخ بېولو او د بين المللي تړونونو د لاس ليک کولو اجازه ورکوي، دا مقننه قوه ده چې د بين المللي تړونونو د تصويب يا تصديق واک لري. کله چې اجرائيه قوه يو بين المللي تړون لاس ليک کوي دا پدې معنا ده، چې اړونده هېواد ديوه لوري په توګه هغه ته ژمن دی. اما يو هېواد تر هغه پورې چې اړونده تړون په رسمي توګه د مقننه قوې له خوا تصويب نشي، د هغه په عملي کولو باندې مکلف نه دی. لدې امله د افغانستان ملي شورادې واک لري اټکل وکړي چې افغانستان د کومو بين المللي تړونونو په اجرا باندې مکلف دی. سربېره پردې، ولسي جرګه د جمهور رئيس له خوا د ګمارنو د تأييد يا رد واک لري.د دېسره بايد ووايو که څه هم جمهور رئيس په بهر کې د افغانستان د سياسی استازو د ټاکلو واک لري، خو ولسي جرګه بايد ددې استازو ټاکل د دندې له پيل د مخه تأييد کړي.

د امريکې په متحده ايالاتو کې هم د جګړې واک په اجرائيه قوه کې متمرکز دی، که څه هم د جمهور رئيس له خوا د بهرنيو اقداماتو له پيل د مخه پدې هکله د سنا مجلس تأييد ضرور دی. د متحده ايالاتو د تړونونو لاسليک افغانستان ته ورته دی. د امريکې متحده ايالاتو په اساسي حقوقو کې جمهور رئيس په بهرنيو او نظامي چارو کې پراخه واکونه لري لکه (۱) په چټکی سره د وسله والو عملياتو سرته رسول، (۲) جمهور رئيس د ملت په استازيتوب د قانوني اختياراتو درلودونکی دی، (۳) جمهور رئيس اطلاعاتو او معلوماتي سرچينو ته تر ټولو ښه لاس رسی لري[۲۷۶] او (۴) وسله وال ځواکونه د جمهور رئيس تر کنترول لاندې قرار لري. . لدې امله د مراتبو او فرمان چلونې مستقيمه اويو شان سلسله شتون لري. د دواړو هېوادونو ترمنځ غوره توپير پدې کې دی چې د متحده ايالاتو اساسي قانون د جګړې واک کانګرس ته ورکوي،[۲۷۷] پداسې حال کې چې د افغانستان اساسي قانون د جګړې واک جمهور رئيس ته ورکړی دی البته يوازې د "ملي شورا په تأييد". آيا د متحده ايالاتو په اساسي حقوقو کې جمهور رئيس ته په بهرنيو او نظامي چارو کې د زيات واک توجېه د افغانستان په هکله هم صدق کوي؟

په بهرنيو او نظامي چارو کې د مقننه قوې واک په هکله به د افغانستان اساسي قانون تر سرليک لاندې په ۳ څپرکي کې زيات معلومات تر لاسه کړي.

### اووم. د قواوو تفکيک په افغانستان کې: موردي مطالعه

لاندې متن په ۲۰۰۷ کال کې د سيېنتا د قضيې[۲۷۸] په هکله د افغانستان د سترې محکمې د پرېکړې انګليسي ژباړه ده چې ددې څپرکي په سريزه کې ورته اشاره شوې. دا موضوع ددې سره ګنډه خوري چې په افغانستان کې د قواوو تفکيک څه ډول دی او د افغانستان د اساسي قانون تفسير واک د چا سره دی.

*<u>د سپنتا قضيې مسلکي رأيه، د افغانستان اسلامي جمهوري ستره محکمه</u>*

[276] Vicki C. Jackson & Mark Tushnet, Comparative Constitutional Law 826 (2d ed. 2006).
[277] U. S. Const. art. I, § 8, cl. 11.
[۲۷۸]. د سپنتا رأيه ، د افغانستان اسلامی جمهوريت ستره محکمه(د ۲۰۰۷ کال د می ۱۳).

*(د ۲۰۰۷ کال د می ۱۳)*

د افغانستان د جمهور رئیس د لارښوونې پر بنسټ په پارلماني چارو کې د دولت وزارت له لوري سترې محکمې ته د ۲۰۰۷کال د می ۱۳ نېټې ۶۲۶ (۹۴۴) ګڼه استول شوی مکتوب د سترې محکمې د عالي شورا له لوري تر غور او څېړنې لاندې ونیول شوه. سترې محکمې دا مکتوب له قانوني لحاظه تر مطالعې، ارزونې او څېړنې لاندې ونیو. په مکتوب کې د حکومت دوو وزیرانو هر یو استاد اکبر د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزیر او داکتر سپنتا د بهرنیو چارو وزیر په هکله د ولسي جرګې له خوا د هغوی د استیضاح په هکله دری پوښتنې دي۲۷۹ چې د ۲۰۰۷ کال د می په۱۰ او ۱۲ نېټه د یاد شوو دوو وزیرانو د نه باور په رایی منجر شو.

د مکتوب د منځپانګې یا محتوا له ارزونې وروسته، دا مکتوب په مشخص ډول د می په ۱۰ نېټه د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزیر خلاف د نه باور رایه نه څېړي. خو ولسي جرګه و نه توانېده چې د بهرنیو چارو له وزیر څخه د نه باور رایې په اړه اکثریت تر لاسه کړي ځکه چې لومړی رای اچونه مبهمه او د اساسي قانون د ۹۲ مادې ۳ بند له مخې بې اعتباره وه. د می په ۱۲ دوهمه رای اچونه د لاندېنیو دلایلو له مخې جمهور رئیس ته شکمنه ښکارېده:

(۱) د ۹۲ مادې په ۳ بند کې راغلي دي: "په وزیر باندې د نه باور رایه باید صریحه، مستقیمه، او پر پخو دلایلو ولاړه وي، دغه رایه د ولسي جرګې د ټولو غړو د رابو په اکثریت صادرېږي." که چېرې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د ولسي جرګې دا توجیه واقعیت ولري چې د بهرنیو چارو وزارت د ایران اسلامي جمهویت له لوري د افغان کډوالو د کډه کولو د مخنیوي لپاره لازم اقدامات تر سره نه کړل،ددې مطلب په نظر کې نیولو سره چې د یوه هېواد[افغانستان] د بهرینوی چارو وزیر تصمیمونه تر کومې اندازې د یو بل هېواد [ایران] پر تګلارې باندې اغېز لرلای شي، آیا د اساسي قانون ۹۲مادې د ۳ بند له مخې دا یو "قانع کوونکی دلیل" کېدای شي؟

(۲)[د اساسي قانون د ۹۲ مادې ۳ بند دا تصریح کوي چې: " . . . دغه رایه د ولسي جرګې د ټولو غړو د رایو په اکثریت صادرېږي. "] په ولسي جرګه د ۵۰ جمع ۱ رایو منل شوي فورمول پر بنسټ باندې [چې اکثریت جوړوي]، ۱۲۴ رایې (۵۰سلنه) د وزیر د ګوښه کولو لپاره د رای اچونې په لومړۍ ورځ وشمېرل شوې. دا چې یوه رایه تر اعتراض لاندې راغله، نو رای اچونه دوهم ځل ته حواله شوه. پداسې مواردو کې، آیا دوهمه رای اچونه مشروع او قانوني ده؟ یا دا چې د خبرو اترو او د ملي شورا د معمولي کړنلارو(چې لومړۍ رای اچونه د اعتبار وړ بولي) پر بنسټ باندې د حل او فصل لاره و لټول شي؟

[۲۷۹]. استیضاح " په یو شمېر تقنینی نهادونو کې د کړندودونو د شتون په معنی دی چه له حکومت مقاماتو څخه غواړي یو اقدام یا عمل یا تګ لاره توضېح کاندي چه کله کله په پارلماني سیستم درلودونکی حکومتونو کې د بی باور رایی اویا د حکومت د تغیر باعث ګرزي."

(۳) د ولسي جرګې يو سل او پنځه نوي غړي د لوم‌ړۍ ورځې په راى اچونه کې حاضر وو. پداسې حال کې د دوهمې راى اچونې په مهال ۲۱۷ غړي حاضر وو. هغه استازي چې په رايګيري کې غيرحاضر وو د استيضاح په غونډه کې د پوښتنو او ځوابونو څخه يې معلومات نه درلود. له قانوني لحاظه آيا د هغوى قضاوت او رايه د محاسبې وړه ده او که نه؟

د ولسمشري دفتر له ستري محکمې و غوښتل تر څو د دې دريو پوښتنو صراحت وکړي.

د افغانستان ستره محکمه د هيواد ديوې خپلواکه قضايي ارګان په توګه پدې باور لري چې د افغانستان ملي شورا د قانون حاکميت، ثبات اودموکراسي ته د افغانستان د وګړو د رسېدو په لاره کې مهم ځاي لري. ملي شورا د خپلو واکونو او اختياراتو په محدوده کې ټينګ ګامونه اخيستي دي او د قانوني کړندودونو له لارې د حکومت دوو نورو ارکانو(اجرائيه او مقننه قواوو) سره همکاري لري، په همغه ډول چې نور دوه ارکان د ملي شورا (مقننه قوه) په پياوړتيا کې ورته رول لوبوي. پدې روحيې سره، د هېواد ستري محکمې دا موضوع قانوني شننې او تحليل او نافذو قوانينو ته په پام سره څېړلې ده.د دېموضوع له څېړنې وروسته، د هېواد محکمه لازم ګڼي تر څو په پارلماني چارو کې د دولت له وزارت او ولسي جرګې څخه لا زيات مواد او معلومات تر لاسه کړي. همداشانې محکمه د بهرنيو چارو له وزارت څخه غواړي تر څو د انساني کرامت د خونديتوب او د ايران له اسلامي جمهوريت څخه د کډوالو اجباري ايستلو په هکله [د افغانستان او ايران تر منځ] ديپلوماتيکو مراسلاتو ښودونکي قانوني سندونه، د محکمې په واک کې ورکړي.

که څه هم موږ له ولسي جرګې څخه د نظر وړ مواد لاس ته نشو راوړي، په پارلماني چارو کې د دولت وزير د ولسي جرګې کړندود او د مې د ۱۰ او ۱۲ نېټو په غونډو کې د ولسي جرګو د حاضرو غړو لېست محکمې ته وړاندې کړ. د ولسي جرګې د کړندود دا سندونه د دوو وزيرانو استاد اکبر او داکتر سپنتا د استيضاح موضوع روښانه کوي. سربېره پردې، د ستري محکمې د غوښتنې پر اساس د بهرنيو چارو وزارت هغې ته داسې سندونه واستول چې د کډوالو پدې مسئله کې د ايران د اسلامي جمهوريت سره د بهرنيو چارو وزارت د پرله پسې اقداماتو او تماسونو ښکارندوى دي. پدې سندونو کې ۴۹ مکتوبونه دي چې پر افغان کډوالو د ايران د مستقيم او غير مستقيم فشار، د کډوالو اجباري ستنېدو د مخنيوي په هکله د څو اړخيزو هوکړو نه مراعاتول او د کډوالو د خپلې خوښې ستنېدو د دورې غزولو ښکارندويي کوي. دا مکتبونه د جرم او ګواښونو، ډله ايزو لانجو او د افغان کډوالوضرب او جرح کولو په هکله د بهرنيو چارو وزارت هڅې په ډاګه کوي. [د بهرنيو چارو وزارت دې مکتوبونو ته په پام سره] افغان لوري د ايران له اسلامي جمهوريت څخه غوښتي دي تر څو د دواړو هېوادونو تر منځ د وروږګلوى او اسلامي اړيکي په نظر کې ونيسي، د دواړو هېوادونو ترمنځ لاسليک شوې هوکړه مراعات کړي او خپل هېواد ته د باعزته ستنېدو د زمينې تر برابرېدو پورې، په ايران کې کډوالو ته د پاتې کېدو او سوله ايز ژوند کولو اجازه ورکړي.

پدې پرېکړه کې، سترې محکمې د اساسي قانون د ۹۲ مادې مطابق له مخې د استیضاح په هکله د ولسي جرګې واک په پام کې نیولی دی. همدا شانې ستره محکمه هغو دریو پوښتنو ځوابولو په لټه کې ده چې د ولسمشرۍ دفتر له خوا د ۹۲ مادې په اړه د نه باور رایې په هکله وړاندې شوې دي. پدې مسئله کې ولسمشرۍ دفتر له سترې محکمې څخه غوښتې دي تر څو د قضاوت، تفسیر او ارزونې په هکله خپله رایه وړاندې کړي.ددې په ځواب کې سترې محکمې لاندې دلایل وړاندې کړ:

د اساسي قانون ۹۲ ماده حکم کوي:

ولسي جرګه د ټولو غړو ۲۰ سلنې په پیشنهاد کولای شي د هر یو وزیر څخه وکړي.

که وړاندې شوې توضیح د قناعت وړ نه وي، ولسي جرګه د نه باور رایې موضوع څېړي.
په وزیر باندې د نه بارو رایه باید صریحه، مستقیمه او او پر پخو دلایلو باندې ولاړه وي، دغه رایه د و لسي جرګې د ټولو غړو د رایو په اکثریت صادرېږي.

ددې مادې تفسیر په لاندې ډول وړاندې کیږي:

(۱) څرنګه چې د ۹۲ مادې متن څرګندوي د استیضاح توجیه باید په بشپړ ډول تجزیه او تحلیل شوې وي. د نه بارو رایې په اړوند ولسي جرګه د یوې ملي محکمې رول لوبوي او د ځینو ټاکلو دندو د نه اجرا له امله د یوه وزیر په هکله د تطبیق وړ ده. د اساسي قانون د ۷۷ مادې له مخې د حکومت وزیران د ولسي جرګې په وړاندې مسؤل دي. که چېرې یو وزیر په ۷۷ ماده کې د راغلو کړنو په هکله د قناعت وړ توضیح وړاندې نشي کړی، وزیر باید پدې ماده کې د راغلو دندو له امله مسؤل و ګڼل شي. پداسې حالت کې ولسي جرګه کېدای شي د وزیر د کار د دوام په هکله پرېکړه و کړي او یا هم د ۹۲ مادې د حکم پر اساس د هغه خلاف د نه باوررایه ورکړي. که چېرې د ولسي جرګې پرېکړه د توضیحاتو د نه قناعت له امله وي او موضوع د نه باور رای اچونې ته حواله شي، د نه باور رایه وروستنۍ پرېکړه ده چې د ملي محکمې له لوري صادرېږي، پدې شرط چې دلایل روښانه او قانع کوونکي وي او په مستقیمه توګه د وزیر د دندو د نه اجرا سره تړلي وي او د وزیر له کنترول څخه سېوا د بل شخص په اختیاراتو او واک باندې ولاړ نه وي. د ۹۲ مادې پر اساس، د ولسي جرګې اکثریت غړي باید د یو وزیر د ګوښه کېدو په منظور د نه بارو په رای اچونه کې ګډون ولري.

څرنګه چې د ولسمشري دفتر په دریو موضوعګانو کې راغلي دي، دا چې د بهرنیو چارو د وزیر استیضاح په ایران کې د کډوالو د بدو شرایطو او د ایران حکومت له لوري ددې کډوالو د اخراج سره تړاو لري، باید اعتراف وشي چې ددې ډول اقداماتو مخنیوی د وزیر د واک او ځانګړو دندو څخه سېوا دي (۷۷ ماده). لدې امله هغه نه یوازې داچې پدې کار کې ملامت نه دی

بلکه دا کار د وزیر د نه باور رایې لپاره سم دلیل نه دي. په مستقیم ډول د ایراني لوري له خوا د افغان کډوالو شړل د وزیر د دندو سره تړاو نه لري او د ایران حکومت د داسي اقدام څخه مخنیوی د وزیر په دندو کې نه راځي. څرنګه چې مخکې یې یادونه وشوه د اساسي قانون د ۷۷ مادې له مخې د بهرنیو چارو د وزیر د دندې د یوې برخې په توګه د کډوالو د اخراج د موضو ع په هکله د دیپلوماتیکو اړیکو تأمینول دي. پدې خاطر د نوموړی ملامتیا د قانونیت له مفهوم څخه سپوا ده.

(۲) د نه باور رای اچونه د ۲۰۰۷ کال د می په ۱۰ نېټه تر سره شوه چې د هغه په ترڅ کې د ولسي جرګې ۱۲۴ غړو د بې باوری رایه ورکړه [په هغه وخت کې د ۲۴۸ غړو ۵۰ سلنه]. یوه اعتراضي رایه د ولسي جرګې د اکثریت استازیتوب نه کوي او دا پخپله مسئله باطلوي ځکه چې د ۲۴۸ نیمایي یعنې ۱۲۴ د ۱۲۴ رایو په وړاندې قرار مومي چې دا اکثریت نه جوړوي او له دې امله رای اچونه باطله شوه. بیا هم دواړو اسلامي او بین المللي حقوقي اصولو ته په پام سره، رای اچونه چې د شمېر له مخې د نوماندانو ترمنځ په برابر ډول وېشل کیږي، اعتبار نه لري. د ملي شورا د دوو تېرو کلونو کړندودونه ددې شاهد دي چې دوهم ځل رای اچونه هغه وخت تر سره شوې چې په لومړی رای اچونه کې رایې په دوو برابرو برخو پای ته رسېدلې او لدې امله بې اعتباره شوې دي. په ملي شورا کې د ۲۰۰۷ کال د می په ۱۲ نېټه رای اچونه ښیي چې ملي شورا لومړی رای اچونه لغو کړې که نه دوهمه رای اچونه نشوای تر سره کېدای.

(۳) دوهمه رای اچونه چې په هغه کې د ولسي جرګې زیات شمېر غړو حضور درلود، هیڅ اساسي بنسټ نه درلود او ناقانونه وه ځکه د می په ۱۰ لومړي رای اچونه د استیضاح د غونډې سره پدې قرار چې د عین فیصله شوې موضوع په هکله دوهمه رای اچونه نه ترسره کیږي، پای ته ورسېده. په دوهمه رای اچونه کې نوي غړي چې د رای اچونې په لومړۍ غونډه کې غیر حاضر وو چې دې موضوع په اړوند د وړاندې شوو دلایلو او نظریو په هکله معلومات نه درلودل. پداسي حال کې چې یو شمېر غړې د اړونده موضوع په هکله ناخبره وي، څرنګه کولای شو د هغو پرېکړه قانوني وګڼو؟

پردې سربېره، د ملي شورا ولسي جرګې د داخلي دندو د قانون ۶۵ مادې وروستنی بند په څرګنده وایي: " د یوې تصویب شوې موضوع د نتیجې له اعلان وروسته، دهغې موضوع په هکله بیا بحث صورت نه مومي. " پدې ترتیب، د ۲۰۰۷ کال د می د ۱۰ رای اچونه چې په ۱۲۴ موافقو او ۱۲۴ مخالفو رایو سره پای ته ورسېده، مسئله د اساسي قانون د ۹۲ مادې سره سم [چې د نه باور رای لپاره اکثریت غواړي] باطلوي. لدې امله د ۲۰۰۷ کال د می په ۱۲ دوهمه رای اچونه اعتبار نه لري. \

(۴)ددې پرېکړې یو بل قانوني دلیل دادی چې دوهمه رای اچونه هم د عین موضوع په هکله تر سره شوه چې د لومړۍ استیضاح په پرېکړه باندې د بیا کتنې اجازه ورکوي. د حقوقي اصولو او قوانینو له مخې د داور هیئت پر پرېکړې باندې بیا کتنه یوازې هغه وخت جواز لري چې د

محکوم علیه په ګټه وي نه د هغه خلاف. لدې امله، د می د ۱۲ نه باور رای اچونه د حقوقي اصولو سره سمون نه لري. پدې توګه د افغانستان ستره محکمه، پداسي حال کې چې د ملي شورا قانوني واک ته فوق العاده درناوی لري، د افغانستان د اساسي قانون د ۲۱۲ مادې سره سم مکلفه ده چې د حکومت د غوښتنې پر اساس خپل بې طرفه قضايي نظر وړاندې کړي.د دې اصل پر بنسټ د سترې محکمې عالي شورا دا توضيحي نظر د اساسي قانون د ۹۲ مادې پر اساس او د می د ۱۰ او ۱۲ نېټو د ولسي جرګې د نه باور رای اچوني غونډو سره په تړاو کې وړاندې کيږي.[۲۸۰] له هغه وروسته چې سترې محکمې دا حکم صادر کړ، ملي شورا پدې هکله د سترې محکمې واک رد کړ.[۲۸۱]

**د بحث پوښتنې**

۱. آیا تاسو د هغه قانوني استدلال سره چې سترې محکمې د سپنتا قضيې په اړه وړاندې کړي، موفق ياستی؟ ولې او نه؟

۲. آیا د سپنتا قضيه سترې محکمې ته په سمه راجع شوې ده؟

۳. آیا تاسو فکر کی چې د سپنتا موضوع په هکله پرېکړه د رسمي يا سياسي کتنو له مخې شوې؟

٤. د سترې محکمې پرېکړه پر کوم قانوني بنسټ باندې ولاړه ده ؟

۵. تاسو د سپنتا قضيې او په متحده ايالاتو کې ماربوری د مديسون په وړاندې ترمنځ څه ورته والی وينی؟

دا پرېکړه د قواوو تفکِک او اساسي قانون د تفسير اړوند ډېرو مسئلو سره تړاو لري. لدې مسئلو څخه ځيني به په خپل وار سره تر غور او څېړنې لاندې ونيول شي.

**الف. ۱۲۱ ماده: څوک د اساسي قانون د تفسير واک لري؟**

د سپنتا په هکله يو مهم واقعيت دادی چې د موضوع په هکله د سترې محکمې د پرېکړه کولو واک د حکومت د غوښتنې له مخې عملي شو.ددې موضوع په هکله په اساسي قانون کې داسې راغلي دي:

**د افغانستان اساسي قانون**

[۲۸۰]. ددې څرګندونو په مهال، د سترې محکمې غړی عبارت وو له : قاضی القضات عبدالسلام عظیمي، قاضي غلام نبي نوايي، قاضي ضامن علي بهسودي، قاضي محمد عمر ببرکزی، قاضي مولوي محمد قاسم، قاضي عبدالرشيد راشد، قاضي عبدا لحليم نسيمي او قاضي بهاوالدين بها.

[281] J. Alexander Thier, U. S. Inst. of Peace, The Status of Constitutional Interpretation in Afghanistan 1.

**۱۲۱ ماده**

د اساسي قانون سره د قوانینو، تقنیني فرمانونو، بین الدول معاهدو او بین المللي میثاقونو د مطابقت څېړل، د حکومت یا محکمو په غوښتنه او د هغو تفسیر د قانون له حکمونو سره سم د سترې محکمې صلاحیت دی.

ددې مادې پر بنسټ باندې ستره محکمه یوازې د حکومت په غوښتنه د اساسي قانون تفسیر سرته رسوي. سره ددې باید وویل شي چې مقننه قوه حق نه لري له سترې محکمې څخه دا وغواړي چې قوانین وڅېړي. د سترې محکمې دا جوړښت، آیا ستره محکمه دی ننګونې سره نه مخامخ کوي، چې په حساسو سیاسي قضایاوو کی خپله بې طرفي نشي ساتلای؟. آیا دا دې داسې وضعیت د رامنځ ته کېدو باعث نه ګرزي چې ستره محکمه به یوازې هغه قضایا اوري چې حکومتي ارګانونه یوازې هغه وخت خپل موارد سترې محکمې ته وړاندې کوي چې له خپل بریالیتوب څخه ډادمن اوسی.؟

د سپنتا قضیې په هکله د مثال په توګه یو فرد کولای شي استدلال وکړي تر څو چې حکومت په منطقي ډول د ځان په ګټه د پرېکړې څخه ډاډمن نه شي، له سترې محکمې څخه د پریکړې غوښتنه و نه کړي. همدارنګه کېدای شي استدلال وشي له هغه وروسته چې حکومت سترې محکمې ته یوه دوسیه راجع کړي، د محکمې څخه دا تمه کیږي چې د حکومت په ګټه پرېکړه وکړي. آیا تاسو فکر کوی چې د سپنتا د قضیې په اړوند پرېکړه پر حقوقي اصولو باندې ولاړه ده یا د قدرت د ارګانو په نازکو سیاسي تعاملاتو باندې ؟

له بلې خوا، کیدای شي ځیني کسان استدلال وکړي چې ددی لپاره چې دولتي چارې په ښه توګه پر مخ ولاړ شي نو مهمه ده چې مربوطه ارګانونه (اجرائیه قوه او قضایه قوه) لانجمن موضوعات او قوانین سترې محکمې ته راجع کړي تر څو د اعتبار د څرنګوالي په هکله یې پریکړه ونیول شي. په همدې توګه کیدای شي استدلال وکړو، چې مقننه قوې ته د قوانینو د څیرنې د واک تعویض کول بې معنا ده ځکه مقننه قوه په خپله د قوانینو جوړونکې دی.[۲۸۲] پردې سربېره، کېدای شي استدلال وکړو له هغه وروسته چې په افغانستان کې ټیټې محکمې پراخه او بنسټیزه شي، هغوی به پدې وتوانیږي چې له سترې محکمې څخه د خپلو پرېکړو د څېړنې غوښتنه وکړي چې دا کار به په ټول هېواد کې د قضایي حکمونو ټیکاو ته د رسېدو مهمه لاره وي.[۲۸۳]

[۲۸۲]. پدې استدلاې کې سمون نشته، ځکه ۱۲۱ ماده هم اجرائیه قوې ته واک ورکوي له سترې محکمې د تړونونو او بین المللی میثاقونو د ارزونې غوښتنه وکړي. قضائیه قوه د معمول سره سم د تړونونو او میثاقونو د تیارولو مسؤلیت په غاړه لري. په همدې ترتیب، امکان لري چه له مقننې قوې څخه د پام وړ اقلیت د اساسي قانون د حکم مطابق د قوانینو تغییر وغواړی.

[۲۸۳]. ددې استدلال مخالف ټکی دادی چه لاندینی محکمې قضیی تر هغه پورې سترې محکمې ته نه استوي چه د سترې محکمې له لوري د هغو د تأیید اطمینان تر لاسه نه کړي ځکه هغوی نه غواړي چه قضیی یی مستردې شي.

په ورته وخت کې بیا نور کېدای شي داسې استدلال وکړي چې په مقننه قوه کې د یو ټاکلي قانون مخالف اقلیت غړي باید سترې محکمې ته د موضوع ارجاع کولو وړتیا ولري. دا په مقننه قوه کې د اقلیت د استازیتوب سره مرسته کولای شي.

ځیني کېدای شي بیا ددې استدلال هم وکړي چې دا موضوع بې ربطه ده ځکه وروسته له هغه چې سترې محکمې د سپنتا د قضیې په هکله خپله پرېکړه صادره کړه، مقننه قوې بیا هغه رد کړه. که چېرې د محکمې حکمونه د منلو او پلې کېدو وړ ونه ګرځي نو د هغو اغېزمنتوب به څه وي؟ ځیني کسان کېدای شي ووایي چې ستره محکمه د اساسي قانون له نظره د قوانینو د څېړنې لپاره مناسب ارګان نه دی ځکه په ۲۰۰۸ کال کې د افغانستان حکومت یو قانون تصویب کړ چې د هغه پر بنسټ او د اساسي قانون د ۱۵۷ مادې د حکم سره سم باید د اساسي قانون پر تطبیق باندې د څارنې کمیسیون جوړ شوی وای. د ډېرو له نظره دا کمیسیون به قوانینو په تفسیر کې د سترې محکمې په پرتله د روښانه او څرګند واک درلودونکی دی. تاسو به ددې کمیسیون په هکله په ۶ څپرکي کې چې قضائیه قوې ته بېل شوی، نور معلومات تر لاسه کړی.

### ب. د "قناعت وړ دلیل" څه ته وايي؟

لومړی مسئله چې ستره محکمه باید هغه ته رسیدګي وکړي دا چې د ۹۲ مادې سره سم، " قناعت وړ دلیل" څه ته وايي؟ ددې ټاکل چې د اساسي قانون په چوکاټ کې یوه ټاکلې کلمه څه معنا لري او په یوه خاص مورد کې څرنګه کارول کیږي، د تفسیر یو معمول ډول دی. محکمه تصریح کوي چې د نه باور رایه باید " صریحه، د قناعت وړ او په مستقیم ډول د وزیر لپاره د ټاکل شوو دندو د نه اجرا سره تړاو ولري نه د شخص د اقداماتو او یا بل مقام چې وزیر پر هغه باندې هېڅ ډول کنترول نه لري. " پدې وړاندې شوي نظر کې معلومه نه ده چې سترې محکمې د کوم قانوني واک پر بنسټ باندې نتیجه ګیري کړې چې د "قناعت وړ دلیل" لزوماً په مستقیم ډول د وزیر په دندو کې شامل دی. ستاسو په نظر سترې محکمې د کومو قانوني اختیاراتو پر بنسټ باندې دا پرېکړه کړې ده؟ آیا تاسو فکر کوی چې لدې استدلال څخه ګټه پورته کول د توجیه وړ دی؟

د اساسي قانون د تفسیر یوه طریقه د خاص تفسیر طریقه ده، چې څنګه کیدای شي د موضوع اړوند په راتلونکي کې د قضایاوو لپاره و کارول شي. آیا دا معیار چې د نه باور رایه باید " صریحه، د قناعت وړ او په مستقیم ډول د وزیر لپاره د ټاکل شوو دندو د نه اجرا سره تړاو ولري نه د شخص د اقداماتو او یا بل مقام چې وزیر پر هغه باندې هېڅ ډول کنترول نه لري" په راتلونکي کې د نه باور رایې ارزونې لپاره ښه معیار دی؟ ددې پوښتنې وړاندې کول چې آیا د یو وزیر د نه باور رایې په اړه ولسي جرګې په سمه عمل کړی، دا پوښتنه به مناسبه وي چې آیا وړاندې شوي دلایل د وزیر د دندو سره تړاو لری او که نه؟

کیداې شي داسې استدلال هم وشي، چې د (قناعت وړ دلیل) تشخیصول د مقننه قوې داخلي چاره ده او محکمې ته باید اجازه ور نه کړل شي چې په دی هکله خپله وړاندوینه وکړي. ډېر شمیر هیوادونه د ټاکلو

سیاسي پرېکړو څخه د ملاتړ په موخه حقوقي دکترین لري. دا حقوقي دکترین دي چې د قضایي څیړنې لپاره د حکومت له لوري رامنځ ته کیږي. آیا تاسو فکر کوی چې د مقننه قوې د پرېکړو له څیړنې څخه د قضائیه قوې د امتناع لپاره ملاتړ وجود لري؟

## ج. اکثریت څه ته وایي؟

ستره محکمه همداشانې خپلې نتیجه ګیری ته ادامه ورکوي، دا چې د نه باور په رایه کې هېڅکله معتبر اکثریت نه دی تر لاس شوی، رایه د اعتبار وړ وه. دا موضوع دا پوښتنه رامنځ ته کوي چې د سپنتا قضیې په شان په یوه پیچلې موضوع کې اکثریت څه ډول معلومېږي. په ۹۲ ماده کې لولو: "رایه د ولسي جرګې د ټولو غړو د رایو په اکثریت صادرېږي." لومړی، پدې باندې پوهېل پکار دي چې د ۹۲ مادی په اساس د جرګې د ټولو غړو د جملې څخه اکثریت غړي په غونډه کی حاضر وي، د حکم مطلب دا نه دی چې یوازې د حاضرو غړو اکثریت دې باید په غونډه کې د یو موضوع په هکله پریکړه وکړي. دا پدې معنا ده که چېرې په غونډه کې د ټولو غړو له ۵۰ سلنې څخه لږ غړي حاضر وي، هېڅ قانون نشي تصویبېدلای.

د اکثریت د معلومولو لپاره په واقعیت کې هماغه ۵۰ جمع ۱ دي. اما پدې ځای کې محکمه د رایو د برابرۍ سره مخامخ ده چې ورپسی رای اچونه باید په اکثریت سره پای ته ورسېږي. اساسي قانون د رایو د برابري په صورت کې هېڅ وضاحت نه لري. کله چې یو اساسي قانون ددې موضوع په شان په یوه ځانګړي یا خاص مورد کې لاربښوونه ونه لري، تفسیر کوونکې محکمه ددې تشې د ډکولو لپاره باید نورو قانوني مراجعو ته مخه کړي. پدې قضیه کې، محکمه دې نتیجې ته رسېدلې "د دواړو اسلامي او بین المللی حقوقي اصولو په نظر کې نیولو سره، هغه رای اچونه چې په برابر ډول سره پای ته رسېږي، د اعتبار وړ نه ده." محکمه وړاندې ځي چې د ملي شورا په تاریخچه کې د رایو د برابری په صورت کې دوهم ځل رای اچونې ځای درلود، اما د ملي شورا د کورنیو دندو اصولو دوهمه رای اچونه منع کړی ده. د بین المللي حقوقو نورمونو ته په پام سره، ځایي مقررات او رویه په اساسي قانون کې د راپیدا شوي درځ د ډکولو لپاره یوه عامه او منل شوې طریقه ګڼل کیږي.

لدې وروسته محکمه پدې اعلان سره چې لومړۍ رای اچونه مساوي پای ته رسېدلې او اکثریت غړو د بهرنیو چارو وزیر ته د نه باور رایه ور نه کړه، رای اچونه بې اعتباره ګڼي. د اساسي قانون متن ته په پام سره چې "رایه د ولسی جرګې د ټولو غړو د رایو په اکثریت صادرېږي." یو معقول او د منلو وړ تفسیر ګڼل کیږي. آیا تاسو ددې نتیجه ګېرې سره موافق یاستی؟ که چېرې دو لسي جرګې د نه باور رایه اچونه په برابر ډول پای ته رسېږي، آیا دوهمه رای اچونه باید تر سره شي؟ یا داچې راتلونکې رای اچونه د تساوي د ماتېدو لپاره لازمه ده؟

## د. آیا دوهمه رای اچونه د اعتبار وړ وه؟

له هغه وروسته ستره محکمه داسې نتیجه ګیري کوي چې دوهمه رای اچونه په خپلواکه توګه بې اعتباره وه ځکه چې د ولسي جرګې ځینې غړي چې په دوهمه رای اچونه کې رایه ورکړه، په لومړۍ رای اچونه کې نه وو. محکمه دا استدلال کوي چې دا کار دوهمه رای اچونه ناقانونه کوي. پدې دلیل چې د رای ورکوونکو یو شمیر غړي د رای اچونې له څرنګوالي څخه سم خبر نه وو. محکمه د کوم واک پر بنیاد باندې خپل نظر وړاندې کوي؟ ۹۲ ماده یوازې دا وایي چې "رایه د ولسي جرګې د ټولو غړو د رایو په اکثریت صادرېږي." پدې ماده کې د یو وزیر د نه باور رایې ورکونې د مخه، د رای ورکوونکو د پوهاوي په هکله څه نه دي ویل شوي. آیا په یاد شوې غونډه کې د سترې محکمې له لوري د رای اچونې د بې اعتباري په هکله د ځینو وکیلانو غیابت د یو د لیل په توګه معقول دی؟ آیا دا پرېکړه سمه وه؟

### ه.یوه سیاسي پرېکړه؟

دا قضیه په افغانستان کې د قواوو د تفکیک په هکله موږ ته څه وایي؟ او دا قضیه په افغانستان کې د درې ګونو قواوو د اړیکو په هکله موږ ته څه وایي؟ د سپنتا په قضیه باندې پدې سبب نیوکه وشوه چې جمهور رئیس کرزي د ملي شورا سره په رقابت کې له هغې څخه خپلې موخې ته د رسېدو لپاره د یوې وسیلې په توګه کار واخیست. آیا تاسوددې نیوکې سره موافق او که مخالف یاستی؟ ولې؟

| د مباحثې پوښتنې |
|---|
| ۱.ددې څپرکي او د سپنتا د قضیې له لوستلو وروسته، آیا فکر کوی چې په افغانستان کې درې واړه قواوې یو له بل سره مساوي واک لرونکې دي؟ |
| ۲. د سپنتا د قضیې په اساس، آیا فکر کوی چې درې واړه قواوې خپل هغه قدرت او واک چې اساسي قانون ورته ورکړی، په عمل کی پیاده کولای شي؟ |
| ۳. آیا په داسی نورو موادو هم پوهیږي چې جمهور رئیس د سترې محکمی څخه د پریکړی غوښتنه کړی وي؟ پایله یی څه وه؟ |

### اتم. نتیجه : په افغانستان کې د قواوو د تفکیک راتلونکې

د قواوو د تفکیک یوه د ډېرو لویو ننګونو څخه چې افغانستان به په راتلونکې کې د هغو سره مخامخ وي، د قواوو د حقوقي تفکیک (په اساسي قانون کې د هغه د تسجیل څرنګوالي) او د قواوو د عیني یا واقعي تفکیک (په عمل کې د هغه پلي کول) دي.[۲۸۴] اساسي قانون ډېر واکونه مقننه او قضائیه قواوو ته ورکړی

---

[۲۸۴]. له پروفیسور محمد اسحق زاده څخه ددې برخې لپاره د راټول شوو معلوماتو په خاطر ځانګړې مننه کوو.

دی تر څو د هغو څخه په استفادې د اجرائیه قوې پر کړنو باندې څارنه وکړي. اما په واقعیت کې، مقننه اوقضائیه قواووې ددې واکونو په پلي کېدو قادر نه دي.

لومړی، قضائیه قوه به و نه کړا شي چې په خپلواک ډول پر اجرائیه قوې باندې څارنه وکړي ځکه چې د ټیټو محکمو د قاضیانو ټاکل او ګوښه کول په یو اړخیز ډول د ولسمشري مقام له لوري تأییدېږي او د پارلمان یا ملي شورا تصویب ته اړتیا نه لري.[285] سربېره پردې، قضائیه قوه د خپلي بودجې په برابرولو او اجرا کې په اجرائیه قوې پورې تړلې ده چې دهغه څخه په ګټه اخیستنې سره همېش تر فشار لاندې وي.[286]

دوهم، د ملي شورا د اداري کمزوري د اجرائیه قوې د کړنو څخه د هغه څارنیز رول کمزوری کړی. دا بنستیزه کمزوري د ملي شورا د غړو له تیت او پرک کېدو او سیاسي ګوندونو له نشتوالي څخه منځ ته راغلي چې د پرېکړو کولو بهیر یی ورو او بې اغېزې کړی دی. د ولسي جرګې د دا ډول نیمګړتیاوو څخه یوه هم د ۸۹ مادې مطابق د "حکومت د کړنو د څېړنې او کتنې د ځانګړي کمیسیون" نه ابجادول دي. پدې مثال کې که چېرې ولسي جرګه د حکومت پر کړنو باندې د څارنې حقوقي واک هم ولري، د هغه تشکیلاتي کمزورتیا د واک د پلی کېدو او په نتیجه کې پر مقننه قوه باندې د هغه د څارنیز واک د عملی کېدو مخنیوی کوي.

دریم، افغانستان په ولسمشري مقام کې د قدرت په تمرکز سره، د یو ډېر متمرکز حکومتي سیستم درلودونکی دی. په ځانګړې توګه، جمهور رئیس په فرعی ملي ادارو لکه ولایت، ولسوالي او پولیس د چارواکو په ټاکلو کې پراخ واک لري، دا واکونه د ملي شورا د غړو او جمهور رئیس ترمنځ ناندری زیاتوي او د هغه په پایله کې پر اجرائیه قوه باندې د مقننه قوې څارنه ستونزمنه کوي.[287]

راتلونکې به وښیي چې افغانستان به څرنګه پدې وتوانېږي ترڅو د قواوو د تفکیک تر منځ واټن په نظر او عمل کې له منځه یوسي.

---

[285]. وګورئ:

Ranier Grote, *Separation of Powers in the New Afghan Constitution*, 64 ZaöRV 897 (2004).

[286]. وګورئ:

Lorenzo Delesgues& Yama Torabi, Integrity Watch Afghanistan, *Reconstructing National Integrity System Survey* (2007).

[287]. وګورئ:

Anne Evans, Nick Manning, YasinOsmani, Anne Tully & Andrew Wilder, Afghanistan Research and Evaluation Unit & The World Bank, *A Guide to Government in Afghanistan* (2004).

# دريم څپرکی: اجرائیه قوه

## لومړی. سريزه

په ۲۰۰۳ کال کې د اساسي قانون د لويې جرګې جوړيدو لپاره د مشورو پرمهال جمهور رئیس کرزي وويل: "په کومو هيوادونو کې چې پياوړي بنسټونه شتون ونه لري، په کوموهيوادونو کې چې د بحران نښې نښانې پاتې وي، موږ هلته يو مرکزي سيستم ته اړتيا لرو نه د واک څو مرکزونو ته. "سره ددی چې اساسي قانون د حکومت نورو ارګانونو ته واک ورکوي او د افرادو د حقونو په اړه احکام لري خو د ثابت فشار په توګه په ښکاره ډول په پياوړی مرکزي واک تمرکز کوي. پدې توګه د دولت د اداره کولو لپاره جمهور رئیس پراخه واکونه تر لاسه کوي.

په دې څپرکی کې به موږ د اساسي قانون په چوکاټ کې د جمهور رئیس پراخه واکونه او په حکومت کې د واک دمرکزي کولو زيانونه او ګټې وڅيړو. موږ يې له هغه رسمي جوړښت نه، چې د اساسي قانون له مخې منځ ته راغلی پيل کوو. موږ به د ولسمشريزو ټاکنو، ګټې، د خدمت موده، وړتياوې، ولسمشرۍ ته رسيدل او سلسله مراتب وڅيړو وروسته بيا د جمهور رئیس واکونه او مسؤليتونه، د دولت د رئیس او د حکومت د رئیس په توګه د هغه ددوه ګونی رول په نظر کی نيولو سره د مختلفو وزارتخانو دندی تر څيړنی لاندی نيسو. موږ به داوسني اساسي قانون دڅيړلو په ترڅ کې د افغانستان د۱۹۶۴ کال داساسي قانون ځينې برخې د افغانستان له اوسني سيستم سره پرتله کړو. په څلورم څپرکی کې، د حکومت او ادارې په برخه کې، د حکومت جوړښت ته د کتنې پرمهال به وګورو، چې اساسي قانون موږ ته د جمهور رئیس د اداري بنسټونو اود حکومت د وزارتونو په اړه څه وايي.

<table>
<tr><td>

**د مباحثې پوښتنې**

۱. آيا تاسې د جمهور رئیس له پورتنۍ وينا سره موافق یاستی؟

۲. که د يو هيواد په اساسي قانون کې يو سيستم ته دومره درناوی شوی وي، دهغې بدلون به څومره ستونزمن وي؟

۳. آيا جمهور رئیس کرزی لنډمهالي ثبات ته دزياتي پاملرنې له امله په اوږدمهال کې د ولسي حکومت د رامنځ ته کولوامکان نه محدودوي؟ او يا داچې آيا دا په يو هيواد کې چې د باثباته حکومت جوړولو لپاره هڅې کوي، يو قرباني ګڼل کيدای شي؟

</td></tr>
</table>

## دوهم. رسمي جوړښت

**الف. اجرائیه قوی ته لنډه کتنه**

د۲۰۰۴ کال د اساسي قانون له ۱۶۲ مادو څخه یوازی ۱۱ مادی په دریم څپرکی کې دجمهور رئیس د دندو او واکونو د پیژندنې په اړه دی. همدارنګه پدې مادو کې د حکومت له نورو برخو سره او په وزارتونو کې له حکومتي چاروکو سره د جمهور رئیس د اړیکوپه اړه بحث شوی. موږ باید لومړی د اساسي قانون متن ته وګورو.

**د افغانستان اساسي قانون**

۶۰ ماده: جمهور رئیس د افغانستان داسلامي جمهوري دولت په سر کې دی چې خپل واکونه په اجرائیه، مقننه او قضائیه برخو کې ددې اساسي قانون له حکمونو سره سم عملي کوي.

پدې لنډه لیکنه کې زیات شمیر مهم مسایل ځای پرځای شوي دي. په عمومي توګه دا په دې معنی دهچې اساسي قانون د دولت په دری واړو قواوو کې جمهور رئیس ته ځانګړي واکونه ورکړي. په اجرایوي برخه کې جمهور رئیس وسله وال ځواکونه رهبري کوي(۶۴ماده، ۶-۳)، بیړنی حالت اعلانوي(۶۴ ماده، (۸))، وزیران او نورحکومتي چارواکي ټاکي او څاري یې(۶۴ماده، (۱۱))، کمیسیونونه جوړوي (۶۴ماده، (۲۰)) او بهرنیو ملکونو ته هیواد ورپیژني یا استازیتوب کوي(۶۴ ماده(۱۴، ۱۵، ۱۷)). په تقنیني برخه کې جمهور رئیس له ملي شورا سره په ګډه ملي تګلاره جوړوي(۶۴ ماده(۲))، قوانین تصویب او ردوي(۶۴ ماده(۱۶)، ۷۹ماده)، د رخصتیو پرمهال د ملي شورا فوق العاده غونډې راغوښتلای شي(۱۰۷ ماده) اود مشرانو جرګې یو په دریمه برخه غړي ټاکي(۸۴ ماده). په قضائیه برخه کې جمهور رئیس د سترې محکمې غړي او ټیټ پوړي قاضیان ټاکي(۱۳۲ ماده) او د اعدام د جزا احکام تصویبوي(۱۲۹ماده).

د۶۰ مادې په اړه بل مهم ټکی چې باید یادونه یې وشي دادی چې دامادہ په ښکاره توګه د جمهور رئیس واک محدودوي.د دې مادې له مخې جمهور رئیس یوازې داساسي قانون د حکمونو په چوکاټ کې له خپلو یادو واکونو ګټه پورته کولای شي. آن که جمهور رئیس په ښکاره توګه د اساسي قانون له مخې کوم عمل سرته رسوي نوباید هغه د اساسي قانون کومې بلې مادې سره ټکر ونه لري او نه هم باید د کومې مادې د نقض کولوسبب شي.د بیلګې په توګه د اساسي قانون ۶۴ مادې لسمې فقرې له مخې جمهور رئیس د دې واک لري او دایي دنده هم چېد حکومت وزیران وټاکي.د اساسي قانون ۷۲ مادې د وزیرمشخصات ټاکلي او جمهور رئیس باید هغه په پام کې ونیسي. جمهور رئیس باید داسې یوڅوک چې عمر یې له ۳۵ کلونو څخه کم وي، یا بشریت په ضد جرایمو مرتکب شوی وي اویا هم له مدني حقوقو نه بې برخې شوی وی د وزیرپه توګه ونه ټاکي. پدې توګه باید جمهور رئیس د اساسي قانون اطاعت وکړي. موږ به دا مسایل لازیات وڅیړو، خو اوس غواړو په دې پوه شو، چې د یواسلامي جمهوریت د ریاست مشرتوب څه معنی لري؟

**د مباحثې پوښتنې**

۱. د دولت رئیس باید په اجرائیوي، قانون جوړونی اوقضایي برخوکې کوم واکونه ولري؟

۲. په درې واړو برخوکي د دولت رئیس ته د پراخه واکونه ورکول کوم خطرونه له ځانه سره لرلای شي؟

۳. که د اساسي قانون جوړوونکي په اجرائیه قوه کې د واک د تمرکز په اړه اندیښمن وو، نو په اساسي قانون کې د دی کار د مخنیوي لپاره یې باید څه کړي وای؟

### ب.جمهور رئیس او د جمهور رئیس مرستیالان

د اساسي قانون ددریم څپرکی لومړی ماده (۶۰ مه ماده) د اجرائیه قوې اساسي جوړښت ټاکي. یو جمهور رئیس او دوه د جمهور رئیس مرستیالان(لومړی مرستیال او دویم مرستیال). کیدای شي تاسي پوښتنه وکړی، چې ولې د یو مرستیال پرځای د دوو مرستیالانو غوښتنه شوې ده ؟ ځینې مفسرین پدې باوردې چې د دې ځانګړی ترکیب موخه په لوړه ک په دولتي واک کې د مختلفو قومونو د شتون هڅول دي. پهدې توګه باید یاد پوستونه دقومي اقلیتونو له لوري ډک شي.[288] د دې ترڅنګ کله چې د سیاسي مشرانو په وړاندې تاوتریخوالی او په تاو تریخوالي باندی ګواښول ډیر وي نوپه دې صورت کې منطقي ده، چې د حکومت د دوام لپاره اضافي احتیاطي تدابیر په پام کې ونیول شي. د۶۰ مادې له مخې د جمهور رئیس د غیرحاضرۍ، استعفی او مړینې په صورت کې به لومړی مرستیال د جمهور رئیس ځای نیسي او د لومړي مرستیال د غیابت په صورت کې دوهم مرستیال ځای ناستی ټاکل کیږي.[289] همدارنګه د دې مادې له مخې د ولسمشرۍ نوماندان باید د خپلو دوو مرستیالانو نومونه اعلان کړي، څو ترانتخاباتو وړاندې عام وګړي د پوره ټیم په اړه معلومات ترلاسه کړي.

د اساسي قانون له مخې د افغان جمهور رئیس د مرستیالانو رول یوازې او یوازې په اجرائیه قوې(حکومت) پورې تړلی ګڼل شوی. په اصل کی پرته له هغه حالت څخه چې مرستیال جمهور رئیس د جمهور رئیس ځای ناستی شي، نور نو په اساسي قانون کی د مرستیالانو رول په دقیق ډول په ډاګه کړی نه دی. په هرصورت زیاترو هیوادونو کی د جمهور رئیس د مرستیال رول یوازې او یوازې په اجرائیه قوې پورې ځانګړی کیږي خو ټول دولتونه لدې اصل څخه پیروي نه کاندي. د بیلګې په توګه د امریکا د متحدو ایالتونو د اساسي قانون د لومړۍ مادې دریمه برخه وایي چې"د امریکا د جمهور رئیس مرستیال به د سنا مشرهم وي، مګر د رایي حق به نه لري له هغه حالت پرته چې رایی په مساوي توګه وویشل

[288] Rainer Grote, *Separation of Powers in the New Afghan Constitution*, 64 Heidelberg Journal of International Law 897, 915 (2004).

[289] . داسې استدلال کیږي چه د ولسمشری د دوهم مرستیال د پست په هکله پریکړه د کرزی او د قدرت د پیاوړو دلالانو کار وو چه د ریاستی سیستم د ملاتړ په موخه آن د جرګې له پرانیستل کېدو د مخه نیول شوی وه: International Crisis Group, *Afghanistan: The Constitutional Loya Jirga*, 3 (12 December 2003), http://www.crisisgroup.org/~/media/Files/asia/south-asia/afghanistan/B029%20Afghanistan%20The%20Constitutional%20Loya%20Jirga.pdf.

شي. سنا د مرستیال جمهور رئیس د نه شتون اویا د جمهور رئیس په توګه دهغه د دندې ترسره کولو پرمهال کولای شي خپل نور غړي لندمهاله مشر وټاکي. د امریکا د اساسي قانون له مخې مرستیال ولسمشرد اجرائیه او مقننه قواو غړی دی. لکه څنګه چې تاسې په دوهم څپرکی کی (د قواوو تفکیک) په برخه کې ولوستل، کیدای شي ځیني خلک داسې استدلال وکړي چې دا کارخو د قواو د تفکیک دکتورین تر پښولاندې کوي. دامسله د امریکا په متحدو ایالتونو کې جنجالي مسله ده، همدانګه دمرستیال جمهور رئیس نوی تقنیني رول په عمومي توګه کم دی. دا رول تر ډیره تشریفاتي دی نه حقیقي.[290]

## ج.ځای ناستی

اساسي قانون په ښکاره ډول د جمهور رئیس د کمزوری په صورت کې په حکومتي برخه کې د جمهور رئیس د واکونو دلیږد لپاره میکانیزمونه په پام کې نیولي دي. دا میکانیزمونه د اساسي قانون په ۶۰ مه ماده کې ذکرشوي دي.

| **د افغانستان اساسي قانون** |
| --- |
| **۶۰ ماده** |
| د جمهوررئیس لومړی مرستیال د جمهور رئیس د غیابت، استعفا اویا مړینې په حالاتو کې ددې اساسي قانون له مندرجوحکمونو سره سم کارکوي. |
| د جمهوررئیس د لومړي مرستیال په غیاب کې، دویم مرستیال د اساسي قانون له مندرجوحکمونو سره سم کارکوي. |

داماده که څه هم داجرائیوي واک د لیږد شرایط په ډاګه کوي(دجمهور رئیس نه شتون، استعفا او مړینه)، خو بیا هم په یوازې ډول نیمګړې کنټل کیږي. دا ماده د اساسي قانون له مخې دواک لیږد په ډاګه کوي( د جمهور رئیس لومړی مرستیال او بیا دویم مرستیال). دا ماده د ښکاره لاربښونوپرځای پر یوې عمومي وینا پای ته رسیږي. په حقیقت کی دا ماده د واک د لیږد بنسټ جوړوي. موږ باید په قانوني توګه د واک د لیږد لپاره د بشپړجوړښت په اړه نورو مادو ته هم وګورو.

۶۷ او ۶۸ مادی د۶۰ مادې څخه سرچینه اخیستی ده. د۶۰ مادې له مخې باید د جمهور رئیس لومړی مرستیال د اساسي قانون د حکمونو له مخې عمل وکړي. دا احکام په ۶۷ او ۶۸ مادو کې ذکرشوي دي. ۶۷ ماده په څرګند ډول بیانوي، چې په ځانګړو شرایطو کې د جمهور رئیس لومړی مرستیال د جمهور رئیس دندې او واکونه پرغاړه اخلي. دا حالتونه (استعفی، په جرم تورن کېدل، مړینه او یاهم په صعب العلاجه ناروغی د جمهور رئیس اخته کیدل دي).ددې لپاره چې د۶۷ مادې له مخې د استعفا په توګه

[290] United States Senate, Vice President of the United States (President of the Senate), *available at* http://www.senate.gov/artandhistory/history/common/briefing/Vice_President.htm.

ومنل شي نو باید جمهور رئیس په شخصي توګه خپله استعفا ملي شورا ته وړاندې کړي. همدارنګه په ۶۷ ماده کې داپه ډاګه ذکرشوي چې صعب العلاجه ناروغي باید د هغه طبي هیئت له لوري چې دسترې محکمې له خوا ټاکل کیږي تثبیت شي. که له دې حالتونونه یو یې منځ ته راشي نو دا څرګنده ده چې مرستیال جمهور رئیس به د اساسي قانون له مخې د جمهور رئیس دندې او واکونه پرغاړه اخلي.

مګر د جمهور رئیس غیابت په څه معنی دی؟ کیدای شي تاسې ووایی، چې ۶۰ مادې د جمهور رئیس نه شتون دلومړي مرستیال له لوري دواک ترلاسه کولولپاره ضروري ګڼلی مګر د۶۷ لومړی پراګراف بیا په دې اړه کوم صراحت نه لري. آیا د جمهور رئیس د نه شتون په صورت کې د لومړي مرستیال د کړنو د ادارې لپاره نور احکام شتون لري؟ په حقیقت کې د۶۷ مادې وروستی پراګراف څرګندوي چې: " دجمهور رئیس د نه شتون په صورت کې به د لومړي مرستیال جمهور رئیس دندې د جمهور رئیس له لوري ټاکل کیږي". یاپه بل عبارت جمهور رئیس پریکړه کوي چې دخپل نه شتون په صورت کې واکونه خپل لومړي مرستیال ته وسپاري. ددې احتمالي حالتونو د موجودیت په صورت کی دا منطقي بریښي چې جمهور رئیس یوازې د خپل نه شتون په صورت کې کولای شي خپل مرستیال لپاره دندې مشخصې کړي. کیدای شي دا منطقي بریښي ځکه جمهور رئیس نه غواړي څو ټولې دندې خپل مرستیال ته وسپاري.

په هرصورت د استعفی، په جرم د متهم کیدو، مړینې او صعب العلاجه ناروغۍ په صورت کې په اتوماتیک ډول د ولسمشرۍ د واکونو د لیږد غوښتنه مطرح کیږي. د جمهور رئیس د لومړي مرستیال له لوري د جمهور رئیس د واکونو او دندو تر اخیستلو وروسته د اساسي قانون د۶۱ مادې له مخې باید د دریو میاشتو په موده کې انتخابات ترسره شي. جمهور رئیس مرستیالان ولسمشرۍ ته ځانونه کاندیدولای شي. کله چې مرستیال د لنډمهاله جمهور رئیس په توګه دنده ترسره کوي نو د اساسي قانون د۶۷ مادې له مخې نه شي کولای څو:" ۱- اساسي قانون تعدیل کړي. ۲- وزیران له دندو ګوښه کړي. ۳- ټولپوښتنه ترسره کړي". دا واړه ډیر په زړه پورې احکام دي. پوښتنه داده، چې ولې د اساسي قانون جوړونکو د مرستیال جمهور رئیس د واکونو محدودولو په موخه دا ډول سخت قیودات لګولي دي؟. کیدای شي یو دلیل یې ټولنیزو ګټورو انګیزوته وده ورکول وي. په دې توګه مرستیال جمهور رئیس په دې پوهیږي، چې که جمهور رئیس مړشي او یا دندې پریښودلوته اړکړی شي نودی به جمهور رئیس شي. د لنډمهاله جمهور رئیس په توګه نوموړی محدود واکونه لري او یوازې د درې میاشتو په موده کې به له ټاکنو سره مخ کیږي. بل دلیل دادی، چې که چیرې جمهور رئیس متهم شي نو دهغه د ادارې مشروعیت به په اساسي توګه زیانمن شي. دا به منطقي وي چې رایه ورکونکوته وخت ورکړل شي چې د پخواني مشرتابه پرځای نوي چارواکي وټاکي نه داچې د پخواني جمهور رئیس ملګری سیاستوال په آسانۍ سره واک ته ورسوي.

**دمباحثې پوښتنې**

دامریکا په ولسمشرۍ سیستم کې که چیرې د جمهور رئیس مرستیال ولسمشرۍ ته ورسیږي نوپه دې صورت کې نوموړی تر ټاکنو پورې د ولسمشر ی پاتې موده پوره کوي. په ښکاره ډول په دې پایښت یا تدوام کې د ثبات نښې لیدل کیږي. دا سیستم ډیر غیر عادلانه دی ځکه د جمهور رئیس مرستیال د جمهور رئیس د رایی په اساس ټاکل شوي نه د خلکو د رایی په اساس. آیا تاسې دافغان سیستم په اړه داډول غوښتنه کولای شي؟آیا تاسې دامریکا د سیستم په اړه د بحث فکر کولای شی؟

۶۸ ماده واک ته د رسیدو سیستم په اړه ډیرمعلومات ورکوي. که مرستیال جمهور رئیس مړشي یا استعفی وکړي نوجمهور رئیس د ولسي جرګې له تایید سره سم بل شخص د جمهور رئیس د مرستیال په توګه ټاکلی شي. تاسې دلته هم د لندمهاله جمهور رئیس د واک په اړه ورته (مشابه) محدودوونکي شرایط لکه څنګه چې موږ یې په اړه پورته بحث وکړ، کتلای شی.

**د افغانستان اساسي قانون**

**۶۸ ماده:**

دجمهوررئیس او دهغه دلومړي مرستیال د یوځایي مړینې په صورت کې په ترتیب سره دویم مرستیال، د مشرانو جرګې رئیس، د ولسي جرګې رئیس او د بهرنیوچارو وزیر یو په بل پسې ددې اساسي قانون(داوه شپیتمې) مادې له حکم سره سم د جمهوررئیس وظیفې په غاړه اخلي.

### د. امتیازات

د دولتي چارواکو معاش او امتیازات تل یوه جنجالي مسله ده او یو دلیل چې د نوموړی موضوع په هکله د اساسي قانون احکام تطبیقیږي دادی چې تر څو حکومتي چارواکی ونشي کړای چې د واک څخه په ګټه اخیستنی سره د عامه سر چینو څخه د ځان په ګټه کار واخلي. ددی هدف د لاس ته راوړلو لپاره د دولتي کارکوونکو لپاره به ډیره ستونزمنه وي چې په اساسي قانون کې تعدیل راوړي مګر دابه آسانه وي، چې نوی قانون ولیکل شي اویا پخواني قانون کې لغوه کړي.

د۷۰ مادې له مخې باید د جمهور رئیس معاش او مصارف د قانون له مخې تنظیم او د خدمت د مودې ترپایه پورې ورکړل شي. جمهور رئیس د خدمت مودې ترپایه ته رسیدو وروسته د خپل ژوند په پاتې موده کې د قانون له حکمونو سره سم دجمهوري ریاست د دورې له مالي حقوقوڅخه ګټه اخیستلای شي. هغه جمهور رئیس چې له دندې ګوښه شوی وي له یادو حقونو څخه ګټه اخیستلای نه شي. تاسې څه فکر کوی، چې ولې قانون جوړونکو دا مسایل په دې ماده کې ذکر کړي؟. داچې د مقننه قوې له له خوا د جمهور رئیس معاش او مصارف دقانون له حکومونو سره سم تنظیم او تصویب شي دا کار د فساد د احتمالي سرچینې څیړل دي.

دتيول عمر لپاره دمالي حقونوپه اړه څه فکر کوی؟ په هرصورت د ولسمشری دوره يوازې پنځه کلونه ده مګر د۷۰ مادې ددې بند له مخې هرجمهور رئيس به د ولسمشرۍ دورې ترپای ته رسيدو وروسته دخپل عمرترپايه پورې د ولسمشرۍ د دورې مالي حقونه ترلاسه کوي. دا چې جمهور رئيس به د خپل ژوند تر پايه پورې د ولسمشرۍ مالي حقوق ترلاسه کوي، کيدای شي يو دليل يې دشخصي ګټو لپاره له واک نه دغلطې ګټې اخيستنې اود عامه د شتمنيو دغلا مخنيوی وي.ددې ترڅنګ کيدای شي دا ماده، د جمهور رئيس د مقام لوړوالی او تر ولسمشرۍ وروسته دژوند عملي واقعيتونه په ډاګه کړي. کله چې يو څوک د جمهور رئيس په توګه دنده ترسره کړی نوبيا دهرډول دندې د ترسره کولولپاره وړ کنټل کيدای شی. دلته کيدای شي ډيرمهم امنيتي لاملونه ووسي چې له مخې يې بايد پخواني ولسمشران د کار له مارکيټ نه بهر ووسي.

### ه. د جمهورِ رياست معتمدي دندې

**د معتمدی دندې او د وکالت حقونه**

د امتيازاتو په اړه زموږ پخوانی بحث زموږ له راتلونکي موضوع:دجمهور رئيس له معتمدي دندو او وکالتي حقونو سره نږدې اړيکي لري. داډيره مهمه ده، څو يادونه وکړو، چې اساسي قانون د "معتمدي دندو" يا وکالتي حقونو اصطلاح نه کاروي او موږ غواړو دا اصطلاح ګانې د ولسمشرۍ دواک په اړه د قانوني قيوداتو سره په مقايسوي ډول وکاروو.

معتمدي دندې څه شي دي؟ د معتمدي دندې نظريه د اداري حقوقو څخه راپورته کيږي، چې يو استازی د مدير وکالت يا استازيتوب کوي. يا په بله ژبه کله چې تاسې د يو مديرپه توګه يوشخص د يوې ځانګړې دندې ترسره کولولپاره غوره کړی. د يادې موخې لاس ته راوړلو لپاره هغوی بايد يو سلسله کارونه سرته ورسوي. دې دندو ته معتمدي يا وکالتي دنده وايي. په عمومي توګه ددی کارونو د سرته رسولو لپاره استازی بايد د هغه قانوني واکونو څخه چې د مدير له خوا ورته ورکړل شوی وي ګټه واخلي تر څو سپارل شوی دنده په ښه توګه سرته ورسوي.[۲۹۱]

په يو دموکراتيک جمهوريت کې خلک استازي ټاکي، څو هغوی د استازو په توګه دندې ترسره کړي. هغوی ته واک ورکوي، څو پريکړې وکړي(قوانين) جوړکړي. هغوی خلک د مديرانو په توګه سره ترې. ټاکل شوي چارواکي په ملي کچه په مقننه قوه کې د بيلابيلو ډلو استازيتوب کوي. له نظري پلوه هر استازی د هغو کسانو ګټې تعقيبويچې دی يې ټاکلی دی. د هغوی د قانوني ګټو لاس ته راوړلو لپاره معاملې او توافق کوي. هغه قانون جوړونکي چې دخپلو خلکو غوښتنې ترلاسه نه کړي په راتلونکو ټاکنوکي مسوول کنټل کيږي.

---

[۲۹۱] وګوری:
Frank Easterbrook & Daniel Fischel, *Contract and Fiduciary Duty*, 36 Journal of Law & Economics 425 (1993).

په عین مفهوم جمهور رئیس هم د خلکواستازی دی. جمهور رئیس ته واک ورکول شوی، څو د خلکو په استازیتوب کړنې ترسره کړي مګر جمهور رئیس له قانون جوړونکو سره توپیر لري. په اجرائیه قوه کې واک په یو فرد پورې تړاو لري مګر په مقننه قوه کې بیا په بیلابیلو افرادو پورې تړاو پیداکوي. کیدای شي جمهور رئیس د ملت استازی وګڼل شي نه یوازې د خلکود یوی برخی. د حکومت جوړولو لپاره دهغه دنده ډیره مهمه ګڼل کیږي او ملت په دې پوهیږي، چې باید هغه ډېر څه ترسره کړي. نه داچې یوازې د اکثریت غوښتنې په پام کې ونیسي. دبیلګې په توګه ددې لپاره چې د قوانینو له تطبیق نه ډاډ ترلاسه کړي او یا دملي امنیت ساتنه وکړي ممکن نوموړی په دې پوه وي چې هغه باید دملي ګټو د لاس راوړلو لپاره د ډیری رایه ورکونکو دغوښتنوپرخلاف عمل وکړي.[۲۹۲]

د اساسي قانون ۴(۲) مادې دویمې فقرې له مخې "ملت له ټولو هغوافرادونه،چې د افغانستان تابعیت لري جوړشوی". د اساسي قانون ۴(۱) مادې له مخې "په افغانستان کې ملي حاکمیت په ملت پورې اړه لریچې په مستقیم ډول یې په خپله یا یې دخپلو استازو له لارې عملي کوي.[۲۹۳]" د امانتي دندو اود اداري د مفهوم پوهیدلو لپاره د اساسي قانون د ۴ مادې له مخې ویلای شوچې جمهور رئیس د افغانستان د خپلواک ملت استازی دی. دورکړل شوي واک له مخې د افغانستان دخلکو په استازیتوب کړنې ترسره کوي. د استازي او مدیر ترمنځ د اړیکو او د امانتي دندو د مفهوم په پام کې نیولوسره ۶۶ ماده څیړو.

**د افغانستان اساسي قانون**

**۶۶ ماده**

۲- جمهور رئیس نشي کولای چې د قانون له حکمه پرته دولتي ملکیتونه او شتمنۍ وپلوري او یایې وبخښي.

۳- جمهور رئیس نشي کولای د خپل کار په دوران کې له خپل مقام څخه په ژبنیو، سیمه ییزو، قومي، مذهبي او ګوندي ملحوظاتوګټه واخلي.

د پورتینو مقرراتو موخه ښکاره اوڅرګنده ده، د لومړني پراګراف موخه داده، څو د دولتي شتمنیو نه د ناوړې ګټې اخیستلو په برخه کې دجمهور رئیس مخه ونیسي او د قانون په چوکاټ کې د جمهور رئیس

[۲۹۲]. "کله چه مناسبتونه د ګټو له تفاوت څخه د خلکو له تمایلاتو څخه حکایت کوي، هغوی چې لدې ګټو څخه د دفاع لپاره ټاکل شوي دي، دنده لري ددې مؤقت اغفال په وړاندې د جدي او آرام تفکر په خاطر مقاومت وکړي."
" The Federalist No. 71, at 412 (Alexander Hamilton) (Kathleen Sullivan ed., 2009)

[۲۹۳]. یو شمېر څېړونکي استدلال کوي چه د حاکمیت واقعی سرچینه په هغو پورې تړلې ده چه د انتخاباتو او د زورواکو د ګوښه کولو توان لري." د (جان) بدن د میتود له مخې که چېرې وګړي د قدرت د لړۍ په سر کې د هغو چارواکو د انتخاب یا ګوښه کولو توان ولري، په حقیقت کې هغوی د قانوني دکترین یا اساسي قانون چه د سیستم کړنې بیان او توجیه کوی پرته، حاکمیت لري.... دا حقیقت پخپل ځای پاته کېږي چه دموکراتیک جمهوریت د نوم وړتیا لري، پرته لدې چه څوک او څه حاکمیت لري او په پام وړ سره ولسي حاکمیت ته تمایل لري."
" Donald S. Lutz, Principles of Constitutional Design 140–41 (2006).

واک محدود کړي.[۲۹٤] په دې توګه د دولتي شتمنیو د ادارې په برخه کې د جمهور رئیس واکونه محدودیږي او قانون جوړونکي ددې وړتیا پیداکوي، څو ددولتي شتمنیو په تړاو د جمهور رئیس د کړنو د کنترول په موخه قوانین تصویب کړي. داد قواو د تفکیک یوه کلاسیکه بیلګه ده چې د فساد او استبداد په وړاندې د خلکودساتنې په موخه رامنځ ته شوې.

په دوهم پراګراف کې موضوع ته یوڅه دقت شوی دی او موخه یې د جمهور رئیس له لوري د ناوړه ګټې اخیستنې مخنیوی دی. دا کار د ځانګړو منع شوو موخود په یادولولو سره تر سره کیږي تر څوهغه د جمهور رئیس د واکمنۍ د توجیه اوانګیزې په توکه و نه کارول شي. د حکومت دلوړپوړي منتخب چارواکي په توګه جمهور رئیس دخپلي کورنۍ، قوم او ولایت پرځای د افغانستان د ټولو خلکو استازیتوب کوي. د اساسي قانون د۶۶ مادې له مخې جمهور رئیس باید د افغانستان د خلکو لوړ مصلحتونه په پام کې ونیسي نه د خپلې خوښې یوې ځانګړې ډلې ګټې.

د۱۵۱، ۱۵۲، ۱۵۴ او ۱۵۵ مادو موخه دفساد او اخیستلو اوپلورلومحدودول دي. هغه څه چې موږ په دې برخه کې وڅیړل.

**د افغانستان اساسي قانون**

**۱۵۱ ماده**

جمهور رئیس، د جمهور رئیس مرستیالان، وزیران او د سترې محکمې رئیس اوغړي، لوی څارنوال، د مرکزي بانک او ملي امنیت رئیسان، والیان او ښاروالان د خپلې وظیفې په وخت کې نشي کولای له دولت سره هیڅ ډول انتفاعي معامله ترسره کړي.

۱۵۱ ماده د دولتي چارواکو له لوري له حکومتي امکاناتونه دخرڅولو، پلورلو اود پیسو پیداکولو په برخوکې د ناوړې ګټې اخیستنې په اړه اندیښنې څرګندوي. باید وویل شي چې دا ماده د ټولو ګټورو سوداګریزو فعالیتونو مخه نه نیسي. یوازې له دولت سره د ګټورو معاملو د ترسره کولو مخه نیسي. آیا اوس مهال دا ماده عملي کیږي؟ که تاسې په یادو پستونو کې کارکولای آیا دا ماده به موغیرعادلانه او پراقتصادي فعالیتونو باندې د پراخه بندیزونو په توګه ګڼلې نه وای؟ باید وویل شيچې د سوداګرۍ قانون له مخې مدیران او د شرکتونو نورغړي د خرڅولو او اخیستلو معاملو د ترسره کولوحق لري مګر په دې شرط چې نورسهم لرونکي تری زیانمن نه شي. آیا ددې مادې دا بند باید داسې اصلاح شي شخصي معاملات چې د عادلانه معیارونو مطابق وي او عامه یا ملي ګټې هم پکې تضمین وي او یا یوازې د هغه ممنوعیت تضمین دی؟

[۲۹٤].په ۹ ماده کې راغلي دي:" کانونه او نورې ترځمکه لاندې زېرمې او لرغوني آثار د دولت ملکیت دی. د دولت د ملکیتونه ساتنه او له طبیعي زېرمو او نورو عامه ملکیتونو څخه د سمې استفادې ډول د قانون له لارې تنظیمیږي." د افغانستان بډایه زېرمو ته په پام سره، تاسو ویلای شی چه څرنګه ۶۶ ماده چه د ولسمشر پر واک باندې محدودیت وضع کوي، د فساد او ناوړه ګټې اخیستنې د مخنیوي په لاره کې اغېزمنه وسیله جوړېدای شي.

**د افغانستان اساسي قانون**

**۱۵۲ ماده**

جمهور رئيس، د جمهور رئيس مرستيالان، وزيران، د ملي شورى اوسترې محکمې رئيسان او غړي، لوى څارنوال او قاضيان نشي کولاى د وظيفې د تصدئ په موده کې نورمشاغل ولري.

دا ماده يوځل بيا له عامه ګټو نه ملاتړڅرګندوي او درسمي دندو او د شخصي پانګې اچونې د ګټو ترمنځ بحران راکموي. په هرصورت مهمه يادونه داده چې د يادو حکمونو د بريالیتوب لپاره بايد يادو چاروکوته کافي معاشونه ورکړل شي.

**د افغانستان اساسي قانون**

**۱۵۴ ماده**

د جمهور رئيس، دجمهور رئيس د مرستيالانو، وزيرانو او سترې محکمې دغړو او لوى څارنوال شتمني،د خدمت تردورې وړاندې او وروسته، دهغه ارګان په وسيله چې قانون يې ټاکي ثبت، څېړل کيږي او خپريږي.

تاسې ددې مادې لپاره تشويق تشريح کولاى شى. که تاسې ددې مخالف وى، نوتاسې به څه ډول استدلال کوى چې دا له حده زياته لاسوهنه او د فساد د مخنيوي لپاره ګټور نه دى؟ددې مادې له عملي کولو وړاندې بايد څه ترسره شي؟ څه به پيښ شي که جمهور رئيس د داسې يو قانون له لاسليک کولونه ډډه وکړي چې موخه به يې ددولتي چارواکو د شتمنيو د څېړلو لپاره د يو ارګان رامنځ ته کول وي؟

په پاى کې ۱۵۵ ماده دځانګړو ټاکل شويو چارواکو په معاشونو پورې تړاو لري.

**د افغانستان اساسي قانون**

**۱۵۵ ماده**

د جمهور رئيس مرستيالانو، وزيرانو، دملي شورا رئيسانو اوغړيو، د سترې محکمې غړيو او لوى څارنوال ته د قانون له حکومونوسره سم، مناسب معاش ورکول کيږي.

دا ژبه د امريکا د متحدو ايالتونو د اساسي قانون لومړئ برخې دويمې مادې سره مقايسه کړى "جمهور رئيس به ترېوې ټاکلې مودې پورې دخپلو خدمتونو په مقابل کې معاش ترلاسه کوي، دامعاش به دهغې مودې په اوږدوکې چې جمهور رئيس ورته ټاکل شوى نه زياتيږي او نه به کميږي. نوموړى به په دې موده کې د امريکا له متحدو ايالتونو او له کوم بل ځاى نه بل هيڅ ډول معاش[۲۹۵] نه ترلاسه کوي".د دې

[۲۹۵]. " هغه عايد چه معمولاً له دفتر يا اشتغال څخه د جبران يا سود په توګه لاس ته راځي."
Merriam-Webster Online Dictionary.

ځانګړې مادې موخه داده چې د جمهور رئیس د معاش په کنټرول باندې د مقننه قوې اغیز کم کړي څو مقننه قوه په معاش د کنټرول له لارې جمهور رئیس همکارۍ ته اړ نه کړي. مقننه قوه نشي کولای د خدمت د مودې په دوره کې د جمهور رئیس په معاش کې بدلون راولي." مقننه قوه د جمهور رئیس له کمزوریونه په ګټې اخیستلوسره نه دهغه ثبات او وړتیا کمزورې کولای شي او نه هم د نوموړي د حرص له لارې دهغه خپلواکي فاسدولای شي".[٢٩٦]د افغانستان اساسي قانون دا ډول جزئیات مقننه قوې ته پریښي دي. دا همغه ستونزه ده چې الکساندر همیلټن او دا ساسي قانون نور جوړونکي یې اندیښمن کړي وو نو ځکه یې په اساسي قانون کی دې مادې ته ځای ورکړ.

### و. انتخابات

د اساسي قانون ۶۱ مادې د ولسمشرۍ انتخاباتو لپاره قانوني شرایط ټاکلي دي او د قانون ژبه په نسبي ډول څرګنده ده.

| د افغانستان اساسي قانون |
|---|
| **۶۱ ماده** |
| (۱) جمهور رئیس د راي ورکوونکو د آزادو، عمومي، پټو او مستقیمو رایوله لارې په سلوکې تر پنځوسو د زیاتو رایو په ترلاسه کولو انتخابیږي. |

ددې مادې له مخې یوکاندید باید د رایو اکثریت (له ۵۰ سلنې نه زیاتې رایې) وګټي څوجمهور رئیس شي. دا شرط له ساده اکثریت (له نورو کاندیدانو نه زیاتې رایې مګر له ۵۰ سلنې نه کمې رایې) سره په مخالفت کې دی. پدې توګه د مهمو کاندیدانو ترمنځ چې له ۵۰ سلنې نه کمې رایې یې ګټلې وي د دویم ځلي ټاکنو امکان زیاتیږي. په ځانګړي ډول دا سمه ده، چې د ولسمشرۍ د کاندیدانو په شمیرکوم محدودیت نه دی لګول شی نو امکان لري چې هر کاندید د رایو ډیره کمه برخه ترلاسه کړي.[٢٩٧]که په لومړیو ټاکنو کې څوک بریالی نه شي نو په دې صورت کې به څه پیښیږي؟

| د افغانستان اساسي قانون |
|---|

[296] The Federalist No. 73, *supra* note 5, at 421 (Alexander Hamilton).

[٢٩٧]. د مثال په توګه، د ۲۰۰۹ کال ولسمشري انتخاباتو کې، ۴۰ کسانو د کرزي سره سیالی کوله چه له هغو څخه یی ۲۹ د سیالی تر پایه پاتې شول.
International Crisis Group, *Afghanistan: Elections and the Crisis of Governance*, 6 (25 November 2009), http://www.crisisgroup.org/~/media/Files/asia/south-asia/afghanistan/b96_afghanistan___elections_and_the_crisis_of_governance.ashx.

**۶۱ ماده**

**(۴)** که چیرې په لومړي پړاو کې له کاندیدانو څخه یو هم ونه کړای شي چې په سلوکې ترپنځوسو زیاتې رایې ترلاسه کړي، انتخابات د دوهم ځل لپاره د انتخاباتو د نتیجود نیټې تراعلان وروسته د دوو اونیو په اوږدو کې ترسره کیږي. دا ځل یوازې هغه دوه تنه کاندیدان په انتخاباتوکې برخه اخلي چې په لومړي پړاو کې یې ترټولوزیاتې رایې ترلاسه کړي وي.

داچې آیا دې پروسې د۲۰۰۹ کال د ولسمشرۍ په ټاکنوکې څه ډول کار وکړ اویایې ونه کړ، په دې اړه د بحث لپاره لاندې صندوق وګورئ.

د اساسي قانون د ۶۱ مادې له مخې افغانان خپل جمهور رئیس دملي او مستقیمو ټاکنو له لارې ټاکي. په هرصورت ملي او مستقیم انتخابات د یو دموکراتیک جمهوریت دمشر د ټاکلو لپاره یوازنی لار نه ده. په حقیقت کې د امریکا متحد ایالتونه د جمهور رئیس د ټاکلو لپاره له یوې جلا طریقې له مخې چې د الیکټرول کالج(د جمهور رئیس د ټاکلو پلاوی) په نوم یادیږي ګټه پورته کوي.ددې طریقې له لارې د هر ایالت رایه ورکونکي د همغه ایالت کاندیدانو ته رایه ورکوي. د ولسمشرۍ انتخاباتو په اړه پریکړه د ایالتونو د ټاکنو د پایلو په رڼا کې صورت نیسي نه په ملي کچه د ملي ټاکنو له لارې.[۲۹۸] البته دامریکا د متحدو ایالتونو فدرال سیستم، چې د انتخاباتي کالج لپاره آسانتیاوې برابروي د جوړښت له پلوه د افغانستان له یونیټاري (متمرکز) حکومتي سیستم سره زیات توپیر لري.

د ۶۱ مادې د (په مستقیمه توګه) اصطلاح کارولو تر څنګ د ټاکنو د تشریح کولولپاره (دآزادو، عمومي او پټو ټاکنو) کلمې کارولي.د قانون له مخې انتخابات پټ او داېمن کنټل شوي او رایه ورکونکي دګواښونو او توندغبرګون پروړاندې خوندي کنټل شوي. آزاد انتخابات په دې معنی دي چې رایه ورکونکي باید د هرډول ګواښ پر وړاندې خوندي وي او هرچاته یې چې خوښه وي رایه ورکړي. عمومي انتخابات په دې معنی دیټول هغه وګړي چې د قانون له مخې په ټاکنو کې دګډون حق لري په ټاکنو کې ګډون وکولای شي.

**د افغانستان اساسي قانون**

**۶۱ ماده**

(۷) که چیرې د جمهوري ریاست یو کاندید د رای ګیرۍ لومړي یا دویم پړاو په جریان او یا ترانتخاباتو وروسته اویا د انتخاباتو دنتیجو له اعلان څخه پخوا مړشي، نوي انتخابات د قانون له حکومونو سره سم کیږي.

[۲۹۸]. په متحده ایالاتو کې د انتخاباتي کالج په هکله د لا زیاتو معلوماتو لپاره د متحده ایالاتو ملي آرشیف ته په لاندې انترنیټي پته مراجعه وکړئ:
http://www.archives.gov/federal-register/electoral-college/about.html

دا ډیره پیچلی ماده ده چي د پورته حالاتو د اداره کولو لپاره په راتلونکي کی د نورو قوانینو تصویب ته زمینه برابره شي. په داسي یو سیستم کې چې د ولسمشرۍ لپاره د کاندیدانو شمیر محدود نه وي نو آیا د ټاکنو په لومړني پړاو کې د یوکاندید د مړيني له امله د دویم ځلي ټاکنو د ترسره کولو اړتیا شته؟ پرته له دې چي د کاندید مړینه د ټاکنو پر پایلو کومه اغیزه ولري. څه به پیښ شیکه چیرې انتخابات ډیرلګښت ته اړتیا ولري؟

د اساسي قانون د۶۱ مادې له مخې د ولسمشرۍ دوره پنځه(۵) کلونه ده، چې له انتخاباتو نه پنځه (۵) کلونه وروسته د جوزا په لومړۍ نیټه پای ته رسیږي. دا باید ښکاره وي چې ولې اساسي قانون د خدمت موده پنځه کلونه ټاکلې ده. دا کار د حکومت د واک محدودولو او د استبدادي حکومت د مخنیوي په برخه کې ډیرګټور دی. په هرصورت بې له شکه دا مناسبه ده، څوپوښتنه وشي چې ولې پنځه کلونه؟

دامریکا د متحدوایالتونو جمهور رئیس د پنځو کلونو پرځای د څلورو کلونو لپاره ټاکل کیږي. د اساسي قانون د جوړونکو په باور، د اغیزمن حکومت او د جمهور رئیس د ناوړه کړنو او واک د پراختیا مخنیوي ترمنځ د انډول رامنځ ته کولو ته اړتیا شته." څلورکلنه دوره به له یوه لوري د حکومت له ثبات او ارزښتمنو عناصرو د ترکیب سره مرسته وکړي اوله بل لوري دا موده دومره اوږده نه ده، څو دخلکو آزادي له تهدید سره مخامخ کړي."[۲۹۹] په هرصورت د جمهور رئیس د خدمت موده باید دومره اوږده ووسي، څو نوموړي وکولای شي په پوره قوت سره خپلې دندې ترسره کړي او د ملت په استازیتوب له تهدیدونو سره مقابله وکړي. مګر نه دومره اوږده موده چې د استبدادي حکومت د رامنځ ته کیدو سبب شي. د ولسمشرۍ موده باید دومره اوږده ووسي، څوعام وګړي وکولای شي د جمهور رئیس په کړنو څارنه وکړي او دهغه دوړتیا په اړه قضاوت وکړي.

داټول یوشان اصول په افغان جمهور رئیس هم د تطبیق تطب وړدي. سره ددې هم د دواړو لورو لپاره یوشان نه دي. په یو مخ پر ـودې هیواد کې چې بنسټیز پرمختګ او پراخو اداري اصلاحاتو ته اړتیا وي،د د دولت په اجرائیه برخه کې د اوږدمهاله پرمختګ او تګلارې ثبات ته اړتیا لیدل کیږي. همدارنګه دلته د حکومت له لوري د واک د پراختیا او له شرایطونه د ګټې اخیستلو په اړه پراخ خطرونه موجود دي. تاسې دواړه اړخونه څه ډول ارزیابي کوی؟

د اساسي قانون ۶۱ ماده په څرګند ډول دا بیانویچې ولسمشریز انتخابات باید څه وخت ترسره شي؟

| **د افغانستان اساسي قانون** |
| --- |
| **۶۱ ماده** |

[299] The Federalist No. 71, *supra* note 5, at 414 (Alexander Hamilton).

(۳) د جمهور رئیس د کارترپای ته رسیدو د مخه د نوي جمهور رئیس د ټاکلو لپاره انتخابات، له دیرشو ترشپیتو ورځو پورې، موده کې کیږي.

داچې د ولسمشرۍ دوره د جوزا میاشتې په لومړۍ نیټه پای ته رسیږي، نوباید انتخابات د جمهور رئیس د خدمت مودې له پوره کیدو نه دیرش (۳۰) یا شپیته (۶۰) ورځې وړاندې ترسره شي. اساسي قانون په ښکاره ډول د ټاکنو د ترسره کولو نیټه بیان کړې.ددې ترڅنګ اساسي قانون ۱۵۶ مادې د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته د هرډول ټاکنو د ترسره کولو او څارلو واک ورکړی. په هرصورت په افغانستان کې د دویم ځل لپاره ولسمشریزانتخابات د ځومیاشتو لپاره وځنډول شول، چې قانوني بحران ونه یې رامنځ ته کړ.

**د ۲۰۰۹ کال ولسمشریز انتخابات**

حامد کرزی د۲۰۰۴ په اکتوبر کې خپلې لومړۍ دورې لپاره د افغانستان د جمهور رئیس په توګه وټاکل شو، د افغانستان د اساسي قانون د۶۱ مادې له مخې د ۱۳۸۸ کال د غبرګولې په لومړۍ نیټه، چې د ۲۰۰۹ کال دمې له ۲۲ سره سمون خوري د جمهور رئیس کرزي دوره پای ته ورسیده. پدې توګه د ولسمشرۍ لپاره نوې انتخابات باید د ۱۳۸۸ کال د وري دشپاړسمې (۱۶) او غویي د پنځلسمې (۱۵)، چې د۲۰۰۹ کال دمارچ له ۲۳مې نه داپریل تر۲۲ سمون لري، ترسره شوي وای. د افغانستان د اساسي قانون د۱۵۶ مادې له مخې د افغانستان د ټاکنو خپلواک کمیسیون چې د ټاکنو د ترسره کولومسوولیت یې په غاړه لري اعلان وکړ چې انتخابات درې میاشتې ځنډیږي.د ټاکنو د ځنډولو دلیل سره هوا، امنیتي ستونزې او د پوره چمتوالي نه شتون وښودل شوچې له امله یې ډیرو خلکو په ټاکنو کې ګډون نه شو کولای اود ټاکنو پایلو قانوني مشروعیت له لاسه ورکاوه.[300]

د ولسمشریزو انتخاباتو د ځنډولو د اړتیا په اړه دوه قانوني پوښتني راپورته شوې، لومړی داچې آیا د ټاکنو خپلواک کمیسیون کولای شي انتخابات له هغې نیټې چې د اساسي قانون په ۶۱ ماده ذکرشوې وځنډوي؟دویمه پوښتنه داوه چې آیا شرایطو جمهور رئیس حامدکرزی ته ددې اجازه ورکوله، ترڅو د غبرګولې له لومړۍ نیټې وروسته هم د جمهور رئیس په توګه پاتې شي، په داسې حال کې چې دا کار په ښکاره توګه د اساسي قانون ۶۱ مادې سره په مخالفت کې وو؟ په ښکاره توګه د لومړۍ پوښتې ځواب مثبت وو او انتخابات درې میاشتې وروسته ترسره شول.

د دبحث وړ دوهمه پوښتنه ،ځیني پدې باور وو چې کرزی باید واک مشرانو جرګې ته وای او ځیني بیا په دې باور وو چې د جمهور رئیس لومړي مرستیال ته دې واک سپارل شوي وای.[301] مسئله سترې محکمې ته واستول شوه او سترې محکمې پریکړه وکړهچې په هیواد کې د ثبات او ملي اجماع ساتلو په

300 Ahmad Majidyar, *Afghanistan's Presidential Election*, American Enterprise Institute Middle Eastern Outlook Series, 1, 5 (January 2009), http://www.aei.org/docLib/20090129-No1MEO23850g.pdf.
301 *Id.* at 5–6.

موخه دې جمهور رئیس حامد کرزی تر راتلونکو ټاکنو پورې د جمهور رئیس په توګه خپلې دندې ته دوام ورکړي.[۳۰۲]

بالاخره انتخابات ترسره شول، دلومړنیو جنجالي پایلوله مخې ولسمشرکرزي ۶،۵۴ سلنه او د نوموړي سیال عبدالله عبدالله ۲۷،۷ سلنه رایې ترلاسه کړې. د درغلیو د څیړلو په پایله کې،د انتخاباتود شکایتونو اوریدو کمیسیون د ټولورایو ۲۵ سلنه بې اعتباره اعلان کړه چې له مخې یې د حامدکرزي رایې ۴۸،۳سلنه او دعبدالله رایې ۳۱،۵ سلنه شوې. د اساسي قانون له مخې باید دویم ځلي انتخابات ترسره شوي وای. په دی وخت کی عبدالله عبدالله د حکومت اود ټاکنو د کمیسیون پربې ځایه کړنو باندې د نیوکو په ترڅ کې وویل چې په دویم ځلي ټاکنو کې به ګډون ونه کړي. دې پریکړې یو بل قانوني بحث او جنجال رامنځ ته کړ. ځکه په ښکاره توګه هیڅ یو کاندید ۵۰ سلنه رایې نه درلودې، د اساسي قانون ۶۱ مادې له مخې باید یو کاندید د۵۰ سلنې څخه زیاتې رایې ترلاسه کړې. د اساسي قانون ددې غوښتنې سره سره د ټاکنو خپلواک کمیسیون د عبدالله له پریکړې یوه ورځ وروسته د بل کاندید نه شتون، امنیتي او مالي ستونزو ته په اشارې سره حامدکرزی د ټاکنو د ګټونکي په توګه اعلان کړ.

د دویم ځل لپاره د ټاکنو ترسره کولوخطرونو او لګښتونو ته په پام سره، آیا د دویم ځلي ټاکنو د لغو کولوپه اړه ټاکنو د خپلواک کمیسیون پریکړه قانوني وه؟ په هیواد کې د ثبات ټینګښت په پلمه د دویم ځلي ټاکنو نه ترسره کول آیا د ټاکنو د خپلواکک میسیون له لوري د اساسي قانون د۶۱ مادې ترپښولاندې کول نه وو؟ کومه دولتي اداره د دې واک لري چې په دې ډول حالت کې د ټاکنود خپلواک کمیسیون پریکړه تایید یا رد کړي؟ دا پوښتنه په اساسي توګه د قواو په جلاوالي پورې اړه لري. تاسې به هغه مهال مسلې د څیړلو وړتیا ولری کله چې داکتاب ترپایه ولولی.

نړیوالو څیړونکو د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د خپلواکی په اړه خپلې اندیښنې څرګندې کړې. دا چې جمهور رئیس کرزي د ټاکنو کمیسیون ټول ۷ تنه غړي ټاکي نود بحران بین المللي ډلې ددې موضوع په اړه په هغه مهال داسې ولیکل: د۲۰۰۹ کال په فبروری کې ملي شورا یو قانون تصویب کړ.ددې قانون له مخې مقننه قوې ددې واک پیدا کاوه تر څو د ولسمشر کرزي له لوري د ټاکنو کمیسیون دغړو ټاکل وڅاري او تصویب یې کړي او په دې توګه جمهور رئیس کرزي ته د تمایل احساس راکم کړي. کرزي دا قانون ویټو کړ او څرګنده یې کړه چې په اساسي قانون کې د مقننه قوې له لوري د جمهور رئیس له خوا د مقرریو څارنې په اړه کومه اشاره نه ده شوې.[۳۰۳] آیا د انتخاباتو کمیسیون په رښتیا هم یو خپلواکه کمیسیون دی؟ په داسې حال کې چې ټول غړي یې پرته له دې چې د کوم بل دولتي ارګان له لوري تایید شي د جمهور رئیس له لوري ټاکل کیږي. آیا د کمیشنرانو په سر د ګټو کوم تضاد موجود دی؟ آیا دا دومره اهمیت لري چې ددی لپاره اساسي قانون تعدیل شي.

---

[302] Alex Thier, *Afghanistan's Constitutional Opera Continues . . .*,Comparative Constitutions (26 May 2009), http://www.comparativeconstitutions.org/2009/05/afghanistans-constitutional-opera.html

[303]International Crisis Group, *Afghanistan: Elections and the Crisis of Governance*, 6 (25 November 2009), http://www.crisisgroup.org/~/media/Files/asia/south-asia/afghanistan/b96_afghanistan___elections_and_the_crisis_of_governance.ashx.

**د مباحثې پوښتنې**

د اساسي قانون د۶۱ مادې په اړه زموږ د بحث په رڼاکې لاندې نقل قول په پام کې نیسو. له آزادو او منصفانه ټاکنو پرته چې خلک وکولای شي په مناسب چاپېریال او بی طرفه توګه خپل مشران غوره او یایې لرې کړي او داسې چې خلک کولای شي ترخوخپل نظریات په آزاد ډول او له وېرې پرته څرګند کړي، د دموکراسي شتون امکان نه لری. تاسې نه شی کولای ددې مانع شی او ووایی چې دا د دیموکراسي یوبل ډول دی، چېرې چې کاندیدان وژل کیږي اودمخالفینو آواز خاموشه کیږي او یا له صحنې ایستل کیږي.[۳۰۴]

**ز. د خدمت مودې محدودیتونه**

داساسي قانون د۶۲ مادې له مخې یو شخص یوازې دوه ځلي د جمهور رئیس او مرستیال جمهور رئیس په توګه ټاکل کیدای شي. دا ډول محدودیتونه د استبدادي حکومت د دوام اندیښنی په پام کی نیولو سره وضع کیږي او یو اغیزمن او ملي حکومت ته د لسو کلونو لپاره د خدمت کولو وخت ورکوي. البته دا د دې اندیښنو د توازن خبره ده. هرهغه هیواد چې د منتخبو چارواکو لپاره دخدمت موده ټاکي د داسې واقعیت سره مخ کیږي چې په ځینو حالاتو دولس داکثیرت غوښتنې خلاف یوښه جمهور رئیس هم پرېښودو ته اړ باسي تر څو د اړونده مشر یا رهبر له خوا جوړ شوی نظام چې له مخې یې نوموړی قدرت ته رسېدلی دی، ړنګ نه شي. که څه هم په متحده ایالاتو کی د (۵) کلونو پر ځای جمهور رئیس د (۴) کلونو لپاره ټاکل کیږي خو بیا هم جمهور رئیس د دوه دورو ولسمشرۍ کولو حق لري.

د امریکا د اساسي قانون جوړوونکي په دې باور ووچې بیا ځلي د ولسمشري کولو اصل ضروري اصل دی" تر څو خلک وکولای شي د هغه د کړنو د تائید په اساس هغه ته موقع ورکړي چې په خپل مقام پاتی شي او د هغه د پوهي او استعداد څخه د عادلانه نظام او پیاوړي حکومت په مخ وړلو کی ګټه واخلي."[۳۰۵] داسې ګمان کیده چې د دویم ځلي ټاکل کیدو امکان به لومړنی ولسمشر وهڅوي څو په پوره قوت او مناسبه توګه خپلې دندې ترسره کړي. اما یوې دورې ته د ولسمشرۍ د دورې محدودول به له خلکونه بې له کومې ستړې ویرې د یو اغیزمن حکومت درلودلو امکان واخلي.

**ح. د وړتیا لرلوغوښتنې او شرایط**

---

[304] Larry Diamond, Ashraf Ghani & Rend al Rahim, *Democracy's Development: Second Elections in Iraq and Afghanistan*, 33 Fletcher Foreign World Affairs 47, 60–61 (2009).
[305] The Federalist No. 72, *supra* note 5, at 416 (Alexander Hamilton).

د اساسي قانون ۶۲ ماده د ولسمشرۍ د کانديد ضروري شرايط بيانوي، ددې مادې لومړۍ پراګراف وايي د ولسمشرۍ کانديد بايد "۱- د افغانستان تبعه وي. ۲- مسلمان وي. ۳- د افغاني مور او پلار څخه زيږيدلی وي او ۴- دکوم بل هيواد تابعيت و نه لري". تاسي به ووينی چې دا ماده ولسمشرۍ ته نوماندي په هغو افرادو پورې تړلي چې سوچه افغاني ريښي ولري نه يوازې دا چې کانديد به د افغانستان تبعه وي او بل تابعيت به نه لري بلکې مور او پلار به يې هم افغانان وي. همدارنګه ځينو ددې خبري يادونه کړې چې تر تصويب وړاندې د اساسي قانون د جوړيدو پرمهال "يوه پياوړې وطن پرستي ليدل کيده، د هيواد له ګوټ ګوټ نه خلکو په دې ټينګار کاوه چې بايد وزيران ی وتابعيت ولري."[۳۰۶] که څه هم د وزيرانو په اړونده د دوه ګوني تابعيت په مسله کی موافقه تر لاسه شوه اما د ولسمشرۍ د نوماندۍ لپاره د يو تابعيت شرط د برې په حيث په اساسي قانون کی ځاي پر ځای شو. د انتقال د لومړنی مرحلې پرمهال، دې محدوديتونو يوشميرهغه وتلی او قوي کانديدان چې د بحران او ګډوډيو له امله يې د يوې اوږدې مودې لپاره له هيوادنه بهر ژوند کړی وو، له نوماندۍ څخه بې برخې کړل.

د اساسي قانون د۶۲ مادې له مخې يوکانديد بايد " د کانديدو پرمهال ۴۰له کلونو څخه کم عمر ونه لري. د بشريت پرضد جرايمو او نورو جرايمو کې بنکيل ونه وسي او د محکمې د پريکړې په اساس له خپلو مدني حقونو څخه نه وي محروم شوی." کوم دلايل د وړتيا د دې شرايطو ملاتړ کوي؟

### لومړی. د لوړې په ځای کول

**د افغانستان اساسي قانون**

**۶۳ ماده**

. . .

*د لوی خدای په نامه لوړه کوم چې د اسلام سپيڅلي دين پيروي او ساتنه وکړم. د اساسي قانون او نورو قوانينو رعايت او د تطبيق څارنه وکړم.*

*د افغانستان د خپلواکی، ملي واکمنی، ځمکنی بشپړتيا ساتنه او د افغانستان د خلکو حقونه او ګټې د خوندي کړم او د لوی خدای له دربار څخه د مرستې په غوښتلو او د ملت په ملاتړ د افغانستان د خلکو د پرمختګ او هوساينې په لاره کې خپلې هڅې جاري وساتم.*

[306] Barnett Rubin, *Crafting a Constitution for Afghanistan*, *in* Constitutional Politics in the Middle East 147, 156 (Said Amir Arjomand ed., 2008).

داهغه لوړه ده چې د اساسي قانون د ۶۳ مادې له مخې یې باید جمهور رئیس ترسره کړي. په لوړه کې داسلام لوړوالی په ښکاره لیدل کیږي.[۳۰۷] لکه څنګه چې د اساسي قانون په برخو کې لیدل کیږي. جمهور رئیس لوړه کوي چې د اسلام دسپیڅلي دین ساتنه او اطاعت به کوي، مګر اساسي قانون نور دانه وایي چې دا څه معنی لري. دا دې اساسي قانون له ۶۲ مادې سره سمون لري چې له مخې یې جمهور رئیس باید مسلمان وي. په ښکاره توګه یو غیرمسلمان به د دې وړتیا ونه لریترڅو په سمه توګه دغه لوړه ترسره کړي. د اساسي قانون له مخې دا حتمي نه ده چې وزیران، د سترې محکمې او ملي شورا غړي مسلمانان و اوسي.[۳۰۸] که څه هم وزیران لوړه کوي چې د اسلام د سپیڅلي دین ساتنه به کوي خو د هغه د پیروي خبره نه ده شوې. د سترې محکمې غړي لوړه کوي چې د اسلام د سپیڅلي دین له اصولوسره سم عدالت او ربښتینولي ترسره کوي. نوپه دې توګه دلته د وړتیا د شرایطو ترمنځ کوم توپیر نه لیدل کیږي. د افغانستان د پوځ د اعلی سرقوماندان په حیث د جمهور رئیس واکونو ته په پام سره، جمهور رئیس لوړه کوي چې د هیواد د خپلواکی، ملي حاکمیت او دافغانستان دځمکنی بشپړتیا ساتنه به کوي.[۳۰۹]

له دې لوړې نه داسې څرګندیږي چې جمهور رئیس په دې پوهیږي، چې د افغانستان د ملي امنیت ساتل د هغه دنده او مسولیت دی کوم چې په ۶۴ ماده کې ورته اشاره شوې او په تفصیل سره به لاندې وڅیړل شي. بالآخره، د لوړه دا څرګندوي چې داجرائیه قوې دمشر په توګه جمهور رئیس د افغانستان د قوانینو د عملي کولو مسولیت په غاړه لري او د افغانستان د خلکو په وړاندې مسول دی.

لکه څرنګه چې وړاندې ورته اشاره وشوه، جمهور رئیس مسولیت لریتر څو د افغانستان دخلکو په استازیتوب کړنې ترسره کړي او دنده لري چې له خپلې څوکۍ نه د خپلوشخصي ګټو لپاره استفاده و نه کړي. د لوړې غوښتنه داده چې جمهور رئیس باید په ښکاره ډول د خدمت شرایط ومني او خلکوته د جمهور رئیس د مسولیتونو په اړوند لندمعلومات ورکړي.

### دوهم . د اجرائیه قوې دوه ګونی رول

#### الف. معرفي

افغانستان کوم ډول سیستم لري،ریاستی او که پارلماني؟ددې پوښتنې په اړه په دویم څپرکی د قواوو د تفکیک په برخه کې په تفصیل بحث شوی مګر دلته به دا ګټور وي څومرو. د افغان جمهور رئیس د رول په اړه بحث پیل کړو. "په ډیری پارلماني سیستمونوکې هغه کسان چې حکومت اداره کوي، دمقننه قوې دغړو له منځ نه غوره کیږي او دملي اجرایوي مشردفتر یو تشریفاتي دفتر ګڼل کیږي او په عادي ډول په

[۳۰۷]. له اسلام خخه دفاع د ولسمشر تر ټولو لوړه دنده آن د قانون په وړاندې د هغه له مکلفیت څخه لوړه ګڼل کیږي چې دا په هیواد او اساسی قانون کې د اسلام د دین مقام لوړتیا په ګوته کوي. همدارنګه دا پدې معني ده چې ولسمشر پدې برخه کې ټاکونکی رول لوبوي. سره ددې ۶۴ ماده چې پکې د ولسمشر واکونه او مسؤلیتونه په تفصیل راغلي دي، د اسلام په هکله څه نه وایي.

Said Mahmoudi, *The Sharia in the New Afghan Constitution: Contradiction or Compliment?*, 64 Heidelber. Journal of International Law, 867, 872 (2004).

[۳۰۸]. وګورئ ۸۵، ۷۲ او ۱۱۸ مادې

[۳۰۹]. وګورئ ۷۴ او ۱۱۹ مادې

اداري پريکړوکې ښکيل نه وي. ويل کيږي چې پدی سيستم کی د دولت اوحکومت مشران سره جلا دي".[۳۱۰] دا بايد په ښکاره ډول ووايو د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون دغه سيستم نه دی پيش بيني کړی په کوم کی چې دا ټولی دندی د حکومت په رئيس پورې اړه ولري. په هرصورت د جمهور رئيس د قانوني واکونو او مسوليتونو د پيژندلو او څيړلو لپاره د دولت د مشر او د حکومت د مشر د رول څيړل ډير ګټور دي. په ښکاره توګه دولت د حاکميت درلودونکي ملت سره تړاو لري او حکومت د دولت د اجرائيوي برخې په توګه ښيي ده.

اساسي قانون جمهور رئيس ته پراخه واکونه ورکړي چې د دولت کړنې اداره او وڅاري. د جمهور رئيس يو رول د دولت رياست دی، چې د اساسي قانون په ۶۰ ماده کې بيان شوی.[۳۱۱] د۶۰ مادې له مخې د دولت رئيس د دولت په ټولو قواوو واک لري او د هيواد د ملي امنيت مسوليت يی هم په غاړه دی. ددويم رول له مخې جمهور رئيس د حکومت لوړ پوړی رسمي چارواکی دی. چې د وزيرانو د ټاکلو، د حکومت د تګلارو او قوانينو د کنټرول او د اغيزمن حکومت درامنځ ته کولو مسوليت په غاړه لري. [۳۱۲]

پدې توګه موږ د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون په تاريخ کې د جمهور رئيس د رول د بنسټ په اړه پوهيدلای شو. د وړاندې شوي اساسي قانون د مادو په اړه له عامو خلکو سره ترمشورو وروسته د اساسي قانون د بيا کتنې کميسيون د۲۰۰۳ کال په سپتمبر کې د اساسي قانون مسوده جمهور رئيس کرزي ته وسپارله.[۳۱۳]د اساسي قانون ددې مسودې له مخې د اجرائيه قوې واک به په مستقيمه توګه د ټاکل شوي جمهور رئيس او لومړي وزير ترمنځ ويشل کيده.[۳۱٤]جمهور رئيس به دسترې محکمې دغړو او دمشرانو جرګې د يو په دريمه برخو غړو د ټاکلو واک درلود. پداسې حال کې چې لومړي وزير به دقوانينو د تطبيق، د افغانستان د خپلواکۍ د ساتلو، دملي ګټو د خونديتوب، د مالي چارو د ادارې او ملي شورا ته د ځواب ورکولو مسوليت پرغاړه درلود.[۳۱٥]

په پيل کې د اساسي قانون د لومړی مسودې له مخې ولسي جرګې لومړی وزير ټاکه مګر د ځينو د استدلال په اساس په دې ماده کې بدلون راغی چې جمهور رئيس به د ولسي جرګې له تاييد سره سم لومړی وزير ټاکي. داسې استدلال کيده، چې:" په يوه وسله واله او بې اتفاقه ټولنې کې پع دوه اجرائيوي مرکزونو په باندې ولاړ سيستم چې له يوبل سره به په سيالۍ کې وي،دبې ثباتۍ درامنځ ته کيدو سبب

[310] Laurence P. Claus, *Separation of Powers and Parliamentary Government*, *in* Global Perspectives on Constitutional Law, 48, 48 (Vikram Amar & Mark Tushnet, eds., 2009
په عام طور "د ولسمشر رول" د ملت له حاکميت څخه استازيتوب کول دی په ځانګړې توګه د نورو هېوادونو او بين المللی سازمانونو په وړاندې او زياتره د حکومتي چارواکو ټاکل. د "حکومت د رئيس" عمومي رول د حکومت مدېريت او د هغه د اغېزمنتيا مسؤليت دی. تاسو بايد ددې څپرکي په ختم سره په اړونده مفاهېمو باندې ښه وپوهېږي او تر دې دوو مقامونو او دوو رولونو لاندې مسؤليتونو ته پوره پام وکړي.
[311] Grote, *supra* note 1, at 904-05 ("According to the new Constitution, the president of the Islamic State of Afghanistan combines the powers which had been exercised by the King and by the Prime Minister under the Constitution of 1964.").
[312]*Id.*
[313] International Crisis Group, *Afghanistan: The Constitutional Loya Jirga*, 3 (December 12, 2003), http://www.crisisgroup.org/~/media/Files/asia/south-asia/afghanistan/B029%20Afghanistan%20The%20Constitutional%20Loya%20Jirga.pdf.
[314]*Id*
[315]*Id*

شي." د دی دلایلو په اساس په ۲۰۰۳ کال کی د حل په یوه مناسبه او منځنۍ لاره باندی هوکړه وشوه چې له مخی به یی لومړی وزیر د جمهور رئیس له خوا ټاکل کیږي او د پارلمان له خوا د هغه د باور رایی ته اړتیا نشته خو د ګوښه کیدو لپاره یی ولسي جرګه د نه باور رایه ورکوي.[۳۱۶] "د ملي امنیت شورا او د اساسي قانون جوړولو کمیسیون د مسودې د کتنې پرمهال پدې ماده کې بدلون رامنځ ته کړ. دهمدې بدلون له مخې د لومړي وزیر څوکۍ له منځه ولاړه او جمهور رئیس ددې پوره واک ترلاسه کړچې خپله کابینه(چې غړي به یې دمقننه قوې غړي نه وي) وټاکي او د پارلمان له لوري به تأییدیږي."[۳۱۷]

## ب. د حکومت د رئیس په توګه د جمهور رئیس رول

د اساسي قانون په ۶۴ ماده کې دحکومت د رئیس په توګه د جمهور رئیس ډیری واکونه او دندې بیان شوي دي. دا دندې د۱۹۶۴ کال په اساسي قانون کې د پاچا له راغلو واکونو او دندو څخه سرچینه اخلي چې له مخې یې دملي شورا له تایید سره سم د هیواد د سیاست د اساسي کرښو د ټاکلو واک د لومړي وزیر او یا د حکومت د رئیس په رول کې خلاصه شوي دي.[۳۱۸] د۱۹۶۴ کال د اساسي قانون له مخې لومړي وزیر ولسي جرګې ته د تصویب لپاره د حکومت د پالیسۍ د وړاندې کولو مسؤلیت پهغاړه درلود.[۳۱۹] د۲۰۰۴ کال د اساسي قانون له مخې جمهور رئیس پالیسي یا تګلاره ټاکي او د کابینې دغړو له لوري تایید ته اړتیا نه لري."[۳۲۰] د حکومت اصلي دنده داده " څوله جمهور رئیس سره د تګلارو په تطبیق کې مرسته وکړي. د۱۹۶۴ کال د اساسي قانون پرخلاف د۲۰۰۴ کال اساسي قانون له سیاسي پلوه د حکومت لپاره کوم خپلواکه ځای نه پریږدي...وزیران نه یوازې داچې د جمهور رئیس له لوري ټاکل کیږي بلکې دهغه پروړاندې مسولیت هم لري(۷۷ماده). دا په عمل کې پدې معنی دي چې هغوی د جمهور رئیس د یو اړخیزه پریکړې په اساس له دندو [ګوښه] کیدای شي."[۳۲۱]همدارنګه۷۱ماده په ټینګار سره زیاتوی چې: "حکومت باید له وزیرانونه جوړشوی ووسي چې د جمهور رئیس درهبری لاندې به کارکوي. "

جمهور رئیس دوزیرانو او سفیرانو د ټاکلو واک لري چې ټاکنه به یی د ولسي جرګې له لوري تاییدیږي.[۳۲۲] د۱۹۶۴ کال اساسي قانون له مخې پاچا او لومړي وزیر دواړو په دې بهیر کې خپل رول درلود.

| د افغانستان د۱۹۶۴ کال اساسي قانون |
| --- |
| **۸۹ ماده** |

[316] Rubin, *supra* note 19, at 154.
[317] *Id*

[۳۱۸]. ۶۴ ماده، ۲ بند
[۳۱۹]. د ۱۹۶۴ کال اساسي قانون ۸۹ ماده

[320] Grote, *supra* note 1, at 907.
[321] *Id.*

[۳۲۲]. ۶۴ ماده، ۱۱ او ۱۴ شمېرې

| |
|---|
| حکومت به دهغو چا لهخوا چې د پاچا له لوري د لومړي وزير په توګه ټاکل شوی وي جوړيږي. د حکومت پالیسي او غړي به د لومړي وزيرله خوا ولسي جرګې ته وړاندې کيږي. هغوی به تربحث وروسته حکومت ته د باور رايه ورکوي. کله چې د باور رايې وروسته پاچا د يوسلطنتي فرمان په وسيله د حکومت مشر او غړي ټاکي. له هغه وروسته لومړی وزيرمشرانو جرګې ته د حکومت د پالیسی په اړه معلومات وړاندې کوي. |

د اساسي قانون د دريم څپرکی ۷۶ ماده په مستقيم ډول د حکومت د تګلارو په تطبيق پورې اړه لري چې په يو ډول د جمهور رئيس د واک د زياتيدو سبب ګرځي چې په عنعنوي ډول دلومړي وزير داغيزساحه ګنل کيږي. د هيواد د سياست د اساسي کرښو دعملي کولو او د دندو د تنظيم لپاره بايد حکومت قوانين جوړ او تصويب کړي. دا قوانين بايد د نورو قوانينو له روحيې او متن سره مخالف نه وي. د تګلارو د عملي کولو او د قوانينو دپلي کولو لپاره د اړينو قوانينو د رامنځ ته کولو د صلاحيت د نه شتون په صورت کې حکومت بايد دخپلو تګلارو د عملي کولولپاره په ملي شورا باندې تکيه وکړي. بايد يادونه وشي چې دا ماده د جمهور رئيس په تقنيني واک باندی محدوديت وضع کوي ځکه تقنيني فرمانونه بايد د قوانينو له متن او روحيی سره په ټکر او تضاد کی را نه شي. په دې توګه مقننه قوه د جمهور رئيس د مشرتوب واک د څيړلو لپاره يو مهم فرصت ترلاسه کوي. دا موضوع به په څلورم څپرکی د اداري په برخه کې په تفصيل سره وڅيړل شي.

### ج. د دولت د مشر په توګه د جمهور رئيس رول

*"د جمهور رئيس واک چې شاهي منشاء لري د اوسنی اساسي قانون په ۶۰ ماده کی هم شتون لري چې له مخې يې جمهور رئيس د افغانستان د اسلامي جمهوريت د دولت مشر دی او په اجرائيه، مقننه، او قضائيه قوه کی واکونه د اساسي قانون د حکمونو سره سم کاروي.د امريکا د اساسي قانونخلاف چې په ښکاره ډول د جمهور رئيس واکونه د دولت په اجرائيه برخې پورې تړلي ګڼي. دافغانستان نوی اساسي قانون په قصدي توګه د قواوو دوديز ويش ته داهميت ورکوونه لارې په عمومي ډول د دولت ټول مسوليتونه جمهور رئيس ته سپاري څو دولتي چاری په عادي توګه پر مخ بوزي."*[۳۲۳]

ددې ادعا د ملاتړ لپاره ويلای شو چې د اساسي قانون په ۶۴ ماده کې د جمهور رئيس دندې او واکونه د۱۹۶۴ کال د اساسي قانون له ۹ مادې څخه اخيستل شوي دي کوم چې د پاچا په دندو او حقونو پورې اړه لری او دالاندې دندې او واکونه په برکې نيسي: دوسله والو ځواکونو عمومي قوماندان اوسيدل، د جګړې او سولې اعلانول، د لويې جرګې راغوښتل، د بيړني حالت اعلان او پای ته رسول، دملي شورا دغونډو پرانيستل، د سترې محکمې د قاضيانو ټاکل، د مشرانو جرګې د انتصابي غړو ټاکل، د قاضيانو،

[323] Grote, *supra* note 1, at 904-05.

لوړ پوړو نظامي او ملکي چارواکو ټاکل، د قوانینو تاییدول، د جزاګانوکمول او ښنل او د مډالونو ورکول. موږ به له دې دندو او واکونوڅخه ځیني په لاندې ډول وڅیړو.

## *نظامي چارې*

د اساسي قانون د۶۴ مادې بیلابیلي برخي په نظامي چارو کې د جمهور رئیس د برلاسي رول سره تړاو لري.

| |
|---|
| **د افغانستان د۲۰۰۴ کال اساسي قانون** |
| **۶۴ مه ماده** |
| جمهور رئیس لاندې واکونه او وظیفي لري: |
| (۳) دافغانستان دوسله والو ځواکونوستر مشرتوب. |
| (۴) دملي شورا په تایید دجګړې او متارکې اعلانول. |
| (۵) دځمکنی بشپړتیا اود خپلواکی د ساتنې د دفاع په حالت کې د لازم تصمیم نیول. |
| (۶) د ملي شورا په تایید له افغانستان څخه بهرته د وسله والو ځواکونو د ټولګیو لیږل. |

دنظامي کړنو په اړه د جمهور رئیس یواړخیز واک محدود شوی دی. سره ددې چې جمهور رئیس ټل د وسله والو ځواکوعمومي قوماندان دی، نوموړی (د ځمکنی بشپړتیا څخه د دفاع اود خپلواکی د ساتلو) لپاره د ملي شورا له تایید پرته اقدام نشي کولای. پدې ماده کې کیدای شي د تېرې، انقلاب اودترووریستي بریدونو حالتونه هم په پام کې نیول شوي وي ځکه پهدې ډول حالتونو کې یوهیواد د ملي شورا پریکړې ته انتظار نه شي کولای.

داحالتونه د جګړې او سولې د اعلان او بهر ته د ځواکونو د لیږلو له حالتونو سره پرتله کړی. پدې ډول شرایطو کې ۶۴ ماده، د څیړنې او عمومي بحث لوري ته تمایل څرګندوي.ددې کړنو لپاره د ملي شورا د تایید او تصویب غوښتل یوه له هغولارو څخه ده چې له امله یې دخلکوعمومي ملاتړ ډاډمن کیدای شي.ددې ډول امتیاز څخه د ملاتړ په اړه د بحث یوه موضوع جګړه (او یا دسولې تړون له لارې دجګړې پای ته رسول دي) اویا له هیواد څخه بهر ته د ځواکونو لیږل د هیواد د ډیری اتباعو اوږدمهاله سرښندنې او ژمنتیا غواړي. چې ددی موخی لپاره ملي ملاتړ ډیر مهم دي. دملي شورا غړي به دې ته ښه چمتو وسي چې په ولسوالیو او ولایتونو کې د خلکو خبرو ته غوږ ونیسي نو له همدې امله هغوی په ښه موقف کې دي تر څود پورته کړنو په اړه دعامو خلکوملاتړارزیابي کړي.

*اجرائيوي واک*

| |
|---|
| **د افغانستان د۲۰۰۴ کال اساسي قانون** |
| **۶۴ ماده** |
| جمهور رئيس لاندې واکونه او وظيفې لري. |
| (۱۳) د قانون له حکومونو سره سم د قاضيانو، د وسله والو ځواکونو، پوليسو، د ملي امنيت د منصبدارانو او د لوړ رتبه مامورينو ټاکل، تقاعد ورکول، د استعفی منل او عزلول. |

| |
|---|
| **د افغانستان د۱۹۶۴ کال اساسي قانون** |
| **۹ ماده** |
| پاچا لاندې حقوق او دندې لري. |
| . . . . |
| (۱۴) د قانون له حکومونو سره سم د قاضيانو او د لوړپوړو ملکي او نظامي چارواکو ټاکل او ګوښه کول. |

داچې د ملت امنيت جمهور رئيس ته چې د وسله والو ځواکونو عمومي قوماندان دی، سپارل شوی، نو دابه منطقي وي تر څو د ملت د ګټو د خونديتوب لاره جمهور رئيس ته داجرايوي چارواکو دکنټرول واک ورکړل شي. په هرصورت اساسي قانون د اجرايوي چارواکو لکه د حکومت وزيرانو د اداره کولو په برخه کې د جمهور رئيس واکونه محدود کړي دي. د قانون له مخې وزيران د ولسي جرګې په وړاندې مسوليت لري او د هغوی مقرري هم بايد د ولسي جرګې له لوري تاييد شي. په څلورم څپرکي کې به د حکومتي چارواکو په وړاندې د جمهور رئيس واکونه په تفصيل سره وڅېړل شي. همدارنګه په څلورم څپرکي کې به د دولت جوړښت، د ولايتونو او ولسواليو ادارې اود دې ادارو په وړاندې دجمهور رئيس واکونه لکه دښاروالانو، واليانو اود نورو چارواکو ټاکنه په تفصيل سره وڅېړل شي. د دولت اداري جوړښت او ددولت د اداري بنسټونو ترمنځ د پيچلو اړيکو له پوهيدو پرته به ډيره ستونزمنه وي چې موږ د جمهور رئيس دواکونو په اړه پوه شو.

*قضايي واک*

لکه څنګه چې د قواو د تفکيک په اړه بحث وشو، بايد په ياد ولرو چې د اساسي قانون ۶۱ مادې له مخې جمهور رئيس پرته له دې چې د کومې بلې برخې تاييد او تصويب ترلاسه کړي د قاضيانو د ټاکلو واک

لري." په داسې حال کې چې د ستري محکمې غړي د ولسي جرگې له تایید سره سم د جمهور رئیس له خوا ټاکل کیږي او یوازې د ولسي جرگې د دوه په دریمې برخې غړو په غوښتنه او تایید له دندو گوښه کیدای شي (۱۲۷ماده) دښکتنیو محکمو د قاضیانو د ټاکلو او گوښه کولو لپاره د پارلمان تایید ته اړتیا نشته."[٣٢٤] د پارلمان له تایید پرته د جمهور رئیس د کنټرول سیستم یواغیزمن او چټک سیستم گڼل کیدای شي. خو په ورته وخت کی دا سیستم د اداري فساد پراخه ویرې له ځانه سره لري او کیدای شي یو اړخیز عدلي سیستم وگڼل شي.

لکه څرنگه چې پورته ورته اشاره وشوه، د اساسي قانون د۶۴ مادې له مخې جمهور رئیس" د ولسي جرگې په تایید د سترې محکمې رئیس_او غړي ټاکي."دټاکلو واک هم لري.[٣٢٥] داد۱۹۶۴ کال د اساسي قانون له ۱۳ مادې سره سمون خوري. مگر د۲۰۰۴ کال د اساسي قانون ۱۳ماده د ولسي جرگې د تصویب غوښتنه هم کوي. تاسې به په لاندې چوکاټ کې وگورئ چې د پارلمان له لوري د جمهور رئیس د واک څارنه لا له وړاندې نه مهمه ثابته شوې.

**د قاضي القضات نوماندي**

په ۱۳۸۵ کال (۲۰۰۶) کې جمهور رئیس کرزي فضل هادي شینواری د افغانستان د ستري محکمې د رئیس په توگه ونوماوه، نوموړی پنځه کلونه وړاندې په یادې دندې گمارل شوی وو. ولسي جرگې په ۱۱۷ منفي او ۷۷ مثبتو رایو سره د نوموړي ټاکل رد کړل.[٣٢٦] ولسي جرگې د نوموړي د علمي پمخینې او پرحقوقي پریکړو د نوموړي د محافظه کارانه دیني نظریاتو اغیزو په اړه خپلې اندیښنې څرگندې کړې.ددې ترځنگ، پارلمان سترې محکمې ته د جمهور رئیس کرزي درې نور کاندیدان هم رد کړل. دې کارد افغان قضائیه قوې په اړه د نارضایتې د شتون یو پیاوړی پیغام له ځانه سره درلود. په پای کې هغوی عبدالسلام عظیمي د افغانستان د سترې محکمې د رئیس په توگه تایید کړ.

## تقنیني واک[٣٢٧]

د جمهور رئیس له مهمو دندو څخه یوه هم د پارلمان له لوري د تصویب شویو قوانینو تاییدول دي.[٣٢٨] د۱۹۶۴ کال اساسي قانون ۹ مادې له مخې پادشاه دا دنده په غاړه درلوده چې له مخې یې" قوانین لاسلیک او دهغو انفاذ اعلان کړي." دا رول د۲۰۰۴ کال د اساسي قانون په ۹۴ ماده کې په تفصیل سره بیان شوی. (۱) "قانون هغه مصوبه ده چې د ملي شوری د دواړو جرگوله خوا تصویب او د جمهور

[324] Grote, *supra* note 1, at 906.

[٣٢٥]. ۶۴ ماده، ۱۲ شمېره

[326] Carlotta Gall, *Afghan Parliament Rejects Chief Justice Nominee*, N.Y. Times, May 28, 2006, http://www.nytimes.com/2006/05/28/world/asia/28kabul.html?ref=carlottagall.

[٣٢٧]. ۶۴ ماده، ۱۶ شمېره ("د قوانینو او همدارنگه د تقنینی فرمانونو انفاذ ").

[٣٢٨]. "که ولسمشر د ملی شورا د مصوبې سره موافقه و نه لري کولای شي چه د وړاندې کېدو تر نېټې وروسته یې په ۱۵ ورځو کې د دلایلو له ښوولو سره ملي شورا ته مسترده کړي. ددې مودې په تېرېدو او یا دا چې ولسي جرگه یو ځل بیا هغه د ټولو غړو په دوه ثلثه رایو تصویب کړي، مصوبه توشیح شوی گڼله کیږي او نافذیږي." ۹۴ ماده.

رئیس له خوا توشیح شوې وي، مګر داچې په دې اساسي قانون کې بل ډول څرګنده شوې وي." که جمهور رئیس دملي شورا د دواړو جرګو له لوري تصویب شوي قوانین رد کړي نو په دې صورت کې به څه پیښ شي؟ د۹۴ مادې له مخې جمهور رئیس کولای شي چې د ملي شورا له لوري تایید شوي قوانین رد او بیرته یې شورا ته واستوي. پدې توګه په قوانینو باندې د مصوبو له بدلېدو څخه مخنیوی کېږي.[۳۲۹] په هرصورت د جمهور رئیس له لوري د قوانینو ویټو د ولسي جرګې د دوه په دریمې برخې غړو د رایو په وسیله ردیدلای شي.

په تقنیني برخه کې بل واک چې جمهور رئیس یې لري هغه د مشرانو جرګې د یو په دریمې برخې غړو ټاکل دي.[۳۳۰] د مشرانو دا غړي د پنځو کلونو لپاره ټاکل کیږي او له هغوی نه دوه تنه یې باید معیوبین او دوه تنه یې کوچیان وي.ددې ترڅنګ جمهور رئیس له دې اشخاصوڅخه په سلوکې پنځوس ښځې ټاکي.[۳۳۱] د جمهور رئیس له لوري د مشرانو جرګې ټاکل شوي غړي، د نوروغړوپه پرتله چې د ولسوالیو او ولایتي شورا ګانو له لوري ټاکل کیږي، داوږدې مودې لپاره خدمت کوي. په دې توګه د جمهور رئیس له لوري د مشرانو جرګې ټاکل شوي غړي لوړ ګڼل کیږي. د جمهور رئیس له لوري دمشرانو جرګې د غړو ټاکلو واک تر یوه بریده د۱۹۶۴ کال د اساسي قانون د ۹ مادې سره تړاو پیداکوي چې له مخې یې پاچا ددې واک لري ترڅو د مشرانو جرګې غیرمنتخب غړي او د مشرانو جرګې د غړو له منځ نه دهغوی مشر وټاکي.[۳۳۲] د قانون دا ماده چې جمهور رئیس باید د معیوبینو اوښځو استازي هم دمشرانو جرګې د غړو په توګه وټاکي د۱۹۶۴ کال له اساسي قانون سره کوم تړاو نه لري. دا مسایل لکه د مشرانو جرګې دمشر د ټاکلو اوسنۍ طریقه نوې ده.

**درېیم. نتیجه**

" له حقوقي پلوه، د یوې امپراطورۍ په توګه د افغانستان جوړېدل د هغه په یونیتار حالت کې کتلای شو: چې اداري موخه یې په چاپېر د کنټرول برلاسی وه، نه دا چې ځايي جمعیتونو سره د خودارادیت حکومت کې مرسته وکړي[۳۳۳]"

د افغانستان امپراتورۍ بنسټ ته له پاملرنې پرته، هرډول اوسنی دموکراتیک سیستم خپله و ړتیا افغان ولس ته د خدمت تر سره کولو له لارې ترلاسه کوي.

ددې څپرکي ترلوستلو وروسته تاسې ته به دا څرګنده شي چې اساسي قانون د پراخ واکونو درلودونکي یو اجرایوی مقام سره پیاوړی ریاستی سیستم په ګوته کوي. له دې ډول مرکزي سیستم څخه د ملاتړ معتبردلایل موجود دي.

---

[۳۲۹]. ۴۸ ماده، ۳ شمېره.
[۳۳۰]. هماغه ځای.
[۳۳۱]. هماغه ځای.
[۳۳۲]د ۱۹۶۴ کال اساسي قانون، ۹ ماده، ۱۲ شمېره.

[333] Rubin, *supra* note 19, at 158

دهیواد په ډیری برخو کې اوسنیو ناامنیو او د مرکزي حکومت او سیمه ییزو زورواکوترمنځ روانو سیالیو ته په پام سره، سیمه ییزو ادارو ته د واک لیږد به جنایت کاران او جنګسالاران چې حکومت یې پروړاندې جګړه کوي، لاپسې پیاوړي کړي. په دې ډول حالت کې پراضافي غیر قانوني سیمه ییزو زورواکو باندې د بریالیتوب لپاره به د مرکزي سیستم شتون ضروري وي. لکه څرنګه چې د شکایتونو د اوریدو کمیسیون یوه تن پخواني کارکوونکي څرګنده کړه: تر څوپورې چې دلته ټول لوري بې وسلې شوي نه وي، د یو دموکراتیک انتقال امکان به ترډیره بریده پورې کم وي، ځکه چې وسله وال به د شخړو د حل لپاره د قانوني او سیاسي سیستمونو پرځای په زور تکیه وکړي. په دې توګه به وسله والې ډلې پرعایداتي سرچینو باندې خپل اغیز ساتلو ته دوام ورکړي.[۳۳٤]

**دمباحثې پوښتنې**

یوه مهمه نظریه چې باید په پام کې یې ونیسو داده کله چې افغانستان باثباته شي اود افغانستان د حکومت او پرمختګ په برخوکې د نړیوالو اغیز کم شي آیا اوسنی سیستم باید بدلون ومومي. هغه اداري او سیاسي جوړښت چې د دولت جوړوني لپاره ضروري ګڼل کیږي، کیدای شي وروسته دښه حکومت جوړولو لپاره عین سیاسي جوړښت ونه وسي.[۳۳٥]

یو پیاوړي وزیر چې د ریاستي او مرکزي سیستم له مهمو ملاترکوونکو څخه ګڼل کیږي، په خصوصي توګه وویل: چې یوغیرمتمرکز پارلماني سیستم د یو واحد او باثباته افغانستان لپاره ګټور وي مګر په اوس وخت کې ددې سیستم منل به دهغوبنسټونو د جوړیدو مخه ونیسي چې جوړیدو ته یې اړتیا لیدل کیږي. آیا تاسې له دې سره موافق یاست؟

**د مباحثې پوښتنې**

هیله ده تاسې به لیدلي وي چې ددې تحلیل موخه د بیلابیلو لومړیتوبونو او اندیښنو ترمنځ د انډول رامنځ ته کول دي. له یوه لوري له اجرایوي واک نه د ناوړه ګټې اخیستنې او استبدادي حکومت په اړه او له بل لوري داغیزمن حکومت په اړه اندیښنې شته دي. د یو داسې حکومت جوړولو لپاره چې د یادو اندیښنو ترمنځ یوډول انډول رامنځ ته کړي بیلابیلې لارې شته. دا ډول حکومت په بیلابیلولاملونو لکه په حکومت کوونکو پورې تړاو لري. د افغانستان په شان د امریکا په متحدو ایالتونوکې هم د اساسي قانون جوړوونکو پریکړه کړې وه چې یو اغیزمن جمهور رئیس د هیواد د سوکالۍ لپاره مهم او ګټوردی. لاندې بیانیه چې دامریکا دمتحدو ایالتونو د اساسي قانون د جوړولو په مهال کارول شوې وه ولولی او د افغانستان په اساسي قانون کې داجرائیه قوې رول ته په پام سره دهغې نه ګټه اخیستل وځیرۍ.

334 Grant Kippen, *The Long Democratic Transition*, *in* Future of Afghanistan, 35, 37 (J Alexander Thier ed., 2009).
335 Rubin, *supra* note 19, at 161.

"د اجرائیه قوې پیاوړتیا د ښه حکومت لپاره خورا مهم لامل ګڼل کیږي. دا د بهرنیو بریدونو په وړاندې د ټولنې د ساتنې لپاره ضروري ګڼل کیږي. دا د قوانینو د باثباته اداري، د شتمنی ساتنې خلاف هغو نامنظمو آمرانه ترتیباتو په وړاندې چې ځینې وختونه دعدالت عادي مسیرګډوډوي سبب ګرځي، لپاره هم مهم دی. د بریدونو، ځان غوښتنو، ګډوډۍ او خطرناکو اعمالو په وړاندې د آزادۍ د ساتلو لپاره مهم دی. کمزورې اجرائیه قوه د کمزوري حکومت شتون څرګندوي. کمزوري اجراآت د بدو اجراآتواو یوخرابه حکومت لپاره یوبل پړاو دی. په هرصورت که له نظري پلوه دا هرڅه وي. خو په عمل کې باید یو بد حکومت وګڼل شي."[۳۳۶]

[336] The Federalist No. 70, *supra* note 5 at 403 (Alexander Hamilton).

## څلورم څپرکی: حکومت او اداره

### اول. سریزه

لکه څرنګه چې تاسو په لومړي څپرکي کې ولوستل، اساسي قانون د هیله مند کونکي سند په توګه ډېر زیات اهمیت لري، چی د دولت هیله مند کوونکي ایډیالونه تر چتر لاندې روالي، په هېواد کې یو کوونکي او الهام ورکوونکی رول ترسره کوي اوهمدارنګه په نړیواله کچه د هېوادوالو استازیتوب کوي. په همدی توګه اساساً اساسي قانون د دولتي جوړښت په تنظیم کې مهم رول ترسره کوي. خو په ټوله کې دغه رول د لوړ حکومتي جوړښت او اساسي رولونو په پیچلو مکانیزمونو لکه: ټاکنو، د قانون جوړونی په اقداماتو او د قواوو په تفکیک را څرخي.

سره له دې چې د حکومتي جوړښت رامنځته کول د اساسي قانون اصلي کړنه دیخو په عمومی ډول لیکل شوي اساسي قوانین په د دولت کی د اداري اړخ په اړه د ویلو لپاره نسبتاً لږ څه لري. . پداسې حال کې چې د پارلمانونو او اجرایوي برخو په فعالیت او ټاکنو حاکم قواعد په زیاتو جزئیاتو سره بیان شوي، خو فرعي حکومتي سیاسي سازمانونه په هر اړخېزه توګه تنظیم شوي نه دي. لیکل شوي اساسي قوانین د اداري د تنظیم کونکو مفصلو مقرراتو پر ځای، د مسولیت منلو زنځیري تمرکز او د مدیرانو د پریکړو دموکراتیک مشروعیت ته تمایل لري.[۳۳۷]

د افغانستان د یو شمیر بنسټونو او د هغو پر کړنو د حاکمو قواعدو هر اړخیزه مطالعه د دې څپرکي له وسه او آن ددې کتاب له محدودې وتلې خبره دی.

اداري حقوق ډېره مهمه او پېچلې موضوع ده، په واقعیت سره یو ځانګړي کتاب او ټاکلي تدریسي وخت ته اړتیا لري. ددې څپرکي موخه د هغو اساسي اداري نهادونو توضیح دی چې د افغانستان د ۲۰۰۴کال په اساسي قانون کې درج او ذکر شوي دي. په دې څپرکي کې په اساسي قانون کې د راغلو نهادونو رول، مسولیت، واک او هغه مسایل چې په اداري برخه کې منځته راځي بیانېږي.

دغه څپرکی لومړی د سیمه یېزو او ولایتي ادارو په اړه د اساسي قانون احکام تر څېړني لاندې نیسي چې پکې د ذکر شویو ادارو جوړښت، د هغو اساسي اصول، ولایتي شوراګانی، د ولسوالیو شوراګانی او ښاروالی راځي او له هغه وروسته د اساسي قانون او نورو اړوندو قوانینو له نظره پر حکومت تمرکز لري. په دې اړه اړوند موضوعات عبارت دي له: د حکومت اساسي جوړښت او اصول، د وزیرانو شرایط او ځانګړتیاوې، د دندو د پیل په خاطر د لوړې پر ځای کول، حکومتي دندې، تقنیني او سازماني واک او په پای کې د څارني په اړه د ولسي جرګې رول.

---

337 Tom Ginsburg, *Written Constitutions and the Administrative State: On the Constitutional Character of Administrative Law*, *in*COMPARATIVE ADMINISTRATIVE LAW, 117, 123 (Susan Rose-Ackerman & Peter Lindseth eds. , 2010).

## أ- سیمه ییز او ولایتي ارګانونه

### الف. اساسي جوړښت

دافغانستان اسلامي جمهوریت داساسي قانون ۸ څپرکی د اداري تر عنوان لاندې لیکلو اساسي قوانینو ته په تمایل سره، ددولتي ادارو په اړه لږ معلومات وړاندې کوي. په اتم څپرکي کې نهادونه یوازې د اوو مادو په چوکاټ کې له مبهمو مسولیتونو او محدودو واکونو سره طرح کیږي.

لکه څرنګه چې د دې کتاب په اوږدو کې ترې بحث شوی، د افغانستان اساسي قانون یو مرکزي حکومت پیش بیني کوي چې قدرت په محدوده توګه لیږدوي. نو پر دې اساس دا حیرانوونکې نده چې اساسي قانون څواکمن سیمه ییز او ولایتي بنسټونه په ایجاد باندې تاکید نه لکبلکه پرځای یې کمزوري بنسټونه چې له لږې خپلواکۍ او واک څخه برخمن وي ایجادوي او د دې یادو شویو اداري واحدونو د تنظیم او کنترول په موخه د ملي حکومت لپاره پراخ واکونه په نظر کې نیسي. په یوه معنا د افغانستان ولایتي او ولسوالیو اداري په عادي توګه په کابل کې د شته وزارتونو پراختیا او غځونه دی.

| د اساسي قانون ژباړه |
| --- |
| کیدای شي ستاسی ورته پام شو ی وي چې په لاندې بکس کې د ۱۳۶مادې ژبه له اصلي متن سره یو څه توپیر لري، لامل یې د افغانستان اساسي قانون د انګلسي ژبې دوه ژباړې دي، پدې ټول څپرکي کې ژبنیو وړو توپیرونو ته په پام سره چې د ژباړې په پایله کې منځته راغلي، ځیر اوسی، پدې اړه فکر وکړئ چې دغه ژبنی توپیر د متن پر معنا اغیزې لري او که نه. حقوقي ژباړه کولی شي د متن په تفسیر د پام وړ اغیزه ولري. |

| د افغانستان اساسي قانون |
| --- |
| **۱۳۶ماده:**<br>۱- د افغانستان د اسلامي جمهوریت اداره د مرکزي او سیمه ییزو اداري واحدونو پر اساس له قانون سره سم تنظیمیږي.<br>۲- مرکزي اداره پر ځینو اداري واحدونو وېشل کیږي، چې د هر یوې په سر کې یو وزیر وي.<br>۳- د محلي ادارې واحد ولایت دی.<br>۴- د ولایتونو او اړوندو ادارو شمېر، ساحه، برخې او تشکیلات د نفوسو د شمېر، ټولنیز او اقتصادي حالت او جغرافیایي موقعیت پر اساس د قانون له لارې تنظمیږي. |

د جوړښت له پلوه د افغانستان د اساسي قانون ۸ څپرکی، په ملي کچه د وزارتونو په چوکات کې د اداري واحدونو او همدارنګه په سيمه ايزه يا ټيټه کچه د ولايتونو، ولسواليو، کليوالي شوراګانو او د ښاروالی د بنستونو د ايجاد وړاندويونه کوی.

۱۳۶ماده له مرکزي اداربخخه يادونه کوي چې بايد په يو شمېر اداري واحدونو و وېشل شياو د هر اداري واحد په سر کې يو وزير وي. دا ماده همدارنګه زياتوی چې سيمه ييز اداري واحد، ولايت دی. ټول ولايتونه له هره پلوه د يو او بل سره برابر نه دي. سره له دې چې "شمېر، ساحه، د ولايتي او اړوندو ادارو وېش او تشکيلات او همدارنګه د دفترونو شمېر د نفوسو د شمېر، اقتصادي او ټولنيز حالت او جغرافيايي موقعيت له مخې د قانون په واسطه تنظيمېږي". دا په دې معنا دي چې د ولايت اداري يو له بل سره توپير لري (د ټولنې اقتصادي او ټولنيزو شرايطو او جغرافيايي موقعيت د لاملونو په نظر کې نيولو سره د شمېر، ساحې، وېش، واحدونو، د دفترونو د شمېر او د اړوندو ولايتي سازمانونو له مخې). بايد و ويل شي چې په اساسي قانون کې هېڅ ډول داسې صراحت نشته چې پر اساس يې د دغو لاملونو ځرنګوالی وسنجول شي. لکه څرنګه چې لاندې ترې يادونه شوې: دا کار مقننه قوي ته پرېښودل شوی چې دا جوړښت په بشپړه توګه د تقنيني حکمونو له لارې تنظيم کړي.

| د افغانستان اساسی قانون |
|---|
| **۱۳۷ماده:** |
| حکومت د مرکزيت د اصل په ساتلو سره د اقتصادي، ټولنيزو او کلتوري چارو ګړندي کولو او ښه والي او د ملي ژوند په پرمختګ کې د خلکو د لا زياتې ونډې اخيستو په موخه لازم واکونه د قانون له حکومونو سره سم محلي ادارې ته سپاري. |

۱۳۷مادی د لاربنونی اصول او د مرکزي حکومت د واک د لېږد اجازه محلي ارګانونو ته ټاکي. دا ماده په ډېره څرګنده توګه بيانوی چې د محلي ادرو استقرار د مرکزي حکومت څخه د خپلواکي په معنا ندی. بر خلاف د مرکزيت اصول د اداري سيستم اساس او بنسټ جوړوی.

دی ته مو پام وي چې يوازی هغه واکونه چې اړين ګنل کيږي د مرکزي حکومت له خوا محلي اداراتو ته ورکول کيږي تر څو ټاکلی موخی لاس ته راشي لکه: په ملي چارو کی د ګډون د روحيي د پياوړتيا لپاره هڅونه. سربېره پر دې د ولايت او حتی ولسواليو په کچه زياتی ګمارنې د مرکزي حکومت له لوري ترسره کېږي.

د ولايت او ولسواليو په ادارو کې د ملکي خدمتونو ټول کارکوونکي د اړونده وزير او يا جمهور رئيس له لوري ټاکل کېږي. او تقريباً ټولې اداري او مالي پرېکړې د ولايتونو او ولسواليو په کچه مرکزي حکومت کوي. د افغانستان د لاربنود تر عنوان لاندې يو کتاب دا موضوع داسې بيانوی: "د ولسواليو او ولايتي ادارو مسوليتونه او واکونه د مرکزي حکومت له لارې ټاکل کېږي (په همدی ډول بيرته ترې

اخستل کیږي). که څه هم ولایتونه او ولسوالۍ د سیمه ییزو اداري واحدونو په توګه د قانون پر اساس په رسمیت پیژندل شوي دي، له هغو اړینو انعطاف پذیریو څخه پرته چې د پروګرامونو په پلي کولو کې د مرکز له خوا ټاکل کیږي، دوئ په پریکړه کولو کې خپلواک نه دي."[338] ۱۳۷ماده د واک د لیږد په اړه په ځانګړو معیارونو ټینګار لري چې یو مرکزي حکومت ته د اساسي قانون ژمنتیا او له مرکزي حکومت څخه سیمه ییزو ادارو ته د قدرت د لیږد په اړه بې میلي څرګندوی.

دغه ژمنتیا د ملي حکومت په چوکاټ کې د ځواک په ساتنه، د اساسي قانون په حکمونو کې د اداري سیستم په تنظیم او د قانون جوړوني د مرکزي رول په اړه چې په ۸ څپرکي کې یې یادونه شوې، په څرګند ډول سره لیدل کیږي. ۱۳۶ماده وایي:" د افغانستان د اسلامي جمهوریت اداره د محلي او مرکزي ادارو د واحدونو پر اساس د قانون له حکمونو سره سم تنظیمیږي." د دې درسي کتاب ۲ او ۳ څپرکي د قواو تفکیک په برخه کې، اجرائیه قوه د دولت او حکومت د رئیس په توګه د جمهور رئیس توصیف او د دولتي مدیریت لپاره د جمهور رئیس مسولیتونه بیانوی. خو لکه چې وویل شول ، د مدیریت په برخه کې جمهور رئیس نه لرید خپلې خوښې وړ آزادي نه لري. په بدل کې یې ۱۳۶ماده وایي: مقننه قوه د قانون جوړوني له لارې حکومتي اداري د اساسي قانون د حکمونو سره سم تنظیموی او په دې ترتیب د اجرائیه قوې واکونه محدودوی. دا کار د اجرائیه او مقننه قوې ترمنځ د مسولیتونو د تداخل لامل کیږي، چې د قدرت د مختلفو ارګانونو ترمنځ همکارۍ ته اړتیا لري او د نه منلو وړ ځواک د دې عناصرو په مدیریت کې بوروکراسي رامنځته کوي.

**په افغانستان کې د محلي او ولایتي ادارو جوړښت**[339]

| جدول ۱: په افغانستان کې د مرکز - محل رسمي اړیکه | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | اداري ترتیبات | | مالي ترتیبات | |
| | جوړښت | پرسونل | عواید | لګښتونه |

[338] Afghanistan Research and Evaluation Unit & The World Bank, *A Guide to Government in Afghanistan*, 7-8, 2004, *available at*http://www. areu. org. af/Uploads/EditionPdfs/407E-A%20Guide%20to%20Government%20in%20Afghanistan-Book-web. pdf.
[339]AREU & The World Bank, A Guide to Government in Afghanistan, 10, 2004, *available at* http://www. areu. org. af/Uploads/EditionPdfs/407E-A%20Guide%20to%20Government%20in%20Afghanistan- Book-web. pdf.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ولایت | د ریاستونو جوړښت په کابل کې د وزارتونو د جوړښت ښکارندویه دي، که څه هم ټول وزارتونه یو ډول او ورته ریاستونه نه لري. | والي ځوان کارکوونکي ټاکي او تبديلوی( د شپږم بست او له هغه نه ټیټ کارکوونکي، دریمه درجه اجیران او له هغه نه ټیټ)، اړوند وزیر د ۳ ـــ ۵ بست او جمهور رئیس لوړ پوړي مامورين (۲ اوله دوهم نه پورته) ټاکي. | ټول مالیات او ګمرکي محصولات د مرکزي تقنيني اسنادو په واسطه تنظیمیږي، ټول عواید د کابل په استازیتوباستازیتوب راټولیږي. ولایتونو ته ورستی مالي لیږدونه د اړوندو ریاستونو دځانګړې شوې بودجې سره سم تر سره کیږي. د نقدی پیسو لیږد توپیر لري. | د ولایتونو ځانګړې شوې بودجه او پرمختیایي بودجه، د پیسو له هغې مجموعې څخه عبارت دی، چې په کابل کې د مختلفو وزارتونو د اداري تصمیمونو له لارې د خپلو اړوندو ریاستونو په اړه په کابل کې ټاکل کیږي. |
| ولسوالی | دولسوالیو جوړښت د ولایت په کچه د جوړښت ښکارندویه دی. که څه هم ټول ریاستونه ورته مدیرتونه نه لری. | والي ځوان کارکوونکي تعین او بدلوي(ټول اجیران او د شپږم بست اوله هغه ټیټ کارکوونکي)، اړوند وزیر له ۶نه تر ۳بست پورې او جمهور رئیس لوړ پوړي مامورين (ولسوال او قاضی )له ۲نه تر هغه لوړ کارمندان ګماري. | ولسوال ورې مالیي راټوله وي، بیعې یې هر درې کاله وروسته، دغور د کمېټې په واسطه، چې د ولسوالی او ولایت له استازو جوړه وي، ټاکل کیږي، عواید ولایت ته سپارل کیږي. | ولسوالی ته ځانګړې شوې عادي او پرمختیایي بودجه د پیسو هغه مجموعه دی، چې د مختلفو ریاستونو د پریکړو پر اساس د اړوندو مدیریتونو لپاره په ولایتونو کې ټاکل کیږي. |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| د ولایتونو ښاروالۍ | د ښاروالۍ جوړښت(رياستونه او د کارکوونکو شمېر) له والي سره په هوکړه د کورنيو چارو وزارت له لارې ټاکل کېږي. | والي د ۳ او له هغه نه د ټيټې درجې اجيرانو د ګمارنې او ارتقا واک لري. والي ټولې ګمارنې او تبديلياني (۶بست کارکوونکي او تر ټيټ او ۲درجه اجيران او ترې لوړ)کوي. اړوند وزير له ۵ نه تر۳بست پورې کارمندان او جمهور رئيس لوړ پوړي مامورين (۲بست او ترې لوړ)ګماري. | ټول ماليات او د تادياتو نرخونه په کابل کې ټاکل کېږي، عوايد په ښاروالۍ کې پاتې کېږي او ټول لګښتونه ترې تمويلېږي. | د ښاروالیو لپاره د عادي او پرمختيايي بودجې تخصيصات د ښاروالیو له خوا تر مراحلو لاندې نيول کېږي او د والي له هوکړې وروسته د کورنيو چارو وزير له خوا تاييدېږي( د ښاروالیو د عمومي رياست) |
| محلي ښاروالۍ | د دې ښاروالیو جوړښت د والي او ولايت د ښاروالیو په هوکړه د کورنيو چارو د وزير له لوري برابرېږي. | د ولسواليو د کارمندانو څخه عبارت دي، نو ځکه والي ځوان کارمندان تعين او تبديلوی(د۶بست او ترې ټيټ او ټول اجيران). اړوند وزارت له ۵ نه تر ۳بسته او لوړ پوړي مامورين د جمهور رئيس له لوري ګمارل کېږي. | ټول ماليات او د تادياتو نرخونه، په کابل کې ټاکل کېږي، عوايد په محلي ښاروالیو کې پاتې کېږي او د ښاروالیو ټول لګښتونه پوره کوي. | د معاشاتو له تادياتو پرته بل هېڅ ډول رسمي بودجه يې تخصيص نه لرينه لري، پرمختيايي بودجه د حل او فصل د مورد په توګه او د ښاروالۍ له لوري ټاکل کېږي. |

سرچينه: AREU/WB staff assessment

**د مباحثې پوښتنې**

د ۸ څپرکي په هره ماده کې يو بند شتون لري چې په صراحت سره مقننه قوي ته واک ورکوي، د قانون جوړونې له لارې د۱۳۶مادې په شان د هرې مادې موضوع تنظيم کړي. ددې څپرکي په ترڅ کې مونږ تاسو دې ته هڅه وو تر څو پدې باندې وپوهېږی چې د ياد شوو ادارې بنسټونو په تنظيم کې له مقننه قوې څخه تاسو څه انتظار لری؟

په مختلفو شرايطو کې لاندې پوښتنې په نظر کې ونيسی:

۱: په کومو برخو کې د مقننه او اجرائيه قوي ترمنځ اختلافات شوني دي او ددې اختلافاتو هر يو څرنګه حل او فصل کېږي؟

۲: د پورته ذکر شويو توضيحاتو په نظر کې نيولو سره، د مرکزي ادارې سيستم ګټې او زيانونه کوم دي؟

۳: څرنګه مختلف ارګانونه يو د بل سره واک شريکوي او په کومو برخو کې دوی ترمنځ د ټکر امکان شته؟

### ب. ولايتي شوراګانې

هغسې چې تاسو يی هيله درلوده د اساسي قانون په ۱۳۸ماده کې راغلي دي: "په هر ولايت کې يوه ولايتي شورای جوړېږي." ولايت په هيواد کې تر ټولو لوی سيمه ييز حکومتي واحد دی. افغانستان په ۳۴ولايتي اداري واحدونو وېشل شوی دی. د شورا د غړو د ټاکل کېدو لپاره ۱۳۸ماده د آزادو، عمومي، پټو او مستقيمو ټاکنو غوښتونکې ده. د اړوند ولايت اوسيدونکي د نفوسو په تناسب سره د شورای غړي د ۴ کالونو لپاره ټاکي، خو د ولسمشري د انتخاباتو خلاف چې د دې کتاب په ۳ څپرکي کې پرې بحث شوې ، په اساسي قانون کې هېڅ ځانګړی ټاکنيز کړندود او د اړتيا وړ نيټه نه دي په ګوته شوی او جزئيات يې بيا هم مقننه او اجرائيه قوي ته پاتې دي چې د قانون له لارې يی تعين او پلي کړي.

هره شورا (له خپلو غړوڅخه يو د ر ئيس په توګه ټاکي) خو د اساسي قانون د شورا د رئيس رول، د خدمت د دورې يا د غړو د ټاکلو او ګوښه کولو په اړه له دې زيات هيڅ نه لريتفصيل نشته.

**د افغانستان اساسي قانون**

**۱۳۸ماده:**

(۱) په هر ولايت کې يوه ولايتي جرګه جوړېږي.

(۲) د ولایتي جرګې غړي له قانون سره سم د نفوسو په تناسب د ازادو، عمومي، پټو او مستقیمو ټاکنو له مخې د ولایت د اوسېدونکو له خوا د څلورو کلونو لپاره ټاکل کیږي.

(۳) ولایتي جرګه له خپلو غړو څخه یو تن د رئیس په توګه ټاکي.

**۱۳۹ماده:**

(۱) ولایتي جرګه د دولت د پرمختیایي هدفونو په تامین او د ولایت د چارو په ښه کولو کې لکه څنګه چې په قوانینو کې څرګنده شوې، برخه اخلي او په ولایت پورې د مربوطه چارو په باب مشوره ورکوي.

(۲)ولایتي جرګه خپلې وظیفې د محلي ادارې په مرسته سرته رسوي.

د اساسي قانون ۱۳۹ ماده د ولایتی شوراګانو رول تشریح کوي (ولایتي جرګه د دولت د پرمختیایي هدفونو په تأمین او د ولایت د چارو په ښه کولو کې لکه څنګه، چې په قوانینو کې څرګنده شوې، برخه اخلي او په ولایت پورې د مربوطه چارو په باب مشوره ورکوي.) سربېره پر دې، (ولایتي شورای خپلې دندې له سیمه ایزی ادارې سره په همکاري تر سره کوي)، په بل عبارت ولایتي شوراګانې ولایتي ادارو ته د ولایت په پرمختیا کې څرنګه چې په قانون کې راغلی دی، مشوره ور کوي. لکه څرنګه چې په ۳ څپرکي کې ترې یادونه وشوه، جمهور رئیس والیان چې په ټوله کې د قانون د پلي کولو، اختلافونو د حل او عوایدو د راټولولو مسول دي ټاکي. پر دې اساس له مرکزي ځواکمن حکومت سره په ژمنتیا جمهور رئیس په ولایتونو کې هغه والیان ټاکي چې د ریښتوني اجراییوی واک لرونکي وي. پداسې حال کې چې شوراګانې د خلکو له خوا ټاکل کېږي، خو یوازې مشورتي رول لري.

د لاندې بکس متن چې د سموني ددې طریقي لنډه کره کتنه ده ولولی.

په واقعیت کې ملي شورا د ولایتي شوراګانو په هکله قوانین چې د ۲۰۰۵ کال د ولایتي شوراګانو قانون هم پکې راځي، تصویب کړ. د دې قانون پر اساس د ولایتي شوراګانو واکونه په دریو لویو برخو کې راځي:۱- د ولایتي پراختیا په پلان کې ګډون،۲- د ولایتي ادارو څارنه او ارزونه۳،- د اختلافاتو په حل او فصل کې ګډون.[۳۴۰]

پدې قانون کې اوس هم لویې ستونزې شته لکه: د ولایتي شوراګانو د رول ګونګوالی، د دوئ او نورو ټولو ولایتي ادارو د کړنو ترمنځ د دندو تداخل او د الزامي پرېکړو د تصویب واک نلرل.[۳۴۱]

[340] Afghanistan Research and Evaluation Unit, *Provincial Governance Structures in Afghanistan: From Confusion to Vision?*, 6, 2006, *available at*http://areu. org. af/Uploads/EditionPdfs/611E-From%20Confusion%20to%20Vision-BP-print. pdf.

[341] Afghanistan Research and Evaluation Unit, *Provincial Governance Structures in Afghanistan: From Confusion to Vision?*, 6-9, 2006, *available at*http://areu. org. af/Uploads/EditionPdfs/611E-From%20Confusion%20to%20Vision-BP-print. pdf.

**ولایتي شوراګانې او دموکراتیک استازیتوب**

ولایتي شوراګانې ظاهراً د خپلو موکلینو له خوا د استازیتوب لپاره ټاکل شوې وي او والي ته د مشوره ورکوونکو په توګه فعالیت کوي. دا شوراګانې د والي په اداره کې د ویتو حق نه لري ځکه والي نیغ په نیغه جمهور رئیس ته ځواب ویوکی دی.

د افغانستان د جغرافیې محافظه کارې ټولنې او دموکراتیک اساسي قانون په پام کې نیولو سره، په مستقیم ډول پر ځایي اداري باندې د وګړو د اغېز بنډلو ناتوانې دوی ته غیر عادلانه برېښي. د والي رفتار او لوری نسبت ملي دولت ته په ورځنۍ ژوند کې زیات اغیز لري. د والي د انتخا بیدو دوه لوی خنډونه د امنیت او په ټاکنو کې د پام وړ سمون نه شتون دی. ددې دوو خنډونو د لیرې کېدو په صورت کې له افغانیت او دموکراتیک سیاسي بهیر نه د ملاتړ احساس تر زیاتې کچې ډېروالی پیدا کوي، والي او یا لږ تر لږه ولایتي شورا ته د هغه د رایې ورکولو وړتیا، د دوی لپاره له دې بهیر نه یا دو شویو موخو ته د رسېدو لپاره د عملي ځارنې شونتیا برابروی.[342]

**ج. سیمه ایزې شوراګانې**

**د افغانستان اساسي قانون**

**۱۴۰ماده:**

(۱) د محلي اداري د چارو د سمون او په هغې کې د خلکو د فعالې ونډې اخیستو د تامین په مقصد، په ولسوالیو او کلیو کې د قانون له حکمونو سره سم جرګې جوړېږي.

(۲) د دې جرګو غړي د ازادو، عمومي، پټو او مستقیمو ټاکنو له مخې د سیمې د اوسېدونکو له خوا د دریو کلونو لپاره ټاکل کیږي.

(۳) په محلي جرګو کې د کوچیانو ګډون د قانون له حکمونو سره سم تنظیمیږي.

پورتنۍ ماده د محلي شوراګانو (ولسوالی او کلیو) لپاره دوه موخې ټاکي: د فعالیتونو سمون او په محلي اداره کې د خلکو د فعال ګډون تأمین. ولسوالي تر ولایت نه، واړه اداري واحدونه دي. په افغانستان کې هر ولایت په ولسوالیو وېشل شوی دی. ۱۴۰ماده همدارنګه له ټاکنیز کړندود نه یادونه کوي، خو هلته د ولایتي شوراګانو په نسبت هم لږ معلومات ورکړل شوي دي. د دې شوراګانو غړي ؛د ازادو، عمومي، پټو او مستقیمو ټاکنو له لارې د سیمې د اوسېدونکو له خوا د دریو کالونو لپاره ټاکل کیږي. ؛ پداسې حال

[342] Richard Kraemer, *Towards State Legitimacy in Afghanistan*, 65 International Journal 638, 644 (2010).

کې، چې درې کلنه دوره او د رايو ورکولو لاره نسبتأ روښانه دی، خو دغه بند د سيمې اوسېدونکي نه تعريفوی او په دې اړه د قانون رامنځته کول او پلي کول مقننه او. د افغانستان اساسي قانون د ملي يوالي او قومی موضوعاتو ته اشاره کوياړه د مسوليت ښکارندويه دی. ۱۴۰ماده همدارنګه د قانون د حکمونو سره سم په محلي شوراګانو کې د کوچيانو د برخې اخيستنې غوښتونکی دی. داسې معلومېږي، چې د قانون ليکونکي، د دې مسلې پر اهميت پوهېدل او باور يې لاره، چې هغه ته رسېدل د محلي شوراګانو په پرتله د ملي مقننه قوي په واسطه ښه تأمين کېدای شي. دا مهمه دی چې پام کی ولر ی، چې د دې څپرکي د ليکلو پرمهال پر ميدان شته واقعيتونه، پدې ماده کې د وړاندی شوو جوړښتونو نه په کراتو وارې لر. وو. همغه ډول، چې د ښاروالی د ادارو په اړه صدق کوي، د ولسواليو شوراګانو هم لږ فعاليت لاره او د غړو د بشپړولو لپاره يې انتخابات ترسره شول. د دغه استازيتوب ادارو / شوراګانو نه موجوديت په افغانستان کی د ديموکراسی ارمانونه او اساسی قانون چی ددی نهادونو د حفاظت لپاره تدوين شوی کمزوری کوی. استازو.[۳۴۳]

## د. ښاروالی

د ولايتي او محلي شوراګانو په څېر چې د اساسي قانون متن د هغو په اړه محدود دی، د ښاروالیو په اړه يې هم لارښونې ډېرې کم دي. ښاروالي له ولايتونو او ولسواليو په پرتله کوچنې اداري واحدونه دي او معمولأ د ښاري سيمو په شاوخوا کې موقعيت لري. ۱۴۱می مادي ته په پام سره، ښاروالي د ښاري چارو د اداره کولو لپاره رامنځ ته کېږي. د شورګانو خلاف، چې مخکې پرې بحث وشو، ښاروالي د يو شمېر تل پاتې واکونو لرونکي دي. (ښاروالی، په اصل کې د حکومت يوه بېله سطحه ده او د بودجې د برابره ولو او لګښت په اړه محدوده خپلواکي لري). بيا هم د کورنيو چارو وزارت له لوري يې د بشري ځواک د ګمارنې پر څرنګوالي کنترول او بودجه يی تاييدوي.[۳۴۴]

### د افغانستان اساسي قانون

**۱۴۱ماده:**

(۱) د ښاري چارو د اداري لپاره ښاروالی جوړېږي.

(۲) ښاروال او د ښاري مجلسونو غړي د ازادو، عمومي، پټو او مستقيمو ټاکنو له لارې ټاکل کېږي.

[343] Afghanistan Research and Evaluation Unit, *District Councils: The Missing Middle of Local Governance*, 1, (27 June 2011), available at http://www. areu. org. af/Uploads/EditionPdfs/1118E-District%20Councils%20Roundtable. pdf.

[344] Afghanistan Research and Evaluation Unit & The World Bank, *A Guide to Government in Afghanistan*, 8, 2004, *available at* http://www. areu. org. af/Uploads/EditionPdfs/407E-A%20Guide%20to%20Government%20in%20Afghanistan-Book-web. pdf.

(۳) په ښاروالیو پورې مربوطې چارې د قانون له لیارې تنظیمېږي.

د ښاري شوراګانو او ښاروالیو په اړه ټاکنیز کړندودونه ساده دي "آزاد، عمومي، پټ او مستقیم انتخابات." دریېم او وروستی بند یې وایي چې: د ښاروالیو اړوندې چارې د قانون له لارې تنظمېږي. په همدې ډول، چې تاسي یې په ځرګنده تو ګه ګورئ، په هره اندازه، چې د اساسي قانون متن ګونګ او محدود وي، په هماغه اندازه باید د حکومت رول د اساسي قانون د حکمونو د تطبیق لپاره د الزامي کړندودونه او مقرارت په برابرولو کې د توجه وړ وي. ۱۴۲ ماده دا ټکی ډېر ښه تر پوښښ لاندې نیسي: " دولت ددې اساسي قانون د حکمونو د تعمیل او د مندرجو ارزښتونو د تأمین لپاره لازمي اداري جوړوي." دداسې پراخ واک درلودل پدې باندې اعتراف دی چې په اداري برخه کې د اساسي قانون لپاره تقریباً دا نا شونې ده تر څو داسې طرح وړاندې کړي چې په ټولو مواردو کې د کارولو وړ وي.. ډېر ځله د هرې موضوع مشخص کولو ته اړتیا وی، خو اساسي قانون د خپل ماهیت له مخې د ټولو قضایاوو د توپیر نه په ګوته کوي. ددې بدیل حکومتي ادارو ته اختیارات ورکول او ددې واکونو د پلي کېدو د څرنګوالي په اړه د لارښود برابرول دي. د ښاروالیو په اړه ځرګنده ده چې په ښاري ادارو کې د حاکمو تقنیني اسنادو حجم یا اندازه د مقننه قوې او د اجرائیه قوي د پرېکړو_سره تړاتو لري، نه د اساسي قانون د غوښتنو.

**ځانګړې لوستن**

**د انضباط او مصلحت ترمنځ: د لوړو سیمه ییزو ټاکنو په اړه پالیسي**

**د مارتین وان بیجلریت له لیکنی څخه**[۳۴۵]

متن د مارتین بیجلرت لاندې لیکل شوی چې د جمهوري ریاست له خوا د محلي انتخاباتو په اړه یې لیکلی، مطالعه کړئ. ستاسو نظر د دې متن په اړه څه دی؟ آیا تاسو د هغه سره موافق یا مخالف یاستی؟ څه ډول کولی شی محلي ټاکنیز سیستم ښه کړئ؟

جمهور رئیس د انتصاب په بهیر کې د کلیدي څېرې په توګه په خپل حال پاتې دی. د پراخو ارتباطي شبکو د ریاست تر څنګ، په پرله پسې توګه د استازو استازو او بانفوذه شخصیتونو له لوریچې د ځینو چارواکو په ټاکنه او حذف پسې ګرځي، مشورې او درخواستونه ورکول کېږي. دا شطرنج ته ورته یو سیستم دی، چې پدې کې د جمهور رئیس ملګري او سلاکاران په همدې اندازه د مشورو او غوښتنو مورد ګرځي، چې په څو ډوله پیچلو مذاکراتو کې له وعدو او ورکړو سره مل وي پای ته رسېږي. د والي د پست ځانګړنې په ملي مذاکراتو کې برجسته والی لري، پداسې حال کې چې د ولسوالیو اداري پوستونه دوه اړخیزې موضوع ته په تمایل د محلي قدرت په لوبه او د مرکز په کچه د سیاسي او

[345] Afghanistan Research and Evaluation Unit Briefing Paper Series (May 2009).

اقتصادي ګټو په شبکې اوښتي دي. دغه بهير په پايله کې تر ډېره د مختلفو لوبغاړو په مداخله چې معرفي شوي نوماندان له سوال لاندې را ولي، فاسدېږي. د ارشدو محلي انتصاباتو د بهير د اصلي ځانګړنو څخه يوه هم معمولاً د واليانو او ولسوالانو د کړنو په نظر کې نيولو پرته، تغير او تبديلي دی. بېلګه: د نيمروز ولايت له څلور نه په دريو ولسواليو کې د ولسوالی پست له ۲۰۰۲کال نه راپدېخوا څو وارې يوازې د څلورو نفرو ترمنځ لاس په لاس شوی دی. په ټوله کې تغير او تبديل د پايدارو شکايتونو او محلي مظاهرو په پايله کې د ولسوال د ګوښه کېدو لامل ګرځي.

واليان چې د مرکزي حکومت له لوري د ولسوالانو له ګمارلو څخه ناخوښ دي او يا هغه څوک چې د ګمارنې د نه منلو له امله تر فشار لاندې دي، د کارولو وړ يو شمېر ستراتيژۍ درلودونکي دي. دا موارد عبارت دي له: د ولسواليو د اداري مديرانو په واسطه د دندي د اشغال ځنډول، د مالي او عملي ملاتړ څخه ډډه او له محل نه د يو سرپرست مدير انتصاب. هغو ولايتونو چې د دې څېړنې په بهير کې يې زيات سرپرستان لرل، عبارت وو له: د بادغيس په ولايت کې له شپږو څلور کسان، د ارزګان په ولايت کې له پنځو څخه درې کسان او پکتيکا کې له ۱۸ څخه اووه کسان. پداسې حال کې چې څو نورې ولسوالۍ هم د غيرې رسمي سر پرستانو لرونکې وې. که څه هم چې يو سرپرست د چارو د لنډ مهاله تر سره کولو لپاره ټاکل کېږي، خو يو شمېر ولايتو نه شته چې په هغو کې اوږده او پخواني نا ټاکل شوي انتصابي ترتيبات تر اوسه شتون لري.سرپرست ولسوالان غالباً د انتصابي سيالۍ د بهير نښه ده چې معمولاً د والي او يا مرکز او د محلي زورواکو( يا د دواړو) او يا د ټولو اړخونو د منلو وړ نوماند پيداکولو چې په سختو او خطرناکو شرايطو کې د خدمت کولو اراده ولري، د ستونزې نښه ده. د ولسوالۍ په کچه د نه / غير رسمياتو د لوړې اندازې يو بل انځور، دا دی چې لږ تر لږه په تېرو دوو کلونو کې دوه داسې ماوردو شتون درلود، چې د ولسوالۍ د وژل شوو مديرانو ځاي د دوی خپلوانو نيولی دي. دا حالت نه يوازې د هغو ستونزو ښکارندويه دي چې د انتخاب، انتصاب او ملاتړ په برخه کې د حکومت له اصلي استازو څخه د ملاتړ په اړه د هېواد په نا ارامو سيمو کې شتون لري، بلکې همدارنګه د ابهام د رامنځته کولو په موخه پراخه تمايل او د مصحلت د پلي کولو لپاره په هرځای کې چې شونې وي، هلته هم شته.

### دريم . حکومت

د اساسي قانون ۴ څپرکی د (حکومت) تر عنوان لاندې د جمهور رئيس پر وزيرانو او د دوی تر مشرتابه لاندې په اداري واحدونو متمرکز دی. په دې ځای کې مونږ د اساسي قانون پر متن د جوړښت د اړوندو حکمونو او د واک پر لېږد تمرکز کوو او په دې اړوند هره بله موضوع روښانه کوو. تاسوته يادونه کوو خپله ځانګړې توجه هغې شبکې ته واړوئ چې د حکومت د مختلفوڅانګو او ادارو ترمنځ د

اساسي قانون پر اساس رامنځ ته شوې او د واک لېږد رامنځ ته کوي.[٣٤٦] تاسو باید په نظر کې ولرئ چې د اساسي قانون د مندرجو حکمونو، اصولو او د دې سیستم د کړنو او څرنګوالي ترمنځ، کوم اختلاف شته که نه.

### أ- اساسي جوړښت

٧١ ماده د جمهور رئیس، حکومت او د هغه د وزیرانو او مقننه قوي ترمنځ اړیکې بیانوی. حکومت له وزیرانو جوړ دی چې د جمهور رئیس تر ریاست لاندې دندې تر سره کوي، د وزیرانو شمېراو دندې د قانون له لارې تنظمېږي. جمهور رئیس د حکومت رئیس دی او حکومت له وزیرانو څخه جوړ دی. مقننه قوه د دې وزیرانو شمېر او دندې ټاکي په همغه شکل چې د دې کتاب په دربیم څپرکي کې پرې بحث شوی، جمهور رئیس وزیران د ولسي جرګې له تایید وروسته د اساسي قانون د۶۴(۱۱)مادي د حکم پر اساس ټاکي[٣٤٧]. د اساسي قانون د دې څو حکمونو په یادولو سره کولی شو ووایو: د واک شبکه چې د دې ارګانو د متقابلو اړیکو څرنګوالی ټاکي، ډېره پېچلې ده. د خلکو له لوري ټاکل شوی جمهور رئیس، انتصابي وزیران د ولسي جرګې په تایید چې د قانون له لارې یې فعالیتونه تنظیمېږي، ټاکي.

**د کابینې د نوماندانو یوه بېلګه**

ددې موضوع په یاد ساتل هم اړین دي چې ولسي جرګه تل د جمهور رئیس له خوا د کابینې ور پېژندل شوي وزیران نه تاییدوی. په ٢٠١٠ کال (۱۳۸۹-۱۳۸۸) کې ولسي جرګې جمهور رئیس د څو دورو لپاره د کابینې د نوماند وزیرانو په بیابیا ورپېژندلو اړ کړ. په لومړئ دوره کې ولسي جرګې له ۲۴وزیرانو نه ۱۷وزیران رد کړل، سره له هغو ۷وزیرانو چې د دوهم ځل لپاره یې ځانونه نوموللي وو.[٣٤٨] وروسته جمهور رئیس د دوهمې دورې لپاره ۱۷ نوماند وزیران معرفي کړل چې ولسي جرګې ترې ۱۰ نوماندان رد کړل.[٣٤٩] څومیاشتې وروسته ولسي جرګې د ۷ وزیرانو له جملی څخه ۵ وزیران تایید کړل، په همدې ترتیب ۶ څوکۍ خالي پاتې شوې.[٣٥٠] د ۲۰۱۱کال د جون تر میاشتې د خالي

---

346 To avoid confusion, we will capitalize "Government" when referring to ministers and their administrative units as defined in the Constitution, and we will not capitalize "government" when referring to the national government consisting of the various branches.

٣٤٧. د ۹۰(۴) مادې سره سم " د اداری واحدونو منځ ته راوړل، تعدیل او یا لغو کول" د ملی شورا له واکونو څخه دي. پداسي حال کې چه ولسمشر افراد د وزارتونو پستونو ته نوماند کوي، ملي شورا پستونه جوړ،اصلاح او یا لغو کوي.

348 Alissa Rubin, *Many Karzai Afghan Cabinet Choices Are Rejected*, N. Y. Times, Jan. 2, 2010, http://www. nytimes. com/2010/01/03/world/asia/03afghan. html.

349 Hamid Shalizi & Jonathon Burch, *Over Half of Karzai's New Afghan Cabinet Picks Vetoed*, Reuters, Jan. 16, 2010, *available at*http://www. reuters. com/article/2010/01/16/us-afghanistan-cabinet-idUSTRE60E5LJ20100116

350 Abdul Waheed Wafa, *5 Confirmed for Cabinet in Afghanistan*, N. Y. TIMES, June 28, 2010, http://www. nytimes. com/2010/06/29/world/asia/29kabul. html.

وزارتونو پوستونه عبارت وو له: د اوبو او برښنا وزارت، د ښځوچارو وزارت، د ښاري پراختیا وزارت، د ترانسپورت وزارت او د لوړو زدهکړو وزارت.[351]

۷۷ماده تر ډېره د حکومت بوروکراتیک جوړښت بیانوی او زیاتوی چې "د اداري واحدونو د آمرینو په توګه، وزیران خپلې دندې د هغو حدودو په چوکاټ کې چې د اساسي او یا نورو قوانینو له لوري ورته ټاکل شوي دي، تر سره کوي."[352] د دغې مادې لومړی بند د ۳۶ مادې دوهم بند ته ډېر ورته والی لري چې په اړه یې پورته بحث شوی دی "مرکزي اداره په یو شمېر اداري واحدونو وېشل کېږي چې د هر اداري واحد په راس کې یو تن وزیر شتون لري."[353] پداسې حال کې چې د ۱۳۶ مادې ۲ بند یوازې د اداري بنسټونو د جوړښت په اړه خبرې کوي. د ۷۷ مادې ۱بند د وزیرانو په واسطه د رسمي واکونو د پلي کولو لارښود وړاندې کوي. د ۷۷ مادې د لومړي بند د وزیرانو واکونه، په څرګنده توګه د اساسي قانون او د نورو هغو قوانینو له لوري چې د مقننه قوې له خوا تصویبیږي ، محدودوي.

د ۷۷ مادې دوهم بند دې مهمې پوښتنې ته نسبتاً ګونګ ځواب ورکوي چې د وزیرانو پر فعالیت د څارنې مسولیت د چا پر غاړه دی، ځکه چې هم جمهور رئیس او هم ولسي جرګه د هغوی په ټاکنه کې رول لري. "وزیران د خپلو ټاکلو دندو په اړه جمهور رئیس او ولسي جرګې ته مسولیت لري".[354]دې بند ته په پام سره دواړه: هم جمهور رئیس او هم ولسي جرګه د وزیرانو مسولیت پر غاړه لري، خو هیڅ ډول لارښود د دې دواړو ارګانونو ترمنځ د مسولیت د ګډون په اړه نه وړاندې کوي.

دا پوښتنه په خپل ذهن کې ولرئ: په راتلونکي کې شاید تاسې و وینئ، چې د ا بې ربطه څارنیزه سلسله مراتب څرنګه عمل کوي.

### ب- د اړینو شرایطو لرل

**دافغانستان اساسي قانون**

**۷۲ ماده:**

څوک چې د وزیر په توګه ټاکل کېږي، باید لاندیني شرایط ولري:

[351] Solomon Moore, *Afghan Lawmakers Boycott to Get Cabinet Nominees*, Real Clear Politics, Jun. 14, 2011, http://www. realclearpolitics. com/news/ap/politics_topics/2011/Jun/14/afghan_lawmakers_boycott_to_get_ cabinet_nominees. html.

[352]. ۷۷(۱) ماده
[353]. ۱۳۶(۲) ماده
[354]. ۷۷(۲) ماده

۱- یوازې د افغانستان د تابعیت لرونکی وي، که چېرې د کوم وزارت کاندید د بل هېواد تابعیت هم ولري ولسي جرګه د هغه د تایید یا رد صلاحیت لري.
۲- لوړ تحصیلات، کاري تجربه او ښه شهرت ولري.
۳- عمر یې تر پنځه دېرش کلونو لږ نه وي.
۴- د محکمې له خوا د بشري ضد جرمونو او جنایت په ارتکاب او یا له مدني حقوقو څخه په محرومۍ محکوم شوي نه وي.

آیا جمهور رئیس هر څوک د وزارت پست ته ټاکلی شي؟ په اساسي قانون کې د وزیر کېدو لپاره څه لازم شرایط راغلي دي؟ ۷۲ماده څلور شرایط ټاکي، چې لومړی یې د افغانستان تابعیت لرل دي. پداسې حال کې، چې د حکم پر اساس کاندید یوازې باید افغاني تابعیت لرونکی وي. ولسي جرګه کولی شي، د مصلحت په پام کې نیولو سره د بل تابعیت لرونکي نوماند رد یا ومني.

**د مباحثې پوښتنې**

۱- ولې دوه ګونی تابعیت د یو وزیر لپاره ستونزه ګڼل کېږي؟

۲- ولې تاسې دا فکر کوي، چې د اساسي قانون لیکونکو د دوه ګوني تابعیت د منعې په اړه پرېکړه نه دی کړی؟

د ۷۲ مادې درې نور شرطونه په لاندې ډول دي:

۱) لوړې زده کړې، تجربه او نیک شهرت. ۲) ۳۵ کلنی عمر ۴) د محکمې له لوري د بشریت په ضد جرایمو او یا د مدني حقوقو څخه په بې برخه کېدو محکوم شوی نه وي.[۳۵۵] دا شرایط لږ تر لږه د اړتیا وړ ستندردونو په توګه، د جمهور رئیس د واک په اړه د وزیرانو په ټاکنه کې محدودیتونه وضع کوي، چې د هغوی په ټاکنه کې باید په نظر کې ونیول شي.

۷۳ ماده د وزیرانو د ټاکنو لپاره یو بل محدودیت وړاندې کوي، خو دا محدودیت د شرط په توګه نه.

پداسې حال کې چې۷۳ ماده وایي جمهور رئیس کولی شي د ولسي جرګې یو غړي د وزارت لپاره وټاکي، خو دغه شخص نشي کولی په ورته مهال کې دواړه مقامونه وساتي او په همدې دلیل باید په ملي

[۳۵۵]. ۷۷ ماده

شورای کې له خپل غړیتوب نه استعفا ور کړي.[۳۵۶] خالي شوې څوکۍ د بل شخص له لوري د قانون له حکم سره سم ډک کیږي.

**د مباحثې پوښتنې**

۱- آیا تاسې کوم دلیل لری چې په یو وخت کې په حکومت کې د وزارت او ولسي جرگی غړیتوب یوه معضله دی؟

۲ـ ستاسو له نظره په دې اړه د گټو ټکر په څه کې دی؟

د۷۷مادې د ۲ بند په اړه یوه روښانه او ښکاره مسله مخ ته راځي، هغه دا چې وزیران ولسي جرگې او جمهور رئیس ته مسول دي. کېدای شي دا په خپله د یو وزیر لپاره یو معضله ویتر څو په ورته وخت کې دې د ځواب ویلو لپاره یو داسي نهاد ته هم مسول وي چې دده د فعالیت څارنه په غاړه لري.

۳ـ د دې گټو د ټکر لپاره بله کومه د حل اوفصل لاره لری؟

### ج- لوړه

۷۴ ماده حکم کوي ټول وزیران به د دندو له اشغال نه مخکې د جمهور رئیس پر وړاندې لوړه ترسره کوي. "د لوی خدای په نامه لوړه کوم، چې د اسلام د سپیڅلي دین د حکمونو حمایت، د اساسي قانون او د افغانستان د نوروقوانینو رعایت، د اتباعو د حقوقو حفاظت د افغانستان د خپلواکۍ، ځمکنۍ بشپړتیا او د خلکو د ملي وحدت ساتنه وکړم او په خپلو ټولو اعمالو کې خدای حاضر گڼم او خپلې راسپارل شوې وظیفې په ربښتینولۍ سرته رسوم."[۳۵۷]

هماغه ډول چې په دریم څپرکي کې ورته اشاره وشوه د وزیر لوړه په ځانگړې توگه د اسلام د رول په اړه له جمهور رئیس سره توپیر لري د۶۳مادې له مخې د جمهور رئیس په لوړه کې "د اسلام د پاک دین ملاتړ او اطاعت" څخه یادونه شوې، په همدې ترتیب د جمهور رئیس په لوړه کې راغلي دي، چې (د اساسي قانون د پلي کولو څارنه او ورته احترام او همدارنگه اساسي قانون او نورو ټولو قوانینو رعایت او له تطبیق نه یې مواظبت کوم." پداسې حال کې، چې وزیر باید "اساسي قانون او د افغانستان نور ټول قوانین رعایت کړي" او وزیر د اتباعو د حقوقو پر اطاعت قسم خوري، پداسې حال کې، چې دغه موارد د جمهور رئیس په لوړه کې نشته، په همدې ترتیب هر وزیر باید د افغانستان د خلکو ملي یوالي په ساتلو

---

[۳۵۶] ." کېدای شي وزیران د ملي شورا له غړو او یا له هغو د باندې و ټاکل شي. کله چه د ملي شورا غړي د وزیر په توگه وټاکل شي، په شورا کې خپل غړیتوب له لاسه ورکوي او د هغه پرځای بل شخص د قانون له حکم سره سم ټاکل کیږي."۷۳ ماده

[357] . ۷۴ ماده

قسم وکړي، چې دغه موارد هم د جمهور رئیس په لوړه کې نشته. بالآخره، هر وزیر لوړه کوي، چې په ټولو کړنو کې به خدای پاک حاضر بولم، راسپارل شوې دندې په ریښتونولي ترسره کوم.

د جمهور رئیس لوړه وایي "د لوی خدای څخه د مرستې په غوښتلو او د ملت په ملاتړ د افغانستان د خلکو د پرمختګ او هوساینې په لاره کې خپلې هڅې رواني ساتم." دغه توپیرونه هغه لارې چې د اساسي قانون لیکونکو هغه وړاندوینه یې چې د حکومت د رئیس په توګه د جمهور رئیس له رول څخه پرته د دوو متفاوتو ادارو د رولونو په اړه کړې، په ګوته کوي.

په ځانګړي توګه، پام مو وي چې د اتباعو له حقونو څخه ملاتړ د وزیر په لوړه کې راغلی ، خو د جمهور رئیس په لوړه کې ترې یادونه نه ده شوې. دغه توپیرونه په راتلونکي بحث کې چې د وزیرانو په اړه دی په یاد ولری.

**د- دندې**

**د افغانستان اساسي قانون**

**۷۵ماده:**

حکومت لاندې دندې لري:

۱ـ ددې اساسي قانون او نوروقوانینو د حکمونو او د محکمو د قطعي پریکړو عملي کول،

۲ـ د خپلواکي ساتل، له زمکني بشپړتیا څخه دفاع او په نړیواله ټولنه کې د افغانستان د حمایت او ګټو ساتل،

۳ـ د عامه نظم او امن ټینګول او د هر راز فساد له منځه وړل،

۴ـ د بودجې ترتیبول، د دولت د مالي وضعي تنظیمول او د عامه شتمنۍ ساتل،

۵ـ د ټولنیزو، فرهنګي، اقتصادي او تیکنالوژیکي پرمختیایي پروګرامونو طرح او تطبیق،

۶ـ ملي شورای ته د مالي کال په پای کې د سرته رسېدلو چارو او د نوي مالي کال د مهمو پروګرامونو په باب ګزارش ورکول،

۷ـ د هغو نورو وظیفو ترسره کول، چې ددې اساسي قانون او نورو قوانینو له مخې د حکومت له وظیفو څخه ګڼل کیږي.

څرنګه چې د ۷۱ مادې ۲ بند وایي "د وزیرانو شمېر او دندې د قانون په واسطه تنظمیږي." اساسي قانون نور محدودیتونه د وزیرانو په شمېر نه وضع کوي، خو د وزیرانو د دندو په اړه چې د اداري

واحدونو د رئيسانو انو په توګه حکومت جوړوی، بايد زياته روښنايي ورکړي. ۷۵ ماده د حکومت دندې واضح کوي چې مونږ هم د هغه په اړه له ۷۱ مادې څخه پوهېږو "حکومت له وزيرانو جوړ دی، چې د جمهور رئيس تر رياست لاندې دندې ترسره کوي."د ۷۵مادې پر اساس حکومت ۷ پراخې دندې لري چې په مختلفو برخو کې پراخه ساحه تر چتر لاندې نيسي. کله چې تاسو د حکومت دندې مطالعه کوی، د مختلفو وزارتونو دندې په نظر کې ولرئ او تل په يادولری چې د حکومت پر رهبري سربيره، د ۶۴مادې سره سم جمهور رئيس وزيران او نور کليدي مقامات، د ولسي جرګې په تاييد ټاکي.

د حکومت لومړۍ دنده "د اساسي قانون او نورو قوانينو د حکمونو او د محکمو د قطعي فيصلو پلي کول دي."[۳۵۸] دې بند د وزيرانو د لومړنيو دندو لپاره د تعميل (پلي کول) کلمه کارولی ده او حکومت د جمهور رئيس تر مشرۍ لاندې تشکيلوی. حکومت د قوانينو د پلي کولو، له اساسي قانون څخه د پيروي د تأمين دنده لري بايد تضمين کړي چې د دولت واک د محکمو وروستنيو پريکړو ته اعتبار ور ښي او عملي کوي يی. کله چې ملي شورای قانون تصويب او جمهور رئيس يې توشيح کړي، حکومت د هغه د نافذيدو او پلي کېدو مسوليت په غاړه لري او کله چې محکمه د يوې شخړې په اړه قضاوت وکړي او وروستۍ پرېکړې ته ورسيږي، حکومت مسوليت لري چې د قضا حکم پلی او د دواړو خواوو په واسطه د محکمې د تعهداتو پلي کول تأمين کړي. په همدې ترتيب، ۷۵ماده د دولت د بل رکن په پرتله د حکومت د رول په تعريف کې مرسته کوي. هماغه ډول چې کېدای شي تاسو پدې پوهېدلي ياستی چه زياتې مادې هغه ځانګړي مسوليتونه چې اوس مهال د وضعي قوانينو په واسطه نه، بلکې اساسي قانون ځانګړو حکومتي ادارو ته ځانګړې کړې دي، تشريح کوي. دا بايد روښانه شيچې په ۷۵ مادې کې راغلي دندې د هغو حکومتي نهادونو لپاره اساس جوړوي چې د عادي قوانينو په اساس رامنځته شوي وي او د هرې دندې د پلي کېدو مسوليت پر غاړه لري.

د ۷۵ مادې پر اساس د حکومت دوهمه دنده عبارت ده له: "د خپلواکی ساتل، له ځمکنی بشپړتيا څخه دفاع او په بين المللی ټولنه کې د افغانستان د حيثيت او ګټو ساتل."[۳۵۹] د جمهور رئيس د دندو ليست ته چې په ۶۴ماده او د دې کتاب په دريم څپرکي کې بيان شوی پام وکړئ. دريم، څلورم، پنځم او شپږم بندونه ټول له هېواد څخه د دفاع او د وسلوال ځواک د قيادت په اړه د جمهور رئيس د رول پورې اړوند دي. جمهور رئيس د جګړې د پيل او متارکې د واک تر تر څنګ د وسله وال ځواکونو اعلی سر قومندان هم دی، د هېواد دفاع او بهر ته د وسلوالو ځواکونو د قطعاتو لېږلو په اړه پريکړه کوي. ۷۵ ماده په تکرار سره وايي، چې وزيران له جمهور رئيس سره د اساسي او ټاکلو حکومتي ادارو په اړه ګډ مسوليت لري.

د يو هېواد د ځمکنۍ بشپړتيا د خپلواکی او دفاع مسوليت چې معمولاً د يوځ پر غاړه ده، په افغانستان کې د هر څه نه مخکې د جمهور رئيس تر رهبرۍ لاندې، دفاع وزارت او د ملي امنيت شورای د رئيس په غاړه وي، له دفاع وزارت او جمهور رئيس سره په همغږۍ د معمول سره سم د بهرنيو چاروزارات په بين المللي ټولنه کې د هېواد د ګټو او حيثيت د ساتنې مسوليت پر غاړه لري. د ۶۴ مادې ۱۴ بند جمهور

[۳۵۸] ۷۵ ماده، ۱ بند
[۳۵۹] ۷۵ ماده، ۲ بند

رئيس ته په بين المللی مؤسسو او بهرنيو دولتونو کې د سياسي نمايندګيو د مشرانو د ټاکلو واک ورکوي او د ۱۵ بند سره سم، په افغانستان کې د بهرنيو استازو د باورليکونو د منلو واک هم له جمهور رئيس سره دی.

د ۷۵ مادې ۳ بند ته په پام سره حکومت د "د عامه نظم او امن تأمين او د هر ډول اداري فساد له منځه وړل" پر غاړه لري.[٣٦٠] د عامه نظم او امن راوستل معمولاً د حکومت له اساسي مسوليتونو اويو له هغو لاملونو څخه دي، چې حکومت همدی لپاره رامنځته شوی دی. د قانون پلي کولو واک په افغانستان کې د کورنيو چارو د وزارت په چوکاټ کې پوليسو ته سپارل شوی. د عدليې وزارت هم د عامه نظم او قانون په ساتنه کې د مختلفو کړنو له لارو لګه: د تنکيوځوانانو د قضيو مديريت، د زندانونو سيستم، د حکومت پر وړاندې د خلکو د قضايي مواردو په اړه د حکم په صادرولو کې برخه لري. پردې سربېره د نشه يي توکو پر وړاندې د قوانينو په پلي کولو کې د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت مرکزي رول لري او لويه ځارنوالی د جرمونو د تعقيب او تحقيق په اړه لوی او مهم رول تر سره کوي.

د حکومت ځلورمه دنده چې په ۷۵ ماده کې ذکرشوې، عبارت دی له: (د بودجې ترتيب، د دولت د مالي حالت تنظيم او د عامه شتمنی ساتل).[٣٦١] مرکزي بانک د عامه شتمنی په ساتنه او د دولت مالي شرايطو په تنظيم کې مهم رول تر سره کوي. ۱۲ماده څرګندوي چې" د افغانستان بانک د دولت مرکزي بانک او خپلواکه دی."[٣٦٢] د ۱۲مادې سره سم " د پيسو د نشر ولو او د هېواد د پولي سياست طرحه او پلي کول د قانون د حکمونو سره سم د مرکزي بانک له واکونو څخه دی."[٣٦٣] ددې سمون او له هغه ګټه اخيستنه د قانون له لارې تنظيمېږي. او مرکزي بانک" د پيسو د چاپ په اړه د ولسي جرګې اقتصادي کمېسون سره مشورې کوي."[٣٦٤] سره له خپلواکی جمهور رئيس د ۶۴ مادې ۱۱ بند سره سم د مرکزي بانک رئيس د ولسي جرګې په تاييد ټاکي. هغه وزارتونه چې د دې دندې د پلي کولو قسمي مسوليت پر غاړه لري، د ماليې او اقتصاد وزارت څخه عبارت دي. د ماليې وزارت د بودجې له کمېټې سره په مشوره د بودجې د برابرولو مسول دی. کابينه د ماليې وزارت له لوري د بودجې طرح له غور او تاييد وروسته د تصويب لپاره ولسي جرګې ته لېږي او په پای کې يې جمهور رئيس تاييدوی.[٣٦٥]

د ملي شورای رول د بودجې په برخه کې د اساسي قانون د ۵ څپرکي د څو مادو پر اساس ټاکل شوی. څرنګه چې له ملي شورای څخه په تفصيلي توګه پدې کتاب کې بحث شوی، دلته مونږ. يوازې د هغې د اختياراتو او واکونو اړخونه تر بحث لاندې نيسو چې د حکومت له دندو او اختياراتو سره اړيکې لري، د ۹۰ مادې ۳ بند د ملي شورای له دندو څخه " د دولتي بودجې تصويب او د پور د اخيستلو او ورکولو

---

[٣٦٠]. ۷۵ ماده، ۳ بند

[٣٦١]. ۷۵ ماده، ۴ بند

[٣٦٢]. ۱۲ ماده، ۱ بند

[٣٦٣]. ۱۲ ماده، ۲ بند

[٣٦٤]. ۱۲ ماده، ۳ – ۴ بندونه؛ وګوری د افغانستان بانک قانون، رسمي جريده ۱۳۸۲/۱۰/۳۰ مطابق ۲۰۰۳/۱۷/۱۲ په لاندې پته تر لاس کېدای شی:

http://www. centralbank. gov. af/pdf/UpdatedOfDaAfghanistanBankLaw_1_. pdf.

[٣٦٥]. دبودجې د تصويب د بهيير په هکله د لا زياتو معلومتو لپاره مراجعه وکړی:

http://www. budgetmof. gov. af/, and see the Public Finance and Expenditure Management Law, *available at*http://www. budgetmof. gov. af/NationalBudget/Regulation/Regulation. html

اجازه) یادوی."[۳٦٦] د ۹۱ مادې ۲ بند زیاتوي، چې ولسي جرګه باید "د دولتي بودجې او پرمختیایي پرواګرامونه پورې د اړوندو پریکړو کولو" ځانګړي واک ولري.[۳٦۷] د ۷۵ مادې د ۴ بند سره سم چې پورته ترې یادونه وشوه، ۹۵ ماده د بودجې د وړاندیز مرجع روښانه کوي. وړاندیز د قانون طرح او مالي چارې یوازې د حکومت له لوري تر سره کېږي.[۳٦۸] په بل عبارت د دولتي بودجې او د مالي چارو د قوانینو په اړه حکومت یوازېنی ارګان دی، چې ملي شورای ته د قانون د مسودې لېږلو واک لري.

۹۸ ماده د بودجې په اړه زیات معلومات وړاندې کوي. د دې مادې لومړی بند حکم کوي "چې دولتي بودجه او د حکومت پرمختیایي پروګرام د مشرانوجرګې له لارې د دوئ له مشورې سره یوځای ولسي جرګې ته وړاندې کېږي".[۳٦۹] دې ته مو پام وي چې مشرانو جرګه پدې اړه واک نه لري او د دولت وړاندیز شوې بودجه ولسي جرګې ته لېږي. د ۹۸ مادې څلورم بند له حکومت نه غواړي چې د څلورمې ربعې په اوږدو کې د راتلونکي کال بودجه د روان کال د بودجې له اجمالي حساب او د تېرمالي کال د بودجې له قطعي حساب سره د ۹۸ مادې بل بند ته په پام سره ملي شورای ته وړاندې کړي.[۳۷۰]

د ۷۵مادې پر اساس د حکومت پنځمه دنده عبارت دی له: "د ټولنیزو، پرمختیایي، کلتوري، اقتصادي او تکنالوژیکي پروګرامونو طرح او تطبیق".[۳۷۱] لکه څرنګه، چې تاسې یې ګورئ د پراخو حکومتي د ندو ترسره کول د متعددو حکومتي ادارو د رامنځته کېدو غوښتنه کوي، چې د پلي کولو لپاره یې ګډ مسولیت لري. په واقعیت کې هره اداره د یوې برخې په اړه مسولیت لري، چې یو څو نمونې یې عبارت دي له د ښځوچارو وزارت، د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت، د ښاري پراختیا وزارت، د کار، شهېدانو، معلولینو او ټولنیزو چارو وزارت، دسوداګرۍ او صنایعو وزارت او د راستنېدونکو او کډوالو چارو وزارت.

د ۷۵ مادې د ۶ بند سره سم حکومت اړ دی، چې "د مالي کال په پای ته رسېدو سره د ترسره شوو چارو او د نوي مالي کال د مهمو پروګرامونو په اړه ملي شورای ته راپور وړاندې کړي".[۳۷۲] لکه څرنګه یې چې ګورئ، دغه حکم د ارتباطي شبکې مهمه برخه جوړوی چې د حکومت مختلفې برخې سره تړي. پداسې حال کې چې جمهور رئیس د حکومت رئیس دی، د ۷۵ مادې ۶ بند د وزارتونو او مقننه قوې ترمنځ د اړیکو څرګند وضاحت دی. د راپور ورکونې دا غوښتنې دا باوري کوي چې مقننه قوه د حکومت پر کړنو د تېر مالي کال په اوږدو کې د بیا غور وخت لري، نو پر دې اساس د راتلونکي کال لپاره د لویو پلان شوو پروګرامونو په اړه یو ښه درک تر لاسه کولی شي. په همدې توګه د ۹۸مادې ۵ بند د مالیې په اړه وایي: "د تېر مالي کال د بودجې قطعي حساب، د راتلونکي کال د شپږو میاشتو په موده کې، د قانون له حکمونو سره سم ملي شورای ته وړاندې کېږي."[۳۷۳] دغه څارنیز مقررات د راپور ور

---

[۳٦٦]. ۹۰ ماده، ۳ بند
[۳٦۷]. ۹۱ ماده، ۲ بند
[۳٦۸]. ۹۵ ماده، ۲ بند
[۳٦۹] ۹۸ ماده، ۱ بند.
[۳۷۰]. ۹۸ ماده، ۴ بند
[۳۷۱]. ۷۵ ماده، ۵ بند.
[۳۷۲]. ۷۵ ماده، ۶ بند.
[۳۷۳]. ۹۸ ماده، ۵ بند

کونې ملموسې او منظمې غوښتنې د کابینې له لارې ولسي جرګې ته رامخ ته کېږي. دا یو له هغو مهمو لارو څخه دی چې اساسي قانون د عمومي غوښتنو له لارې په ۷۷ماده کې تسجیل کړې دي او پر اساس یې وزیران ولسي جرګې او جمهور رئیس ته مسول دي.

د ۷۵مادې ۷بند مختلف حکمونه په ځان کې رانغاړي: "د ټولو هغو دندو ترسره کول چې د دې اساسي قانون او نورو عادي قوانینو پر اساس د حکومت له دندو ګڼل شوې وي". تاسو وینئ، چې دغه بند مقننه قوې ته د قانون له لارې د وزیرانو او په دوی پورې د اړوندو اداري واحدونو د دندو د کنترول په موخه پراخ واکونه ورکوي. تر هغه مهاله چې اساسي قانون او نور قوانین شتون ولري، وزیران د ۷۵مادې ۷بند پر اساس اړ دي، چې له هغوی څخه پیروي او رعایت وکړي.

### ه- د حکومت انتظامي واک

| د افغانستان اساسي قانون |
|---|
| **۷۶ماده:**<br>۱: حکومت د هېواد د سیاست د اساسي کرښو د تطبیق او د خپلو وظیفو د تنظیمولو لپاره مقررات وضع او تصویبوی.<br><br>۲: دا مقررات باید د هیڅ قانون له نص یا روح سره مناقض نه وي. |

که څه هم مونږ د حکومت اساسي دندې د ۷۵ مادې سره سم تر پوښښ لاندې را وستې، خو دلته د وزیرانو د واکونو د څرنګوالي د درک له اړتیا څخه د اساسي قانون له حکمونو سره سم یادونه کوو.

۷۶ماده وزیران د اداري واحدونو د رئیسانو په توګه، د ځانګړو حکومتي دندو په ترسره کولو او د مقرراتو په تطبیق اړ کوي. مقررې اصولي دي چې د اجرائیه قوې له لوري برابرې او تصویبېږي. پداسې حال کې، چې هغه قوانین نه دي، خو قانوني اعتبار لري.

مقررې د قانون د حکم پر اساس لیکل او تصویب کېږي او تر ډېره د قانون له پلي کېدو سره مرسته کوي. په افغانستان کې د دې مقررو روا موخې د هېواد د سیاست د اساسي کرښو تحقق او د حکومتي دندو تنظیم دی.[۳۷٤]

[۳۷٤]. ۷۶ ماده

تاسي ته به له دربېم څپرکي څخه په ياد در پاتې وي، چې د ۶۴ مادې ۲ بند جمهور رئيس ته (د ملي شوراى په تصويب د هېواد د سياست د اساسي کرښو د تنظيم واک) ورکوي.[۳۷۵] همغه ډول، چې وړاندې په تفصيلي توګه ترې بحث وشو، جمهور رئيس د ملي سياست اساسي کرښې د ملي شوراى په تصويب ټاکي او د اساسي قانون د حکمونو سره سم د کابينې تاييد ته اړتيا نه لرينه لري. (د حکومت اصلي دنده د جمهور رئيس په مرسته د خپلوسياستونو پلي کول دي). د ۱۹۶۴ کال د اساسي قانون برخلاف د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون حکومت ته د سياسي او خپلواکه رول په اړه وخت نه ور کوي.[۳۷۶]

کله چې جمهور رئيس د خپل مسوليت په هره برخه کې سياسي پريکړه وکړي، د دولت د اجرايوي سياست په نظر کې نيولو سره د دې سياست پلي کول د حکومت اړوند ګرځي.

اړوند وزارت يا وزارتونه بايد دا څرګنده او وټاکي، چې د جمهور رئيس د خط مشي پلي کولو لپاره اضافي مقرراتو ته اړتيا شته او کنه او يا داچې آيا د مقررو ليکلو په اړه کوم قانوني مخنيوى شته او کنه. تاسو بايد تشخيص کړي چې دا د حکومتي ادارو ترمنځ، چې مختلف واکونه او مسوليتونه لري، د همغږۍ يوه په زړه پورې برخه دی.

دا به ارزښتمنه وي، چې له وخت نه په ګټې اخيستنې سره، سره تړلې او جلا ځانګې پدې شبکه کې را ونغښتل شي:

- ❖ جمهور رئيس د ملي شوراي په تاييد د ملي سياست اساسي کرښې ټاکي.
- ❖ وروسته له تصويب نه حکومت، چې له وزيرانو او تر هغو لاندې واحدونو نه جوړ دی سياست پلی کوي.
- ❖ جمهور رئيس د ملي سياست د اساسي کرښو په ټاکلو کې، د وزيرانو تاييد ته اړتيا نه لري. که هغه د ده د سياستونو پلي کولو ته حاضر نشي، د ۶۴ مادې ۱۱ بند پر اساس له دندې لرې کېداشي.
- ❖ حکومت د جمهور رئيس د خط مشي د پلي کولو لپاره د پلي کېدو وړ مقرراتو د ليکلو او تصويب واک لري، خو دغه مقررات بايد د هيڅ قانون يعنې د اساسي قانون او د بل هر هغه قانون، چې د ملي شوراى له خوا تصويب شوي وي د نص يا روح سره متناقض نوي.[۳۷۷]
- ❖ دغه شبکه د حکومت د کارونو، اجرايوي واک، ديموکراسۍ او مقننه قوي د څارنې د مسوليتونو او واکونو انديښنې متوازنه کوي.

د ۷۶مادې له مخې د حکومتي مقرراتو دوهمه برخه (حکومت د خپلو دندو تنظيم) دي.

---

[۳۷۵]. ۶۴ ماده، ۲ بند.

[376] Rainer Grote, *Separation of Powers in the New Afghan Constitution*, 64 Heidelberg Journal of International Law 897, 907 (2004).

[۳۷۷]. په ياد ولرى چه "نص او روح" په هېڅ ځاى کې نه دى تعريف شوى، اما د هغه معقول تعريف دا کېداى شى چه اصولنامه يا مقررات پخپله د متن يا د هېڅ قانون د مقصد سره په تضاد کې رانشي.

دا خو څرګنده دی، چې حکومت به له دې واکونو څخه د اساسي قانون په واسطه د ورکړل شوو دندو په حذف کې ګټه نه اخلي. برخلاف باید هر ډول مقررات د هغوئ په اجرا کې مرسته وکړي. په هغه ډول، چې پورته ترې بحث وشو. ۷۵ ماده د حکومت ټولې دندې لیست کوي. ۷۵ مادې ۳ بند په دې اړه نسبتأ ښکاره بېلګه دی: (د امن او عامه نظم تأمین او د هر ډول اداري فساد له منځه وړل). د ۷۶ مادې سره سم د کورنیو چارو وزارت کولی شي، د نظم د تأمین او د عامه حقوقو د ساتنې په موخه مقررات وضع او تصویب کړي. دغه مقررات باید د هیڅ قانون له نص او روح سره په ټکر کې نوي.

**بېلګه: ۲۰۰۵کال د پولیسو قانون**

د حکومتي دندو اړوند مقررات تر ډېره په یاد شوو دندو پورې د اړوندو انتزاعي قوانینو د روښانه ولو لپاره وضع کېږي.

د ۷۵ مادې د ۳ بند څخه زمونږ د مثال په ادمه: اوس مهال د قوانینو له ډلې یې زیات شمېر د عامه نظم او قانون ساتنې په اړه شتون لري. ملي شورای د پولیسو د عملیاتو ترسره کولو په اړه د یو قانوني چوکاټ د رامنځته کولو لپاره د پولیسو قانون په ۲۰۰۵(۱۳۸۴) کې تصویب کړ. دا قانون څه نا څه ځانګړی و او داسې مسایلو ته لکه: د پولیسو مکلفیت او دندې، د خلکو نیول، مالي سزاوې، له زوره ګټه اخیستل او داسې نور په ځان کې رانغاړي.

د پولیسو د قانون په ۳۲ ماده کې راغلي دي: (د کورنیوچارو وزارت کولی شي، چې د دې قانون د حکمونو د ښه پلي کېدو په موخه مقررات تیار او تصویب کړي).[۳۷۸] وروسته له دېنه، چې هر ډول مقررات د ۷۵ مادې د ۳ بند سره سم د کورنیو چارو د وزارت له لوري د عامه نظم د تأمین په موخه تصویب کېږي، موخه به یې د پولیسو د قانون روښانول او تفسیرول وي او باید له روح او نص سره یې په ټکر کې نوي، نو پر دې اساس د حکومت انتظامي واک یو مهمه وسیله دی، ترڅو وزارتونه پدې وتوانېږيچې د ملي شورای د قانون جوړه ونې د واک د رعایتولو ترڅنګ په اساسي قانون او نورو انتزاعي قوانینو کې راغلې دندې د مقرراتو په پلي کېدو وړ اصولو او په اداري وړ کړندودونو باندې تفسیر او تبدیل کړي.

### و- د حکومت تقنیني واک

څرنګه چې مو پورته د دولتي بودجې او مالي چارو د قوانینو په اړه مطالب ولوستل، حکومت د خپل انتظامي واک سربېره باید یوه څه اندازه د قانون جوړونی واک هم ولري. مونږ پورته د ۷۵مادې ۴بند له مخې د حکومت دندې د بودجې تیارولو په برخه کې، د ۹۵ مادې د ۲ بند حکم د دې مطلب په مشخص کولو چې حکومت یوازېنی مرجع ده، چې د بودجې د قانون طرح پېشنهاد کولی شي. دا د قانون جوړونی

[۳۷۸] ر د پولیسو قانون، رسمي جریده، ۱۶۲ګڼه( د ۲۰۰۵ کال د سپټمبر ۲۲) په لاندې انترنېټي پېټه تر لاسه کېدای شی:
http://www. asianlii. org/af/legis/laws/plogn862p2005092213840631a346. txt/cgi-bin/download. cgi/download/af/legis/laws/plogn862p2005092213840631a346. pdf.

په برخه کې د حکومت یوازېنی واک نه دی. پداسې حال کې، چې حکومت د دولتي بودجې او مالي چارو د قوانینو د پېشنهاد په اړه د انحصاري واک لرونکی دی. هغه همدارنګه د ۹۵ مادې ۱ بند له مخې د قوانینو نور ډولونه هم پیشنهاد کولی شي. پردې سربېره ۷۹ ماده حکومت ته واک ورکوي په ځانګړو شرایطو کې تقنیني فرمانونه صادر کړي، چې د جمهور رئیس له توشیح وروسته قانوني اعتبار لری.

**د افغانستان اساسي قانون**

**۹۵ماده**

(۱) د قانون د طرحې پیشنهاد د حکومت یا د شورای د غړو او د قضایي چارو د تنظیم په برخه کې د سترې محکمې له خوا د حکومت له لارې وړاندې کېږي.

د ۹۵مادې پر اساس حکومت کولی شي د بودجې غیر تقنیني طرحې د ځانګړو کړندودونو له لارې چې د ملي شورای د داخلي دندو په اصولو کې یې وړاندوینه شوې وي او د وزیر د لاسلیک غوښتنه چې اړوند قانون د ده په قضایي حوزې پورې اړه لري، پېشنهاد کړي.[۳۷۹]

په لاندې بکس کې موضوع په تفصیل سره بیان شوې دی.

**د قانون د طرحې د وړاندیز لپاره د حکومت کړندودونه[۳۸۰]**

پدې کړندود کې:

۱ـ د حکومت وړاندېز د له د تقنیني فعالیت د پلان سره سم، چې لیکلې بڼه یې د عدلیې وزارت له لوري تیاربږي او د عدلیې وزیر له تاییده وروسته وړاندې کېږي.[۳۸۱]

۲ـ د تقنیني فعالیت وروستی پلان د چارو ادارې د دفتر له لارې د وزیرانو شورای په واسطه تاییدېږي.[۳۸۲]

---

[۳۷۹]. ملي شورا، د ولسي جرګه د کورنیو دندو اصول، ۷۷ اصل، په لاندې انټرنیټي پته تر لاس کېدای شی:
http://www. sunyaf. org/images/pdf/leg-pub/Wolesi%20Jirga%20Rules%20of%20Procedure. pdf.

[380] Toolkit 3: Legislative Process, USAID Afghanistan Parliamentary Assistance Program, *available at*http://www. sunyaf. org/images/pdf/leg-pub/Afghanistan%20Legislative%20Process. pdf.

[۳۸۱]. د عمل تقنینی پلان چه د تقنیني طرحو مسودې تنظیموي او هغه وخت چه د عدلیی وزارت مسودې طرح او تصویبوي، د وزیرانو شورا بیا هغه ګوري.

[۳۸۲]. د وزیرانو شورا له وزیرانو څخه جوړه شوی چه د وزارتونو د څارنې لپاره د ولسمشر له لوري ټاکل کېږي.

۳ـ د قانون لایحه د تقنیني فعالیت په وروستی پلان کې، د وزارتي کمېټې په واسطه چې د قانون د لایحې د اړوندو وزیرانو له لوري تاکل کېږي، برابرېږي. که یوه لایحه په مختلفو وزارتونو پورې اړه ولري، نو بیا ګډه کمېټه ورته جوړېږي.

۴ـ د تقنیني سند لیکلې بڼه له بشپړېدو وروسته د ورستي غور لپاره د عدلیي وزارت او بیا وروسته د چارو اداري د دفتر له لارې د تایید لپاره وزیرانو شورای ته لېږل کېږي.

۵ـ مخکې له دې چې تقنیني سند ملي شورای ته ولېږل شي، د حقوقي(تقنیني)څېړنو د علمي چارو او د قانون جوړونی د عمومي ریاست له لوري پرې غور کېږي. د تقنین ریاست د وړاندې شوي قانون د مطابقت څرنګوالي د اساسي قانون، بین المللي معاهداتو، شریعت او له جاري قوانینو سره تر غور لاندې نیسي.

۶ـ ۹۷ماده دا اړینوی، چې د پشنهادي قانون لیکل شوی شکل، باید لومړی ولسي جرګې او وروسته مشرانو جرګې ته د تصویب لپاره ولېږل شي.[۳۸۳]

[۳۸۳]. دا یو سترېدونکی بهیر دی او موږ ددې څېرکې په پای کې د مرستې په توګه یو شکل زیاتوو. تاسو همدا اوس هغه کتلای شي. دا شکل د یو اس ا آی ډې د افغانستان د پارلماني مرستو د دریو پروګرامونو څخه یو دی چه په ۴۸ لمن لیک کې یادونه شوې ده.

د ۹۵ مادې پر اساس د حکومت د وړاندیز شوي قانون د طی مراحل[۳۸٤]




[384] Toolkit 3: Legislative Process, USAID Afghanistan Parliamentary Assistance Program, *available at*http://www. sunyaf. org/images/pdf/leg-pub/Afghanistan%20Legislative%20Process. pdf.

**د افغانستان اساسي قانون**

**۷۹ماده:**
(۱) حکومت کولای شي د ولسي جرګې د تعطیل په حالت کې له بودجې او مالي چارو پرته، د بېړنی اړتیا پر اساس تقنیني فرمانونه ترتیب کړي.

(۲) تقنیني فرمانونه د جمهور رئیس تر توشیح وروسته د قانون حکم پیدا کوي.

(۳) تقنیني فرمانونه باید د ملي شورای د لومړۍ غونډې تر جوړېدو وروسته د دېروشو ورځو په اوږدو کې هغې ته وړاندې شي. او

(۴)که د ملي شورای له خوا رد شي، باور نه لري.

همدارنګه اساسي قانون حکومت ته واک ورکوي، چې تقنیني فرمانونه په ټاکلو شرایطو او ځانګړو محدودیتونو کې صادر کړي. هماغه ډول، چې په ۷۹ ماده کې راغلي دي، د حکومت واک د تقنیني فرمانونو په صادره ولو کې هغه مهال عملي دي، چې ولسي جرګه د تعطیل په حال کې وي. سربېره پر دې کله چې ولسي جرګه رخصت وي، نو حکومت یوازې په عاجلو، اړینو او فوق العاده حالاتو کې تقنیني فرمانونه صادره ولی شي، بالآخره حکومت نه شي کولی، چې تقنیني فرمانونه د بودجې او مالي چارو پورې اړوندو برخو کې، چې د اساسي قانون د کړندود سره سم طی مراحل کېږي صادر کړي.[۳۸۵]

تقنیني فرمانونه چې د ۷۹ مادې د حکمونو سره سم صادرېږي، یوازې د جمهور رئیس له توشیح وروسته د قانون حکم ځانته خپلوی.[۳۸۶] سربېره پر دې د ۷۹ مادې ۳ بند زیاتوی چې (تقنیني فرمانونه باید ملي شورای ته د لومړۍ جلسې له دایرېدو نه تر ۳۰ ورځو پورې وړاندې شي او کله چې د ملي شورای له لوري رد شو له اعتبار نه لوېږي). دغه وروستی حکم د حکومت په واک باندې یو ډول بیا کتنه ده او د ملي شورای تقنیني غوره والی ساتي.

که چېرې حکومت د ولسي جرګې د تعطیل پر مهال تقنیني فرمان صادرکړي او د مجلس استازی هغه د رد وړ وبولي، نو د تعطیل نه وروسته کولی شي فرمان لغوه کړي.

**ز- پر حکومت د ولسي جرګې څارنه**

[۳۸۵]. وګورئ ۹۰ ماده ۳ بند، ۹۱ ماده ۲ بند، ۹۵، ۹۷ – ۹۹ مادې.
[۳۸۶]. ۷۹ ماده ۲ بند

مونږ پر اساسي قانون د ولاړو حکومتي دندو په اړه، د هغو د ځانګړو واکونو پر پلي کولو، د دې واکونو پر څارنې او د واکونو پر هغې شبکې چې د حکومت د ځواک مختلف ارکان له یو او بل سره نښلوي بحث وکړ. پداسې حال کې، چې مونږ د حکومت پر فعالیتونو د ملي شورای د څارنې د یوشمېر لارو څخه بحث وکړ. یو وروستی عنصر په دې اړه شتون لري، چې مونږ باید هغه تر غور لاندې ونیسو، ملي شورا حق لري چې وزیران له څو لارو څخه استجواب او استیضاح کړي او حتی د نه باور د رایې د صادرېدو واک هم لري. دغه واک د ګوت څنډوني په مفهوم د زیات ارزښت لرونکی دی او وزیر، چې د ځواب ورکولو لپاره ولسي جرګې ته غوښتل کېږي، له دې سره تړاو لري چې خلک وګوري چې وزیر څه وايي.

لومړی، ۹۳ ماده وايي چې ( د ملي شورای د مجلسونو څخه هر کمیسون کولی شي، له هر وزیر نه د ټاکلې موضوع په اړه پوښتنې وکړي)[۳۸۷]. دا په دې معنا دی چې د ولسي جرګې داخلي کمیسون کولی شي د کورنیو چارو له وزیر نه د افغان ملي پولیسو او امنیتي مسایلو په اړه پوښتنه وکړي. په واقعیت کې د ولسي جرګې اصولو او کړندود ته پام سره او د ۶۴ مادې د ۱۱ بند د حکمونو سره سم، کمېسیون کولای شیله هر حکومتي چارواکي څخه ، د دوئ د واکونو په چوکاټ کې د ځانګړو مسلو په اړه پوښتنه وکړي.[۳۸۸]

په دغه بند کې نه یوازې وزیران بلکې: (لوی څارنوال، د مرکزي بانک رئیس، د ملي امنیت رئیس او د سرې میاشتې رئیس) هم راځي.[۳۸۹]

۹۳ ماده او ۲۷ اصل د دواړو لورو د تګ اصول بیانوی (هر چارواکی باید د پوښتنې په اړه، لیکلی یا نالیکلی ځواب وړاندې کړي).

د کمیسونونو د هغو دایمي واکونو سربېره چې د وزیرانو او ټولو حکومتي چارواکو د استیضاح په اړه یې لري، ۸۹ ماده وايي (ولسي جرګه حق لري، له دریو نه د یوې برخې په وړاندیز د حکومت د کړنو د څېړنې او کتنې لپاره ځانګړی کمیسون وټاکي).[۳۹۰] د دې ځانګړي کمیسون یوزیني موخه به د حکومت د کړنو غور او مطالعه وي، نو پردې اساس په زیات ګمان سره یوازې په اړونهدبرخو کې غېر قانوني اقدامات او یا کېدای شي په ټوله کې له واکونوسېوا مسلې وګوري. د ولسي جرګې د اصولو کړندودونه د ځانګړي کمیسون په اړه زیات جزئیات په ۷ څپرکي کې، چې ۳۴ ـ ۳۶ اصول پکې راځي، وړاندې کېږي.[۳۹۱]

بېلګه: ځانګړی کمیسون له ولسي جرګې څخه د استازیتوب کولو لپاره باید لږ تر لږه ۲۱غړي ولري او د ولسي جرګې په عمومي جلسه کې تصویب شي.

---

[۳۸۷]. ۹۴ ماده ۱ بند

[۳۸۸]. ملي شورا، د ولسي جرګه د کورنیو دندو اصول، ۷۷ اصل، په لاندې انټرنیټي پته تر لاس کېدای شی:
http://www. sunyaf. org/images/pdf/leg-pub/Wolesi%20Jirga%20Rules%20of%20Procedure. pdf.

[۳۸۹]. ۶۴ ماده ۱۱بند

[۳۹۰]. ۸۹ ماده ۱ بند

[۳۹۱]. ملي شورا، د ولسي جرګه د کورنیو دندو اصول، ۹۹ – ۱۰۰ اصلونه

بالآخره ۹۲ماده وايي (ولسي جرګه د ټولو غړو د شل سلنې په غوښتنې سره کولی شي، هر يو له وزيرانو استيضاح کړي).[۳۹۲] په لږترلږه ټيټ نصاب سره او پرته له دې څخه چې د پوښتنې لپاره کوم ښکاره اساس او بنسټ شتون ولري، دغه واک اجازه ورکوي چې ولسي جرګه وزيران د پوښتنو د ځواب او بحث لپاره د ښې حکومتولی سره د مرستې په موخه را وبولي. له بده مرغه چې په زياتو ځايونوکې دا واکونه د دې پرځای چې د مرستې د يوې وسيلې په توګه د اطلاعاتو په راټولولو او تفاهم کې ترې ګټه وا خيستل شي، تر زياته د سياسي امتيازاتو د لاسته راوړلو لپاره په کارول کيږی. په هغه صورت کې چې وزير د ولسي جرګې اندېښنو ته د قناعت وړ ځواب ونه وايي،۹۲ماده بايد د وزير د جزا وړاندوينه وکړي. دوهم بند وايي "که چيرې ورکړل شوې توضيح قناعت کوونکې نه وي، نو ولسي جرګه د نه باور رايه څېړي." [۳۹۳] درېيم بند موضوع لا څرګندوي (د نه باور رايه بايد صريح، مستيقم او پر پخو دلايلو ولاړه وي."[۳۹٤] دغه رايه د ولسي جرګې د ټولوغړو په اکثريت سره صادربږي.[۳۹٥] بيا هم د ولسي جرګې د کړندود اصول د اساسي قانون احکام له جزئياتو او اضافي طريقې سر ه په ۹۹ او۱۰۰ اصلونو کې بشپړوي. [۳۹٦] د بېلګې په توګه ۱۰۰م اصل وايي چې هيڅ پوښتونکی بايد له ۱۰ دقيقو نه زياتې خبرې ونکړي او وزير به هم له يونيم ساعت نه زياتې خبرې نه کوي. تاسې د نه باور د رايې د کړندود په اړه د ۲ څېرکي د قواوو د تفکيک په برخه کې په تفصيل سره بحث کړی دی.

## څلورم.نتيجه

لکه څرنګه چې مخکې يی يادونه وشوه ددې څېرکي موخه د اداري حقوقو او يا حکومتي نهادونو پر وړاندې د اتباعو د حقونو بنسټيز څېړل نه دي بلکې مقصد دادی چې تاسو په اساسي قانون کې د قدرت د جوړښت او ادارو ته د واک د لېږد د څرنګوالي سره آشنا کړي. پداسې حال کې چې اساسي قانون د لوړو ارمانونو او غوره اصولو درلودونکی دی، د هغو دولتي ادارو له لارې چې د هغه پر بنسټ باندې جوړې او واکمنې شوې او کنټرولېږي، د افغانستان خلک ته په مستقيم ډول رسيدګي کوي. د استبداد له ګواښ څخه د خلکو د ساتنې په موخه اساسي قانون قدرت د مختلفو ادارو ترمنځ وېشي او هغوی په خپلو کړنو کې د يو او بل سره همکاري ته هڅوي. پدې څېرکي کې مو د اړيکو د پېچلې شبکې له څېړنې، د هيواد د قوانينو د اجرا مسول ادارات او د دی جوړښت څخه د حمايت اصول تر بحث لاندې ونيول. پداسې حال کې چې دا يو اړين بنسټ او اساس دی، خو په واقيعت کې يوازې پيل دي.

---

[۳۹۲]. ۹۲ ماده ۱ بند
[۳۹۳]. ۹۲ ماده ۲ بند
[۳۹٤]. ۹۲ ماده ۳ بند
[۳۹٥]. ۹۲ ماده ۳ بند
[۳۹٦]ملي شورا، د ولسي جرګه د کورنيو دندو اصول، ۹۹ – ۱۰۰ اصلونه

# پنځم څپرکی: مقننه قوه

**لومړی. سريزه**

| **د افغانستان اساسي قانون** |
|---|
| **۴ماده** |
| په افغانستان کې ملي حاکميت په ملت پورې اړه لري چې په مستقيم ډول يې په خپله يا يې د خپلو استازو له لارې عملي کوي. |

د افغانستان ملي شورا د نورو مهمو دندو ترڅنګ، د قوانينو د تصويب او مسودې برابرولو مسؤليت پر غاړه لري. د ملي شورا واکونه او جوړښت په اساسي قانون کې له ۸۱ مادې نه تر ۱۰۹ مادې پورې په تفصيل سره بيان شوي دی. د اساسي قانون سره سم، ملي شورا په حکومت کې د خلکو د غږ اوړرېدلو او د استازيتوب لپاره رامنځته شوې ده.[۳۹۷] د خلکو غږ او اراده دولسواکی اساس او بنياد جوړوي. ملي شورا له دوو مجلسونو د مشرانو جرګې او ولسي جرګې څخه جوړه شوې ده. هره جرګه يې د غړو د ټاکنو مختلف بهيرونه او جلا مسؤليتونو لري چې په تفيصلي توګه په لاندې ډول تر بحث لاندې نيول شوی دی.

دا سيستم يوازې په افغانستان پورې منحصر نه دی. د نړۍ په ګوټ ګوټ کې قانون جوړوونکي په حکومت کې مهم رولونه تر سره کوي. په يوه ولسواکه ټولنه کې مقننه قوه مسوليت لري چې د خلکو په استازيتوب په حکومت کې د هغوی ارادې منعکس کړي او د يو څارنيز ارګان په توګه د حکومت په کړنو باندی څارنه وکړي خو په وا قعيت کې هرمقنن خپل مسوليت سرته نه رسوي . ځينې يې د ځواکمنو چارواکو او اداري فساد تر سيوري لاندې راځي. ددی څپرکی د مطالعی په ترڅ کی د هغو لارو چارو په اړه فکر وکړي چې په افغانستان کی را څرګنديدونکي ستونزو ته د پای ټکی ږدي او پر حکومت باندی يی منفي اغيزی له منځه وړي.

د مقننه قوې د جوړښت زياتې لارې وجود لري، ترڅو هغه په دې بره (قادره) کړي چې په حکومت کې خپل رول او ماموريت ترسره کړي. د ملي شورا په بحث کې به د مقننه قوی مختلف جوړښتونه يو له بل سره پرتله کړو. د دې څپرکي د مطالعې په بهير کې د مقننه قوی د مختلفو جوړښتونو پر ګټو او نيمګړتياوو باندې فکر وکړی. په دوهمه برخه کی د افغانستان د مقننه قوی په جوړښت، په دريېمه برخه کی د واکونو بحث او په څلورمه برخه کې د قانون جوړ ونې بهير تر څېړنې لاندې نيسو. په پای کې به د بودجې موضوع او د افغانستان په حکومت کې به د لويې جرګې ونډه وڅېړل شي.

---

[۳۹۷]. ۸۱ ماده

**دوهم. د مقننه قوې جوړښت**

**الف. ولسي جرګه:** ولسي جرګه د ټولو مسودو د برابرولو او د قوانینود تصو یبولو مسولیت په غاړه لري چې وروسته بیا مشرانو جرګې ته د تصویب لپاره لیږل کیږي. اساسي قانون د حکمونو په اساس د ولسي جرګې غړي د خلکو د مستقیمو رایو په اساس د پنځه کلنې کاري دورې لپاره ټاکل کیږي. انتخابات باید آزاد او پټ وي، د ټاکنو حوزې او ور پورې اړوند ټول مسایل د ټاکنو د قانون له لارې تنظمیږي.۳۹۸ په افغانستان کې ټاکنیزې حوزې د ولسوالیو په کچه ټاکل شوې او د اساسي قانون ۸۳ ماده په ډاګه کوي چې د ټاکنو قانون باید داسې تدابیرونه رامنځ ته کړي چې انتخاباتی نظام د افغانستان د ټولو خلکو لپاره عمومي او عادلانه استازیتوب تأمین کړي.[۳۹۹]

ټاکنیزې حوزی د نفوس او جمعیت په تناسب سره یو شمېر استازي ټاکي. په همدی توګه، هره ټاکنیزه حوزه د نفوسو په تناسب باید ښځینه وکیلانی هم ولري چې حداقل شمېر یې باید دوه وکیلانې وي. د ولسي جرګې ټول غړي به حداکثر ۲۵۰ استازي وي.[۴۰۰]

له هرې دورې مخکې او له هرو ټاکنو وروسته، ولسي جرګه د خپلو غړو له منځه اداري هئیت ټاکي. دغه هئیت به له رئیس(ویاند)، لومړي مرستیال، دوهم مرستیال، منشي او نایب منشي څخه جوړ وي. دا انتخابات یوشمېر زیاتې سیالی له ځان سره لري. په ۲۰۱۱کال کی عبدالروف ابراهمي له یوه میاشت پرله پسی ټاکنیز کشمکش وروسته د رئیس په توګه وټاکل شو.[۴۰۱] د دې اداري هیئت دندې د ولسي جرګې د داخلي دندو د اصولو پر اساس تنظیم شوې دي.[۴۰۲]

اساسي قانون د ولسي جرګې د غړود نوماندی لپاره د وړتیا ځانګړې شرایط وړاندې کوي. هر نوماند باید د افغانستان تبعه وي یا لږ تر لږه د کاندیدو یا تعیین تر نېټې لس کاله پخوا له نوماندي څخه تابعیت اخیستی وي.[۴۰۳] په همدی توګه، نوماند باید په جرم نه وي محکوم شوی او د نوماندېدو پر مهال یې عمر باید له ۲۵کالونو څخه کم نه وي.[۴۰۴] له ټاکنو وړاندې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له خوا د ملي شورا د غړو د نوماندی د وړتیا شرایط او ټاکنیز وثایق خپرل کیږي.[۴۰۵]

**د مباحثې پوښتنې**

---

[۳۹۸]. ۹۳ ماده

[۳۹۹]. هماغه ځای

[۴۰۰]. هماغه ځای

[401] Khushnood Nabizada, "Afghan Parliament Elects House Speaker," (Feb. 18, 2011), *available at* http://www. khaama. com/afghan-parliament-elects-house-speaker.

[۴۰۲]. ۸۷ ماده

[۴۰۳]. ۸۵(۱) ماده

[۴۰۴]. ۸۵(۲)، ۸۵(۳) ماده

[۴۰۵]. ۸۶ ماده

۱ـ ستاسو له نظره د ټاکنو قانون د افغانستان د ټولو خلکو د منصفانه او متناسب استازيتوب د تأمين لپاره بريالى وو او که نه؟

۲ـ آيا کومه ډله د نامتناسب استازيتوب له لارې په پارلمان کې شته؟

۳ـ ستاسو نظر د ولسي جرگې د ښځينه غړو د بونډې په اړه څه دي؟ آيا تاسې فکر کوئ چې له دې ونډې پرته به ښځې به په پارلمان کې د متناسب استازيتوب په کولو قادر وي، يا په پارلمان کې د هغوى د رول لپاره د ونډې لرل اړين دي؟

۴ـ ستاسو په آند د پارلمان د غړو په هکله په اساسي قانون کې راغلي شرايط کافي دی او بسنه کوي؟ آيا د هغو د بدلون لپاره کوم وړانديز لرئ ؟

**ب. مشرانو جرگه**

د ملي شورا د سنا مجلس د مشرانو جرگه ده. که څه هم چې د مشرانو جرگه د قانون جوړونې په بهير کې مهم رول ترسره کوي، خو واک يې د ولسي جرگې په څېر مهم نه دى. د ولسي جرگې د مسودى جوړلو او تصويبولو د مهم رول په پرتله، د مشرانو جرگه يوازى د قوانينو په تصويب کې مهم رول لري.

د ولسي جرگې خلاف، د مشرانو جرگې غړي، په مستقيمه تو گه د افغانستان د خلکو له خوا نه ټاکل کېږي. يو پر درېيمه برخه يې د ولايتي شوراگانو څخه ټاکل کېږي. هره شورا خپل يو غړى د څلورو کلونو لپاره مشرانو جرگې ته استوي.[٤٠٦] همدارنگه د اساسي قانون سره سم د ولسواليو شوراگانې د مشرانو جرگې يو پر درېيمه برخه تشکيلوي. د دوى د خدمت موده درې کاله ده.[٤٠٧] د ولايتي شوراگانو او ولسواليو شوراگانو هغه غړي چې د مشرانو جرگې د غړي په توگه ټاکل کېږي، په اړوند شوراگانو کى خپله څوکى له لاسه ورکوي.[٤٠٨]

جمهور رئيس د مشرانو جرگې پاتې يو پر درېيمه برخه انتصابوي، دا غړي بيا د پنځو کالونو لپاره خدمت کوي.[٤٠٩]په ۸۴ ماده کې راغلې دي چې جمهور رئيس دغه غړي له پوهه او تجربه لرونکو خلکو څخه ټاکي او دوه چوکى د معلولينو او دوه د کوچيانو لپاره په نظر کې نيسي.[٤١٠] د مشرانو جرگې د انتصابي غړو څخه بايد ۵۰ سلنه ښځې وي.[٤١١]

[٤٠٦]. ۸۴ (۱) ماده
[٤٠٧]. ۸۴ (۲) ماده
[٤٠٨]. ۸۴ (۳) ماده
[٤٠٩]. هماغه ځاى
[٤١٠]. هماغه ځاى
[٤١١]. ۸۴ ماده

د مشرانو جرگې اداري هيئت درئيس په ګډون ولسي جرگې ته ورته دی. د عمر په استثناء چې د مشرانو جرگې لپاره ۳۵کاله ټاکل شوي دي، د نوماندئ لپاره يې نور ټول شرايط او غوښتني د ولسي جرگې په څېر دي.[٤١٢]

په عمل کی د مشرانو جرگې انتخابات او استازيتوب په بشپړه توګه توپير لري. د ولسواليو د سرحدي اختلافاتو په شمول او د پولو د ټاکلو د پېچلي ماهيت له امله د ولسواليو انتخابات تر نن ورځې نه دي تر سره شوې. دا په دې معنا دي چې د ولسواليو د استازو۳۴چوکی باید د و لسواليو د شوراګانو له استازو څخه ډکې شي، خو په واقعيت کې هغه د اضافي ولايتي استازو له لوري د څلوروکالونو لپاره ډکيږي. د مشرانو جرگې ۶۸ غړي ولايتي استازي دي او پاتی ۳۴ غړي د جمهور رئيس له خوا انتصابيږي. [٤١٣].
تر اوسه (۲۰۱۳) پوری د ولسواليو انتخابات نه دي تر سره شوې.

د خدمت د دورو توپير چی درې، څلور او پنځه کاله دی، د استازو پر واکونو، نفوذ او همدارنګه د دوی په اغېزمنتيا هم عملي توپيرونه لري. د اداري هيئت داخلي دندو اصولو ته په پام سره، رئيس(وياند) دپنځو کالونولپاره ټاکلکيږي. په ۲۰۱۱کال دمشرانو جرگې رئيس مخکې له دې، چې مشرانو جرګېتهدجمهور رئيس له خوا ۳۴ انتصابي غړي معرفي شي د ولايتي استازو له خوا وټاکل شو. له تخنيکي اړخه دې انتخاباتو بحثونه را پارولي دي. يو شمېر غړو استدلال کاوه، پداسي حال کې چې رئيس د پنځو کالونو لپاره ټاکل کيږي نو هغه بايد د هغو کسانو له ډلې وي چې جمهور رئيس له خوا معرفي شوي وي. د دغو دلايل سربېره مشرانو جرگې خپل کار ته ادامه ورکړه او رئيس يې مخکې له دې چې دجمهور رئيس له خوا غړي ورو پېژندل شي له ولايتي استازوڅخه وټاکه.[٤١٤]

**د مباحثې پوښتنې**

۱ـ د هغو لارو چارو په اړه چې پر اساس يې د مشرانو جرگې غړي انتصابيږي ، ستاسی نظر څه دی؟

۲ـ آيا تاسو فکر کوئ چې د مستقيمو ټاکنو په پرتله د غړو انتصاب زياته ګټه لري؟ آيا د ټاکل شوو او انتصابي غړو ترمنځ اختلاف به د سياسي ځواک کومه ستونزه له ځانه سره ولري؟ آيا د جرگې رئيس په انتصابي ډول اړين دی؟

۳ـ آيا تاسو فکر کوئ، چې د مشرانو جرگې د خدمت د مختلفودورو توپير به څه ګټې لري؟ نيمګړتياوې يې څه دي؟

---

٤١٢. ۸۷ماده
٤١٣. وګوری:
International Federation for Electoral Systems, Election Guide: Afghanistan Country Profile (last visited March 31, 2013), *available at* http://www. electionguide. org/country. php?ID=2; *see also* Inter-Parliamentary Union, Afghanistan: Meshrano Jirga (last visited March 31, 2013), همدارنګه تر لاس کېدای شي http://www. ipu. org/parline/reports/2382_E. htm.
414 Obaid Ali, “Even the Upper House does not listen to the President,” (Feb. 22, 2011), *available at* http://www. aan-afghanistan. org/index. asp?id=1516.

۴ـ آیا ولایتي استازي د ولسواليو د استازو ورځای ناستي دي؟

راتلونکي بحثونه، د یوشمیر هیوادونو د مقننه قواوو د جوړښت نمونې دي. که څه هم زیات عوامل د دې سیستمونو د بریالیتوب او ناکامۍ لامل ګرځي، خو هڅه وکړئ چې له دې سیستمونو نه څخه هر یو په افغانستان کې له شته سیستم سره پرتله کړئ. کېدای شي دغه سیستمونه د افغانستان د اوسني سیستم په پرتله ښه او یا خراب وي ؟

**لومړۍ بیلګه: دترکیې عالي شورا**

د افغانستان د ملی شورا خلاف، د ترکیې مقننه قوه چې د ملی عالي شورا په نوم یادیږي یوه جرګه لري. دا پدې معنی دي چې مقننه قوه یو مجلس لري نه لکه د افغانستان ملي شورا چه علیا او سفلی مجلسونه لري. د تر کیی د ملی عالي شورا او د افغانستان د ملي شورا ترمنځ یو بل توپیر هم هغه طریقه ده چې له مخې یې استازي ټاکل کیږي. د ملي شورا لپاره وګړي په مستقیمه توګه له خپلې حوزې څخه استازی ټاکي. په ترکیه کې وګړي هغوی د استازیتوب د یو تناسبي سیستم له مخې ټاکي. دا پدې معنی دي چې وګړي یوه سیاسي ګوند ته رایی ورکوي او د ګوندونو هر یو د رایو په تناسب سره څوکی تر لاسه کوي. له هغه وروسته ګټونکی ګوند حکومت جوړوي او لومړی وزیر او د کابینې وزیران ټاکي. یو ګوند د پارلمان د څوکی تر لاسه کولو لپاره باید کم تر کمه لس سلنه رایی لاس ته راوړي. دا کار د لږکیو یو زیات شمیر ګوندونه په پارلمان کې له استازیتوب څخه بې برخې کوی. له ۲۰۰۲ کال را پدېخوا، حاکم ګوند تر اوسه پورې په مقننه قوه کې مطلق اکثریت لري.[415]

**د مباحثې پوښتنې**

۱.آیا ستاسو په نظر د یوې جرګې درلودونکی پارلمان غوره دې او که د افغانستان په شان د دوو جرګو درلودونکی پارلمان؟

۲. په افغانستان کې د مستقیمو انتخاباتو سره د ترکیی نسبي استازیتوب سیستم پرتله کړي.د دې هر یوه ښېګڼې او نیمګړتیاوې په ګوته کړي؟

**دوهمه بېلګه: د مصر پارلمان**

[415] Constitution of Turkey, Articles 75-100.

د مصر مقننه قوه د افغانستان په څېر د دوو مجلسونو لرونکې ده. د لانديني(سفلی) مجلس د استازو مجلس (ولسي جرګه) او سنا مجلس د شورای د مجلس په نامه يادېږي. د استازو مجلس لږ تر لږه ۳۵۰غړي لري. دغه غړي د مختلفو حوزو استازيتوب کوي. خو د حوزو د وېش موضوع پر اساسي قانون سربېره، د جلا قانون له لارې تنظيميږي. ټول منتخب غړي د پنځوکالونو لپاره ټاکل کېږي او د ټولو څوکيو لپاره له نوې پنځه کلنې دورې څخه ۶۰ ورځې مخکې، په يو مهال انتخابات ترسره کېږي. د شورا مجلس لږ تر لږه له ۱۵۰غړو څخه جوړ دی. همدارنګه جمهور رئيس کولی شي، اضافي غړي شورا ته وټاکي، خو داسې نشي کېدای چې د ټولو غړو له يو پر لسمې برخې څخه زيات وي. د شورا مجلس د غړو د خدمت دوره شپږ کلنه ده او له دوی څخه نيمايي هر درې کاله وروسته ټاکل کېږي.[416]

**د مباحثې پوښتنې**

۱ـ ستاسې په آند د مصر د ټاکنيز نظام په اړه چې هلته د سنا د مجلس يوازې يو پر لسمه برخه انتصابي ده څه، دی؟ دا د اجرائيه قوې له خوا د مقننه قوی په کنټرول باندی څه اغېز کولی شي؟

۲ـ ستاسې په آند آيا دا د هوښيارۍ عمل نه دی چې د ټاکنيزو حوزو د پولو معلومول د جلا قانون له لاری د حوزو د غړو شمير په نظر کې نيولو څخه پرته تنظيم شي؟

**درېيمه بېلګه: د اندونيزيا پارلمان**

د اندونيزيا د خلکو مشورتي مجلس، د مصر او افغانستان د مقننه قوې په څېر دوه مجلسه لري. د لانديني (سفلی) مجلس د خلکو د استازو د شورا په نامه يادېږي چې له ۵۶۰ غړو څخه جوړه شوې دی. د سنا مجلس چې د سيمه ييز استازيتوب د شورا په نامه يادېږي ۱۳۲غړي لري. اندونيزيا په ټاکنو کې له تناسبي ټاکنيز نظام څخه پيروي کوي، په داسې ډول چې خلک نوماندانو ته مستقيمه رايه نه ورکوي بلکې خپله رايه ملاتړي ګوند ته ورکوي. د ترکيې خلاف، تر اوسه په اندونيزيا کې هيڅ ګوند د اکثريت رايو په ګټلو نه دی توانيدلی. په پايله کې حکومت د ګوندونو له ايتلاف څخه جوړېږي.

په عمل کې د اندونيزيا پارلمان د فاسد ارګان په توګه پيژندل کيږي. په دی توګه د اندونيزيا خلک مقننه قوې ته د شک په سترګه ګوري چې ددوی رېښتوني استازيتوب کوي.[417]

[416] 2012 Constitution of Egypt, Articles 114-131.
[417] Constitution of Indonesia, Articles 19-23.

**د مباحثې پوښتنې**

۱ـ تاسو څه فکر کوئ چې د اندونیزیا د تناسبي استازيتوب له نظام څه ستونزې منځ ته راځي؟

۲ـ ستاسو له نظره د ایتلافي حکومت ګټې او نیمګړتیا وې، د یو ګوندي حکومت په پرتله څه دي؟

۳ـ د اندونیزیا په حکومت کې فساد یوه جدي ستونزه ده، هغه د مقننه قوې په مشروعیت او د قوانینو د تصویب پر اغیزمنتیا څه تأثیر لري؟

**درېیم. د مقننه قوې دندې، واکونه او پراتیک**

**د افغانستان اساسي قانون**

**۸۱ ماده**

د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت ملي شورا ، د ستر تقنیني اورګان په توګه د افغانستان د خلکو د ارادې ښکارندویه ده او د ټول ملت نماینده ګي کوي.

د شورا هر غړی د رایې د څرګندونې په وخت کې، د افغانستان د خلکو عمومي مصلحتونو او سترې ګټې د خپل قضاوت محور ټاکي.

**الف. دندې**

**د لوستلو تمرکز**

د دې برخې د مطالعې په ترڅ کې، په هغه رول تمرکز وکړئ چې د اساسي قانون د مسودې جوړونکو، د افغانستان په حکومتولۍ کې ملي شورا ته په نظر کې نیولی دی. فکر وکړئ چې ملي شورا د واک او قدرت په لرلو سره د دې رول د تر سره کولو توان لري .

ملي شورا درې اساسي دندې لري. لومړۍ دنده يې تقنيني دنده ده چې په دې سره د قوانينو د تصويب واک او پر ملي بودجه کنترول تر لاسه کوي.[۴۱۸] دوهمه دنده يې پر اجرائيه قوي د کنترول او څارنې دنده ده. مقننه قوه دغه کار د قوانينو د تصويب له لارې او د وزيرانو د کړنو او د حکومت د تګلارو د څارلو له لارې ترسره کوي.[۴۱۹] خو مقننه قوه دا دنده په هغه ډول چې تربې تمه کيږي، نه ترسره کوي. د ۲۰۱۰کال د سپټمبر د پارلماني ټاکنو پېښنو، د کرزي د اوسني حکومت، ملي شورا او سترې محکمې ترمنځ د واک کشمکش را منځ ته کړ. دا موضوع په تفصيل سره په لاندې توګه تر بحث لاندې نيول شوې ده.

د ملي شورا دريمه دنده د افغانستان د خلکو استازيتوب کول دي. ددې مجلس غړي په مستقيمه د خلکو له خوا ټاکل کيږي او د خدمت موخه يې داده چې د جمهور رئيس په پرتله په حکومت کې د خلکو غږ په مستقيم ډول او ښه توګه واورېدل شي. ملي شورا دنده لري چې د خپلو مؤکلينوله حقونو، سوکالۍ او ګټو څخه دفاع وکړي.[۴۲۰] د اساسي قانون په ۸۱ماده کې دا دنده په څرګنده توګه ليدل بيان شوې ده.[۴۲۱]

<table>
<tr><td>

**د مباحثې پوښتنې**

۱ـ ستاسو نظر د ملي شورا د دندو په اړه څه دی؟ ستاسو د شخصي تجربې له نظره، آيا دغه دندې څرنګه چې په اساسي قانون کې راغلي دي، په هماغه ډول ترسره کيږي او د مؤکلينو ښه استازيتوب تأمينوي؟

۲ـ آيا فکر کوئ چې ملي شورا عملاً پر دې توانيدلی ترڅو په اجرائيه قوې د کنترول واک پلی کړي؟ او که جمهور رئيس د هغوی هغه هڅه خنثی کوي چې دده کړنی تر کنترول لاندی راولي ؟

</td></tr>
</table>

### ب ـ بهير او کړندودونه

کله چې شورا د کار په بهير کې وي، د ملي شورا دواړه مجلسونه، د بحث وړ موضوعاتو د مطالعې لپاره، کميسيونونه جوړه وي.[۴۲۲] په ډيرو مواردو کې پريکړې په دواړو مجلسونو کې د حاضرو غړو په اکثريت سره کيږي، خو هغه موارد چې له ساده اکثريت څخه د زياتو رايو_غوښتونکي دي، په قانون کې

418 Ramin Moschtaghi, *Max Planck Manual on Afghan Constitutional Law, Volume One: Structure and Principles of the State* (3rd ed. , March 2009).
419 *Id*.
420 *Id*.

۴۲۱. ۸۱ ماده
۴۲۲. ۸۸ ماده

تصریح کېږي. د ملي شورا د هر مجلس نصاب د رايو د اخيستو په وخت کې د هرې جرګې د غړو د اکثريت په حضور بشپړېږي او تصميمونه يې د حاضرو غړو د رايو په اکثريت نيول کېږي.[٤٢٣]

د ملي شورا دواړه مجلسونه په يو مهال، خو جلاجلا جلسې کوي. خو د اړتيا په صورت کی جمهور رئيس د ګډی غونډی او ناستی غوښتنه کولای شي.[٤٢٤] د ١٠٥مادې د حکم پر اساس دا غونډې بايد ښکاره وي، ترڅو يې عام خلک و ويني چې استازي يې څه کوي. پداسې حال کې که د پارلمان ١٠غړي او يا رئيس د ترلي مجلس غوښتنه وکړي او دا غوښتنه دپاتې مجلس له لوري تائيد شي، عام خلک يې بياله ليدلو محرومېږي.[٤٢٥] د حکومت له لوري يو مجلس هم مخکې له دې چې د غړو دخدمت دوره يې پوره شوې نه وي، منحل کېدای نشي. دا د شورا پر اقداماتو دکنترول يا نفوذ د مخنيوي لپاره يو ښه لاره ده تر څو يې اجرائيه قوه د ړنګېدو له لارې تهديد نه کړي.

د ملي شورا د غړو بل مصوئنيت د ځانګړي نظر يا په ځانګړې طريقې سره د رايو ورکولو له امله، د دوی نه تعقيب دی.[٤٢٦] د بېلګې په ډول که د ملي شورا غړي له جمهور رئيس سره د يوې موضوع پر سر د نظر اختلاف ولري، اجرائيه قوه نشي کولی چې له امله يې تر هغوی ترعدلي تعقيب لاندې ونيسي. له دې څخه موخه ددې ډاډ تر لاسه کول دي چې استازي په آزاده توګه سره وکولی شي خپلې رايې په هغه شکل چې دوی يې فکر کوي د مؤکلينو ګټې په غوره طريقه سره حمايه کړې دي، وکاروي.

که د هر مجلس غړی پداسې جرم تورن شي چې په شورا کې د ده په نظرياتو او رايو پورې اړه ونه لري، نو اړوند مجلس ته يې خبر ورکول کېږي او غړی تر عدلي تعقيب لاندې نيول کېږي او اړونده مجلس د اړونده غړي د نيولو د توقيف اجازه ورکولای شي[٤٢٧]. د ملي شورا د استازو نيول يا بندي کول د اړوند مجلس له اجازې پرته نشي ترسره کېدای. يوازنی استثناء په دې اړه مشهود جرم دی. کله چې د پارلمان يو غړی په مشهود جرم تورن شي، چاروکي د ملي شورا له اجازې پرته هغه نيولی او بندې کولی شي. له دې محدوديت څخه موخه د يوې مهمې مسلې په اړه د رايو ورکولو څخه مخکې، د حکومت له لوري د ملي شورا د غړو له نيولو او يا د نيولو د ګواښ په استعمال، پر غړو د رايې ورکولو د ځانګړې طريقې لپاره فشار راوړلو څخه مخنيوی دی.

| **څلورمه بيلګه: د قانون جوړه ونکو لپاره د ترکيې د اساسي قانون مصوئنيتونه** |
|---|
| د ترکيې اساسي قانون د مجلس استازو ته د هر ډول څرګندونو، رايې ورکولو يا د نظرياتو په لړلو سره د دوی د مسؤليت لپاره مصوئنيت ورکړی. پداسې حال کې چې دا کار مجلس ته د دې پرېکړې اجازه ورکوي ترڅو استازي خپل نظرونه تکرار، افشا او خپلې رايې عامو خلکو ته ښکاره نه کړي. د مجلس غړي نشي کولی چې ونيول شي، تحقيق ترې وشي، توقيف يا محاکمه شي، مګر د مجلس په اجازه او يا |

---

[٤٢٣] ١٠٦ ماده
[٤٢٤] ١٠٤ ماده
[٤٢٥] ١٠٥ ماده
[٤٢٦] ١٠١ ماده
[٤٢٧] ١٠٢ ماده

دا چې استازی د لوی او دروند جرم په کولو مرتکب او ونیول شي. پر دې سربېره، هر ډول جزايي پریکړه د پارلمان د غړي د وکالت د دورې تر پایه ځنډول کېږي. د تحقیقاتو د ځنډول څخه د راپیدا شوو هر ډول ستونزو د مخنیوي لپاره اساسي قانون وایي چې د قانون حکمونه د جرمونو پورې د اړوندو حکمونو د محدودیتونو په اړه، د تورن د خدمت د دورې تر پای ه رسېدو پورې نه اعمالېږي. [428]

**د مباحثې پوښتنې**

۱- آیا د ا مصونیتونه د ملي شورا لپاره کافي دی؟ که نه وي، نو تاسې یې څرنګه تعدیل او اصلاح کولی شئ؟

۲- آیا درایو ورکولو په موخه، د عدلي تعقیب پر وړاندې د استازو د ملاتړو حکمونو شتون اړین دی ؟

۳- آیا تاسې فکر کوئ چې د پارلماني مصؤنیت د موخې د له منځه وړلو لپاره د قانوني تعقیب د مصونیت استثناء د حکومت له لوري د غلطې ګټې اخیستنې لاندې راتلی شي؟

## ج - د ملي شورا واکونه

**د لوستلو تمرکز**

اساسي قانون ولسي جرګې ته یو شمېر واکونه په نظر کې نیولي دي چې اجازه ورکوي ترڅو له اجرائیه قوي او دجمهور رئیس له واکونو څخه څارنه وکړي. لکه څرنګه چې تاسې به د واکونو په اړه لاندې مطلب و لولئ، په دې اړه فکر وکړئ چې آیا هغه عملاً د اساسي قانون سره سم عمل کوي او که نه.

ملي شورا خپلې کړنې د پراخو او بېلابېلو واکونو او مسؤلیتونو له لارې چې زیاتې یې په اجرائیه قوې هم ورګډېږي، ترسره کوي. اساسي قانون ملي شورا ته د تقنیني فرمانونو د تصویب، تعدیل او یا لغوې واک ورکوي.[429] دا واک زیات صراحت لري. دواړه مجلسونه باید دا بدلونونه د هغه د پلي کولو لپاره تائید کړي. همدارنګه دا د ملي شورا مسؤلیت دی چې ټولنیزو، کلتوري، اقتصادي او تکنالوژیکي پراختیائي پروګرامونه تصویب کړي.[430] همدارنګه ملي شورا کولی شي، اداري واحدونه رامنځته، تعدیل او لغو کړي.[431] پر دې سربېره، ملي شورا دبین المللي قوانینو په رڼا کی معاهدات تصویب یا لغو کولای

[428] Constitution of Turkey, Articles 75-100

[429]. ۹۰ (۱)ماده
[430]. ۹۰ (۲) ماده
[431]. ۹۰(۴) ماده

شي.[٤٣٢] پدی معنی چی جمهور رئیس نشي کولای د معاهداتو د لاسلی کولو یا غړیتوب پریکړه وکړي، بلکې دا معاهدات باید د ملي شورا له خوا تصویب شي.

ولسي جرګه واک لري چې د حکومت د اقدماتو څېړلو لپاره ځانګړی کمیسیون رامنځ ته کړي. مخکې له دې چې دا کمیسیون په کار پیل وکړي، باید د ولسي جرګې یو پر درې غړي د هغه د رامنځته کېدو لپاره رایه ورکړي.[٤٣٣] د بېلګې په ډول که د ولسي جرګې غړي فکر وکړي چې د اجرائیه قوې یا حتی د جمهور رئیس د واک لاندې اداره، غیرې قانوني یا غیرې اخلاقي کړنې تر سره کوي، دوی کولی شي، دا اداره تر څارنی لاندی ونیسي په دی شرط چی د غړو د یو پر در یمی برخی ملاتړ له ځان سره لري، خو په عمل کې دا جوته نده چې ولسي جرګه د دې واک د پلي کولو وړتیا لري او که نه. په شورا کې د ډلو او ټېلو موجودیت او د اجرائیه قوې نفوذ، دڅارنیز ارګان په توګه ولسي جرګه د جمهور رئیس پر واکونو د خپلې واقعي دندې څخه راګرځوي.

۹۲ ماده ولسي جرګې ته د ټولو غړو د ۲۰سلنې په وړاندیز، د هر وزیر د استیضاح کولو واک ورکوي.[٤٣٤] هرکله چې ولسي جرګه د وزیر له خوا ورکړل شوې څرګندونې د قناعت وړ ونه بولي او فکر وکړي، چې وزیر د اړوند مقام لپاره وړ نه دی، نو بیا د نه باور موضوع تر څېړنې لاندې نیسي. ۹۲ ماده وایي چې د نه باور رایه باید د موجه، قانعو کوونکو، صریحو او مستقیمو دلایو پر اساس وي. د نه باور رایې لپاره ساده اکثریت په پام کې نیول شوی دی.[٤٣٥] ولسي جرګې دا واک په ۲۰۰۷کال کله یې چې وغوښتل د بهرنیو چارو وزیر سپنتا له خپل مقام نه لرې کړي پلی کړ. جمهور رئیس کرزي ادعا وکړه چې ولسي جرګه د وزیر د لرې کولو واک نه لري او موضوع یې سترې محکمې ته ولېږله.[436] سترې محکمې حکم صادر کړ چې ولسي جرګې په ۹۲ مادې کې د یادشوي شوي کړندود پیروي په درست ډول نه ده تر سره کړې، نو پر دې اساس د نه باور رایه اعتبار نه لري.[437] په ځواب کې یې ولسي جرګې اعلان وکړ ، چې ستره محکمه د اساسي قانون د تفسیر واک نه لري.[438] دغه قضیه د دې ستونزې ښکارندوی وه چې څوک د اساسي قانون د تفسیر واک لري، ځکه چې په اساسي قانون کې یې په اړه څرګند حکم شتون نه لري.

د سپنتا موضوع د ولسي جرګې د کمزورتیا نقطې په ګوته کوي. د سپنتا له دوسیې وروسته، ولسي جرګه د حکومتي اقداماتو د محدودولو او څارنې لپاره د یو کمیسیون په رامنځته کولو سره یو شوه. پداسې حال کې چې د داخلي ډله بازیو او اختلافاتو له امله، ولسي جرګه د دې کمېسون د ۲۳غړو له ډلې د دوه استازو څخه د زیاتو په ټاکلو ونه توانیده. نو د نه حل شوو داخلي اختلافونو په شتون سره، ولسي جرګې

---

٤٣٢. ۹۰(۵) ماده
٤٣٣. ۸۹ ماده
٤٣٤. ۹۲ ماده
٤٣٥. هماغه ځای
436 J. ALEXANDER THIER, U. S. INST. OF PEACE, RESOLVING THE CRISIS OVER CONSTITUTIONAL INTERPRETATION IN AFGHANISTAN 3 (2009).
437 *Id*
438 *Id*

دا کمیسیون له لاسه ورکړ او هیڅکله رامنځته نه شو. دا د هغو واکونو یو بېلګه ده چې د اساسي قانون له خوا ورکړل شوي، خو په عمل کې نه دي پلي شوي.

**پنځمه بېلګه: انتخابات، جمهور رئیس او ملي شورا**

تاسو په دوهم څپرکي کې د قواوو د تفکیک تر عنوان لاندې زده کړل، چې د ملي شورا له دندو څخه یوه هم د جمهور رئیس پر واکونو څارنه ده. په ځینو حالاتو کې ممکن جمهور رئیس وغواړي، د ملي شورا له لوري د ده پر واکونو د هر ډول محدودیتونو د کموالي پر وړاندې مقابله وکړي. د جمهور رئیس کرزي او ملي شورا ترمنځ د دې مبارزو یوه بېلګه د ۲۰۱۰کال د سپټمبر د ټاکنو د پایلو پر سر ده. وروسته له ټاکنو د درغلۍ پراخه تورونه را منځ ته شول، لکه د رایو د صندقونو ډکول او د رایو ورکونکو د تهدید په اړه . . یو شمېر ناکام نوماندان د ټاکنو د پایلو په اړه، د بیا کتنې غوښتونکي وو او کرزي په دې اړه د ناوړه چلند د ادعاوو د څېړلو لپاره ځانګړې محکمه رامنځته کړه. د وروستۍ پرېکړې کولو د واکمن ارګان په توګه د ټاکنو خپلواک کمیسیون ۳، ۱میلیون رایې چې د دوی له نظره جعلي وې باطلې او د ټاکنو پایلې یې تصدیق او قانوني اعلان کړې.[۴۳۹]

زیاتو ناکامو نوماندانو د درغلۍ ادعاوې، د کرزي له خوا جوړې شوې ځانګړې محکمې ته وړاندې کړې چې د دې نوماندانو زیاته برخه د کرزي ملاتړي پښتانه وو. نیوکګرو د ځانګړې محکمې پر مشروعیت ادعاوې وکړې چې د اساسي قانون خلاف ده. کرزي د نوې ملي شورا د پرانیستنې جلسه، پرله پسې توګه د څو میاشتو لپاره وځنډوله ، ترڅو ځانګړې محکمه په دې موده کې د درغلۍ په اړه شوو ادعاوګانو ته رسیدګي وکړي. د ۲۰۱۱کال د جنوري په لومړیو کې، جمهور رئیس کرزي اعلان وکړ چې د جلسې پرانیستنه د یوې بلې میاشتې لپاره ځنډ وي، خو د ملي شورا ټاکل شوو غړو نور ځنډ ونه مانه. دوی اعلان وکړ که کرزی نه غواړي، نو په خپله به جلسه پرانېزي. دې موضوع هم د اساسي قانون پورې اړوند یو شمېر مسایل مطرح کړل، ځکه د متن پر اساس د ملي شورا د جلسې د تشکیل په اړه، یوازې جمهور رئیس د قانوني واک لرونکی دی. پداسې حال کې چې له خبرو اترو وروسته دغه مسایل حل شول او د ۲۰۱۱کال د جنوري په ۲۶نېټه کرزي د ملي شورا نوې دوره پرانیستله.[۴۴۰]

دا حالت د جمهور رئیس او ولسي جرګې ترمنځ د قدرت د مبارزې ښکارندوی دی. د کرزي ملاتړو د ۲۰۱۰کال په ټاکنو کې چوکۍ له لاسه ورکړې. دې کار ځیني په دې نظر کړل، چې جمهور رئیس په دې وېره کې وو چې د شورا نوې دوره به دده ملاتړ نه کوي او د ګټو پر خلاف به یې عمل کوکړي او د ملي شورا د نوې دورې په پرانیستلو سره، جمهور رئیس په خپله ګټه د قوانینو له تصویب څخه د ډاډ لپاره، لږ کار کولی شي. پر دې اساس نیوک کوونکي استدلال کاوه چې کرزي په لومړۍ مرحله کې هڅه کوله تر څو د نادوستانه پارلمان له پرانسیتلو څخه ډډه وکړي.

[439] Ray Rivera, "Afghan Political Crisis Grows as Legislators Vow to Defy Karzai and Open Parliament," NY TIMES, JAN. 20, 2011.
[440] Ray Rivera, "After Months of Turmoil Karzai Opens Parliament," NY TIMES, JAN. 26, 2011

**د مباحثې پوښتنې**

۱ـ تاسې څه فکر کوئ چې د ټاکنو پر سر دا مبارزه د ملي شورا او اجرائیه قوې د اړیکي په اړه څه وايي؟

۲ـ که چیرې جمهور رئیس د ملي شورا د نوې غونډې له پرانیستلو څخه انکار کړي وای، آیا ملي شورا ددې کار واک لري؟

۳ـ ملي شورا چې د ۲۰۱۱کال د جنوري په ۲۶ نېټه پرانیستل شوه، د خپلو دندو د ترسره کولو توان لري؟ که نه، آیا د اجرائیه او مقننه قوې ترمنځ د ټاکنو په سر کشمکش د ستونزو د منځته راتلو لامل دی؟

همداشاني ولسي جرگه د پرمختیایي پروگرامونو د ټاکلو مسؤلیت لري او واک لري چې د حکومت له لوري د وړاندې شوې دولتي بودجه تصویب کړي.[٤٤١] دواړه مجلسونه، مشرانو جرگه او ولسي جرگه د بودجې په اړه د ټاکلو او ځانگړو مسلو په هکله له وزیرانو څخه پوښتنې کولای شي او له هغوی څخه لیکلې یا شفاهی معلومات غوښتلای شي.[٤٤٢]

**د مباحثې پوښتنې**

۱ـ آیا ولسي جرگه په بریالیتوب سره د خپلو واکونو او مسؤلیتونو د ترسره کولو بریالی وړتیا لري؟

۲ـ آیا د تاسو له نظره، د ولسي جرگې شته واکونه مناسب دي، یا تاسو د نورو او زیاتو واکونو د ورکولو وړاندیز لرئ؟

۳ـ د سپنتا د نه باور د رایې په اړه څه فکر کوئ؟ ستاسو له نظره، آیا ولسي جرگه د۹۲مادې سره سم، د خپل واک په چوکاټ کې عمل کړی وو؟ آیا ولسي جرگه باید د وزیرانو د لرې کولو واک ولري، په دې اړه ستاسو نظر څه دی؟

## څلورم. د قانون جوړونې بهیر

٤٤١ ۹۱ ماده
٤٤٢ ۹۳ ماده

**د افغانستان اساسي قانون**

**۹۴ماده**

قانون هغه مصوبه ده چې د ملي شورا د دواړو جرګو له خوا تصويب او د جمهور رئيس له خوا توشيح شوې وي، مګر دا چې په دې اساسي قانون کې بل ډول څرګنده شوې وي.

**۹۵ ماده**

د قانون د طرحې پيشنهاد د حکومت يا د شورا د غړيو او د قضايي چارو د تنظيم په برخه کې د سترې محکمې له خوا د حکومت له لیارې وړاندې کېدایشي

د قانون جوړوني بهير د اساسي قانون له ۹۴ مادې نه تر ۱۰۰ مادې پورې بيان شوی دی. په ۹۴ ماده کی راغلي هر هغه مصوبه چی د دواړو مجلسونو له خوا تصويب او د جمهور رئيس له خوا توشيح شوي قانون ګڼل کيږي.[٤٤٣] يو شمېر لارې شته چې د هغوی په واسطه پېشنهادي طرحې په قانون بدلېږي.[٤٤٤] د قانون طرح د ملي شورا په دواړو مجلسو نو کې پيشنهاد کېدای شي. که د ملي شورا د هر مجلس نه لس غړي د قانون طرح پيشنهاد کړي، د کار په اجنډا کې د شاملولو لپاره بايد د اړوند مجلس د يو پر پنځمه برخه غړو له خوا د تائيد وړ وګرځي.[٤٤٥] کله چې د يو قانون طرح د يو مجلس له خوا تصويب شوه نو د تائيد لپاره بل مجلس ته لیږل کیږي.[٤٤٦] وروسته له دې څخه چې د ملي شورا دواړو مجلسونو دا طرح تصويب کړه، د توشيح لپاره جمهور رئيس ته استول کيږي.[٤٤٧] جمهور رئيس د قانون يا مصوبې د پېشنهادي طرې د ويټو حق لري. که هغه د ويټو له حق نه ګټه واخلي، مصوبه د پنځلسو ورځو په جريان کې د جمهور رئيس د ويټو له دلايلو سره يوځای ولسي جرګې ته مستردېږي. ولسي جرګه کوله شي چې ويټو د دوه پر دريو رايو په اکثريت رد کړي.[٤٤٨] د اجرائيه او مقننه قوې ترمنځ د څارنې او انډول دا سيستم د قانون جوړ ونې په بهير کې د هر ارګان له حد نه د زيات واک د مخنيوي لپاره په نظر کې نيول شوی دی.

کېدای شي د قانون طرح د حکومت له خوا پېشنهاد شي. کله چې قوانين د قضايي چارو پورې اړوند وي، ستره محکمه يې د حکومت له لارې پېشنهاده وي.[٤٤٩] د قانون پېشنهادي طرح د حکومت له خوا لومړی

[٤٤٣]. ۹۴ ماده
[٤٤٤]. ۹۷ ماده
[٤٤٥]. همانجا
[٤٤٦]. ۹۴ ماده
[٤٤٧]. هماغه ځای
[٤٤٨]. هماغه ځای
[٤٤٩]. ۹۵ ماده

ولسي جرګې ته د تصويب لپاره وړاندې کيږي.[٤٥٠] په واقعيت کې د قانون اکثريت طرحې د حکومت له لوري پيشنهاديږي. د دغو پيشنهاداتو نه يې زيات د وزارت عدليي د يو رياست له لوري راځي.[٤٥١]

ولسي جرګه نشي کولی چې پيشنهاد شوې طرح له يوې مياشتې نه زياته وځنډه وي.[٤٥٢] وروسته له دې طرح مشرانو جرګې ته لېږل کيږي چې بايد د پنځلسو ورځو په دننه کې يې په اړه پرېکړه وکړي. که دواړو مجلسونو د قانون طرح تصويب کړه، د توشيح لپاره جمهور رئيس ته لېږل کيږي او په همدې ترتيب نافذيږي.[٤٥٣] له دې زماني محدوديتونو نه موخه داده چې مخالف استازي د دې وخت ولري چې په اغېزمنه توګه د تصويب مانع و ګرځي. دا ډول ستراتيژي، غالباً د امريکا د کنګري په ګډون په ټولو قانون جوړوونکو ارګانونو کې ترسره کيږي.

که د قانون پيشنهادي طرح يو له مجلسونو څخه تائيد او بل يې رد کړي، د اختلافاتو دحل په موخه د دواړو مجلسونو له غړو څخه يوګډ هيئت جوړيږي.[٤٥٤] که دا کميسيون هوکړې ته ورسېد، نو د قانون طرح د توشيح لپاره جمهور رئيس ته لېږل کيږي، خو که د حل لارې پر سر يې په هوکړه بريالی نشو، د قانون طرح رد شوې بلل کيږي،[٤٥٥] خو اوس يې هم ولسي جرګه له دريو نه د دوو په اکثريت سره کولی شي تصويب کړي.[٤٥٦]

پورتنی پرګراف د اساسي قانون له خوا، ملي شورا ته سپارلو شوو دندو نوعيت بيانوي. خو په عمل کې دا بهير له هغه نه زيات ستونزمن دی چې د اساسي قانون ليکونکو هغه په نظر کې درلود. د ملي شورا کار د داخلي ډل لوبو له امله زيات پيچلی شوی چې د قانون جوړ ونې د بهير د ځنډېدو لامل ګرځي. پر دې سربېره، په ملي شورا کې فساد يوه بله ستونزه ده. د سياسي ډلو په دننه کې، اختلاف او نه همغږي، د قانون جوړه ونې له رسمي بهير نه سېوا، د پردې تر شا د زياتو معاملو لامل کيږي. دغه ټولې ستونزې د قانون جوړونې بهير ورو کوي او د قوانينو په تصويب او له اجرائيه قوې څخه دڅارنې په برخه کې د ملي شورا ستونزې زياتوي.

**د مباحثې پوښتنې**

۱ـ آيا تاسو فکر کوئ چې دا په ملي شورا کې د قوانينو د تصويب يوه ښه او اغيزمنه لاره ده؟

[٤٥٠]. ۹۷ ماده

[451] Ramin Moschtaghi, *Max Planck Manual on Afghan Constitutional Law, Volume One: Structure and Principles of the State* (3rd ed. , March 2009).

[452] *Id*.

[453] *Id*.

[٤٥٤]. ۱۰۰ ماده

[٤٥٥]. هماغه ځای

[٤٥٦]. هماغه ځای

۲ـ ستاسو له نظره، د هر یو مجلس پر کړنو د وخت محدودیت یوه ښه نظریه ده؟ د یوې میاشتې او یا پنځلسو ورځو د رامنځته کولو منفي اړخونه څه دي؟

۳ـ ستاسو نظر د ملي شورا د مجلسینو له خوا د رد شوي قانون د طرحې سره د چلند په اړه څه دی؟

۴ـ آیا دا صحیح ده چې ولسي جرګه دې دا واک ولريتر څو د جمهور رئیس د ویټو حق دې باطل او د مشرانو جرګې پرېکړې دې د خپلو غړو د دوه په دریو رایو سره رد کړي؟

**شپږمه بېلګه: په ترکیه کې د قانون جوړه ونې بهیر**

په ترکیه کې د قانون جوړوني بهیر له افغانستان څخه توپیر لري او د قانون د طرحې انحصاري واک د وزیرانو شورا او د هغوی له مرستیالان سره دی. د ترکیې ملي مجلس مسوده نه معرفي کوي، دا مجلس یوازې پرې بحث کوي او د لوایحو او قوانینو پیشنهادي مسودې تصویبوي. کله چې د ملي شورا مجلس قانون تصویب کړي، له دې وروسته یې د توشیح لپاره جمهور رئیس ته استوي، که د جمهور رئیس له نظره یوقانون نا مناسب وي، هغه کولی شي قانون د ملي شورا مجلس ته د خپل مخالفت له دلایلو سره د زیاتي څېړنې لپاره مسترد کړي. د ملي شورا مجلس د جمهور رئیس د وړاندیزونو په پام کې نیول سره په هغه کې بدلون راولي. پدې ترتیب په ترکیه کې جمهور رئیس د قانون د ویتو ښکاره حق نه لري، خو هغه کولی شي چې ملي شورا د مسترد شوي قانون بیا کتنې ته اړ کړي.[۴۵۷]

**د مباحثې پوښتنې**

۱ـ د قانوني طرحې د پیشنهاد د واک نه لرلو په اړه، د ترکیې د ملي شورا په اړه بحث وکړئ. ستاسو له نظره آیا دا په ټوله کې دا د مقننه قوې پر واک اغېز نه کوي؟

۲ـ د قوانینو د تصویب په اړه د ترکیې د جمهور رئیس پر رول بحث وکړئ؟ تاسو څه فکر کوئ چې د ویټو د مستقیم حق نه لرل ښه دي او یا د افغانستان د اجرائیه قوې په څېر د ویتو حق لرل ښه اوغوره دي؟

**د افغانستان اساسي قانون**

**۹۵ماده**

د بودجې او مالي چارو په برخه کې د قانون د طرحې پیشنهاد یوازې د حکومت له خوا کېږي.

[457] Constitution of Turkey, Articles 75-100.

### الف: بودجه څه ډول تصویبیږي ؟

یوازې حکومت د ملي بودجي او یا د نورو ملي پرواګرمونو د پېشنهاد واک لري.[458] پېشنهادي بودجه لومړی مشرانو جرګې ته لېږل کېږي، دا مجلس د بودجې په اړه خپل نظر څرګنده وي او ولسي جرګې ته د پېشنهاد له لېږلو وړاندې خپلې غوښتنې وړاندې کوي.[459] وروسته ولسي جرګه بودجه تصویبوي او هغه مشرانو جرګې ته د بیا لېږلو پرته د اجراء وړ ده.[460] مشرانو جرګه د بودجې وروستي تصویب ته اړتیا نه لري بلکې تصویب یې د ولسي جرګې له خوا تر سره کېږي.

ولسي جرګه د بودجې د تصویب لپاره یوه میاشت وخت لري. که بودجه په ټاکل شوي وخت کې تصویب نه شي، تصویب شوې شمېرل کېږي او د پلي کېدو وړ دی.[461] دا امر کېداې شي د بودجې په اړه د استازو د غوښتنو سره سم، د هر اړخیز بحث فرصتونه محدود کړي. پردې سربېره که نوې بودجه د مالي کال تر پیل پورې تصویب نه شي، د تېرکال بودجه د نوې بودجې تر تصویب او اجراء پورې د پلي کېدو وړ ده.

| د مباحثې پوښتنې |
| --- |
| ۱ـ تاسو پدې اړه چې یوازې حکومت د بودجې د پېشنهاد واک لري څه فکر کوئ؟ |
| ۲ـ آیا فکر کوئ چې بودجه د ولسي جرګې له تصویب وروسته، باید د بیا لپاره مشرانو جرګې ته ولېږل شي، که یوازې د استازو د مجلس له خوا یې تصویب کفایت کوي؟ |
| ۳ـ آیا تاسي فکر کوئ چې د بودجې په تصویب کې پاتې راتلل (۱۶ماده وګورئ) په عین ډول د بودجې د تصویب اثر لري؟ د دې حکم احتمالي ستونزې کومې دي؟ |

## شپږم. لویه جرګه

### الف. موخې او جوړښت

| د افغانستان اساسي قانون |
| --- |
| **۱۱۰ماده**<br>لویه جرګه د افغانستان د خلکو د ارادې تر ټولو ستر مظهر دی. |

[458] ۹۸ ماده
[459] هماغه ځای
[460] هماغه ځای
[461] هماغه ځای

لویه جرگه د افغانستان د خلکو د ارادې تر ټولو لوړ مظهر دی، لویه جرگه هله دایرېږي چې افغانستان له ستونزمنو او مهمو حالاتو سره مخ وي. د هغې له دایرېدو څخه موخه، د افغانستان د خپلواکي پورې اړوندو مسایلو، ملي حاکمیت او ځمکنې بشپړتیا په اړه پرېکړه کول دي. همدارنګه لویه جرگه د نورو هر ډول مسایلو په اړه چې د افغانستان د مهمترینو ملي ګټو پورې اړه لري، غور او څېړنه کوي. پر دې سربېره، لویه جرگه د اساسي قانون د تعدیل او د جمهور رئیس د محاکمې واک لري.[٤٦٢]

لویه جرگه د ملي شورا له غړو او د ولایتي او ولسوالیو شوراوو له رئیسانو انو څخه جوړېږي. قاضي القضات او د سترې محکمې غړي، وزیران او لوی څارنوال هم د لویې جرگې په جلسو کې برخه اخیستلی شي، خو د رایې حق نه لرینه لري.[٤٦٣]

د ملی شورا مجلسونو ته ورته، لویه جرگه هم رئیس، درئیس مرستیال، منشي او نایب منشي د غړو له منځه ټاکي[٤٦٤]. د ملي شورا د مجلسونو په څېر د لویې جرگې نصاب، د غړو اکثریت جوړه وي او پریکړه یوازې یوه ساده اکثریت ته اړتیا لري، خو داچې که د اساسي قانون متن بل ډول صراحت ولري.[٤٦٥]

د لویې جرگې جلسې د عامو خلکو د مشاهدې لپاره علني او ښکاره وي. که یو پر څلورمه برخه غړي یې د تړلې جلسې غوښتنه وکړي، نو بیا باید ټوله جرگه پټه او محرمانه جلسه تائیدکړي.[٤٦٦]

داساسی قانون ۱۰۱ او۱۰۲ماده دلویې جرگې، ولسي او مشرانو جرگو په اړه د پلي کېدو وړ دي. لکه چې تاسو مخکې ولوستل، له سیاسي نظره دا مادې د څرګنده ونو او یا د ځانګړې طریقې له لارې د رایې ورکولو له امله، د استازو عدلي تعقیب منع کوي. دا مادې همدارنګه د جرگې د هرغړي د عدلي تعقیب یا د بندي کولو په اړه د اړینو شرایطو جزئیات بیانوي.[٤٦٧]

**د مباحثې پوښتنې**

۱ـ تاسو د مهمو مسایلو په برخه کې چې افغانستان ورسره مخ وي، د لویې جرگې د رول په اړه څه فکر کوئ؟

۲ـ آیاتاسې فکر کوئ چې لویه جرگه د خپلو دندو د ترسره کولو له مخې د خلکو د ارادې تر ټولو لوړ مظهرکڼل کېږي؟

## ب: د لویې جرگې ورستی کړنې

[٤٦٢]. ۱۱۱ ماده
[٤٦٣]. ۱۱۰ ماده
[٤٦٤]. ۱۱۲ ماده
[٤٦٥]. ۱۱۳ ماد ه
[٤٦٦]. ۱۱۴ ماده
[٤٦٧]. ۱۱۵ماده

د بن هوکړه لیک په ۲۰۰۱کال کې د افغانستان د اوسني حکومت څخه د مخه د یو انتقالي حکومت د رامنځته کولو تګلاره وټاکله. هوکړه لیک د بېړنۍ لويې جرګې د جوړېدو غوښتنه کوله چې دا لويه جرګه به (د انتقالي اداری او انتقالي چاړواکو د ټاکلو پريکړه کوي. دا چاړواکي به انتقالي اداره تر هغی پوری رهبري کوي تر څو پوری چې د آزاد او عادلانه ټاکنو له لاری ولسواکه حکومت را منځ ته شي).[٤٦٨] بېړنۍ لويې جرګې د نوي اساسي قانون د تصويب مسؤليت هم پر غاړه درلود.[٤٦٩]

بېړنۍ لويې جرګې په غيرې مستقيم توګه د کرزي تر رهبري لاندې په ۲۰۰۲کال کې انتقالي حکومت وټاکه. له دې وروسته حکومت د اساسي قانون مسوده برابره کړه. په ۲۰۰۳کال کې د اساسي قانون لويه جرګه جوړه شوه. دا جرګه له داسې غړو جوړه وه چې د ټولني له مختلفو ډلو ( د ځانګړو ډلو او ګروپونو) لکه د ښځو، له هېواد نه د باندې اوسېدونکو، داخلي بې ځايه شوو، کوچيانو، هندوانو[٤٧٠] او سکانو څخه يې استازيتوب کاوو. د اساسي قانون لويې جرګې د ۲۰۰۳کال د دسمبر په ۱۴ د اساسي قانون مسوده تر غور او څېړني لاندې ونيوله. لويې جرګې د متن په اړه له زياتو ځنډونو او نه توافق سره سره، د ۲۰۰۴کال د جنوري په دريمه نېټه نوی اساسي قانون تصويب کړ.[٤٧١]

**د مباحثې پوښتني**

۱ـ د اساسي قانون په لويه جرګه کې، د مختلفو او زياتو ډلو د استازيتوب په اړه ستاسو نظر څه دی؟ آيا دا کار اغېزمن وو؟

۲ـ آيا تاسي فکرکوئ چې د ولسي جرګې استازو، اساسي قانون پداسي ډول، چې د ټولو اړخونو په ګټه وي تصويب کړ ؟

### اووم. نتيجه

لکه څرنګه چې تاسي زده کړل د افغانستان ملي شورا د افغانستان په رهبري کې مهم رول ترسره کوي. دا ارګان په حکومت کې د خلکو استازی دی او موخه يې د خلکو له ګټو او اړتياوو څخه ملاتړ دی. د اساسي قانون ليکونکو د ملي شورا جوړښت د همدې موخې لپاره طرح کړی دی.

لکه څرنګه چې تاسو مطالعه کړل، د افغانستان د مقننه قوې او په نړۍ کې د نورو قانون جوړونکو ارګانونو ترمنځ ورته والی او توپيرونه وجود لري. د اساسي قانون ليکونکو غوښتل داسې ارګان رامنځته کړي چې په بې ساري فرهنګي او سياسي حالاتو کې په افغانستان کې کار وکړي. هغوی مقننه

468 Michael Schoiswohl, "Linking the International Legal Framework to Building the Formal Foundations of a 'State at Risk': Constitution-Making and International Law in Post-Conflict Afghanistan," 39 VAND. J. TRANSNAT'L L. 819 (May 2006).
469 *Id*.
470 *Id*.
471 *Id*.

قوه د افغانستان د ټولو ډلو د استازيتوب په موخه په دوو مجلسونو کې رامنځته کړه، خو پدې اړه چې آيا ملي شورا به خپلې دندې په ښه توګه ترسره کړي او که نه، بحثونه به تر کلونو دوام وکړي. له دې ټولو سره سره به ملي شورا د افغانستان په سياست او حکومت کې، خپل لوی او مهم رول لوبولو ته دوام ور کوي.

# شپږم څپرکی: قضائیه قوه

## لومړی. سریزه

د حقوقو محصلین د حکومت د قضايي رکن په اړه خاص او عملي ليوالتيا ښيی ځکه چې پدې کې دهيواد محکمې، قاضيان او وکيلان راټول شوي دي. د ځينو له نظره قضائيه قوه د حکومت تر ټولو ډېر مهم رکن دی ځکه چې قضايي پرېکړې د خلکو پر ژوند ريښتيني اغېزې لري ــ جرمي قضاياوې د مجا زاتو لامل کېږي او په مدني قضاياوو (دعوو) کې د خلکو حقوق ټاکل کېږي او اعمال توجيه کوي. د نورو په آند، قضائيه قوه د حکومت په درې ګونو قواوو کې کمزورې او لږ ارزښت لرونکې قوه ده. د قضايي پريکړو د تطبيق لپاره بايد په اجرائيه قوې تکيه وشي ځکه يوازې اجرائيه قوه ده چې دملي شورا تصويب شوي قوانين پلي کوي.

دا څپرکی د افغانستان د محکمو د نظام پر جوړښت، د قضائيه قوې پورې اړوند داساسي قانون پر مادو او د قضائيه قوې او د حکومت دنورو ارګانونو ترمنځ پر اړيکوتمرکز لري. لومړی برخه د اساسي قانون او نورو موضوعه قوانينو له نظره د قضائيه قوې سازمان ورکوني جزئيات څېړي، ترڅو تاسې پوه شي چې کومی قضيې په کومو محکمو کې اقامه کېږي، دا برخه د استيناف بهير او د قاضيانو د قطعيت په اړه هم معلومات وړاندی کوی. دوهمه برخه په قضايي خپلواکي متمرکزه ده او د اساسي قانون د جوړښت پر اساس قضائيه قوه د حکومت له نورو قواوو جلا کوي. درېيمه برخه له اداري او قضايي برخې سره يو ځای د سترې محکمې د دندو توضيح ته ادامه ورکوي، همدا ډول له اساسي قانون سره د قوانينو مطابقت او د اساسي قانون له تفسير نه هم بحث کوي. څلورمه برخه په لنډه توګه د رسمي او غيرې رسمي عدلي سيستمونو تر منځ توپير څېړي. په اخېر کې، پنځمه برخه د قضائيه قوې پروړاندې لوی خنډونه، لکه دمنابعو لږوالي، فساد او د محکمو بديلو جوړښتونو ته رسيدنه کوي.

## دوهم. د قضائيه قوې تشکيلات

پداسې حال کې چې اساسي قانون د قضائيه قوې دسازمان په اړه لنډه تېرېدنه (مرور) وړاندې کوي، ډېرې زياتې موضوعګانې موضوعه قوانينو ته پرېږدي. په ۱۲۳ ماده کې راغلي دي، " دمحکمو په تشکيل، صلاحيت او اجراآتو پورې اړوند قواعد او په قاضيانو پورې مربوطې چارې د قانون له لیارې تنظيمېږي". په همدې ډول، ملي شورا په ۲۰۰۵ کال د قضائيه قوې د محکمو د دندو، واک او تشکيلاتو قانون تصويب کړ. دا قانون د قضائيه قوې پورې اړوند داساسي قانون د کلي(تولنيز) حکمونو په اړه جزئيات وړاندې کوي.

ولې دقضائيه قوې ټول جوړښت په اساسي قانون کې نه دی بيان شوی؟ لومړی، پدې کار سره اساسي قانون له حده زيات اوږدېده او اساسي قانون بايد په کافي اندازې سره لنډ وي چې نه يوازې کارپوهان او حقوق دانان بلکې هر څوک وکولای شي هغه ولولي او پرې پوه شي. دوهم، پداسې حال کې چې مقررې دملي شورا دمجلس له خوا په آسانۍ سره د لغوې او بدلون وړ دي، د اساسي قانون بدلون ډېر پېچلی او ستونزمن دی. د۱۵۰ مادې پر اساس په اساسی قانون کې هر ډول بدلون بايد د لويې جرګې د دوه پر

دريو غړو (۶۶ فيصده) له خوا له تائيد وروسته د اعتبار وړ بلل کيږی. خو دملي شورا ساده اکثريت (۵۱ فيصده) يو عادی قانون ته بدلون ورکولی شي. د اساسي قانون ليکونکو په نظر کې لرل چې د قضائيه قوې په اړه احکام بايد د افغانستان د قضايي سيستم لپاره بنيادي او دايمي اصول وي. د اوسنۍ ملي شورا له خوا د يو ملي قضايي سيستم د رامنځته کولو لپاره د قضائيه قوې د محکمو د واک، دندو او تشکيلاتو قانون لومړنۍ هڅه ده، او د راتلونکو ستونزو د حل لپاره يې سمون څه نا څه اسانه ده.

| |
|---|
| **د لوست تمرکز** |
| د محکمو د واک او تشکيلاتو قانون مطالعه کړئ. په دې ټوله برخه کې د موضوعه قوانينو او اساسي قانون توپير په ياد ولرئ. |

| |
|---|
| **د مباحثې پوښتنه** |
| دې ته په پام سره چې تاسې د اساسي قانون په اړه په لومړي څپرکي کې معلومات تر لاسه کړل، له اساسي قانون سره د محکمو د واک، د ندو او تشکيلاتو د قانون د مخالفت په صورت کې څه پېښيږي؟ آيا اساسي قانون تل بريالی را وزي؟ |

| |
|---|
| **د افغانستان اساسي قانون** |
| **۱۱۶ماده** |
| (۱) قضائيه قوه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت خپلواک رکن دی. |
| (۲) قضائيه قوه له يوې سترې محکمې، د استيناف له محکمو او ابتدائيه محکمو څخه جوړه ده چې تشکيلات او واکونه يې د قانون له لیارې تنظيميږي. |
| (۳) ستره محکمه دستر قضايي ارګان په توګه دافغانستان داسلامي جمهوريت دقضائيه قوې پهسرکې ځای لري. |

۱۱۶ماده دقضائيه قوې په اړه عمومي معلومات وړاندې کوي او څو مهم مفهومونه يې استعمال کړی دي او د "دی او کيږي" کلمې يې ليکلې دي. پر دې اساس مونږ پوهيږوچې (۱) قضائيه قوه "يو خپلواک ارګان" دی، (۲) دا قوه د يوې سترې محکمې، د استيناف محکمې او د يو څو نورو وړو او ټيټو محکمو لرونکې ده، او (۳) ستره محکمه د قضائيه قوې په رأس کې ځای لري. د ټيټو محکمو او د استيناف محکمو د ډولونو او شمېر زيات جزئيات د محکمو د واک،دندو او تشکيلاتو قانون ته ور پاتې دي.

### الف. ابتدائيه محکمې

که بحث له سيمه ييزې کچې پيل کړو، د محکمو د واک دندو او تشکيلاتو قانون څلويښتمه ماده په هر ولايت کې د ټاکلو ټيټو(لاندې) محکمو د رامنځته کېدو حکم کوي. که څه هم چې يو شمېر محکمې لږ کارکوونکي لري او يا ودانۍ نه لري، د قانون سره سم بايد هر ولايت يا ښاري ساحه يوه يا له يوې زياتې

تخصصي ابتدائیه محکمې او لړترلړه په هره ولسوالۍ (ناحیه) کې یوه عمومي محکمه ولري: (۱) د ولایت په مرکز یا ښار کې ابتدائیه محکمه؛ (۲) د کوچنیانو محکمه؛ (۳) د سوداګرۍ ابتدائیه محکمه؛ (۴) د ولسوالۍ ابتدائیه محکمه؛ او (۵) د کورنۍ (شخصي احوالو) ابتدائیه محکمه. د ولایت د مرکز ابتدائیه محکمې ځانګړو مواردو ته د رسېدو په موخه په محکمه کې دننه لاندنۍ دیوانونه یا تخصصي څانګې لري: (۱) دعمومي جزا دیوان؛ (۲) مدني دیوان[٤٧٢]؛ (۳) د عامه حقوقو دیوان[٤٧٣]؛ (۴) د عامه امنیت دیوان؛ او (۵) د ترافیکي جرایمو دیوان. په اوسني وخت کې په ټول افغانستان کې ۴۰۹ ابتدائیه محکمې وجود لري. د کابل ولایت په ابتدائیه محکمه کې د نشه یي توکو پورې د اړوندو جرمونو په نامه یو اضافي دیوان کار کوي. دا دیوان د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې د قانون پر اساس او د ملي شورا او جمهور رئیس د لزوم دید پر اساس رامنځته شوی ده.

**ابتدائیه محکمې**

| د ولایت د مرکز یا ښار ابتدائیه محکمې | د ولسوالۍ ابتدائیه محکمه | ځانګړې ابتدائیه محکمه | ځانګړې ابتدائیه محکمه | ځانګړې ابتدائیه محکمه |
|---|---|---|---|---|
| • ځانګړې ابتدائیه محکمه<br>• مدنی دیوان<br>• د عامه حقوقو دیوان<br>• د عامه امنیت دیوان<br>• د ترافیکي جرمونو دیوان<br>د نشه یي توکو پورې د اړوندو جرمونو دیوان | مدني او جزایي عمومي محکمه | د کوچنیانو محکمه | سوداګرۍ محکمه | د شخصي احوالو/ کورنۍ محکمه |

نه یوازې هره جغرافیایي حوزه د څومحکمو لرونکې ده، بلکې ټیټې محکمې تخصصي برخو ته په کتو سره وېشل کېږي. که تاسې د کسب او کار کوم اختلاف لرئ، تاسې به هیڅکله هغه د نویو ځوانانو یا کوچنیانو محکمې ته وړاندې نه کړئ. په همدې ډول که وغواړئ چې طلاق واخلئ، نو تاسې دا موضوع په سوداګرۍ محکمه کې نه اقامه کوئ. ولې د محکمو سیستم په تخصصي برخو وېشل شوی دی؟ لومړی، تخصص قاضیانو ته اجازه ورکوي چې له ورته مسایلو سره په بیا بیا مخ کېدو به د حقوقو په یوه ټاکلې برخه کې په تجربه لرونکو کارپوهانو بدل شي. متخصص قاضیان په زیاتې مسلکي کارپوهنې او مهارت سره وړتیا او پوهه محکمې ته راوړي. دوهم: تخصص اجازه ورکوي چې محکمه له حالاتو سره متناسبه او له سلوک سره د لړو متفاوتو اصولو او مقرراتو لرونکې وي. د بېلګې په توګه، د کوچنیانو محکمه د قانوني عمر لاندې کسانو اړتیاوو ته په کتو سره حساس مقررات لري. قاضیان باید د نویو ځوانانو په محکمه کې ځانګړې زدکړې ولري او تجربې کار ته د تمایل پر اساس، د نویوځوانانو په محکمو کې ګمارل شوي وي.

---

٤٧٢. د عامه حقوقو محکمې د افرادو او حکومتي ادارو ترمنځ قضیې حل او فصل کوي.
٤٧٣. د عامه امنیت محکمې د نشه ای توکو، ترهګرۍ او جدی جرمونو چه ټولنه د ګواښ سره مخامخ کوي، رسیدګي کوي.

۱۲۲ ماده قضائیه قوې ته د ټولو قضیو د اورېدلو واک ورکوي، خو که ابتدائیه محکمې تخصصي شوې وي نو بیا به څه کېږي؟ لکه څرنګه چې معلومېږي ۱۲۲ ماده له هغه څخه لږ پېچلي ده ـــ ملي شورا نشي کولی چې کومه قضیه د قضائیه قوې د واک له حوزې څخه بهر کړي، خو د مختلفو محکمو مسؤلیت او تقسیم بندي ټاکلی شي. د محکمو د دندو، واک او تشکیلاتو قانون د ابتدائیه محکمو د واک حوزې تنظیموی. لومړی، داچې په هر ولایت کې ابتدئیه محکمې وجود لري، دا محکمې یوازې د خپل واک د محدودې په قلمرو یعني د اړونده ولایت دعواوې اورېدلی شي. پدې اساس، که یو جرم د هلمند په ولایت کې تر سره شي، د هلمند ولایت د ابتدائیه محکمې عمومي جزایي دیوان (یا د اړوندې ولسوالی ابتدایي محکمه) هغې ته د رسېدلو واک لري. څارنوال نشي کولی چې د نږدیوالي پر دلیل قضیه د قندهار په ابتدائیه محکمه کې اقامه کړي.

پردې سربېره، تخصصي محکمې یوازې د خپل تخصص په برخه کې اړوندو دعوو ته رسیدګي کولای شي چې دا د موضوعي واک په نامه هم یادېږي. د کوچنیانو محکمه یوازې د نویو ځوانانو موارد او د سوداګري محکمې یوازې د سوداګرئ پورې اړوند دعوې اورېدلی شي. د محکمو د دندو، واک او تشکیلاتو د قانون د ۴۶ مادې پر اساس، د عامه حقوقو او عمومي امنیت ټولو دعوو ته باید د ولایت د مرکز د ابتدائیه محکمې په اړوند دیوان کې بیا رسیدنه وشي. له بل پلوه، د ولسوالۍ ابتدائیه محکمې د عمومي واک لرونکي محکمې دي او " عادي جزایي او د مدني او د شخصي احوالوقضیو ته، چې د قانون د حکمونو په رعایت سره د هغو پر وړاندې اقامه کېږي...، رسیدنه کوي" (د محکمو د دندو، واک او تشکیلاتو قانون ۴۸ ماده). په لنډه توګه، پداسې حال کې چې هره محکمه هر قضیه (دعوې) ته د رسیدلو واک نه لري، لږترلږه یوه محکمه باید هرې قضیې ته د رسېدو واک ولري. یو ښه حقوق پوه باید وړ قضیه تشخیص کړي.[474]

**تمرینی سوالونه**

۱. څارنوال د غلا یوه قضیه د ابتدائیه محکمې د قاضي پر وړاندې اقامه کوي: ۱۲ کلن هلک یوه اندازه شیرني (خواږه) له سیمه ییز پلورنځي څخه غلا کړي دي. آیا د ولسوالۍ ابتدائیه محکمې قاضي د موضوع د څېړلو واک لري؟

۲. تاسي له خپل ګاونډي سره شخړه لرئ. هغه خځلي ستاسو پر مالونو را اچوي، ستا له ګواښ سره سره هغه له دې کاره ډډه نه کوي. ابتدائیه محکمه څه ډول دا قضیه څېړلی شي؟

474 Ramin Moschtaghi, Max Planck Manual on the Organisation and Jurisdiction of Afghan Courts (Amended 2d ed. 2009).

۳. یو جنایتکار په کابل کې یو سړی تښتوي، وروسته یې غور ته وړي او هلته یې وژني. نو کومه محکمه د قضیې د څېړلو واک لري (د کابل که د غور)؟(د محکمو د دندو، واک او تشکیلاتو قانون ۵۱ ماده دې وکتل شي)

د ابتدائیه محاکمې پر مهال، له دریو قاضیانوجوړ هیئت قضیه اوري.محکوم لوری کولی شي، په اړوند ولایت کې د تاکل شوي مهلت په ترڅ کې په پرېکړه د بیاکتنې غوښتنه وکړي که د قضیې ارزښت د مدني دوسیو/ قضیو لپاره ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ یا د جرمي دوسیو لپاره ۵۰۰۰۰ افغانۍ جریمه وی په برکې نیسي.

**ب. د استیناف محکمې**

د محکمو د دندو، واک او تشکیلاتو قانون (۳۱) ماده وايي چې په هر ولایت کې د استیناف محکمه جوړېږي. د استیناف محکمې په شپږو دیوانو وېشل کېږي، په ورته مهال ستره محکمه د جمهور رئیس په تائید، کولای شي د اړتیا وړ هر ډول دیوانونه رامنځته کړي. اوسني دیوانونه عبارت دي له: (۱) د عمومي جزا دیوان (۲) د عامه امنیت دیوان (۳) مدني او د شخصي احوالو دیوان (۴) د عامه حقوقو دیوان (۵) د سوداګرۍ دیوان او(۶) د کوچنیانو دیوان.

**د استیناف محکمو دیوانونه**

| استیناف محکمه | استیناف محکمه | استیناف محکمه | استیناف محکمه | استیناف محکمه | استیناف محکمه |
|---|---|---|---|---|---|
| د عمومي جزا دیوان | د عامه امنیت دیوان | مدني او د شخصیه احوالو دیوان | د عامه حقوقو دیوان | د سوداګرۍ دیوان | د کوچنیانو دیوان |

د استیناف محکمې پورې اړوند دیوان، چې له دریو قاضیانو جوړ هیئت دی، د بیا کتنې ټول موارد د دې محکمې د حوزوي او تخصصي واک په حوزه کې اوري او هغه قانون او حقایق، چې پر اساس یې ابتدائیه محکمې پریکړه کړې څېړي. په داسې حال کې چې ستره محکمه یوازې د قضیې تیروتنې د قانون او کړندودونو له لارې ارزیابي کوي، د استیناف محکمه د ابتدائیه محکمې پریکړه پداسې ډول د قانون اوحقایقو له پلوه څېړي، لکه چې قضیه یې له سره پیل کړې وي او کولی شي چې د ټیټو (لاندېنیو) محکمو قرارونه او پریکړې نقض، تعدیل، تائید یالغوه کړي (دمحکمو د دندو، واک او تشکیلاتو د قانون ۳۳ماده). پر دې اساس، داستیناف محکمې پرېکړې او قرارونه په ټولو قضیو کې د کوټلې واک لرونکې دي (د محکمو د دندو، واک او تشکیلاتو د قانون ۳۵ماده).

**ج. ستره محکمه**

د اساسي قانون د ۱۱۷مادې سره سم، د سترې محکمې نهه غړي د لس کلني دورې لپاره (له لومړني دوره يي انتصاب وروسته) د جمهور رئيس له خوا د ولسي جرگې په تائيد ټاکل کېږي. د محکمو د دندو، واک او تشکيلاتو د قانون اتلسمه (۱۸) ماده ستره محکمه په څلورو ديوانونو وېشي: (۱) د عمومي جزا ديوان؛ (۲) د عامه امنيت ديوان؛ (۳) مدني او د عامه حقوقو ديوان، او (۴) د سوداگرۍ ديوان. د دې هر يوه ديوان په سر کې د سترې محکمې يو غړی وي او قضيو ته رسېدنه پکې لږترلږه د دوو غړو په موجوديت ترسره کېږي (د محکمو د دندو، واک او تشکيلاتو قانون ۶ ماده). دا ديوانونه واک لري چې د لاندېنيو محکمو پرېکړې، چې له سترې محکمې څخه يې د بياکتنې غوښتونه شوې ده، وڅېړي. ستره محکمه نوې محاکمه نه ترسره کوي، بلکې قضيې (يوازې د قانون د تطبيق د صحت له پلوه له رسېدنې لاندې نيسي). په بل عبارت، ستره محکمه د لاندې محکمو پرېکړې د تېروتنو د تشخيص لپاره څېړي، نه داچې د حقيقتونو په اړه له سره قضاوت وکړي يا د شاهدانو شهادت بيا واوري.

**د سترې محکمې ديوانونه**

| ستره محکمه | ستره محکمه | ستره محکمه | ستره محکمه |
|---|---|---|---|
| د عمومي جزا ديوان | د عامه امنيت ديوان | مدني او د عامه حقوقو ديوان | د سوداگري ديوان |

په پای کې دا چې ستره محکمه دا تامينوی تر څو د هرې قضيې وروستی پرېکړه د قانون او په اساسي قانون کې د راغلي عدالت سره سمه وي. قضايي حکم د استيناف دورې له پای ته رسېدو او يا د سترې محکمې د حکم له صادرېدو وروسته نهايي کېږي. له دې وروسته اجرائيه قوه د اساسي قانون له ۷۵ او۱۲۹ مادو سره سم د قضايي قرارونو د پلي کېدو مسؤليت لري. په دغه مسوليت کې يوه استثناء شته - جمهور رئيس د سزاگانو د <u>بښنې</u> او د اعدام د مجازاتو د تائيد او څېړلو واک لري. جمهور رئيس کرزی د سزاگانو د بښنې له واک څخه په آزاده توگه گټه اخلي (د دې څېرکې په وروستيو کې درېيمې بېلگې ته پام وکړئ). پداسې حال کې چې په تيوري کې ښښنه لږ لېدل کېږي او قضايي قرارونه ورستي / نهايی دي.




لکه څرنګه يې چې ګورئ، پر قضايي سيستم کتنه ډېره پيچلې ده، لاندې ستونزې و ازمويې او وګورى چې آيا د قضائيه قوې جوړښت د تاسي لپاره د پوهيدو وړ دی او که نه. د معلوماتو لپاره د محکمو د دندو، واک او تشکيلاتو قانون او اساسي قانون ته مراجعه وکړئ.

**د مباحثې پوښتنه**

که جمهور رئيس يا اړوند اجرائيه مقام د قضا د وروستي حکم له پلي کولو ډډه وکړي، څه به کيږي؟ آيا دا کار د قضايي پريکړو پر بهير اغيز لري؟

**د تمرين پوښتنې**

۱. د بدخشان په ولايت کې خارنوال د ۶۵ کيلو ګرامه په اندازه د هيروينو دوسيه ترلاسه کوي. قضيه د څېړلو لپاره، کومې ابتدائيه محکمې ته دا خارنوال مراجعه کولای شی؟

۲. حکومت په کابل کې د اوبو، برېښنا، ټيليفون او ا نټرنيټ جريان د اوسيدلو په يوې ودانۍ بندوی. د اوسېدو د ځای خاوند غواړي چې د آسانتيا وو د بيا برابرولو او د کرايه اوسيدونکو د څو کډو د کوچېدلو د زيان د ترلاسه کولو لپاره دعوه وکړي. دا موضوع بايد کومه ابتدائيه محکمه وڅېړي؟ که هغه قضيه وبايلي، د بيا کتنې لپاره کومې محکمې ته مراجعه کولی شي؟ له څه ډول شرطونو لاندې د استيناف يا بياکتنې غوښتنه له سترې محکمې کولی شي؟

۳ـ ملي شورا تصميم نيسي چې د طبعي زېرمو او کانونو په حقوقو پورې د تړلو مسايلو پيچلتيا او اهميت په څو تېرو کلونو کې زيات شوی دی او دا کار د يو قانون د تصويب غوښتنه کوي چې د هغه پر اساس دې په کابل کې يوه نوې ځانګړې محکمه د دې ډول دعوا د څېړلو لپاره رامنځته شي. آيا ملي شورا دا ډول قانون تصويبولی شي؟

**د مباحثې پوښتنې**

۱. آيا تاسي د کوچنيانو لپاره د يوې جلا محکمې له موجوديت سره موافق ياستئ؟ په هغه صورت کې چې جرمونه په کافي اندازه درانه وي، آيا دا لازمه ده چې هغوی هم د لويانو په څېر محاکمه شي؟

۲. آيا اړينه ده چې د استيناف ځانګړې محکمه د کورنيو د حقوقو لپاره وجود ولري؟ آيا مدني حقوق او د کورنۍ حقوق دومره له يوبل سره ورته دي چې د استيناف د محکمې عين قاضيان کولی شي دواړو ته رسېدنه وکړي؟ ستاسی له نظره، څومره خلک د طلاق اړوندو قضيو په اړه د استيناف غوښتنه کوي؟

۳. آيا دا يو کارنده او اغيزمن سيستم دی؟ آيا استيناف محکمې، د قضيو حقيقتونه د دوهم ځل لپاره اورېدلی شي؟ يا هغوی د ابتدائيه محکمې پرېکړې وروستۍ ګڼي او يوازې د پرېکړې څرنګوالی له قانون سره ارزوی؟

### درېيم.د قضائيه قوې خپلواکي

قضايي خپلواکي تر زياته د يو دموکراتيک حکومت د ځانګړنې په عنوان او د بشر حقوقو د ملاتړ د اصلي کړندودونو په توګه په نظر کې نيول کېدای شي. د قضايي خپلواکي يو اصلي جز بی پلوي يا د قاضيانو خپلواکي ده. دا پدې معنی ده چې د عدالت اداره بايد پرته له تعصبه او هم پرته له مخکې ټاکل شوې نتيجه څخه وی. نه پلوی د قاضيانو ځواکمنتيا چې وشی کړای له بهرنۍ مداخلې پرته فردي تصميم ونيسی، چې دی ته د تصميم نيولو خپلواکي هم وايي، او هم د قضايی قوی ځواکمنتيا، چې د مقننه او اجرائيه قواوو د قدرت څارنه وکی، په عمومی توګه په بر کې نيسي. دا برخه د سرچينو د لړوالي او د

فساد د محدوده ونکو عواملو په نظر کې نیولو سره، د اساسي قانون پر هغه جوړښتونو تمرکز کوي چې د عدلت په اداره کې د نه پلوي تضمین رامنځته کول دي.

**د قضايي خپلواکي تعريف**

قضايي خپلواکي په دې معنا دی چې قاضیان په انفرادي توګه او قضائیه قوه د کل په حیث له بهرني نفوذه پرته ازادانه فعالیت وکړي. دا موضوع دوه اړخونه لري: (۱) په تصمیم نیولو کې خپلواکي: په تصمیم نیولو کې د قاضي ځواکمنتیا له سیاسي پولي او له داسې نورو... پرته یوازې د حقیقتونو او قانون پراساس وي او (۲) رکني یا جوړښتي خپلواکي: د حکومت له اجرائیه قوې او مقننه قوې څخه د قضایه قوې بیلوالی.[۴۷۵]

د اساسي قانون لیکونکو قضايي خپلواکي په څرګنده توګه په ذهن کې لرله، د قضا د څپرکی اړوند د اساسي قانون ۱۱۶ ماده اعلان کوي: " قضائیه قوه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت خپلواکه رکن دی." پداسي حال کې، چې اساسي قانون د "ده" کلمه کاروی، دا د امري دستور په معنا ده چې د قضائیه قوې څرنګوالی معرفي کوي. پدې برخه کې د قضايي خپلواکۍ موخې ته د رسېدلو او ساتنې لپاره د اساسي قانون حکمونو او هڅو ته پام (توجه) متمرکزه ده. د بحث راتلونکې برخې عبارت دي له: (۱) د تصمیم نیونی خپلواکي (۲) د قضايي اهلیت او بشپړ واک حوزه (۳) قضايي انتصابات (۴) مواخذه (۵) خپلواکه بودجه او (۶) قضايي مسؤلیت او وړتیا. د مطالعې په جریان کې په یاد ولرئ چې د اساسي قانون دا تضمینونه تر اوسه پورې تر کومې اندازې اغېزمن دي، په کومو برخو کې نیمګړتیاوې لري او د باثباته راتلونکي لپاره د هغه زیاته وړتیا په څه کې ده.

### الف. د تصمیم نیولو خپلواکي

قضايي خپلواکي د تصمیم نیولو خپلواکي په بر کې نیسي پدې معنا چې قاضي د قضیې په اړه بې طرفي کوي او په اړونده دوسیه کې یوازې د حقیقتونو او اجراء وړ قانون پر اساس پرېکړه کوی، نه د فساد یا د لوړو محکمو د فشار له امله[۴۷٦]. پر اساسي قانون ولاړ حکومت کې یې اهیمت باید مبالغه امیزه و نه بلل شي. د تصمیم نیولو خپلواکي، په قضايي خپلواکي پورې د اړوندو ټولو حکمونو په موخو او اجزاو ور ګډېږي. لاندې دوه مادې په ځانګړې توګه د محکمې د کړنو پر څرنګوالي پورې اړوند کېږي چې د تصمیم نیولو پر مهال پر مداخلې کولو باندې د عادي خلکو څارنه تامینوی.

**د افغانستان اساسي قانون**

**۱۲۸ماده**

[۴۷۵]. د اساسي قانون پروژه، د قضایی استقلال لاربنود (۲۰۱۰)
[۴۷٦]. هماغه ځای

(۱) د افغانستان په محکمو کې محاکمه په علني ډول دايريږي او هر څوک حق لري د قانون له حکمونو سره سم په هغې کې ګډون وکړي.
(۲) محکمه کولی شي، په داسي حالاتو کې چې په قانون کې څرګند شوي يا د محاکمې سري توب ضروري وګڼل شي، سري غونډې دايرې کړي خو د حکم اعلان بايد علني وي.

**۱۲۹ماده**

(۱) محکمه مکلفه ده د خپل صادرکړي حکم اسباب په فيصله کې ذکر کړي.
(۲) د محکمو د ټولو قطعي فيصلوعملي کول واجب دي خو د شخص د مرګ د حکم په حالت کې د جمهور رئيس منظوری شرط ده.

۱۲۸ماده حکم کوي چې د محکمې بهير بايد د عامو خلکو پر مخ خلاص وي. که څه هم چې د ځينو محکمو پټ ترسره کېدل شوني دي،او په عمل کې داسې بېلګې ډېرې دي، علني محکمې دا تضمين رامنځته کوي چې عام وګړي له ورځپاڼه ليکونکو سره يوځای د قضايي بهير وڅاري. داسې ويل کيږي چې ډېره لږه شونتيا شته چې قاضيان د عامه څارنې پر مهال فساد وکړي. ۱۲۹ ماده حکم کوي چې محکمه مکلفه ده" هغه حکمي اسباب چې صادروی يې، په پرېکړه کې ذکر کړي". دا ډېره مهمه ده ځکه محکمه دې ته اړ باسي، چې د دعوې د اړخونو څخه د يو لوري په ګټه په پرېکړه کولو کې فکر وکړي او د دعوې مقابل لوري ته د استيناف غوښتنې ښه نظريه ورکوي. په هره اندازه چې په حکم کې استدلال ښه وړاندې شي، هم يې مشروعيت زياتيږي او هم د خلکو باور پر قضايي سيستم ډېرېږي. په پای کې، ۱۲۹ ماده تضمينوی چې جمهور رئيس يا اجرائيه چارواکي نشي کولي چې د محکمې په ورستي حکم بيا کتنه وکړي. د مرګ له سزا پرته، چې پکې د جمهور رئيس تصويب پر قضائيه قوې د څارنې په موخه عملی کيږی، دا حکم محکمې ته د ښه قضاوت او له پوهې څخه د ګټې اخيستلو په موخه د تصميم نيولو خپلواکي ورکوي.

### ب. قضايي اهليت او د بشپړ واک حوزه

د تصميم نيولو له خپلواکي سره يو ځای، شايد له هغې لا مهمه دا وي چې د ټولو قضيو اورېدنې (استماع) په محکمه کې کيږي. قضايي اهليت يا د واک حوزه دې ته ګوته نيسي چې په پام کې نيول شوې محکمه د قضيې اورېدلو واک لري يا نه. لاندې ۱۲۰ او ۱۲۲ مادې د قضائيه قوې د واک پراخوالی بيانوی:

**د افغانستان اساسي قانون**

**۱۲۰ماده**

د قضائيه قوې په صلاحيت کې په ټولو هغو دعوو غور شامل دی، چې د دولت په شمول د حقيقي يا حکمي اشخاصو له خوا د مدعي يا مدعي عليه په حيث د قانون له حکمونو سره سم د محکمې په وړاندې اقامه شي.

**۱۲۲ماده**
هیڅ قانون نشي کولای په هیڅ حال کې کومه قضیه یا ساحه په څه ډول چې په دې څپرکی کې تحدید شوې د قضائیه قوې له صلاحیت څخه وباسي او بل مقام ته یې وسپاري. دا حکم د هغو خاصو محکمو چې د دې اساسي قانون په (نهه شپېتمې، اته اویایمې او یو سلواوه ویشتمې) مادو کې راغلي او په مربوطو قضیو کې د نظامي محکمو د تشکیل مانع نه ګرځي. د دې ډول محکمو تشکیل او صلاحیت د قانون له لیارې تنظمیږي.

لومړی او تر ټولو مهمه داچې ۱۲۰ ماده مشخصوی چې محکمه کولی شي د حکمي یا حقیقي اشخاصو له خوا، چې افراد، سازمانونه او شرکتونه په کې راځي، لیږل شوې ټولې قضیې واوري. دا آن د دولت په شمول " د مدعي یا د مدعي علیه په توګه " کېږي چې د خصوصي افرادو له خوا پر دولت د دعوې د اقامه کولو په معنا ده. بل مهم ټکی د حقوقو یا نارضیاتونو د جبران لپاره محکمې ته د حکومت د کشولو ځواکمنتیا ده، چې د دموکراسي اساسي برخه جوړوي. آیا دا پدې معنا ده، چې محکمه کولی شي هره دعوه واوري؟

بیلکل نه. د افغانستان محکمې د قضیو اورېدلو پراخه واک نه لري، خو دا په دې معنا نه ده چې هغه کولی شي او یا باید هر اقامه شوی اختلاف حل او فصل کړي. د بېلګې په توګه، بې معنا به وي چې که د کبډي ټیم له قاضي نه د دې پرېکړې غوښتنه وکړي چې لوبه چا ګټلې ده. ولې؟ پر دې دلیل چې په افغانستان کې هیڅ داسې یو یکړلار یا دیني قانون نشته چې دا ډول اختلافات حل او فصل کړي. په همدې توګه یو تبعه نشي کولی چې محکمې ته ولاړ شي او له قاضي نه وغواړي چې داسې قانون چې مقننه قوې د هغه تصویب رد کړی وي برابر یا وړاندې کړه. په بدل کې یې تبعه کولی شي له ملي شورا نه په قانون کې د بدلون غوښتنه وکړي. په ۱۲۰ ماده کې "دقانون د حکمونو سره سم "عبارت راغلی چې مونږ ته وایي، چې د څه ډول قضیو اقامه کېدل کولی شي ــ چې لوري باید د قانون سره سم عمل وکړي، نه داچې یوازې د یوې دعوا د اقامې حق لرلی شي. په لنډه توګه، د افغانستان د قوانینو سره سم قضائیه قوه د دعوې د اورېدلو بشپړ واک لري. ۱۲۲ ماده د حکومت د نورو رکنونو د مداخلې پر وړاندې د محکمو د قضایي واک پر زیات ملاتړ تأکید لري. ملي شورا نشي کولی چې داسې قانون تصویب کړي چې قضیې له قضائیه قوې پرته بل ارګان وڅېړي. البته دا ماده له کلي قواعو څو استثنایي موارد هم را لیست کوي.

ولې دا مهمه ده؟ د ۱۹۶۴ کال اساسي قانون نه مخکې، قضائیه قوې د قضیو د اورېدلو بشپړ واک نه درلود او زیاتې قضیې به د والي یا نورو رسمي چارواکو له لوري، پرته له دې چې قاضي ته ولېږل شي، په ساده توګه څېړل کېدې او په اړه به یې تصمیم نیول کېده[۴۷۷]. قضائیه قوه هم د فساد له ستونزو

[477] Ramin Moschtaghi, Max Planck Manual on the Organisation and Jurisdiction of Afghan Courts (Amended 2d ed. 2009).

سره مخ ده، خو د قاضیانو خلاف، حکومتي چارواکو د قضائیه قوې د تصمیم نیولو لپاره د اساسي قانون له ملاتړ نه د باندې ځای درلود. د ۱۲۲ مادې سره سم هره قضیه باید د ورته قضایي خپلواکي ملاتړ ولري.

تاسي ممکن حیران شي چې ولې ملي شورا تل له محکمو څخه د باندې قضیو د څېړلو پلوي کوي. اوس مهال په متحده ایالاتو کې لاندې متن ښايي د دې مطلب په پوهېدلو کې مرسته وکړي:

**د تروریزم پر وړاندې جګړه او د قضایي واک پای ته رسېدل**

متحده ایالات په یوه بحث پاروونکې عملیه کې (چې زیات یې غیرې قانون عمل بولی) د غیرې قانوني دښمن جنګیالو د نیولو په اړه چې د کیوبا په ګوانتانامو په یوه غیرې نظامي اډه کې ساتل کېږي ښکیل دي. د لانجې کلیدي موضوع د دې پر سر ده چې آیا د متحده ایالاتو محکمې کولی شي چې د نیول شوو کسانو دوسیې وڅېړي. د افغانستان د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون ۱۲۲ مادې خلاف، د متحده ایالاتو د اساسي قانون د دریم مادې (۲) دوهمه برخه کانګرس ته د قضائیه قوې دواکو نوپه اړه د "مقرراتو او استثناآتو" اجازه ورکوي.د تاریخ په اوږدوکې، کانګرس دقضایي قسمي واک په اخیستلو سره ګواښونکی دی خو په عمل کې دا کار ډېر کم ترسره شوی دی. پداسې حال کې چې کانګرس له خپل دې واک نه په ۲۰۰۵ کال د نیولو شوو کسانو سره د رفتار د قانون په تصویبولو کې ګټه واخیسته او محکمې یې د ګوانتانامو د نیول شوو په اړه له قضایي واک څخه بې برخې کړې. ولې؟ کانګرس پدې وېره کې وو چې کېدای شي عالي محکمه د متحده ایالاتو پوځ د ګوانتانامو د زندان په تړلو اړ کړي او زندانیانو ته به د متحده ایالاتو په محکمو کې د بشپړې محاکمې اجازه ورکړي. عالي محکمې کولی شول په دې اړه د جمهور رئیس او کانګرس د غوښتنو خلاف تصمیم ونیسي، خو د محکمو د قضایي واک په سلبو لو سره، کانګرس هڅه وکړه چې د هغو سکوت تضمین کړي.

پداسې حال کې چې د امریکا عالي محکمې، په ۲۰۰۸ کال د بوش پروړاندې په بومیدی کې پرېکړه وکړه چې کانګرس نشي کولی په دې ځانګړې برخه کې، له قضائیه قوې نه د دې محکمو قضایي واک واخلي. دلیل یې داوو چې هغه حکم نور د متحده ایالاتو اساسي قانون نقض کوي (د محکمې د توقیف حکم،لومړی ماد، ۹برخه)

**د مباحثې پوښتنې**

۱. آیا تاسې کولی شي د یو داسې مورد په اړه فکر وکړئ، چې په هغه کې ملي شورا د افغانستان له محکمو نه په افغانستان کې د قضایي واک د اخیستلو په اړه تمایل ولري؟ ستاسې نظر د ملي شورا غړو د فساد د محاکمې او یا نورو اشخاصو په اړه څه دی؟

۲. خپل نظر د۱۲۲ مادې د حکمونو سره سم، د رسمي عدالت سيستم او غيرې رسمي عدالت سيستم په اړه و وايئ. آيا دا حکم چې "هيڅ قانون نشي کولی.... د قضائيه قوې له واک څخه کومه قضيه يا ساحه خارج او بل مقام ته يې ولېږي" په محلي شوراګانو او جرګو پورې هم اړه لري؟ که چېرې ملي شورا داسې يو قانون تصويب کړي چې شوراګانو او جرګو ته يې د شخصي احوالو پر شکايتونو د بشپړ کنترول واک ورکړي، نو پدې صورت کې هغه له ۱۲۲ مادې سره په ټکر کې راځي. شايد دواړه رکنونه په ورته مهال کې قضايي واک ولري. آيا د ملي شورا دا انتخاب به چې خلکو ته يې د شخصي حقوقو د اختلافاتو د حل او فصل لپاره په دواړو رسمي او غيرې رسمي سيستمونو کې ورکړی دی، د اساسي قانون خلاف نه وي؟

### ج. قضايي انتصابات

څرنګه چې تاسې په پنځم (۵) څپرکی کې د مقننه قوې په بحث کې ولوستل، انتخابات خلکو ته استازي ځواب ورکونکي ساتي، خو د دې خلاف، زيات قاضيان د حکومتي چارواکو له لوري انتصابيږي. ولې مونږ نه غواړو چې قاضيان هم خپلې چوکۍ د ټاکنو له لارې ترلاسه کړي؟ کېدای شي انتخاب شوي قاضيان د اړوندې حوزې د رايه ورکوونکو مديون وي او د خپلو رايه ورکوونکو په ګټه کار وکړي. که د يوې اختلافي قضيې يو اړخ د قاضي په ټاکنيزه حوزه او بل له هغې بيرون ژوند کوي، دا واقعيت چې له هغوی څخه يوازې يو نفر رايه ورکولی شي، نبايد نتيجه وټاکي. دا به منصفانه نه وي چې قاضيان د نويو ټاکنو لپاره د رايي پر اساس خپل تصميم ونيسي. په همدې ډول، انتخابات د پيسو لګښت ته اړتيا لري او هغه قاضيان چې د نويو ټاکنو په لټه کې دي بايد د خپل ګوند له ګټې پلوي وکړي ځکه چې له قاضی سره په ټاکنيز کمپاين کې مرسته کوي. د قاضيانو د انتصاب او نه انتخاب بل دليل دا دی چې کېدای شي انتخاب شوي قاضيان د عمومي افکار سره سم د تصميم نيولو تمايل ولري[۴۷۸].

د بېلګې په توګه، فرض کړئ چې يوه محکمه د يوې اختلافي قضيې په اړه چې د غزني په ولايت کې د ليتيوم يو شرکت چې د کليوالي ولسوالۍ پنځوس سلنه کارکوونکي يې له ځان سره په کار ګمارلي دي، او د ځمکې خاوند ترمنځ چې ليرې ژوند کوي، خو له ځمکې څخه د را ايستونکو ليتيومو معدني حقوقو لرونکی دی، په تصميم نيوله اړ کېږي. قانون وايي که چېرې د ځمکې څښتن د معدني حقوقو لرونکی وي، شرکت بايد د ايستل شوو ليتيومو قيمت ورکړي، خو که شرکت له خپلو کار کونکو څخه څو تنه په محکمه کې د دعوې د طرح کولو د فيس په بدل کې په اخراجولو وګواښي، هغوی کېدای شي، بې له دې چې قانون او حقيقت په نظر کې ونيسي، د شرکت د ملاتړ لپاره پر قاضي فشار را وړي. که قاضي د ځمکې لرونکي په ګټه پرېکړه وکړي، د سيمې اوسېدونکي به له قاضي نه زيات ناراضه شي. د انتخاباتو خلاف، انتصابي جوړښت د فساد ستونزې، رشوت او عامه نفوذ حل کولی نشي، خو قاضيان له مستقيم

[۴۷۸]. دامريکې په متحده ايالاتو کې ډېری ايالتونه قاضيان انتخابوي، که څه هم فدرالي (ملی) قاضيان انتصابيږي. د منتخبو قاضيانو انتقادکوونکوی استدلال کوي چه دا د غير عادی کار باعث کېږي. د مثال په توګه، په ويسکونسين کې، د عالی شورا قاضي پدې تورن شوی چه د هغې شرکت په قضيه کې حاضر نشو چه د انتخاباتي کمپاين په مهال يی دده سره مرسته کوله.
Editorial, *A Study in Judicial Dysfunction*, New York Times (August 19, 2011).
http://www.nytimes.com/2011/08/20/opinion/a-study-in-judicial-dysfuntion.html

نفوذ نه ليرې ساتي او د قضا مامور ته واک ورکوي چې په لومړۍ درجه کې د قانون اطاعت ته وفاداري و اوسي.

**د افغانستان اساسي قانون**

**۱۱۷ماده**

(۱)ستره محکمه نهه تنه غړي لري چې د جمهور رئيس له خوا د ولسي جرگې په تائيد او ددې اساسي قانون د (پنځوسمې) مادې د ورستۍ فقرې او د (يوسلو اتلسمې) مادې د حکمونو په رعايت، په پيل کې په دې ترتيب ټاکل کيږي:

(۲) درې تنه د څلورکلون ولپاره، درې تنه د اوو کلونو لپاره او درې تنه د لسو کلونو لپاره. ورستيانتخابات د لسو کلونو لپاره دي. د غړيو انتخابول د دوهم ځل لپاره جواز نه لري.

(۳) جمهور رئيس د سترې محکمې يو غړی د سترې محکمې د رئيس په توگه ټاکي.

(٤) د سترې محکمې غړي د دې اساسي قانون په (يوسلواوه ويشتمې) مادې کې له راغلي حالت پرته، د خدمت د دورې تر پايه له خپلو وظيفو څخه نه عزليږي.

**۱۳۲ماده**

(۱) قاضيان د سترې محکمې په پشنهاد او د جمهور رئيس په منظورۍ ټاکل کيږي.

د قاضيانو مقرري، تبديلي، ترفيع مواخذه او د تقاعد پيشنهاد د قانون له حکمونو سره سم د سترې محکمې صلاحيت دی...

د جوړښت له پلوه، ۱۱۷ ماده وړاندوينه کوي چې د سترې محکمې غړي(قاضيان) د لسو کالو لپاره ټاکل کيږي"دغړو ټاکل د دوهم ځل لپاره جواز نه لري..."ولې نه؟ که قاضي په عمل کې ډېر ښه وي، نو خلک د لسو نورو کالونو لپاره د ده له خدمت نه برخمن کېدای شي؟

په سترې محکمې کې د خدمت د دورې په اړه د اساسي قانون له لس کلن محدوديت څخه موخه له هيڅا سره د قاضيانو نه تړل کېدل دي، ځکه هېڅوک د هغوی د دورې د اوږدېدو او يا د دوی د عزل کېدو واک نه لري. ۱۱۷ ماده وايي چې د سترې محکمې غړي د دې اساسي قانون د ۱۲۷ مادې له حالتو څخه په استثناء، د خدمت د دورې تر پايه پورې له خپلې دندې لرې کېدای نه شي. د مؤخذه له حالت نه پرته، چې په راتلونکې برخه کې به د بحث لاندې ونيول شي، جمهور رئيس نه شي کولی قاضي گوښه يا د دوهم ځل لپاره مقرر کړي. له دې ملاتړ سره سره، جمهور رئيس د سترې محکمې قاضيانو ته اجازه ورکوئ، چې د خدمت دوره په ښه توگه ترسره کړي. دا د تيوري او عمل ترمنځ د توپير يو بل مثال دی.

**د مباحثې پوښتنې**

په ټولو سیستمونو کې له قضايي خپلواکي څخه یو ډول ملاتړ نه کیږي:

۱. د متحده ایالاتو عالي محکمې قاضیان د ټول عمر لپاره ټاکل کیږي. د دې سیستم نیمګړتیاوې او ګټې د لس کلنې دورې په پرتله څه دي؟

۲. په متحده ایالاتو کې د ۳۹ ایالتونو کی خلک ایالتي محکمو ته قاضیان په خپله ټاکي.[٤٧٩] د دې سیستم ګټې او نیمګړتیا څه دي؟

**د. مؤاخذه**

په هر سیستم کې چې قاضیان انتصابیږي، نو د هغو قاضیانو د عزل لپاره چې په دنده کې بریالی نه وي باید یو متناسب روش هم وجود ولري. پر مؤخذه باندې شدید محدودیت هم تر ډېره د قضايي خپلواکی د اضافي ملاتړ په توګه بلل کیږي. د افغانستان اساسی قانون یو ځانګړی روش د سترې محکمې د غړو او د قاضیانو لپاره چې په قضایي رول پورې په اړوندو جرمونو مرتکب شي پیش بیني کوي:

**د افغانستان اساسي قانون**

**۱۲۶ ماده**

د سترې محکمې غړي، د خدمت د دورې ترپایته رسېدو وروسته، د پاتې ژوند په موده کې د خدمت د دورې له مالي حقوقو څخه برخمن کیږي، په دې شرط چې په دولتي او سیاسي چارو بوخت نشي.

**۱۲۷ ماده**

(۱) که چیرې د ولسي جرګې تر درېیمې برخې زیات غړي، د سترې محکمې د رئیس یا یو غړی محاکمه، د وظیفوي جرم یا د جنایت د ارتکاب د اتهام پر اساس وغواړي او ولسي جرګه دا غوښتنه د ټولو غړیو له دریو برخو څخه د ددو برخو په اکثریت تصویب کړي، متهم له وظیفې څخه عزل او موضوع خاصې محکمې ته سپارل کیږي.

(۲) دمحکمې تشکیل او د محاکمې کړندود د قانون په وسیله تنظیمیږي.

**۱۳۳ ماده**

(۱) که قاضي د جنایت په ارتکاب متهم شي، ستره محکمه د قانون له حکمونو سره سم د قاضي پر حالت غور کوي.

[479] Katherine A. Helm, *Appointed vs. Elected Justices: States' High Courts Take a Hit*, The National Law Journal, Nov. 8, 2010.

(۲) که ستره محکمه دده د دفاع تر اوریدو وروسته اتهام وارد وبولي، جمهور رئیس ته یې د عزل پشنهاد کوي.

(۳) د جمهور رئیس له منظوري وروسته متهم قاضي له وظیفې څخه عزل او د قانون له حکمونو سره سم جزا ورکول کېږي.

پدې ترتیب، لړترلږه باید د ولسي جرگې یو پر درېیمه برخه غړي سره یو شي تر سو د سترې محکمې د غړو د مؤخذې غوښتنه وکړي، البته هغه غړی چې د خپل قضایي رول پورې د اړوند جرم یا جنایت په ارتکاب متهم وی. د ولسي جرگې د دوه پر درېیمه غړو د تائید نه وروسته، د سترې محکمې غړی له دندې گوښه او ځانگړې محکمې ته یې دوسیه لیږل کیږي.

د مؤخذې دا سختې لارې چارې جمهور رئیس ته په آسانی سره د سترې محکمې د یو غړي گوښه کول ډېر ستونزمن کوي ځکه چې هغه د ده احکام نه تائیدوی. پدې اړه باید واقعي جرمي تور موجود وي او باید د ولسي جرگې دوه پر درېیمه اکثریت یې په اړه هوکړې ته سره ورسېږي. د مؤخذې اړوند مادې دا تضمینوي چې په ځانگړي طریقې سره د سترې محکمې او نور قاضیان گواښ یا ترغیب کېدای نه شي. له قضایي خپلواکي څخه دا ډول ساتنه د تصمیم نیولو ملاتړ کوي. په ورته مهال، باید د قاضیانو د عزل په اړه، چې عملاً په جرم مرتکب کېږي څرگند کړندودونه موجود وي. دا کړندودونه له دندې نه د فاسدو قاضیانو په عزل کولو کې په کار راتلی شي.

بالاخره، ۱۲۶ ماده وایي، " د سترې محکمې غړي د خدمت د دورې له ختم وروسته، د پاتې ژوند په وخت کې د خدمت د دورې له مالي حقوقو څخه گټمن کېږي، په دې شرط چې په دولتي یا سیاسي مصروفیتونو بوخت نشي." که د سترې محکمې غړی مؤخذه او له دندې لرې شي، د ټول عمر لپاره د تقاعد له حقوقو څخه گټمن کېدای نشي، خو پر ته له دې حالته، نوموړی غړی تر هغو چې بله دنده یې نه وي پیل کړې، د تقاعد له حقوقو څخه برخمن دی. دا ماده خپلواکي هم تامینوی ځکه نه جمهور رئیس او نه هم د ملي شورا مجلس کولی شي چې د تصمیم نیولو د خپلواکي لپاره د سترې محکمې غړي د لس کلنې دورې د خدمت پر مهال تر نفوذ لاندې راولي یا یې له تقاعد نه مخنیوی او یا تهدید کړي.

**د مباحثې پوښتنې**

(۱) د سترې محکمې قاضي دد خدمتد لس کلنې دورې د نهم کال په بشپړلو کې ده او جمهور رئیس له هغه غوښتنه کوي، چې په عدلیې وزارت کې دنده ترسره کړه. آیا هغه دا دنده ترسره کولی شي؟ هغه اوس هم د تقاعد د حق مستحق کېدای شي؟

(۲) اوس فکر وکړئ چې د عدلیې وزارت د کار پر ځای، جمهور رئیس وایي چې د قاضي لپاره یې د کانونو را اېستلو په یوه بریالي شرکت کې د قانون د تطبیق د ارشد مامور دنده کتلی ده، آیا د دې دواړو پایله یوه ده؟

### ه. خپلواکه بودجه

پر بودجې کنټرول د قضايي خپلواکي یو اساسي عنصر دی. محکمې باید ډاډ تر لاسه کړي چې په موثره توګه د خپلو دندو د ترسره کولو لپاره د کافي منابعو لرونکي دي. همدارنګه د بودجې کنټرول دا تضمینوی چې اجرائيه یا مقننه قوه نشي کولی د مالي مؤجباتو یا محدودیتونو له لارې له محکمو څخه د ځانګړو هیلو لپاره ګټه واخلي. په همدې ترتیب کافي منابع او حقوق کولی شي چې د ښو شرایطو لرونکي خلک په قضا کې د کار کولو لپاره تشویق او د مالي فساد د کموالي لامل وګرځی. خو په لاتیني امریکا کې د محکمو تجربې ښودلې ده چې یوازې د بودجې زیاتوالی د ښه قضایي عملکرد لامل کېدای نشي[480]. د واقعي قضایي خپلواکي د ملاتړ په موخه کافي منابع باید د سیاسي محیط او محکمې د اغېزمن جوړښت سره مل وي.

ستره محکمه د ۱۲۵ مادې پر اساس له ملي شورا سره په ګډه د بودجې د برابرولو واک لري او وروسته د بودجې د لګښت د څرنګوالي کنټرول هم پر غاړه لري. پر دې اساس، له تخنیکي پلوه قضائیه قوه د مالي خپلواکي لرونکې ده. جمهور رئیس یا ملي شورا نشي کولی چې د دوی پر پرېکړو د خپل نفوذ د پلي کولو لپاره د بودجې بندولو ګواښ وکړي، خو په عمل کې جمهور رئیس د محکمې پر بودجه فوق العاده کنټرول لري.

### و. قضایي مسؤلیت

د اساسي قانون یوازېنۍ موخه په جدي توګه له نفوذ څخه د قضائیه قوې ساتل نه دي، بلکې د قضائیه قوې پر هر غړي، له واک څخه د ګټې اخیستلو په برخه کې، د افغانستان د اساسي قانون نورو قوانینو او اسلامي اصولو سره سم ډېر زیات مسؤلیتونه اچوي.

د سترې محکمې هر غړی او قاضي باید د ۱۱۹ مادې سره سم قضایي لوړه ترسره او پیروي یې وکړي.

<table>
<tr><td>

**د افغانستان اساسي قانون**

**۱۱۹ماده**

د سترې محکمې غړي د وظیفې تر پیل مخکې، د جمهوررئیس په وړاندې لوړه کوي:

بسم الله الرحمن الرحیم

"د لوی خدای(ج) په نامه لوړه کوم چې د اسلام د سپیڅلي دین له حکمونو، په دې اساسي قانون او نورو قوانینو کې له راغلو نصوصو سره سم حق او عدالت تأمین او د قضا وظیفه په بشپړ امانت، صداقت او بې طرفی اجرا کړم"

</td></tr>
</table>

480 Daniel Hall et al., *Professional Court Administration: The Key to Judicial Independence*, National Center for State Courts, 2003.

پر دې سربېره، اساسي قانون له شرایطو سره سم، د قضایي خپلواکي او انتصاباتو له بهیره ملاتړ کوي. د لاندې شرایطو په اړه فکر وکړئ چې ولې د سترې محکمې د غړیتوب لپاره اړین شمېرل شوي دي:

**دافغانستان اساسي قانون**

**۱۱۸ماده**

د سترې محکمې غړي باید لاندې شرایط ولري:

(۱) د ټاکلو په وخت کې د رئیس او غړیو عمر تر څلویښتو کلو لږ نه وي؛

(۲)د افغانستان تبعه وي؛

(۳) په حقوقي یا فقهي علومو کې لوړې زده کړې او د افغانستان په قضایي نظام کې تخصص او کافي تجربه ولري؛

(۴) د ښه سیرت او نیک شهرت لرونکی وي؛

(۵) د محکمې له خوا د بشري ضد جرمونو او جنایت په ارتکاب او یا له مدني حقوقو څخه په محرومۍ محکوم شوي نه وي؛

(۶) د وظیفي د تصدۍ په وخت کې په هیڅ سیاسي گوند کې غړیتوب ونه لري.

آیا هر یو له دې شرایطونه بې اهمیته معلومېږي؟ پداسې حال کې چې د ۳۹ کالو او د غوښتل شوو ۴۰ کالونو ترمنځ توپیر ممکن جزئي وی، دا شرایط د کل په توگه خپلې موخې ته د رسېدو لپاره باید په نظر کې ونیول شي. هر یو ذکر شوی شرط یو ارزښت یا صفت دی چې د سترې محکمې ټول منصوب شوي غړي باید (۱) بالغ (۲) د افغانستان له ټولنې سره تړلی (۳) تحصیل کړی او د قضایي تجربې لرونکی(۴) په ټولنه کې د احترام وړ (۵) با اخلاقه او(۶) بې پرې وي.

د سترې محکمې د غړو وروستی شرط " د خدمت د دورې پر مهال په هیڅ گوند کې نه غړیتوب ده، چې دا د ترکیې او زیاتو هېوادونو په اساسي قوانینو کې راغلی ده. څېړونکي په دې اند دي چې دا شرایط په نه پلوي کې مرسته کوي، نه لازماً واقعي بې طرفي. په هر حال، د سترې محکمې مشروعیت له دواړو یعنې هم له واقعي خپلواکي او هم د سیاسي ارکان له مفهومه ناشي کېږي. آیا تاسې د نورو شرایطو په اړه فکر کولی شي چې د فساد د واقعي لږوالي یا ستونزمن مفهوم لامل شي؟ په ۱۱۸ ماده کې ذکر شوي شرایط له هغو قضاوتونو استازیتوب کوي چې د اساسي قانون د لیکونکو له خوا، د سترې محکمې د غړیتوب لپاره، د اساسي شرایطو په توگه په نظر کې نیول شوي دي. که قاضیان او د سترې محکمې غړي اخلاق لرونکي، شریف، تحصیل کړي، او د احترام وړ او د افغانستان د ټولنې رسېدلي غړي وي، زیات چانس وجود لري چې له قوانینو پیروي و کړې او فساد ته لږ تمایل پیدا کړي.

په یاد يې ولرئ چې د قضايي خپلواکي موضوع په ټوله قضايي قوه کې، له پاسه نه تر ښکته پورې وجود لري. د علني محاکماتو پورې اړوند د اساسي قانون حکمونو، د انتصاب یا ټاکنو قرار، مؤاخذه، د دې محکمو د واک حوزه او ټول شرایط راوړي دي، تر څو د قضائیه قوې او نورو ارګانو اړیکې مشخصې او د قضائیه قوې د کار لپاره زمینه برابره کړي.

## څلورم . د سترې محکمې دندې

### الف. د سترې محکمې اداري دندې

۱۱۶ماده حکم کوي، " قضائیه قوه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت خپلواک رکن دی." په دې رول کې، ستره محکمه باید د استیناف د قضایاو د استماع نه زیات څه تر سره کړي او په افغانستان کې د ټولو محکمو لپاره د اصلي سازمان ورکونکې په توګه عمل وکړي. که څه هم زیات اروپایي هېوادونه دا ډول اداري واک عدلیې وزارت ته ورکوي، د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون د ۱۹۶۴ کال د اساسي قانون په څېر مخکې له دې نه د حکومت د نورو ارکانو د نفوذ مخنیوي په موخه آګاهانه کنټرول د سترې محکمې په لاس کې ورکوي.[481]

د قضا د نه خپلواکۍ په ځواب کې، په قضائیه قوه کې د دندو اداري تمرکز، د افغانستان د ۱۹۲۳ کال اساسي قانون څخه را وروسته پراخوالی پیدا کړی دی. سره له دې چې دا اساسي قانون حکم کوي، " د عدالت ټولې محکمې د دخالت او مداخلې له هرډول، ډولونو څخه آزا دي " (۱۹۲۳ کال اساسي قانون ۵۳ ماده)، په واقعیت کې قاضیانو ډېره لږه قضايي خپلواکي لرله. د محکمو مدیریت او د قضايي کارکوونکو اداره، د پاچا تر اقتدار لاندې وه. قاضیانو د نورو حکومتي کارکوونکو په څېر، د خپل مافوق پر دستوراتو موظف وو چې پکې د يوې ځانګړې قضيې د حل په اړه سفارش هم راته.

د ۱۹۲۳ کال سیستم د هغه اداري نظام سره، چې اساسي قانون يې نن ورځې تجویزوي، پرتله کړئ:

> **د افغانستان اساسي قانون**
>
> **۱۲۴ماده**
>
> د قضائیه قوې د مامورینو او نورو اداري کارکوونکو په برخه کې، د دولت د مامورینو او نورو اداري کارکوونکو د مربوط قوانینو حکمونه نافذ دي خو تقرر، انفکاک، ترفیع، تقاعد، مجازات او مکافات يې دسترې محکمې له خوا له قانون سره سم تر سره کیږي.
>
> **۱۲۵ماده**
>
> (۱) د قضائیه قوې بودجه د حکومت په مشوره د سترې محکمې له خوا ترتیبیږي او د دولت د بودجې د يوې برخې په توګه د حکومت له خوا ملي شورى ته وړاندې کیږي.

[481] Ramin Moschtaghi, Max Planck Manual on Constitutional Law in Afghanistan Vol. 1: Structure and Principles of the State (Amended 3d ed. 2009).

(۲) د قضائیه قوې د بودجې تطبیق د سترې محکمې صلاحیت دی.

**۱۳۲ماده**

(۱) قاضیان د سترې محکمې په پشنهاد او د جمهور رئیس په منظورۍ ټاکل کېږي.

(۲) د قاضیانو مقرري، تبدیلي، ترفیع مواخذه او تقاعد پشنهاد د قانون له حکمونو سره سم د سترې محکمې صلاحیت دی.

(۳) ستره محکمه د اجرایي او قضایي چارو د ښه تنظیم او د لازمو اصلاحاتو د تامین لپاره، د قضائیه قوې، عمومي اداري امریت تاسیسوي.

د اساسي قانون له لوري ورکړل شوی اداري واک، قضائیه قوه نوره هم خپلواکه کوي، که څه هم په بشپړ ډول د نورو ارکانو له نفوذه، په ځانګړې توګه د جمهور رئیس له نفوذه، محفوظه نه ده.

۱۲۴ او ۱۲۳ مادې بیانوي چې ستره محکمه د ټولو هغو قاضیانو او کارکوونکو څخه چې د قضائیه قوې له لوري ګمارل کېږي، لوړ ځای لري. دا کارکوونکي نه یوازې قاضیان، بلکې د هغوی منشیان، د محکمې دفتري کارکوونکي، د محکمې اجرا ئیه وي مامورین او حتا هغه کسان چې د محکمې پاکول پر غاړه لري هم شامل دي. پدې کارکوونکو کې هغه ۳۶ قضایي سلاکاران چې د سترې محکمې پر وړاندې د مسایلو د تحلیل او تجزیې رول لري او د سترې محکمې د قاضیانو د تصمیم نیولو لپاره معلوماتي راپور برابروي هم شامل دي (د محکمو د دندو، واک او تشکیلاتو د قانون ۲۰ـــ۲۲مادې). پداسې حال کې چې ستره محکمه د کلي کنټرول لرونکې ده، جمهور رئیس اوس هم د لاندېنیو محکمو د ټاکل او عزل کول د تصویب ورستي واک لري او جمهور رئیس ته پر قضائیه قوې د نفوذ د پلي کولو ډېر واک ورکوي.[482]

له هغه ځایه چې ستره محکمه دومره درونډ اداري بار پر غاړه لري، د اساسي قانون ۱۳۲ ماده سترې محکمې ته واک ورکوي چې د قضائیه قوې اداري عمومي امریت رامنځته کړي. د محکمو د دندو، واک او تشکیلاتو قانون د هغه دندې نورې هم واضح کوي:

**د محکمو د دندو، واک او تشکیلاتو قانون**

**۲۹ماده**

(۱) ستره محکمه په اړوندو اداري چارو کې د لاندې واکونو او دندو لرونکې ده:

[482] Lorenzo Delesgues and Yama Torabi, *Reconstruction National Integrity System Survey*, The National Integrity System 52 (2007).

۱. د حکومت په مشوره د قضائيه قوې د بودجې ترتيب.

۲. د محکمو د اداراتو له فعاليته مراقبت او رهبري.

۳. د محکمو د اداري او قضايي چارو د تنظيم لپاره د لوايحو او مقررو وضع کول.

۴. د قضايي چارو د مطالعاتو او تدقيق د پايلو ځېړل او د محکمو د اجرأتو د انسجام، توحيد او نيمګړتياوو د رفع کولو لپاره د تدابيرو رامنځته کول.

۵. د دې قانون د حکمونو سره سم د ولسمشرۍ د مقام مستشاران او د قاضيانو د تعينولو پېشنهاد.

۶. د دې قانون د حکمونو سره سم د قاضيانو د تقرر، تبديلي، ترفيع، د خدمت د تمديد او تقاعد پېشنهاد.

۷. د جمهور رئيس مقام ته د محکمو او د اسنادو او وثايقو د ثبت د ادارو د تأسيس، او د هغوی د قضايي او اداري واکونو د ټاکلو پېشنهادول.

۸. د قضائيه قوې د بودجې تطبيق.

۹. د محکمو د فعاليت د مخته وړلو په موخه د اړينو اسانتياوو تأمين.

۱۰. د ستاژ د کورس دايرول او ور پورې د اړوندو چارو تنظيم.

۱۱. د قاضيانو د تجربې او پوهې د کچې د لوړوالي لپاره د اړينو تدابيرو اتخاذول.

۱۲. د قضائيه قوې د اداري د ټولو کارکونکو د فعاليتونو او اجراآتو څخه څارنه.

۱۳. په قضايي برخه کې د ټولو محکمو له فعاليتونو څخه د ګزارش او کلنی احصايي برابرول.

۱۴. ټولې هغه دندې او واکونه چې په دې قانون او نورو قوانينو کې ستره محکمې ته ورکړل شوي دي.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې راغلي واکونه د قضائيه قوې د اداري عمومي امريت له لارې پلي کېږي.

د سترې محکمې قاضی القضات اداري عمومي امريت څاري او په اړه يې ټول واک لري.

**د مباحثې پوښتنې**

که ملي شورا د محکمې د پراخوالي په اړه يعنې د استيناف دوه محکمې يا د سترې محکمې په دولسو غړو تصميم ونيسي، څه به پيښ شي؟آيا ستره محکمه کولی شي دا کار تر سره کړي؟[يادونه: اساسي قانون او موضوعه قوانينو ترمنځ توپير ته توجه کړئ.]

**ب. د سترې محکمې دندې**

د اداري دندو سربېره، ستره محکمه د افغانستان د اساسي قانون وروستۍ تفسير کوونکې مرجع ده. په لاندې بکس کې د سترې محکمې اړوند تر ټولو مهمه ماده چې په ربښتيا بحث پارونکې ده راغلې ده:

**د افغانستان اساسي قانون**

**۱۲۱ماده**

له اساسي قانون سره د قوانينو، تقنيني فرمانونو، بين المللي معاهداتو او ميثاقونو د مطابقت څېړل او د حکومت يا محکمو د غوښتنې پر اساس د قانون له حکمونو سره سم د هغوی تفسير د سترې محکمې له واک څخه دي.

۱۲۱ ماده سترې محکمې ته واک ورکوي چې" د حکومت يا محکمو د غوښتنې پر اساس" د قانون، تقنيني فرمان، او معاهدې مطابقت له اساسي قانون سره وڅېړي. په دوهم څپرکي کې مو د قواوو د تفکيک په اړه زده کړل چې قضايي څېړنه د قضايي څارنې په اندازه د حکومت د دوو نورو رکنونو پر کړنو ترسره کېږي او تشخيصوي يې چې هغه د اساسي قانون سره سم عمل کوي. ۱۲۱ ماده سترې محکمې ته د قضايي بررسي ډېر محدود شکل ورکوي. دا ماده د لاندې دريو دليلونو پر اساس د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون يو له بحث پارونکو مادو څخه وه: (۱) د دې پوښتنې د ځواب نامعلوموالی چې آيا ستره محکمه همدارنګه د اساسي قانون د تفسير واک لري؛ (۲) دا پوښتنه چې آيا ستره محکمه کولی شي چې اجرايي اقدامات بررسي کړي؛ او (۳) په دې اړه پوښتنه چې آيا د دولتکومه بله قوه يا بل کوم نهاد هم له اساسي قانون سره د نورو قوانينو د مطابقت د بررسي واک لري.

لومړی په دې اړه اختلاف شتون لري، چې آيا ستره محکمه له نورو قوانينو سره د اساسي قانون د مطابقت له بررسي نه پرته په دې اړه نور کارونه تر سره کولی شي او که نه؟ آيا ستره محکمه کولی شي چې د اساسي قانون داسې مادې چې صراحت نه لري تفسير کړي؟

دا چې د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون، د اساسي قانون د محکمې د رامنځته کولو نظريه ردوي چې ورسره موضوع نوره هم پېچلې کېږي. په هغه شکل چې تاسې په دوهم څپرکي کې د قواوو د تفکيک په اړه زده کړل، زيات دولتونه د اساسي قانون د محکمې د سيستم لرونکي دي، په دې هېوادونو کې د اساسي قانون بررسي په يو جلا نهاد کې متمرکزه شوې ده. په زيات ګمان همدا قضايي نهاد دی چې د اساسي قانون پورې اړوند مسايل حل کوي[۴۸۳]. په ورته توګه، د ۲۰۰۳ کال په اوړي (دوبي) کې، د افغانستان د اساسي قانون مسوده د اساسي قانون د محکمې پورې د اړوندو مقرراتو لرونکې وه:

**په ۲۰۰۳ کال کې د افغانستان د اساسي قانون مسوده**

**۱۴۶ ماده (۲۰۰۳ مسوده)**

د اساسي قانون عالي محکمه د لاندې واکونو لرونکې ده:

---

[483] Mauro Cappelletti & William Cohen, Comparative Constitutional Law: Cases and Materials 76 (1979).

(۱) له اساسي قانون سره، د قوانينو، تقنيني فرمانونو او بين المللي هوکړه ليکونو او ميثاقونو د مطابقت بررسي.

(۲) د اساسي قانون، قوانينو او تقنيني فرمانونو تفسير.

پام مو وي چې دی مسودی په ځانګړې توګه د اساسي قانون عالي محکمې ته د اساسي قانون د تفسير واک ورکړی وو. وروستۍ مسوده چې په ۲۰۰۴ کال لويې جرګې ته وړاند شوه، د اساسي قانون د تفسير د عالي محکمې د ايجاد وړانديز يې نه وه کړې. که څه هم وروستۍ مسوده، د اساسي قانون د عالي محکمې زيات واک ستر‌ې محکمې ته ورکوي، خو په هغه کې " د اساسي قانون د تفسير " کليدي کلمه نشته[484]. د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون ۱۲۱ ماده يو ځل بيا ولولئ. آيا د (د اساسي قانون د تفسير) د عبارت لرې کول د نوې سترې محکمې د واکونو د محدود ولو يوه قصدي څارنه يا توپير وو.

د "تفسير" او "بررسي " ترمنځ توپير مهم دی. ځينې حکومتي ارګانونه بايد د اساسي قانون د تفسير واک ولري. ليکلي اساسي قوانين خپله د ځان تفسير نه کوي، بې له شکه داسې موارد مخ ته راځي چې اساسي قانون د هغه په اړه صراحت نه لري. څرنګه چې تاسې د مديسون پر وړاندې د ماربوري په قضيه کې ولوستل، د متحده ايالاتو لپاره د اساسي قانون د بررسي واک د اساسي قانون له ليکلو نږدې شل کاله وروسته څرګند شو. دا امر کېدای شي د افغانستان په اړه هم مطرح وي.

**دسياسي ګوند هوډ**

د اساسي قانون ۱۱۸(۶) ماده تصريح کوي چې د سترې محکمې غړی به "د دندې د ترسره کولو پرمهال په هيڅ سياسي ګوند کې غړيتوب نه لري." د سترې محکمې له قاضيانو څخه، يو په خپل کور کې د افغان ملت ګوند لپاره يو غيرې رسمي غونډه جوړوي. د هغه ورور د ياد ګوند رهبري کوي او له هغه يې غوښتي دي چې له خپل وخت او پيسو څخه له ده سره مرسته وکړي.

قاضي خپل ملاتړ ښکاره کوي او په پيسو او د افغان ملت ګوند په ګڼ شمير غونډو کې په خپل شتون سره له هغه سره همکاري کوي، خو هغه هيڅکله نه اعلانوي چې د ياد ګوند غړی دی. جمهور رئيس دا موضوع د قاضي القضات د پام لپاره رسولې ده او له هغه يې غوښتي دي: (۱) له ۱۲۱ مادې سره سم په دې اړه تصميم ونيسئ او (۲) معلومه کړئ چې د قاضي اقدامات په افغان ملت ګوند کې د غړيتوب په معنا وو يا نه.

آيا قاضي القضات د اساسي قانون د ۱۲۱ مادې د حکم له نقض پرته د جمهور رئيس امر عملي کولی شي؟ په دې حالت کې قاضي القضات څه کار ترسره کولی شي؟

484 J. Alexander Their, United States Institute of Peace, The Status of Constitutional Interpretation in Afghanistan (2009).

دوهم، د دې موضوع په اړه د نظر اختلاف شته چې آیا ستره محکمه د اجرائیه قوې د تقنیني اقداماتو لکه دجمهور رئیس د تقنیني فرمانونو دبررسي واک لري او که نه؟ ۱۲۱ ماده تصریح کوي چې ستره محکمه له اساسي قانون سره درسمي قوانینو، د تقنیني فرمانونو (د مؤقتي اداري تقنیني فرمانونه) او دبین المللي معاهدو د مطابقت واک لري، خو دا حکم د تقنیني اقداماتو یا د اجرائیه قوې پر مقرراتو د اساسي قانون له ۷۶ مادې لاندې نه راځي.[485] لکه څرنګه چې تاسي په دریم څپرکي کې د اجرائیه قوې په اړه زده کړل، چې جمهور رئیس له مقننه قوې څخه خپلواک او د تقنیني فرمانونو په صادرولو کې د پراخه او هر اړخیزه واکونو لرونکی دی. که څه هم چې دا تقنیني فرمانونه شاید په هېواد کې د ورته اغېزې لرونکي وي، خو له تخنیکي پلوه قوانین نه دي، په همدې دلیل د ۱۲۱ مادې سره سم د قضائیه قوې تر بررسي لاندې نشي راتلی. په همدې ترتیب داساسي قانون متن قضائیه قوې ته د اجرائیه قوې د تقنیني اقداماتو دبررسي ښکاره واک نه ورکوي. پداسې حال کې چې زیات پوهان او نور هېوادونه پر دې باور دي چې داجرائیه قوې قضایي بررسي او تقنیني اقدامات د هر ډول قواوو د تفکیک کلیدي برخه یا پر اساسي قانون ولاړ جوړښت دی.

دریم، او اخیر داچې اختلاف د دې پر سر دی چې آیا کوم بل ارګان د اساسي قانون د بررسي واک لري او که نه؟[486] په متن کې ګونګوالی او د قدرت پر سر د اجرائیه او مقننه قوې مبارزې د اساسي قانون د تفسیر د دوو موازي نهادونو- سترې محکمې او د اساسي قانون پر تطبیق د څار خپلواکه کمیسون (ICSIC) د رامنځته کېدو لامل شوې.

دواړه، هم ستره محکمه او هم د اساسي قانون پر تطبیق د څار کمیسون، د اساسي قانون پر اساس د تفسیر واک لري. داسې معلومېږي چې د اساسي قانون ۱۲۱ ماده د قضایي بررسي واک سترې محکمې ته ور کوي. پداسې حال کې چې ۱۵۷ ماده د اساسي قانون پر تطبیق د څار د کمیسون په جوړېدو حکم کوي او زیاتوي چې د کمیسون غړي باید د جمهور رئیس له خوا منصوب او د ولسي جرګې له خوا تائید شي، خو له سترې محکمې سره د کمیسیون د توپیر د څرنګوالي په اړه هیڅ هم نه وایي. دا ښکاره تناقض بیا هم تر ۲۰۰۷ کاله پورې د پام وړ یوې شخړې نه وو بدل شوی.

ولسي جرګې د ۲۰۰۷ کال د مې په لسمه نېټه هڅه وکړه چې د بهرنیو چارو د وزیر رنګین دادفر سپنتا پر وړاندې د نه باور رایه وکاروي. لومړیو هڅو د یوې رایې په واسطه ماتې وخوړه، خو دوه ورځې وروسته، ولسي جرګه د وزارت له مقامه د هغه په سلب بریالۍ شوه. جمهور رئیس کرزي د ولسي جرګې د رایې په مشروعیت پېژندلو څخه، په دې دلیل چې ولسي جرګه، د یو برحاله وزیر د لیرې کولو واک نه لري او دا واک یوازې له جمهور رئیس سره ده، مخ وګرځاوو.

جمهور رئیس کرزي په رسمي توګه له سترې محکمې وغوښتل چې موضوع تر قضایي بررسي لاندې ونیسي. جمهور رئیس استدلال وکړ چې قضایي بررسي د قضایي قوې د دندو اړینه برخه ده، نو پر همدې دلیل ستره محکمه باید د تقنیني اقداماتو د څېړلو واک ولري. د ولسي جرګې غړو جمهور رئیس

[485] Ramin Moschtaghi, Max Planck Manual on Constitutional Law in Afghanistan Vol. 1: Structure and Principles of the State (Amended 3d ed. 2009).
[486] *Id*.

وننګاوو او دليل يې راوړ چې د اساسي قانون ليکونکو بايد د وزيرانو انتصاب ته ورته اقدامات د سترې محکمې له تعقيب نه لرې کړي وی، ځکه هغوی د دې فرصت نه لاره چې په ځانګړی توګه قوانين او مقررات، حکمونه، او معاهداتو ته ورته ډول اقدامات ليست کړي.

د اساسی قانون ۱۲۱ ماده په صراحت سره سترې محکمې ته له اساسي قانون سره د قوانينو، معاهداتو او تقنيني فرمانون د مطابقت د تفسير واک ورکوي. پداسي حال کې چې اساسي قانون د وزيرانو انتصاب يا لرې کولو ته ورته ټولو اقداماتو د مطابقت په اړه، د محکمې د واک په باره کې ساکت دی.

سترې محکمې د ۲۰۰۷ کال د جون په ۳ تاريخ اعلان وکړ چې د وزيرانو د سرنوشت لپاره دوهم ځل رايي اساسي قانون پدې دليل نقض کړی چې ولسي جرګه د برحال وزير د ګوښه کولو واک نه لري. ولسي جرګې يې په ځواب کې تصريح کړه چې ستره محکمه د وزيرانو د انتصاب په اړه د اساسي قانون د تفسير واک نه لري او د سترې محکمې حکم يې رد کړ. د ولسي جرګې سره له مخالفت سربېره، سپنتا د بهرنيو چارو د وزير په توګه د څو نورو کالونو لپاره هم خپل کار ته ادامه ورکړه.

د جمهور رئيس له ويتو وروسته، ملي شورا د سترې محکمې د پرېکړې په ځواب کې د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې د خپلواک کميسون د رامنځته کولو لپاره قانون رامنځته کړ. د ۲۰۰۸ کال په سپتمبر کې د ملي شورا مجلس يو قانون تصويب کړ چې پر اساس يې د جمهور رئيس، ملي شورا يا سترې محکمې په غوښتنه د اساسي قانون تفسير ددې کميسيون له واکونو څخه و بلل شو. له سترې محکمې وغوښتل شول چې له اساسي قانون سره د کميسيون د قانون مطابقت وڅېړي. ستری محکمی دملی شوری پرېکړه د اساسي قانون د۱۲۱ مادې پر اساس نقض اعلان کړه. پدې ترتيب محکمه پوه شوه چې يوازې له اساسي قانون سره د قوانينو او نورو حکومتي اقداماتو د تفسير واک لري.

سترې محکمې د اساسي قانون د تفسير په اړه د کميسون واک تر پوښتنې لاندې را وست. سترې محکمې استدلال وکړ چې ۱۵۷ ماده د اساسی قانون پر تطبيق" د څارنې" حکم کوي، نه د بل ارګان په عنوان د قضايي څېړنې. سترې محکمې همدارنګه ملي شورا ته د واک د ليږد موضوع د کميشنرانو د ټاکلو او ليرې کولو په اړه رد وپېژندله او دا واک يې د جمهور رئيس وباله چې د اساسي قانون پر اساس د وزيرانو او نورو ټولو حکومتي چارواکو د ګوښه کولو واک لري.

په داسي يو نامعلوم حالت کې، داسي ښکاري چې هم ستره محکمه او هم کميسون د اساسي قانون د بررسي واک لري. نورې دولتي ادارې له هغو غوښتنه کوي چې د بحث پارونکو تقنيني اسنادو د تطبيق مناسبې شيوې يا پرېکړې مشخصې کړي چې د محکمې او کميسيون د متناقض حکم د صادرېدو په پايله کې د زياتو اختلافاتو لامل کېږي.

د اساسي قانون د حکمونو سره سم، د اجرانيه قوې د تفسير رول موضوع لا پېچلې کړې ده. ۶۴ ماده جمهور رئيس ته "اساسي قانون د پلي کولو د مراقبت" واک ورکوي، داسې حکم چې په ۱۵۷ مادې کې له راغلي هدف سره ورته دی. بنايي دا موضوع چې د ۱۵۷ مادې سره سم، د کميسيون غړي د ولسي جرګې په تائيد د جمهور رئيس له خوا ټاکل کېږي، د مساوي اهميت لرونکې وي.

سربېره پر دې پېچلو مسايلو، کميسيون د قوانينو د مسودې په برابرولو کې هم رول لري. که له دې کميسيون څخه وغوښتل شي چې له اساسي قانون سره د قوانينو د مطابقت په اړه پرېکړه وکړئ، ښايي د ګټو د ټکر له موضوع سره مخ شي.

**سپنتا د اساسي قانون پر وړاندې**

څرنګه د قانون د قضايي بررسي هغه تجربه چې پر اساس يې کميسيون رامنځته شو، د سپنتا په اړه له قضايي بررسي څخه توپير لري؟ د اساسي قانون ۱۲۱ ماده بيا بيا ولولئ.

د سپنتا د قضيې په اړه، ولسي جرګې هغه ته د نه باور رايه ورکړه. د قانون برخلاف چې د اساسي قانون ۹۴ماده هغه د ملي شورا د هر يو مجلس مصوبه، چې د جمهور رئيس له خوا توشيح شوې وي تعريفوي، د نه باور رايه يوازې د ولسي جرګې د نظر ښکارندويه ده. آيا د "نه باور رايه" چې يو له ليست شوو دندو څخه ده، ستره محکمه يې د ۱۲۱ مادې پر اساس بررسي کولی شي؟

پداسې حال کې چې د اساسي قانون سره سم، د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې خپلواک کميسيون په اړه قانون تصويب شوی دی او په نتيجه کې د ۱۲۱ مادې سره سم د سترې محکمې له واک لاندې راځي. جمهور رئيس هغه سترې محکمې ته راجع کړ او سترې محکمې يې په ځواب کې خپل حکم د اساسي قانون سره سم صادر کړ.

يوازې د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې خپلواک کميسيون، د اساسي قانون د۱۲۱مادې د غوښتونو په اړه ځواب ورکونکی دی.

## پنځم. رسمي او غېرې رسمي قضايي سيستمونه

اساسي قانون د دولتي محکمو پر سيستم تمرکز لري. اساسي قانون د نورو عدلي سيستمونو د ډولونه په اړه چې په ټول افغانستان کې وجود لري، يادونه نه کوي. پداسې حال کې، لکه څرنګه چې تاسې د افغانستان د مبادي حقوقو په اړه زده کړل، د عدلي"رسمي" سيستمونو سربېره (دولتي محکمې) په افغانستان کې د غيرې رسمي موازې عدلي سيستمونه ډولونه وجود لري. د شوراګانو او جرګو په تو ګه د اختلافاتو د حل بديل ډولونه، د عدلي ابتدايي سيستمونو په توګه عمل کوي. رسمي سيستم له دې سيستمونو جلا دی، ځکه اساسي قانون هغه د افغانستان د قوانينو او يا که په کومه برخه کې هيڅ قانون وجود ونه لرينه لري، د حنفي فقه په رعايت او پلي کول اړ کړي دي. د شورا يا جرګې په څېر غيرې رسمي عدلي سيستمونه، کېدای شي ټولو ديني قوانينو، عرفي قبيله وي قوانينو، يا د مشرانو ډله ييزې پوهې ته مراجعه وکړي[487].

[487]. د افغانستان د حقوقي زده کړو پروژه. د افغانستان د حقوقو مبادي ۱ – ۵ (دوهم چاپ، ۲۰۰۹)

که څه هم رسمي محکمې په افغانستان کې ټولو قضيو ته رسېدلی شي، خو له غيرې رسمي عدلي سيستمونه څخه اوس هم په پراخه توګه د غيرې سوداګريزو ملکيتونو پورې د اړوندو اختلافونو، د کورنيو اختلافونو او په شخصي احوالو پورې اړوندو مسايلو په حل کې ګټه اخيستل کېږي. لاندې ګراف د رسمي او غيرې رسمي عدلي سيستمونو په اړه عمومي افکار ښايی. په نظر پوښتنو کې ځواب ورکوونکي د رسمي سيستمونو په پرتله له غيرې رسمي سيستمونو څخه ښه احساس لري.

**د اختلافاتو د رسمي او غيرې رسمي حل څخه انګېرنه**

د ځواب ورکوونکو سلنه په لاندې ډول، د رسمي او غيرې رسمي عدلي سيستمونو په اړه توافق لری[٤٨٨]:




په يوه بله سروې کې چې په ۲۰۱۰ کال کی ترسره شوي، ۵۰ سلنه ځواب ورکوونکو دا څرګنده کړې چې غېرې رسمي مکانيزمونو ته يې مراجعه کړې. شمېرې څرګندوي چې په ټوله کې افغانان (زيات له کابل نه د باندې) اوس مهال په څو دليلونو د غيرې رسمي عدلي سيستمونو پلوي دي.[٤٨٩] لومړی، په ځينو سيمو کې ابتدائيه محکمې ته رسېدل سخت دي يا تر اوسه هم نشته. دوهم، په ځينو برخو کې په غيرې رسمي سيستمونو کې د قضيو حل چټک او ارزانه تمامېږي. دريم، رسمي محکمې کېدای شي له دوديزو محکمو نه ډېرې فاسدې وي. په پای کې، رسمي محکمې روغه جوړه راوستونکي دی چې عدالت ته پام

[٤٨٨]. آسيابنسټ،افغانستان په۲۰۰۹کال کې، د افغان وګړو سروې۸۷، ۹۱ (۲۰۰۹)

[489] Integrity Watch Afghanistan, Afghan Perceptions and Experiences of Corruption: A National Survey 2010 at 76-77 (2010).

نه لری، بلکې یوازې بریالی او بایلونکی اعلانوي. ترمیمي یا جوړونکی عدالت پدې معنا دی چې د اختلاف حل پداسي شیوې سره وشي چې موخه یې د سرغړونکي او قرباني او د سرغړونکي او ټولنې ترمنځ د اړیکو جوړول وي. د اختلافونو د حل لپاره ځینې دودیزې، عنعنوې او رسوم په سنتي شکلونو لکه ننواتې او د تېروتنو جبران، چې په انعطاف منونکې طریقې سره محاسبه شوي وي، ترسره کېږي.

**د مباحثې پوښتنه**

آیا د رسمي عدلي سیستم په پرتله، د غیرې رسمي عدلي سیستم د ښه والي لپاره په نورو اثباتي دلایلو فکر کولی شئ؟

عدلي رسمي سیستم د متفاوتو ګټو ټولګه وړاندې کوي: (۱) د څارنې سیستم او د بیاکتنې غوښتنه کېدای شي ښه واضح او په دوامداره توګه پلې شي. (۲) د لوړو مخاطراتو په لرلو سره د قضیو پایله، کېدای شي د وړاندوینې وړ وي، (۳) کېدای شي غیرې رسمي محکمې د عدالت په پلي کولو کې له حده زیاتې مصلحت غوښتونکې وي، (۴) رسمي محکمې لرترلږه په مساوي توګه د عدالت د پلي کولو هڅه، پرته له دې چې جنس یا د لورو موقف په نظر کې ونیسي، په ځانګړې توګه د ښځو لپاره لري. که څه هم نن ورځ په رسمي محکمو کې د ښځو سره د تبعیض زیات موارد شته، اساسي قانون دا ډول تبعیض غیرې قانون اعلان کړی. پردې سربېره، افغانستان پراخوالی پیداکوي، زیات خلک د خپل اوسېدو له ځایه لیرې سفر او ژوند کوي، کېدای شي هغوی نور محلي جرګې ته په ورتګ د آسانتیا احساس ونه کړي ـ کېدای شي هغوی ددې ډاډ د ترلاسه کولو غوښتونکی وي چې په عدلي سیستم_کې پایښت رامنځ ته شي او د عدالت پایله به هر چیرته چې ژوند کوي او یا په سفر کې وي یو شانته وي. د تداوم او سالم والي غوښتنې په ټول هېواد کې د ولایت او محلي عرف په نظر کې نیولو څخه پرته، د یو شکل کړندودونو څخه په ګټې اخیستنې سره یو سرتاسري سیستم ته اړتیا لري.

پداسې حال کې چې د رسمي سیستم یادې ګټې د فساد په نشتون او د دولتي محکمو په زیات باور پورې اړه لري، افغانستان په اوسنی وخت کې د (هر څه چې لومړی مخ ته راغلل) له ستونزې سره مخ دی: آیا لازم نه دي چې فساد وړاندې تر دې چې خلک محکمو ته مراجعه وکړي، ختم شي؟ یا دا چې خلک لومړی پر حکومت د سیاسي فشار د واردولو په موخه په محکمو کې د فساد د له منځه وړلو څخه ګټه واخلي؟

د سیاسي بهیر له لارې، افغانستان باید دې پوښتنې ته ځواب ورکړي چې رسمي محکمې باید قضا په انحصار کې ولري که نه. په خپله اساسي قانون نه د غیرې رسمي سیستم ملاتړ کوي او نه یې منع کوي. پر دې اساس، خلک باید پرېکړه وکړي چې دودیز شورا او جرګې څه ډول رول ترسره کړي. د حل یوه لاره ښایي دا وي چې د غیرې رسمي سیستمونو پرېکړې په هغه ډول چې په بین المللي حقوقو په حکمیت ملحوظ کېږي په نظر کې ونیول شي. که دواړه لوري د غیرې رسمي سیستم د پیروي او ګټې په اړه د قرارداد د عقد له لارې هوکړه وکړي، محکمه کولی شي دا پرېکړه د خصوصي حقوقو د یو شکل په عنوان رعایت کړي. یا، حکومت کولی شي چې غیرې رسمي سیستم د قانون له لارې تنظیم او په هغه

صورت کې چې یو له لور دعوه وکړي چې غیرې عادلانه برخورد ورسره شوی دی، اړین معیارونه د ښځوچارو ته د رسېدلو او د استیناف غوښتلو لپاره وضع کړي. اوس مهال په یو وخت کې د دوو سیستمونو موجودیت کیدای شي څو ګټې ولري، خو یو لویه ستونزه چې رامنځ ته کوي هغه د عدالت نه یو خېل والی ده.

**د مباحثې پوښتنې**

ستاسو له نظره، په افغانستان کې غیرې رسمي عدلي سیستم باید د څه ډول رول لرونکی وي؟ که ستاسي له نظره دا رول ډېر مهم وي، دلیل یې څه دی؟

### شپږم . د قضائیه قوې پر وړاندې اوسنۍ ننګونې

اساسي قانون د یو سیستم د رامنځ ته کولو کلي طرح چې د قانون د حاکمیت لامل کېږي وړاندې کوي. پداسي حال کې چې نشي کولی خپله دنده په یوازېتوب سره بشپړه کړي. څو خنډونه شته چې د حکومت بې ثباته کولو ته ادامه ورکوي او د قانون حاکمیت د ګواښ سره مخامخ کوي.

### الف. د سرچینو محدودیت

رسمي عدلي سیستمونه اوس هم د وړ قاضیانو، څارنوالانو، او مدافع وکیلانو د کافي شمېر له نه شتون او همدارنګه د کمزورو فیزیکي جوړښتونو لکه د محکمو تعمیرونه، د منصفانه مدیریت او د قضیو له اغېزمنتیا څخه ځوربږي. د بېلګې په توګه، د بامیانو په ولایت کې د ۲۰۱۰ کال تر جولایي پورې د قاضیانو له ۴۱ چوکیو څخه یوازې ۳۰ او له ټولو ۱۸ کارکوونکو څخه یوازې ۱۱ شتون درلود،[۴۹۰] چې د زیاتو نا حل شوو قضیو د ټولیدو لامل شوی و. تر دې لا بده، د۲۰۱۰ کال تر مني پورې په قندهار کې له ۹۰ قضایي څوکیو یوازې ۱۰ فعاله وې.[۴۹۱] حکومت اوس هم په زیاتو کلیوالو سیمو کې د محکمو لپاره تعمیرونه نه لري او زیاتې محکمې د امنیتي دلایلو له مخې ځنډېدلي دي. پر دې سربېره، لږ شمېر قاضیانو په کافي اندازه زده کړې کړې او د ورسپارلو شوو قضایي دندو د اجراء لپاره اړینه وړتیا نه لري. د زدکړو د کیفیت پراخه ساحه، د وړتیا له مخې د قاضیانو او قضائیه قوې د پرسونل د ګمارنې په برخه کې لویه ستونزه ده.

د حقوقو او شرعیاتو د پوهنځیو درسي نصاب، په ټول هېواد کې د قاضیانو په ګټورو عملي مهارتونو باندې تمرکز نه لري. د ټولو قاضیان نیمه برخه یا لیسانس یا د معادل لیسانس لرونکي دي.[۴۹۲] قاضیان ټولو اړینو منابعو ته لاس رسی نه لري. د ۲۰۰۹ کال په فبروري کې، د سترې محکمې قاضی القضات، عبدالسلام عظیمي څرګنده کړې وه:

[490] International Crisis Group, Reforming Afghanistan's Broken Judiciary 18 (2010).
[491] International Crisis Group, Reforming Afghanistan's Broken Judiciary 18 (2010).
[492] *Id*.

*پداسې حال کې، چې افغانستان د خپل مدني او جزايي قانون لرونکی ده، چې د مصر له حقوقي نظام الهام اخلي، له حقوقي پلوه د سیمي يو له بدایه هېوادونو څخه دی. زمونږ هېواد د مدنيجزا او سوداګرۍ قوانين ليکلي دي: له بده مرغه د دې قوانينو تفسير، توضيح او بډايه کول، د ديرش کالونو نښتو او جګړو له امله تر اوسه نه دي ترسره شوي. نن ورځ، مونږ د حقوقي اصطلاحاتو او نورو حقوقي متنونو کتابونو ته چې زمونږ قوانين قضائيه قوې ته توضيح او د قاضيانو او وياندويانو لپاره د مرجع په توګه له هغه نه ګټه واخيستل شي، اړتيا لرو. پدې موخه ما د تفسير، توضيح، د قوانينو او حقوقي متنونو د راټولولو لپاره د ژباړې د يو واحد د رامنځته کولو دستور ورکړ.*[۴۹۳]

د ستري محکمې د رئيس خبرې، ښکاره حقيقت ته ګوته نيسي ـ که په پراخه توګه قوانين په لاس کې نوي، دا کار کوم لوی خدمت نشي تر سره کولی. پردې سربېره، يو نا دولتي سازمان راپور ورکوي چې په افغانستان کې اوس مهال د جزايي، مدني او نورو قوانينو هېڅ بشپړه ټولګه نشته. هغه څه چې د د عدليې وزارت ، ستري محکمې، او د حقوقو پوهنځي او کابل پوهنتون په کتابتونو کې وو له منځه تللي دي او تر اوسه د عامو خلکو د لاس رسي وړ نه دي ګرځېدل.[۴۹۴] قاضيان په تصميم نيولو کې، د ګټې اخيستنې لپاره، د نويو قوانينو تفسير او نويو حقوقي نظرياتو ته اړتيا لري. له دې پرته، که نه هغوی بايد په پخوانيو قوانينو او يا په شخصي تجربو او خپل قضاوت باندې تکيه وکړي.

**محکمو لپاره د۲۰۰۴ کال د جزايي اجراآتو لنډ مهاله قانون**

د جزايي اجراآتو د۲۰۰۴ کال له لنډ مهاله قانون څخه موخه د ۱۹۶۵ کال د ۵۰۰ مادې لرونکي لوی قانون ساده کول وو. د اجراآتو ساده شوی قانون بايد اغېزمن او ـد عادلانه محاکمې لامل شي. پداسې حال کې چې حکومت قاضيانو ته هيڅکله اړينه زده کړه او کافي لارښونکي اطلاعات په واک کې نه دي ور کړي، زيات قاضيان له نويو قوانينو ګټه اخلي او په خپل کار کې په مخکنيو محاکماتي اصولو تکيه لري.

دا څه معنا لري چې په کابل کې له نوي قانونه ګټه او په لرې ولايتونو لکه هلمند کې اوس هم له پخوانيو قوانينو ګټه اخيستل کيږي؟ کيدای شي د نويو قوانينو د ليکلو زيان د هغه له ګټې زيات وي. يا داچې حکومت د نويو طريقو پر اساس د قاضيانو له روزلو څخه عاجز دی.

بين المللي ټولنه او مرسته کوونکي سازمانونه هغوی ته د سرچينو لکه زده کړو، اسنادو او فني مرستو په برخه کې مرستې کړې دي، په ورته مهال زيات کارونه اوس هم پاتې دي چې بايد تر سره شي. کليوالي

[493] Press Release, The International Development Law Organization, IDLO Produces Key Legal Resources For Afghan Justice Institutions (Feb. 12, 2009).

[494] Lorenzo Delesgues and Yama Torabi, *Reconstruction National Integrity System Survey*, The National Integrity System 54 (2007).

او فقیرې سیمې تر زیاتې اندازې قانوني سرچینو ته په خپله مورنۍ ژبه او یا د وړ حقوقي کارپوهانو ته اړتیا لري.

**ب. فساد**

د قضایي قوې پر وړاندې دوهمه لویه ننګونه د فساد شتون دی. هغې درجه بندۍ ته په پام سره چې په ۲۰۰۹ کال کې د روڼتیا بین المللي سازمان له خوا، چې یو غیرې انتفاعي سازمان دی، افغانستان په نړۍ کې دوهم فاسد هېواد (له ۱۸۰ نه ۱۷۹یم) ښودل شوی و.[۴۹۵] فساد مختلفې بڼې لکه د خپلې ګټې لپاره، د محکمې د پرېکړو پر پایلو د اغیزې په موخه د رشوت ورکول، په ګمارنو کې ګوندیتوب، د قضایي او حکومتي مامورینو ارتقا، د مدافع وکلانو او محکمو له خوا له حده زیاتې حق الزحمې اخیستل او له مجازاتو څخه له جزایي تعقیب لاندې یو شمېر خلکو معافولو، لري. له دې بده، په خپله په عدلي نظام کې، د ګواښ یا د رسمي چارواکو پر وړاندې د تاوتریخوالي، بد اخلاقۍ چې پر اجراآتو باندې د نفوذ اعمال کوي لکه د قاضي عالم حنیف قتل، چې په ۲۰۰۸ کال یې د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې د استیناف جریان پر غاړه درلود، کېږي. له له بده مرغه، فساد اوس هم په ټول حقوقي نظام او حکومت کې په ټولیزه توګه رواج لري. تر هغو چې د عدالت د بنیادي اصل خلاف، د قضائیه قوې نا برابره لاس رسی او چلند ادامه ولري، د فساد د منفي اغېزو درک ناشونی معلومېږي.

کېدای شي د قضائیه قوې لپاره په برابره اندازه فساد زیان رسوونکی وي. په یو نظر غوښتنه کې چې په ۲۰۱۰ کال د افغانستان د روڼتیا لید له خوا ترسره شوې ده، دوه ویشت سلنه افغانانو "تر ټولو لویه ستونزه چې د حکومت له خوا باید ورته رسیدګي وشي "له فساد څخه یاودونه کړې.[۴۹۶] که څه هم قضائیه قوه په ښه شکل او بې پرې فعالیت ولري، له فساد څخه د خلکو اندېښنه_رسمي سیستم ته د قضیو له راوړلو څخه مخنیوی کوي او یا ددې سیستم د پرېکړو مشروعیت تر پوښتنې لاندې راولي. پر قضایي سیستم له باور پرته او له رسمي محکمو متانسبه هېله، د اختلافونو د حل د طریقې په اندازه، حکومت او خلک د دې سیستم د ښه والي په موخه، د اړینو سرچینو د بېلولو لپاره دلیل نه لري.

که څه هم چې له شواهدو څخه ښکاري چ که څه هم مختلف حکومتي مکانیزمونه دې جنجال ته د رسیدنې لپاره وړاندې شوي دي، د فساد ستونزه لاهم زیاتېږي، ترهغه ځایه چې د حل یادې لارې په لومړۍ مرحله کې اجراء شي، باید وکتل شي چې پر ستونزو د دې مکانیزمونو اغېزې به څومره وي. له فساد سره د مبارزې محکمه چې د یولس قاضیان لري ، د ۲۰۱۰ کال تر جولایي پورې یې ۷۰ قضیې څېړلې وې، چې ۹۰ سلنه یې په محکومیت سره پای ته رسېدلې [۴۹۷] له فساد سره د مبارزې د ستراتېژۍ پر تطبیق د څارنې عالي اداره چې تاسي یې په اړه په د اجرائیه قوې تر سر لیک لانې په درېیم څپرکی کې ولوستل، د فساد د دوسیو په پېژندلو او څارنوالی ته په لېږلو مؤظفه ده. نیوکګرمتوجه شوي دي چې

---

[495] Liana Sun Wyler & Kenneth Katzman, Congressional Research Service, R41484, Afghanistan: U.S. Rule of Law and Justice Sector Assistance 6 (2010).
[496] *Id*
[497] *Id*

دا اداره په بشپړ ډول د جمهور رئيس ترکنترول لاندې ده او په يوې سياسي اجرائيوي وسېلې يې د بدلېدو ګواښ موجود دی.

**جمهور رئيس کرزی د نشه يي توکو قاچاق کوونکي خوشې کوي**

د ۲۰۱۰ کال د دسمبر مياشتي په وروستيو کې، ورځپانه ليکونکو دا وموندله چې جمهور رئيس کرزی د نشه يی توکو په قاچاق يو شمېر تورن بنديان، د بګرام بين المللي توقيف ځايه څخه افغان ملي توقف ځای ته د انتقال په ځای، خوشې کړي دي. په ۲۰۰۷ کال کې ی له بنده څخه يو مجرم آزاد شو، په ۲۰۰۸ کال، ۱۰۴ نفره آزاد شول او د ۲۰۰۹ کال په لومړی نيمايي کې، د ۴۵ په شمېر نور زندانيان هم آزاد شول.[۴۹۸]

د اساسي قانون ۶۴ ماده جمهور رئيس ته (د قانون له حکمونو سره سم د مجازاتو د تخفيف يا بښنې) واک ورکوي. اساسي قانون نور هم جمهور رئيس ته د مجازاتو د بښنې واک ورکوي، که څه هم د بښنې واک د محکمې له بهير او د محکوم له تورن کېدو وروسته، په سنتي توګه پلی کېږي.

آيا دا د فساد بېلګه کېدای شي ؟ دا کار په قضايي سيستم کې له عدالت څخه د خلکو په عمومي برداشت څه اغيز ولري؟ آيا دا د عمومي باور د کمزورې کېدو لامل کېدای شي؟

فساد د قاضيانو پر ګمارنې او پاتې کېدنې هم اغېز لري. په دې برخه کې د نوماندانو وروستی تصويب د جمهور رئيس کرزي سره دی چې د شخصي اړيکو او ملاتړ د شبکې رامنځ ته کېدو لامل ګرځي او د قاضيانو په ټاکنه کې مهم رول لري. په ورتيا ولاړ يو سيستم اوس هم عملي کېدو ته اړتيا لري. څرنګه چې يوې نظر سنجي څرګنده کړې ده، چې "د قاضيانو ـ د ولايت او ولسواليو د ابتدايي محکمو د رئيسانو انتصاب تر ډېره د زده کړو د ورتيا او د قانون او تخصص د تربيت له مخې نه، بلکې د ولسوالی او ولايت له رهبری سره د شخصي، قبيلوي، قومي يا سياسي تړاو پر اساس ولاړ دی."[۴۹۹]

فساد او د سرچينو نه شتون به له سولې او امنيت پرته په زيات ګمان سره ادامه پيداکړي. په ورته ډول، فساد او د قضايي سيستم نه اغېزمنتيا د افغانستان په ګوټ ګوټ کې نا امني تغذيه کوي. د راتلونکو نسلونو د رهبرانو لپاره ستره ننګونه د قضايي سيستم د بشپړتيا له قرباني کولو پرته د فساد، تاوتريخوالی او د نشه توکو د قاچاق سره مبارزه او مقابله ده.

## ج. د دولتي محکمو لپاره بديل

[498] Ryan Grim, *Karzai Releasing Scores of Drug Traffickers in Afghanistan, Wikileaks Cables Show*, Huffington Post (Dec. 27, 2010).
[499] Lorenzo Delesgues and Yama Torabi, *Reconstruction National Integrity System Survey*, The National Integrity System 54 (2007).

دولتي قضايي سيستم د طالبانو له خوا د (ورته) محکمو په جوړولو سره له اضافي ننګونو سره مخ دی. مثال، طالبان د افغانستان په زیاتو سیمو کې ثابتې محکمې نه لري، له ۲۰۱۰ کال راپدېخوا دوی تر ډېره د بين المللي وسله والو ځواکونو د فشار په ځواب کې، ګرځنده محکمو ته مخه کړې.[500] دا محکمې د پېچلي جوړښت او د خپلو لارو چارو او اصولو لرونکې دي چې مونږ په جزئياتو سره د هغو د بيانولو اراده نلرو، خو د يادولو وړ ده چې دا محکمې د افغانستان په ګوټ ګوټ کې د قوانينو په پلي کېدو کې د مرکزي دولت ځواکمنتيا له ننګونو سره مخ کوي. پداسې حال کې چې هغه هم له ستونزو خالي نه دي، د طالبانو له محکمو څخه پراخه درک دا دی چې دا محکمې ډېرې چټکې، ډېرې عادلانه او له دولتي محکمو څخه لږ فاسدې دي.[501]

### اووم . نتيجه

مونږ په دې څپرکي کې، د ۲۰۰۴ کال له اساسي قانون سره سم، د قضائيه قوي جزئيات بيان کړل. تاسې پدې څپرکي کې د قضايي خپلواکۍ او د قواوو د تفکيک مفهوم زده کړ، که څه هم چې اساسي قانون په مستيقم ډول له هر يو څخه يادونه نه کوي. د دې مفاهېمو په مطالعې سره به تاسې به پدې پوه شوي ياستی چې په يو داسې نظام کې چې پر اساسي قانون ولاړ وي، يو عدلي سيستم په څه ډول ښه عمل کولی شي، او داچې د افغانستان قضائيه قوه څرنګه پرمخ ولاړه شي.

[500] Antonio Guistozzi et al., *Shadow Justice*, Integrity Watch Afghanistan, 2012, at 12.
[501] *Id*. at 36 – 37.

## اووم څپرکی: د اتباعو اساسی حقوقه ـ مدنی او سیاسی حقوقه، او اقتصادی، ټولنیز او کلتوری حقوقه

### لومړی. سریزه

سید پرویز کامبخش ۲۴ کلن خبریال او د بلخ پوهنتون محصل له انترنیت څخه د اسلام له نظره د ښځو حقونو په هکله د معلوماتو د را اخیستلو او خپرولو وروسته په ۲۰۰۷ کال کې مقدساتو ته د سپکاوي په تور ونیول شو.[۵۰۲] په مزارشریف کې محکمې نوموړی په اعدام محکوم کړ خو د استیناف محکمې د نوموړي د جزا حکم ۲۰ کلونو ته را کم کړ.[۵۰۳] د افغانستان سترې محکمې د استیناف د محکمې د ۲۰ کالو د حبس پریکړه تأیید کړه.[۵۰۴] سره ددې ، له دوه کلن توقیف وروسته، د نوموړي د بخښنې فرمان په پټه لاسلیک او کامبخش له افغانستان څخه بهر ته پرواز وکړ.[۵۰۵] د بشري حقونو ډېرو فعالانو د کامبخش د عدلي تعقیب خلاف اعتراض وکړ او هغوی استدلال کاوه چې دا کار د بیان آزادی په حق باندی تیری دی. د کامبخش د عدلی تعقیب پلویانو استدلال کاوه هغه مواد چې په اسلام کې د ښځې د رول په هکله نوموړي ویشلي دی ګواښوونکي او کفرآمېزه دي. د افغانستان اساسی قانون نه یوازې د بیان آزادي د حق تسجیلوی بلکه دا هم ښیي چې هر اساسی قانون په افغانستان کې باید د اسلامی معتقداتو او سپېڅلي دین سره سمون ولري.

**د افغانستان اساسی قانون**

**۳ ماده**

په افغانستان کې هېڅ قانون نشی کولای د چې د اسلام د سپېڅلي دین د معتقداتو او حکمونو مخالف وی.

**۳۴ ماده**

(۱) د بیان آزادی له تېري څخه خوندي ده.

(۲) هر افغان حق لري چې خپل فکر د وینا، لیکنې، انځور او یا نورو وسیلو له لارې پدې اساسي قانون

---

[502] ZainebMineeia, *Afghanistan: Journalist Serving 20 Years for "Blasphemy,"* Inter Press Service (Oct. 21 2008), *available at*http://ipsnews.net/news.asp?idnews=44383; Abdul WaheedWafa& Carlotta Gall, *Death Sentence for Afghan Student*, New York Times, Jan. 24, 2008.
[503] ZainebMineeia, *Afghanistan: Journalist Serving 20 Years for "Blasphemy,"* IPS, Oct. 21, 2008, *available at*http://ipsnews.net/news.asp?idnews=44383; Abdul WaheedWafa& Carlotta Gall, *Death Sentence for Afghan Student*, New York Times, Jan. 24, 2008; Abdul WaheedWafa, *No Death Sentence for Afghan Journalist*, New York Times, Oct. 21, 2008.
[504] Abdul WaheedWafa& Carlotta Gall, *Afghan Court Backs Prison Term for Blasphemy*, New York Times, Mar. 11, 2009.
[505] Kim Sengupta, *Free at Last: Student in Hiding After Karzai Intervention*, The Independent (Sept. 7, 2009), *available at* http://www.independent.co.uk/news/world/asia/free-at-last-student-in-hiding-after-karzais-intervention-1782909.html; *Journalist Jailed for Blasphemy is Released Early in Afghanistan*, Associated Press (Sept. 7, 2009).

کې د راغلو حکمونو په په رعایت، څرګند کړي.

(۳) هر افغان حق لری د قانون د حکمونو سره سم مطالب بې لدې چې هغه مخکې له مخکې دولتی مقاماتو ته وښيي، خپاره او نشر کړي.

(۴) د مطبعو، راډيو او تلويزيون، د مطبوعاتو د خپرولو او د جمعي ارتباط په نورو وسايلو پورې مربوط حکمونه د قانون له لارې تنظيمېږي.

**د مباحثې پوښتنې**

۱. د یوه قاضی په توګه، تاسو د کامبخش قضيه څرنګه حل و فصل کوی؟

۲. آيا د ولسمشرۍ بخښنه، د ستونزي د حل غوره لار وه؟ ولی هو او ولې نه؟

۳. په پرتله ايزه ډول د جمهور رئيس له خوا د بخښنی دود او د محکمی د پريکړه نيونه ددی ډول قضاياو د بررسۍ لپاره ښه او بد ټکي کوم دي؟

۴. آيا پدې قضيه کې د بيان آزادي حق اود اسلامي ارزښتونو ترمنځ تضاد شتون درلود؟

۵. د اسلام د حکمونو او لدې اصولو څخه د ديني عالمانو د متفاوت تفسير له مخې، څرنګه دا قضيه حل او فصل کولای شو؟

د افغانستان حکومت د جوړښت پر څرنګوالي سر ببره، د افغانستان اساسي قانون دوهم څپرکی د افغانستان وګړو او بهرنيو اتباعو ته يو شمېر حقونه ورکوي. دوه راتلونکی څپرکي دا ډول حقونو ته ځانګړی شوي دي.

### الف. د بشري حقونو پرمختيا

د بشري حقونو د نړيوال معيارونو له مخې، دولت د بشري حقونو ملاتړ په غاړه لري. دا قواعد پدې باور ولاړ دي چې دا د حکومتونو دنده ده تر څو د هغو کسانو د بشري حقونو ملاتړ او درناوی چې د دوی تر اقتدار لاندې دي، خوندي کړي. په بين المللی سياستونو کې بين المللی بشري حقونه له دوهمې نړيوالې جګړې وروسته پرمختيا پيل کړه (د ۱۳۴۸ کال په شاوخوا کې).[۵۰۶] د خپلو اتباعو د جګړې جناياتو د وحشت په ځواب کې، حکومتونه پدې آند شول تر څو د داسې پېښو د بيا رامنځ ته کېدو د مخنيوي لپاره

---

[506] Hilary Charlesworth& Christine Chinkin, The Boundaries of International Law 201-249 (2000). Andrew Moravcsik, *The Origins of International Human Rights Regimes: Democratic Delegation in Postwar Europe*, 54International Organization 217 (2000); Tim Dunne & Nicholas J. Wheeler, Human Rights in Global Politics 1-24 (Cambridge Univ. Press 1999).

یو جوړښت رامنځ ته کړي.[٥٠٧] پداسې حال کې چې له بشري حقونو څخه سرغړونې لا اوس هم دوام لري، د دولتونو له لوري د خپلو اتباعو د بشري حقونو څخه د سر غړونې په وړاندې، نړیواله ټولنه ډېره حساسه ده او د خپل رفتار د بدلون لپاره پر سرغړوونکو باندې د فشار راوستلو په موخه، زیاتې هلې ځلې کوي.[٥٠٨] په وروستیو کلونو کې، د ملکي وګړو د بشري حقونو څخه د سرغړونې د مخنیوي لپاره، د هغوی یو شمېر آن په ١٩٩٨کال په کوسووا او په ٢٠١١ کال په لیبیا کې د وسله والې مداخلې څخه ملاتړ کوي.[٥٠٩]

**د مباحثې پوښتنې**

١. دبین المللي بشري حقونو پرمختیا په پام کې نیولو سره آیا تاسو فکر نه چې د بشری حقونو قواعد داسې یوه موضوع ده چې باید په نړیواله کچه پرمختیا وکړي او په ټولو هیوادونو په برخه کې عملي شي؟

٢. آیا تاسو فکر نه کوی چې بین المللي بشري حقونه تر دولتي حاکمیت، غوره والی ولري؟ په هغو هیوادونو کې چې له بشري حقونو څخه سرغړونه کیږي، د نړیوالی ټولنې د زیاتیدونکی وسله والې مداخلی په هکله څه نظر لری؟

### ب. وړتیا، حقوقي شخصیت او د اتباعو حقونه

وګړي د بشر بین المللي حقوقو د نورمونو په اساس، د هر وګړی بشري اساسي حقوق د هغه هیواد د قوانینو په اساس تضمین کیږي چیری چې نوموړی وګړی ژوند کوي. ددی لپاره چې یو وګړی د نوموړی حقوقو درلودونکی وي نو نوموړی باید د حقوقی شخصیت درلودونکی وي، او یا د قانون په وړاندې د یو شخص په توګه د هغه حق باید په رسمیت وپیژندل شي.[٥١٠]

د بین المللي حقوقو پر بنسټ، پرته لدې چې انسانان چېرې ژوند کوي، هغوی ټول د ټاکلو حقونو درلودونکي دي. د انسان اساسي حقونو لکه د ژوند کولو حق او له مرېيتوب څخه د آزادوالی حق ته دا

[507] *Id.* UNESCO, *Philosophical Foundations of Human Rights* (1996); *See also*Antonio Cassesse, International Law in a Divided World (1986); Louis Henkin, The Age of Rights (1990).

[508] Charlesworth&Chinkin,at 201; Henry J. Steiner, *International Protection of Human Rights*, *in* International Law(Malcolm D. Evans ed., 2d ed. 2006); Andrew Moravcsik, *The Origins of International Human Rights Regimes: Democratic Delegation in Postwar Europe*, 54International Organization 217 (2000); Tim Dunne & Nicholas J. Wheeler, Human Rights in Global Politics 1-24 (Cambridge Univ. Press 1999); Jack Donnelly, Universal Human Rights in Theory and Practice (Cornell Univ. Press 2002) 9-27.

[509] Henry J. Steiner, *International Protection of Human Rights*, *in* International Law(Malcolm D. Evans ed., 2d ed. 2006); *See also* Gareth Evans, *The Responsibility to Protect: An Idea Whose Time Has Come…And Gone?*, 22(3) International Relations, 283-98 (2008).

[510] MandanaKnustRassekhAfshar, Max Planck Institute for Comparative Public Law & International Law, 2 Max Planck Manual on Afghan Constitutional Law: Constitutional Practice & Human Rights 31 (2007).

تمایل په عام ډول انساني کرامت ته د درناوي په توګه په نظر کې نیول کېږي. د بشري حقونو نړیواله اعلامیه د دې نړیوالو بشری حقونو در ناوی کوي.[511] که چېرې یو هېواد د بشری حقونو د نړیوالې اعلامېې د رعایتولو سره موافقه کوي، پدې صورت کې دا دولت تر واک لاندې حوزه کې د ټولو انسانانو د بین المللي بشري حقونو د ملاتړ په معنی دي. سره بېره پردې، هیوادونه کولای شي د خپلو اتباعو ځیني بشري حقونو ته په اساسي قانون کې ځای ورکړی. دا تباعو دا حقونه د یوه هېواد تر قضایی واک لاندې د بشری عامو حقونو په خلاف، یوازې د اړونده هېواد د اتباعو لپاره دي.[512] د افغانستان اساسي قانون یو شمېر حکمونه شته چې د افغانستان اتباعو ته د حقونو په ورکولو باندې حکم کوي.

سیاسي حقونه د اتباعو د حقونو په توګه تعریف کېږي. په سیاسي حقونو کې د رای ورکولو حق، په ټاکنو کې د نوماندی حق او د عمومی مشارکت حق راځي.[513] دا ډول کړنې چې د یو خپلواک هېواد د تعریف لپاره لازم دی، د هغو وګړو لپاره دي چې د ملت یوه برخه جوړوي. د بیلګی په توګه دا به بې معنی وي که چېرې د ایټالیا اتباع په افغانستان کې په انتخاباتو کې ځاند کاندید او یا رایه ورکړي، ځکه چې د ایټالیا وګړي د افغان د ملت برخه نه ده.

کېدای شی تاسو تعجب وکړی څرنګه کېدای شي چې هیوادونه په ورته وخت کې هم یو لړ حقونه خپلو اتباعو ته ورکړي او هم پدې مکلف و ګڼل شي چې د بین المللی حقوقو له مخې ټول انسانانو ته هم حقونه په نظر کې ونیسي. د نړیوال حقوقو له مخې، هیوادونه د خپلو اتباعو او بهرنیو اتباعو ترمنځ د دوو لاندی شرطونو په تحقق سره توپیر قایل کېږي. لومړی، یو هېواد باید د تابعیت د ترلاسه کولو په اړه د تابعیت په هکله د په شرایطو برابر او وړ کسانو لپاره باید د تابعیت د تر لاسه کولو فرصت برابر کړي.[514] په بل عبارت، هیوادونه پخپل سر نشی کولای د هغو وګړو د تابعیت له منلو څخه ډډه وکړي چې د دولت د کورنیو قوانینو به مخې برابر شرایط ولري. دوهم، ټول اتباع باید په سیاسي نظام کې له تبعیض پرته د د ګډون حق ولري.[515] په واقعیت کې، د بین المللي حقوقو له نظره سیاسی مشارکت د اتباعو اساسي حق دی نه دبشر نړیوال حق.[516] څرنګه به چې تاسوددې څپرکي د مطالعې په ترځ کې متوجه شی، د افغانستان اساسي قانون، د سیاسي حقونو زیاته برخه افغان وګړو ته ورکوي. په ورته وخت کې، اساسي دا اساسي قانون د افغان قضایی واک پر بنسټ باندې د بین المللي حقوق سره سم د بهرنیانو لپاره دهم اساسي حقونه تضمینوي.

---

[511] Universal Declaration of Human Rights, *available at* http://www.un.org/en/documents/udhr/.

[512] MandanaKnustRassekhAfshar, Max Planck Institute for Comparative Public Law & International Law, 2 Max Planck Manual on Afghan Constitutional Law: Constitutional Practice & Human Rights 31 (2007).

[513] *Id.* at 32.

[514]. د بشري حقونو نړیواله اعلامیه، ۱۵ ماده، په لاندې انترنېټي پته تر لاس کېدای شی: **http://www.un.org/en/documents/udhr/**
("(۱) هر څوک د تابعیت لرلو حق لري؛(۲) نشو کولای هېڅوک د تابعیت له حق څخه بې برخې کړو.")

[515]. د مدني او سیاسی حقونو بین المللی میثاق ۲۵ ماده، د لاس رسی وړ په: http://www2.ohchr.org/english/law/ccpr.htm
(" هر انسان (د ټولنې غړی) به دا حق او امکان و لري چه په دوهمه ماده کې د یادشوو توپیرونو او غیر معقولو توپیرونو پرته: (الف) د عمومي چارو په اداره کې به په خپله او یا دازادو انتخاب شوو استازو پواسطه ګډون وکړي؛ (ب) په دوره ای انتخاباتو کې چه په سمو، پټو او عمومي رایو تر سره شوي وي ګډون وکړي او د رای و رکوونکو د انتخاب د ارادې د آزادی ذمه واري وي، رایه ورکړي او یا انتخاب شي؛ (ج) د عامو شرطونو سره سم د هېواد په عامه چارو کې د برابری حق ته ورسېږي.")

[516] MandanaKnustRassekhAfshar, Max Planck Institute for Comparative Public Law & International Law, 2 Max Planck Manual on Afghan Constitutional Law: Constitutional Practice & Human Rights 32 (2007).

**د لوست تمرکز**

د دېڅپرکي له مطالعي د مخه، د اتباعو اساسي حقونه او وجایب تر سرلیک لاندې د اساسي قانون دوهم څپرکی ولولئ. د هغه په مطالعي سره پدې هکله فکر وکړئ چې متفاوت حقونه چا ته ورکول کیږي. آیا دا هغه حقونه دي چې د افغانستان وګړو؟بهرنیانو؟ یا هر دواړو ته ورکول کیږي؟وروسته بیا فکر وکړي چې آیا د ځانګړو حقونو ورکول هغه بین المللي ځانګړي شرایط چې مخکې یې یادونه وشوه، پوره کوي؟

## ج. د دولت ژمني، د دولت اقدامات

پداسي حال کې چې وړ وګړي د ځانګړو حقوقو درلودنکي دي، دولت وګړیو ته ددې حقونو د خوندي کولو دنده لري. دا پدې معنی ده چې دولت په اساسي قانون کې د راغلو اساسي حقونو په خوندی کولو مکلف دی.[۵۱۷] مثال، د اساسي قانون د ۳۶ مادې سره سم، د افغانستان اتباع، حق لری "بې وسلې غونډې او مظاهرې وکړي." پدې اساس د افغانستان دولت ددې حق په رعایت باندی مکلف دی. په بل عبارت، د اساسي قانون له مخې، د افغانستان دولت نشي کولای د افغان وګرووددې ډول بې وسلې لاریون له کولو څخه مخنیوی وکړي. دا ډول کړنه د عمودي اغېز په نوم یادوي، ځکه چې د دولت او وګړیو ترمنځ اړیکې تنظیموی.[۵۱۸]

له بلې خوا، اساسي حقوق افقي اغیزمنتیا یا د خصوص اتباعو ترمنځ اړیکې نه تنظیموي.[۵۱۹] یاد شوي بیلګی ته په بیا کتو سره، وګړي پدې مکلف نه دي چې د نورو وګړیو د سوله ایزو لاریون کولو حق دنده په غاړه واخلي، ځکه دا د حکومت دنده ده. که چېرې هارون او د هغه ملګري لاریون کوي دادې اساسي قانون څخه سرغړونه نه ده – که څه هم چې دا یو بل ډول سرغړونه ګڼل کېږي – که حمید د خصوصی تبعه په توګه د مظاهرې د ګډوډولو هڅه وکړي. اما که حمید د حکومت مامور وي او د حکومت په استازیتوب د مظاهرې په وړاندې عمل وکړي، بیا نو د هغه کړنه د اساسي قانون څخه سرغړونه ګڼل کېږي. په واقعیت کې، ټول وګړي چې د مقننه، اجرائیه او قضائیه قواوو په شمول د دولت په استازیتوب فعالیت کوي، په اساسي قانون کې د راغلو حقونو په ملاتړ مؤظف دي.

د اتباعو د حقوقو د ساتنی په اړه د دولت د مکلفیت په هکله د فکر کولو بله لار داده تر څو په یاد ولرو چې د اساسي قانون څخه د سرغړوني په صورت کې باید دولت لاس په کار شي. څرنګه چې یوازې دولت د اساسی حقونو د ساتلو دنده لري نو د اساسي قانون څخه سرغړونی د دولت د مداخلې غوښتونکی دی. په دی توګه که حمید سوله ایزه لاریون ګډوډوي نو دا د اساسي قانون څخه سرغړونه نه ګڼل کیږي اما که همدا لاریون ددولت له خوا ګډوډ شي نو دا د اساسي قانون څخه سرغړونه ګڼل کیږي. لکه چې تاسو به وروسته یاد کړی، دولتي کړني همداشاني هغه وخت رامنځ ته کېدای شي چې دولت د یو کار په

[517]*Id.*
[518]*Id.*
[519]*Id.*

مخنیوي کې چې دنده یې کنټل کېږي، پاته راشي. د مثال په توګه، په هغه صورت کې چې حمید او د هغه ملګرو ته دولت اجازه ورکړي تر څو د هارون د لاریون مخنیوی وکړي.




**فرضیې: عمودی اغیز او دولتي اقدامات**

**۱ فرضیه: د شپې غلا**

فرض کړی چې روح الله د کمال کور ته ور ننوځی او د نوموړي یو څه مالونه د ځان سره وړي. د افغانستان د اساسي قانون ۴۰ مه ماده حکم کوي چې: "ملکیت له تیري څخه خوندي دی." پدې صورت کې آیا روح الله د کمال د اساسي حقونو څخه کوم یو نقض کړی دی؟

په اوله کې کېدای شي ستاسو ځواب مثبت وي ځکه چې روح الله په ښکاره خلاف کار تر سره کړی دی او له کمال څخه یې غلا کړې ده، په داسی حال کې چې روح له اساسي قانون څخه سر غړونه نه ده کړی. په یاد ولرئ چې اساسي حقوق د حکومت او وګړیو، نه دوو وګړیو ترمنځ رابطه تنظیموي. د یو خصوصي شخص په توګه، روح الله د اساسي حقوقو په ساتنې باندی باندې الزامیت نه لري. دا پدې معنی نه دي چې روح الله بد کار نه دی تر سره کړی. هغه څه چې نوموړي تر سره کړي دقیقاً یی د افغانستان جزا حقوقو خلاف کار یی کړی دی او د هغه له مخې تر عدلي تعقیب لاندې راځي. خو خپله روح الله اساسي قانون نه دی نقض کړی.

**۲ فرضیه: د برښنا لیک څارنه**

داسې و انګېرى چې د افغانستان حکومت د الکترونيکى پستي خدماتو د شرکت سره چې يو خصوصي شرکت دى د پستي خدماتو د سرته رسولو تړون لاسليک کوي. د نوموړي خصوصي شرکت کارکوونکي د کڅوړى او ليکنونه د لېږد په مهال هغوى خلاصوى. او کله کله کارکوونکي د کڅوړو د توکو څخه د ځان لپاره يو څه اخلي او ساتي يې. د دا ډول موضوعګانو په اړوند د اساسى قانون ۳۷ ماده داسې وايي: "د اشخاصو د مخابرې او ليکونو آزادي او محرميت که په ليکلي ډول وي يا د تلېفون او تلګراف يا نورو وسيلو له لارې، له تېري څخه خوندي دي." آيا پورته بيان شوى مورد د اساسي قانون نقض دى او که نه؟

که څه د الکترونيکي پستي خدماتو شرکت يو خصوصي شرکت دي، دا له اساسي قانون څخه سرغړونه ده پدې دليل چې د الکترونيکي پستي خدماتو شرکت د حکومت له لوري خدمات سرته رسوي. حکومت دا شرکت د يو عامه کار د سرته رسولو لپاره ګمارلى دى او د الکترونيکى پستي خدماتو شرکت د پيسو ورکړه د عامه خدماتو د سرته رسولو په خاطر ده. په دى توګه، پدې کار کې د دولت خدمات دخالت لري.

**۳ فرضيه:**

سيمين په حکومت کې کار کوي. هغه پرېکړه کوي چې په کور کې بنوال او خانه سامان و ګماري. دا شاني نوموړې پريکړه کوي چې د دېکار لپاره يوه مېرمن و ګماري او په همدې دليل له نارينه وو څخه غواړي دې کار ته غوښتن ليک ورنکړي او د هغوې غوښتن ليکونه نه کتل کېږي. هغه پدې پوهېږي چې ددې کار لپاره د نارينه وو يو شمېر د مېرمنو په پرتله غوره دي، خو سره ددې هم ددې دندې لپاره يوازې د ښځو غوښتنليکونه تر کتنې لاندې نيسي. د افغانستان د اساسي قانون ۵۰مه ماده په دې اړه وايي "د افغانستان اتباع د اهليت له مخې او له هر ډول توپير پرته د قانون د حکمونو سره سم د دولت خدمت ته منل کېږي." د دې مادې د حکم له مخې آيا سيمين له اساسي قانون څخه سرغړونه کړې ده؟

که څه هم سيمين د حکومت لپاره کار نه کوي او اساسي قانون يې نه دى نقض کړى ځکه چې پخپله دنده کې يې د يوه خصوصي شخص په توګه عمل کړى ده. که چېرې سيمين په حکومتى دفتر کې د کوم چا د ګمارلو په برخه کې تبعيض کړى واى، پدې حالت کې به هغه د اساسي قانون ناقضه واى ځکه چې پدې صورت کې هغې له حکومت څخه نمايندګى کوله. خو پدې مثال کې سيمين د يوه خصوصى فرد په توګه، پخپل کور کې د يو فرد د ګمارنې لپاره اقدام کړى دى.

تاسې کېداى شي په پورتنى فرضيېکې متوجه شوي ياستى، چې پخپله روح الله د اساسي حقوقو د ساتنى مسوليت نه لري، خو د کمال اساسي حقوق نقض شوي دي. په همدې دليل، ځينې قضايى مراجع پدې باور دي چې پدې مسله کې د افقي اغېز رابطه چې د دوو اتباعو ترمنځ رابطه تنظيموي شتون نه لري،

دولت د دریم شخص له لوري د اساسي حقونو د نقض په وړاند د اتباعو د حقونو څخه په ملاتړ مکلف دی. دې حالت ته غیر مستقیم افقي اغېز وایی.[٥٢٠]

**د. مدني او سیاسي حقونه د اقتصادي، ټولنیز او کلتوري حقونو په وړاندې**

د بشرد حقوقو پوهان په دودیز ډول د منفی حقونو (هغه چې دولت یی باید تر سره نه کړي) او مثبت حقونو (هغه چې دولت یی په عملي کولو باندې مکلف دی) ترمنځ توپیر په ګوته کوي.[٥٢١]

مدني او سیاسي حقونه د دولت یا حکومت په وړاندی داتباع دحقوقو ساتنه کوي.[٥٢٢] په بل عبارت، وګړي د بیان آزادی حق لري او له همدې امله دولت نشي کولای د وګړیو د بیان آزادي محدوده کړي. په همدې ډول، فرد د محرمیت حق لري څکه دولت د چا کور ته د ننوتلو او د هغوی د لیکنو او مراسلاتو د کتلو اجازه نه لري. مدني او سیاسي حقونه کله کله د منفي حقونو په نوم هم یادیږي څکه هغوی پر حکومت باندې داسې محدودیتونه وضع کوي چې له مخې یی حکومت ټاکلي کارونه نشي تر سره کولای. مدنی او سیاسی حقونه همداشانې د "دودیز" یا "لومړي نسل" حقونو په نوم هم یادیږي څکه چې د حقونو لومړی ډول دي چې د بین المللي ټولنې له خوا په بین المللي حقوقو کې شامل شوی دي.[٥٢٣] پر دې سربېره، د " مدني او سیاسي حقونو" اصطلاح د دوه ډوله حقوق په بر کی نیسي. لکه چې د بشر د حقوقو پوهان الیکس کونته او ریچارد بورچېل وایي، " پداسې حال کې چې مدني حقونه د وګړیو جسمی او رواني سلامتیا دفاع تامینوي. دا یقیني کوي چې هغوی د تبعیض قرباني نه شي، او د عادلانه محاکمې حق یی خوندي پاته شي، سیاسی حقونه په مدني ټولنه کې د وګړو بشپړ مشارکت تأمینوي. دا حقونه دموکراتیک مشارکت لکه د دولت په عامه ژوندانه کې برخه اخیستنه، د بیان او اجتماع آزادي، د فکر، وجدان او دین آزادي په بر کې نیسي.[٥٢٤]

**تعریفونه: مدنی او سیاسی حقونه**

مدنی حقونه: هغه حقونه چې د وګړو جسمی او روانی بشپړتیا، د هغوی ژوند او مصؤنیت تأمینوي.

د مدني حقونو بېلګې:

- د تبعیض نشتوالي حق

- د محرمیت حق

[520] Alex Conte & Richard Burchill, *Introduction to* Defining Civil & Political Rights: The Jurisprudence of the United Nations Human Rights Committee 6 (Alex Conte & Richard Burchill, eds. 2009).
[521] MandanaKnustRassekhAfshar, Max Planck Institute for Comparative Public Law & International Law, 2 Max Planck Manual on Afghan Constitutional Law: Constitutional Practice & Human Rights 33 (2007).
[522] Alex Conte & Richard Burchill, *Introduction to* Defining Civil & Political Rights: The Jurisprudence of the United Nations Human Rights Committee 2 (Alex Conte & Richard Burchill, eds. 2009).
[523] *Id.*
[524] *Id.* at 3-4.

- د ژوندانه حق

- د فکر، وجدان،، بيان او دين د آزادی حق، *پدې معنی چې دا حقونه د وګړو د روانيسلامتيا ساتنه کوي.*

سياسي حقونه: داسې حقونه دي چې په مدني ټولنه او سياست کې د مشارکت څواکمنتيا تضمينوي.

د سياسي حقونو بېلګې:

- د يو ځای کېدو او تشکل آزادي

- د رای ورکولو حق

- له حکومت څخه د عدل غوښتنې حق

- د فکر، وجدان، بيان او دين آزادي حق چې وګړو ته په مدني ټولنه او سياست کې ګډون اجازه وکړي.

کېدای شي تاسو متوجه شوی ياستی چې د ياد شوو حقونو څخه ځيني د دواړو يعنی مدنی او سياسي حقونو په توګه مشخص شوي دي. مثال، د بيان آزادي د يو مدني حق په توګه تعريف شوی دی ځکه د فکر آزادي د وکړو د رواني بشپړتيا سره مرسته کوي. په ورته وخت کې، د بيان آزادي چې د يو سياسي حق په توګه يادېږي ځکه وګړي د سياست او سياسی شخصيتونوپه هکله خپل نظر بيانوي، دا حق هغوی ته اجازه ورکوي چې په مدني ټولنه کې ګډون وکړي

اقتصادي، ټولنيز او کلتوري حقونه ("ESC") د مثبت حقونو په توګه وګړو ته ورکول شوي دي.[525] اقتصادي، ټولنيز او کلتوري حقونه کله کله هم د بشری حقونو د دوهم نسل حقونو په نوم يادېږي ځکه چې له مدني او سياسي حقونو څخه وروسته د بين المللي ټولنې د پام وړ ګرځېدلي دي.[526] مثال، د تعليم حق او د ناروغيو د مخنيوی او در ملنې حق هر دواړه د اقتصادي، ټولنيز او کلتوري حقونو له جملې څخه دي ځکه هغوی وګړو ته په مثبت لوري يعنې د تعليم حق يا د ناروغيو د مخنيوی او درملنې ته لاس رسي تأمينوي. پدې دليل، اقتصادي، ټولنيز او کلتوري حقونه زياتره د محتوا له مخې آرماني بڼه لری، پدې معنی چې دا حقونه داسې موارد را نغاړي چې دولت د ستونزو له امله د هغوی د تحقق او عملي کيدلو هېله کولای شي. د بيلګې په توګه، ټولو وګړو ته د لاس رسي وړ د درملنی او ناروغيو د مخنيوی د يوه کارنده سيستم د جوړېدو لپاره، دولت بايد د طبي کارکوونکو د ښوونې او روزنې لپاره يو سيستم عملي کړي، په ټول هېواد کې روغتيايی تاسيسات رامنځ ته کړي، او دا يقيني کړي چې دې مرکزونو ته

[525] *Id.* at 2.
[526] *Id.*

په دوامداره توګه طبي تجهیزات لیږدول کیږي. په همدې ترتیب، د یو سراسري تعلیمی نظام جوړول پیچلی او ګران کار دی. دداسې حقونو عملي کول آن د یو ښه حکومت لپاره هم آسانه نه دی.

سربیره پردې، د مدني او سیاسي حقونو په پرتله د اقتصادي، ټولنیز او کلتوري حقونو عملي کول لا ستونزمن دي. د بیلګی په توګه، فرض کړی چی یو څوک د بیان د آزادئ د سرغړونی په اړه د حکومت په خلاف دعوه اقامه کوي ځکه نوموړی د حکومت په خلاف لیکنه کړی. که چیرې د قاضی پریکړه د مدعي په ګټه وي، هغه کولای شي له زندان څخه د نوموړي د خوشي کیدو امر ورکړي. له بلې خوا، فرض کړی چې یو فرد د حکومت خلاف ددې ادعا کوي چې د نوموړي په اړونده ولایت کې یی د تعلیم کافی فرصتونه نه دي برابر کړي او د تعلیم حق یی نقض کړی دی (اقتصادي، ټولنیز او کلتوري حقونه). آن که قاضی د فرد په ګټه هم حکم وکړي، د حکومت لپاره به ډیره ستونزمنه وي چې په هغه ولایت کې د تعلیم یو مناسب نظام را منځ ته کړي. ځکه د محکمی د پریکړی د عملي کولو لپاره د ښوونځیو آبادولو، د ښوونکو روزلو او همدارنګه کافی سرچینو ته اړتیا ده.

سره له دی چې په عام ډول مدنی او سیاسی حقونه د منفي حقونو او اقتصادي، ټولنیز او کلتوري حقونه د مثبت حقونو په توګه طبقه بندي کیږي،ددې دوو ډلو حقونو ترمنځ تداخل شتون لري. د مثال په توګه، د رای ورکولو حق (منفي حق) نه یوازې دا چې د رایه ورکونی له محدودلو څخه منع کوي، بلکه دولت مکلف ګرځوي تر څو د رای ورکولو ځایونه او رای پاڼې هم برابرې کړي. په ورته توګه، د روغتیا حق (مثبت حق) هم د دولت له لوري د روغتیایي تاسیساتو یو سیستم جوړېدو ته اړتیا لري او هم دولت باید د درملنې او ناروغی مخنیوی سیستم ته د لاس رسی په برخه کې له محدودیتونو څخه ډډه وکړي.

**مدني او سیاسي حقونه د اقتصادی، ټولنیزو او فرهنګی حقونو په و ړاندې**

<u>**سیاسی او مدنی حقونه**</u>

- **منفی یا دفاعی حقونه**
- له دولت څخه آزادي
- د دولت پر اعمالو د محدودیت وضع کول
- د دولت له لوري د اتباعو په اساسي حقونو کې د نه مداخلې منل
- " د دودیزو" یا "د لومړي نسل" بشري حقونه

مثالونه: له مرېتوب څخه آزادي، د بیان آزادي، له تبعیض څخه آزادي، د ټولنو آزادي، د محرمیت آزادي، د مالکیت حق، د انتخاباتو حق.

<u>**اقتصادی، ټولنیز او فرهنګی حقونه**</u>

- **مثبت** حقونه

- په دولت کې آزادي

- د دولت له لوري د مثبتو کړنو تر سره کول

- " د دوهم نسل" بشري حقونه

مثالونه : د تعليم حق، د ناروغي د مخنيوی او درملنې حق، د هستوګنې حق، د کار حق، د مناسب ژوندانه د معيار درلودلو حق.

**مدني او سياسي حقونه د اقتصادی، ټولنيزو او کلتوري حقونو په و ړاندې:**

**يوه بين المللي مباحثه**

کله چې ملګرو ملتو د بشري حقونو نړيواله غير الزامي اعلاميه (UDHR) تصويب کړه، په پيل کې بين المللي ټولنې په پام کې درلود تر څو پدې اعلاميه کې راغلو حقونو ته الزامي بڼه ورکړي.[٥٢٧] بيا هم، د اقتصادی، ټولنيزو او کلتوري حقونو کټګوري او د مدني او سياسي حقونو د لومړيتوب په برخه کې دولتونو يو د بل سره اختلاف درلود.[٥٢٨] پردې سربېره، د حقونو د هرې ډلې عملي کېدل مختلفو لارو چارو ته اړتيا لري. دا چې مدني او سياسي حقونه د دولت د ارادې سره تړاو لري، کېدای شي په چټکۍ سره عملي شي. [٥٢٩] له بلې خوا، اقتصادي، ټولنيز او کلتوري حقونه د حکومت له لوري يوې هر اړخيزې ټولنيزې او اقتصادي تګ لارې ته اړتيا لري او په همدې وجه د سرچينو شتون او د لاس رسی ته اړتيا لري او په چټکۍ سره د اجرا وړ نه دي.[٥٣٠]

په نتيجه کې، د بين المللي ټولنې له خوا د بشري حقونو په نړيواله اعلاميه کې يادشوي حقونه په دوو برخو وويشل شول: (۱) مدني او سياسي حقونه او (۲) اقتصادي، ټولنيز او کلتوري حقونه.[٥٣١] د مدني او سياسي حقونو بين المللي ميثاق(ICCPR) او د اقتصادي، ټولنيزو او کلتوري حقونو بين المللي ميثاق (ICESCR).[٥٣٢] د اقتصادي، ټولنيز او کلتوري حقونه په پرتله، د مدني او سياسي حقونو د کارولو په سر زيات توافق شتون لري. لکه، د اقتصادي، ټولنيزو او کلتوري حقونو د بين المللي ميثاق په پرتله د مدني او سياسي حقونو د بين المللي ميثاق د لاسليک کوونکو هيوادونو شمېر زيات دی. پداسې حال کې چې د مدني او سياسي حقونو د بين المللي ميثاق سره ۱۶۷ هيوادونه يو ځای شوي دي، د اقتصادي،

[527] Alex Conte & Richard Burchill, *Introduction to* Defining Civil & Political Rights: The Jurisprudence of the United Nations Human Rights Committee 2 (Alex Conte & Richard Burchill, eds. 2009).
[528] *Id.*
[529] *Id.*
[530] *Id.* at 2-3
[531] *Id.at 3.*
[532] *Id.*

ټولنيزو او کلتوري حقونو د بين المللي ميثاق لاسليک کوونکو هيوادونو شمير۱۶۰ هيوادونو ته رسيږي.[۵۳۳]

پداسي حال کي چي په بين المليه ټولنه کي مدني او سياسي حقونه لږ لانجمن دي، ډېر هيوادونه د اقتصادي، ټولنيز او کلتوري حقونو په ارزښت باندې اعتراف کوي، او د هغو د تحقق لپاره يی مختلفي لارې غوره کړې دي. د امريکی متحده ايالات چي تړون يی لاسليک اما تصويب کړی نه دی، خپل اقتصادي آزاد بازار او هغه ته د بيلو شوو سرچينو ته په پام سره وايي چي د اقتصادي، ټولنيز او کلتوري حقونه منل هومره مهم نه دي.ددې دريځ پلويان استدلای کوي چي سرچينو د تخصيص په هکله په ډېر ښه ډول د قانون جوړوونکو او اجرائيه قوې سره دی. له بلي خوا،ددې نظر زيات شمېر مخالفان استدلال کوي چي ICESR ته له مشابه ژمنتيا پرته هيوادونه به ټولو وګړو ته د کافی سرچينو په تأمين کې د ماتي سره مخامخ شي. له دې نظره، د ICESR تصويبول د ټولو لپاره د برابري په تضمين کي لومړی او ضروري ګام ګڼل کيږي.

### د مباحثي پوښتني

۱. آيا تاسو فکر کوئ چي يو تبعه بايد د دولت خلاف د اقتصادي، ټولنيز او کلتوري حقونو سرغړونی د قضيي په اقامه باندې قادر وي؟

۲. په افغانستان کي، رسنيو او ولسی جرګي، د اقتصادی، ټولنيزو او فرهنګی حقونو د سرغړوني موضوع ځو ځو ځلي په ټول هيواد کي خپره کړي. انتقادکوونکو شکايت کړی دی چي د افغانستان حکومت اقتصادي، ټولنيز او کلتوري حقونه په نابرابر ډول عملي يا د ولايتونو په وړاندې د متفاوت چلند ښخه کار اخلي.ددې په ځواب کي دولت وايي چي د ټولو ولايتونو د پرمختيا لپاره پوره سرچيني په لاس کي نه لري.[۵۳۴] آيا تاسو فکر کوی چي دا نيوکه سمه ده؟ آيا دولت ځواب سم دی؟ پداسي حال کي چي د قانون له مخي دولت د اقتصادي، ټولنيزو او کلتوري حقونو په تحقق مکلف وي خو په عين حال کي ددې کار لپاره لازمي سرچيني په واک کي نه لري، د حل تر ټولو غوره لار کومه ده؟

#### ه. د درناوي، ملاتړ او اجرا کولو دنده

په وروستيو کي، پوهانو د دولت د مسوليت له مخي د اتباعو حقوق طبقه بندي کړي دي. په ياد و لرى چي د منفی په وړاندې دمثبت اړخ له مخي د حقونو طبقه بندي يا د دولت د دندو د ډول پر بنسټ باندې، يوازې د حقونو د تعريفولو او د جوړوني مختلفې طريقي دي. کېدای شي ځيني يو د بل سره تداخل ولري.

---

[۵۳۳]. د تړونونو وضعيت يا حالت : د مدني او سياسی حقونو بين المللی ميثاق (لدې وروسته ICCPR )
http://treaties.un.org/Pages/ViewDetails.aspx?src=TREATY&mtdsg_no=IV-4&chapter=4&lang=en;
د تړونونو وضعيت يا حالت : د اقتصادي، ټولنيزو او کلتوری حقونو بين المللی ميثاق:
International Covenant on Economic, Social, and Cultural Rights,
http://treaties.un.org/Pages/ViewDetails.aspx?src=TREATY&mtdsg_no=IV-3&chapter=4&lang=en.

[۵۳۴]. دا معلومات د پروفيسور محمد اسحق زاده د افغانستان په امريکايي پوهنتون کي د حقوقو اوسياسی علوم اسيستانت پروفيسور له خوا تيار شوی دي.

لدې ډلې څخه په پراخه پیمانه درې ډوله دندې منل شوې دي: د درناوي کولو دنده، د ملاتړ کولو دنده، او د اجرا کولو دنده.[535]

**د درناوي کولو دنده:** د له منفي حقونو څخه د دوديز مفهوم سره په يوه رديف کې قرار لري. د درناوي کولو دندې له مخې، دولت بايد د وګړيو د حقونو درناوی وکړي داسې چې دولتونه د دې حقونو د هر ډول منافی کوونکو اقداماتو څخه ډډه وکړي. د بيلګې په توګه، د رای ورکولو د حق اړوند، دولت بايد د رای ورکولو ځايونو ته د وګړو د لاس رسي د مخنيوي څخه ډډه وکړي.

**د ملاتړ کولو دنده:** دولت بايد ددريګړی له خوا د وګړيو د حقونو د تخلف مخنيوي وکړي. د بيلګې په توګه، د رای ورکولو د حق له مخې، دولت بايد داسې قوانين تصويب او تر اجرا لاندې ونيسي چې رای ورکولو په برخه کې د نورو له خوا د وګړو د مزاحمت مخنيوی وکړي.د ملاتړ کولو دنده غير مستقيم افقي اغېز مفهوم ته ورته والی لري چې تاسو د هغه په هکله مخکې معلومات تر لاسه کړل.

**د اجرا کولو دنده:** د مثبت حقونو دوديز مفهوم ته ورته دي. د دندې د اجراکولو له مخې، دولت بايد اقتصادی او ټولنيز سيستمونه تر لاس لاندې ونيسی چې وګړو ته د خپلو حقونو د تحقق اجازه ورکړي. د مثال په توګه، د رای ورکولو په اړه، دولت بايد دا يقيني کړي چې په ټول هېواد کې د رای ورکونې ځايونه جوړ شوي دي، رای پاڼې چاپ او د رای اچونې ځايونو مامورين د چارو د پرمخ بېولو لپاره تيار دي.

لاندې جدول ښيي چې څرنګه مختلف مدني او سياسي حقونه د درناوي کولو دندې، ملاتړ کولو دندې او اجرا کولودندې درلودونکې دي.

| حقونه | د حقونو برخې | | |
|---|---|---|---|
| | د درناوي کولو دنده | د ملاتړ کولو دنده | د اجرا کولو دنده |
| د ژوندکولو حق | له قانوني بهيير پرته دولت د هيچا د ژوند حق بايد وا نخلي | دولت بايدقوانينو د تصويب له لارې چې نورو د ژوندانه پای ته رسول لپاره مجازات وټاکي | دولت بايد داسې ټولنيز جوړښت رامنځ ته کړي چې په طبيعی ژوندکولو په برخه کې د وګړو سره مرسته وکړي. مثال، د تاوتريخوالي او/يا د روغتيايی خدماتو د برابرولو څخه مخنيوي |
| د ټولنو جوړولو | دولت نبايد وګړي له | دولت بايد د دريمګړي له خوا | دولت بايد داسې ټولنيز |

535 MandanaKnustRassekhAfshar, Max Planck Institute for Comparative Public Law & International Law, 2 Max Planck Manual on Afghan Constitutional Law: Constitutional Practice & Human Rights 35 (2007).

| | | | |
|---|---|---|---|
| آزادي | سوله ايزو مظاهرو څخه منع کړي | د قانوني مظاهرو د ګډوډلو مخنيوي وکړي د بيلګی په توګه په ځيني هيوادونو کی پوليس د قانوني لاريون کوونکو ساتنه کوي | جوړښت رامنځ ته کړی چی د عامه ګټو په خاطر مظاهرو کولو کی مرسته وکړی. |

مهمه ده په ياد ولرو څرنګه چې پمخکې د مدني او سياسي حقونو په وړاندې د اقتصادي، ټولنيز او کلتوري حقونو په اړه د بين المللي مباحثې په ترڅ کې څرګنده شوه، نژدې ټول هيوادونه د درناوي کولو د دندې اهميت په رسميت پېژني. د ملاتړ کولو دنده يو څه پاروونکې بحث دی، سر ددې ځيني بين المللي بنستونه له هغه ډلې د بشري حقونو کمېټه (د مدني او سياسی حقونو ميثاق پر تطبيق باندې څېلواک څارونکې بنسټ) د ملاتړ کولو دنده او غير مستٌقيم افقي اغېز په رسميت پېژني.[٥٣٦] د اجراکولو دنده تر هغو لاهم بحث پاروونکې ده، يو شمېر هيوادونه د هغې څخه په جديت ملاتړ کوي او بيا نور پدې باور دي چې د تطبيق کولو دنده لکه بين المللي بشري حقونه، په سمه طرح شوې نه ده.

**د مباحثې پوښتنې**

آيا تاسو فکر کوی چې دولتونه بايد د اساسي قانون سره سم له مثبت حقونو څخه ملاتړ او د اجرا کولو دنده تر سره کړي؟ د قانوني چوکاټ په کومه يوه برخه کې د وګړو د ګټو څخه د دفاع په خاطر ټولنيز، اقتصادي او سياسي جوړښتونه جوړول ځای ولري؟ په اساسي قانون کې؟ په موضوعه قوانينو کې؟ په کورنيو قوانينو کې د بشری حقونو د بين المللي قواعدو د ادغام له لارې؟ ولې؟

**و. د افغانستان اساسي قانون او بشري حقونه**

د "اتباعو اساسي حقوق او وجايب" تر سر ليک لاندې د افغانستان اساسي قانون په دوهم څپرکي کی د افغانستان د اتباعو لپاره د ټولو تضمين شووحقونو جزئيات وړاندې کوي. دا اساسي قانون د مخکنيو اساسي قوانينو په پرتله د فردي حقونو په هکله ډېر دقيق حکمونه د ځان سره لري.ددې حکمونو په شموليت سره، تدوين کوونکو بشري حقونو ته خپله ژمنتيا ښودلې ده.[٥٣٧] پدې اړوند، د افغانستان اساسي قانون په عام ډول د اساسي قانون په پرمختيا کې له ځانه يوه ښېلګه ښيي. د بشري حقونو په پراختيا سره،

[٥٣٦]. وګوری:
UN Human Rights Committee, General Comment No. 31:The Nature of the General Legal Obligation Imposed on States Parties to the Covenantpara. 8, adopted on 29 March 2004 (2187th meeting), CCPR/C/21/Rev.1/Add. 13.

[٥٣٧]. د افغانستان اساسي قانون، دوهم څپرکی

څرنګه چې مخکې هم ورته اشاره وشوه، اساسي قانون ډیر ځانګړي حکمونه لري چې د اتباعو حقوق تضمینوي.[۵۳۸]

د افغانستان په اساسي قانون کی مدنی او سیاسي حقونه په دوه ډولونو کې یاد شوي دي : (الف) مدني حقونه چې شخصي امینت او سلامتیا تضمینوي، او (ب) سیاسي او دموکراتیک حقونه چې په سیاسي نظام او مدني ټولنه کې د وګړو ګډون ته اجازه ورکوي او په همدی توګه په اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو کې. د حقوقو دا دری کټګوری چې د افغانستان په اساسي قانون کې تسجیل شوي، په لاندې توګه بیان شوي دي.

**د مباحثې پوښتنې**

۱. ستاسی په اند اساسي قانون ولی په تفصیلي ډول سره فردي حقونه بیان کړي؟

۲. آیا تاسو فکر کوی چې دا د افغانستان د وګړو د حقو قو د ساتنی څخه یوه غوره لار ده؟ ولې/ او ولې نه؟ پدې برخه کې تاسو کوم ډول محدودیتونه په ګوته کولای شی؟

**د حقوق یوه په توګه د اساسي حقو قو په اړه د شکایتونو ارزونه[۵۳۹]**

تاسو کېدای شي د لاندني در ګونې پړاو څخه په ګټه اخیستنې سره پریکړه وکړئ چې آیا یو کس د اساسي حقونو د نقض په خاطر خپله دعوا وړاندې کړای شي:

۱. د ادعا شوي حق محدوده معلومه کړی. له هغه وروسته معلوم کړئ چې آیا دا محدوده سلوک، وضعیت یا ادعا شوي ګټی تر پوښښ لاندې نیسي او که نه، یا دا چې مدعی د حق مستحق دی او که نه.

۲. که چېرې د ادعا شوي سلوک، وضعیت یا ګټي مدعی تر پوښښ لاندې راولي، په موضوع کې حق شتون لري.وروسته په بله مرحله کې دا موضوع ارزول کېږي چې آیا حق نقض شوی او که نه.

۳. که چېرې حق نقض شوی وی، نو بیا معلومه کړی چې د نقض مورد موجه دی او که نه.

---

[538] Jack Donnelly, Universal Human Rights in Theory and Practice9-27 (Cornell Univ. Press 2002); *see also* A. Mark Weisburd, *Using International Law to Interpret National Constitutions*, 22 ASIL Proceedings (2005).

[۵۳۹]. د دری ګوني پړاو د بهیر لپاره وګوری:

MandanaKnustRassekhAfshar, Max Planck Institute for Comparative Public Law & International Law, 2 Max Planck Manual on Afghan Constitutional Law: Constitutional Practice & Human Rights

**د لوست تمرکز: د حقوقي ژباړې اهمیت**

د افغانستان د اساسي قانون انګلیسي ته د ژباړل شوي متن د شنني او تحلیل په مهال، مهمه ده په یاد ولرو چې کېدای شي ژباړه مبهمه وي. ژباړه آن کېدای شي دا څرګنده کړي چې ولې ځینې حکمونه په انګلیسي ژباړه کې روښانه نه دي. دقیقه او صحیح حقوقي ژباړه ډېره مهمه ده. له هغې پرته، خلک د نړۍ په ګوټ ګوټ کې کېدای شي د هغه څه په هکله چې د افغانستان په اساسي قانون او نورو موضوعه قوانینو کې لیکل شوي دی، غلط انځور ولري. کله چې تاسو د افغانستان اساسي قانون او نور موضوعه قوانین په انګلیسی ژبه باندې مطالعه کوي، همیش شاته ولاړ شی او اړونده ماده په دري یا پښتو باندې مطالعه کړي. دا به تاسو ته فرصت درکړي چې د ژابړې د دقت په هکله وپوهېږی، یا دا چې احتمال لري انګلیسي ژباړې په قانون کې د یو مفهوم معنی ته تغییر ورکړی وي.

## دوهم. مدني حقونه: د شخص د امنیت او سلامتیا حقونه

### الف. د ژوندانه حق

**د افغانستان اساسي قانون**

**۲۳ماده**

ژوند د خدای (ج) بخښنه او د انسان طبیعي حق دی، هېڅوک له قانوني مجوز پرته لدې حق څخه بې برخې کېدای نشي.

د ژوندانه حق د یو بنسټیز حق په توګه پېژندل شوی دی ځکه چې له هغه پرته، بشری حقونه معنی له لاسه ورکوي. د بشري حقونو کمېټه دا حق د یو "غوره حق" په توګه بولي.[540] له ژوندانه څخه د برخمن کېدو حق په بین المللي حقوقو کې د دی حق څخه دولتونه سترګی نشي پټولای،[541] او د افغانستان اساسي قانون د ژوندانه حق د اضطراري حالت په وخت کی هم د ځنډ وړ نه ګڼي. د ژوندانه حق دولت پدې مکلف کوي چې هم د دولتي مقاماتو او هم د دریم شخص له لوري له ژوندانه څخه د اختیاري بې برخې کېدو مجازاتو د مخنیوي له لارې د ژوند ساتنه وکړي.

### ب. د آزادي او انساني کرامت حق

**د افغانستان اساسي قانون**

**۲۴ ماده**

[540] Alex Conte, *Security of the Person*, *in* Defining Civil & Political Rights: The Jurisprudence of the United Nations Human Rights Committee 141 (Alex Conte & Richard Burchill, eds. 2009).
[541] International Covenant on Civil and Political Rights, art. 4(2) [hereinafter ICCPR].

(۱) آزادي د انسان طبيعي حق دی. دا حق د نورو له آزادۍ، او له عامه مصالحو پرته چې د قانون له لارې تنظيمېږي حدود نه لري.

(۲) د انسان آزادي او کرامت له تېري خوندي دی.

(۳) دولت د انسان د آزادي او کرامت په ساتنه او درناوي مکلف دی.

**۴۹ ماده**

(۱). د جبري کار تحميل منع دی.

(۲) د جګړې، آفتونو او نورو داسې حالاتو کې چې عامه ژوند او هوساينه تهديد کړي فعاله برخه اخيستنه د هر افغان ملي وجيبه ده.

(۳) پر ماشومانو د کار تحميل جواز نه لري.

د آزادۍ حق د اساسي حقوقو د جملې څخه يو حق دی چې د افغانستان اساسي قانون هغه تسجيل کړی دی. د آزادي حق معمولاً په محدود مفهوم سره تفسير کېږي لکه د جسمي محدوديت يا بندی کېدل او دا مفهوم مطلق نه دی. ۲۴ ماده وايي چې د آزادي حق" د نورو له آزادۍ، او له عامه مصالحو" په خاطر محدود کېدای شي قانون بايد هغه حالات روښانه کړي چې د هغی په اساس دولت د (نورو آزادي) يا (عامه مصالح) نقض کولای شي.

ستاسی په اند، د کومو دلايلو په ساس د حکومت له خوا د ازادۍ حق نقض کيدای شي؟ د جزا قانون اکثراً دا په ګوته کوي چې د بندي کولو له لارې د آزادي د نقض کوم ډول اعمال د توجيه وړ دی. د جزا قانون د مختلفو جرمي اعمالو يو لست (لکه قتل، غلا، سرقت او نور) چې په کافی اندازه د "نورو آزادي" يا " عامه مصالحو" څخه جدی تخلفات ګڼل کېږي او د حکومت له لوري د آزادي د حق نقض توجيه کوي.

په همدی توګه ۲۴ ماده د انساني کرامت له حق څخه هم يادونه کوي چې اکثراً د آزادي له حق خخه د يو خپلواک حق په توګه په نظر کې نيول کېږي. ستاسو له نظره د کرامت حق په څه معنی دی؟ دا حق څرنګه حمايه او نقض کېدای شی؟ په يوه نظر، د بشري حقونو هر ډول نقض د انسانی کرامت د حق د نقض په معنی هم دی. که يو زنداني شکنجه يا وژل کېږي، د هغه شخصي حريم تر تېري لاندې راځي، يا دا چې د نوموړي مالونه مصادره کېږي، تاسو ويلای شی چې د نوموړي د انساني کرامت حق نقض شوی دی.

۴۹ ماده وايی، چې اجباری کار منع دی. ۴۹(۱) ماده حکم کوي چې اجباري کار په ټوليز ډول منع دی. د ۴۹ (۳) مادې له مخې د ماشومانو کار په ځانګړي ډول منع دی. پام وکړی چې ۴۹(۱) ماده دا نه وايي چې د هغه حکمونو يوازې د لويانو د اجباري کار سره تړاو لري. ستاسو په نظر آيا ۴۹(۳) ماده د ۴۹(۱) مادې سره د مفهوم د يو شان والي له امله اضافي نه ده؟ د هغه خلاف، آيا تاسو فکر نه کوی چې

۴۹(۳) ماده له ۴۹(۱) مادې څخه خپلواکه معنی لري؟ آیاددې دواړو جزو یعنی د ۴۹ (۱) او د ۴۹ (۳) ادغام دلیل شتون نه لری؟ یا دا چې دا یوه داسې بېلګه ده چې د نامرتبې مسودې پر بنسټ باندې تیاره شوې ده؟

۴۹(۲) ماده پدې بیان سره چې ټول افغان اتباع "د جګړې، آفتونو او نورو داسې حالاتو کې چې عامه ژوند او هوساینه تهدید کړي" په فعاله برخه اخیستنې باندې مکلف ګڼي، د له اجباري کار څخه پر آزادی باندې محدودیت نه وضع کوي. ستاسو له نظره دا په څه معنی ده؟ یو له ممکنو تفسیرونو څخه کېدای شي دا وي چې د جګړې په مهال د یوې طرح مسوده وړاندې کوي. د یوې طرح مسوده هغه مهال رامنځ ته کېږي چې حکومت د جګړې په وخت کې په وسله والو ځواکونو کې د اتباعو خدمت ته اړتیا پیدا کړي. ستاسو له نظره نور کوم شیان ۴۹(۲) ماده توجیه کولای شي؟

په واقعیت کې د ۴۹(۲) په اړه امکان لري د اساسي قانون د مسودې تدوینوونکو غوښتل چې دواړه جزونه یعنی ۴۹(۱) او ۴۹ (۳) په یوه ماده کې راولی. د ۴۹ مادې یو بل تفسیر دا هم کېدای شي چې ۴۹(۲) یوه استثناء ده چې ۴۹(۱) اصلاح کوي نه ۴۹(۳) پدې معنی چې په ماشومانو باندې د اجباري کار تحمیل په قطعی ډول سره منع دی او دا چې ماشومان "د جګړې، آفتونو او نورو داسې حالاتو کې چې عامه ژوند او هوساینه تهدید کړي" په فعاله برخه اخیستنې باندې مکلف نه دي. که د تدوین کوونکو مقصد دا وي، نو مطلب په څرګند ډول نه دی بیان شوی. ځکه چې تدوین کوونکو په آسانی سره کولای شو پر ۴۹(۲) پورې د یوې جملې په زیاتوالي سره ووایي چې ماشومان ددې حکم تابع نه دي؟ یا دا چې ولې ۴۹(۲) ماده نه وایی "د جګړې، آفتونو او نورو داسې حالاتو کې چې عامه ژوند او هوساینه تهدید کړي" د هر لوړ عمر درلودونکی افغان ملي وجیبه ده؟ د ۴۹ مادې واقعي معنې صراحت نه لري. ستاسو په نظرددې مادو غوره تفسیر کوم دی؟ ولې؟

### ج. له تبعیض څخه آزادی

**د افغانستان اساسي قانون**

**۲۲ ماده**

(۱) د افغانستان د اتباعو تر منځ هر راز تبعیض او امتیاز منع دی.

(۲) د افغانستان اتباع ښځې او نارینه د قانون په وړاندې مساوي حقوق او وجایب لري.

**۵۰ ماده**

(۴) د افغانستان اتباع د اهلیت له مخې او له هر ډول توپیر څخه پرته د قانون له حکمونو سره سم د د ولت خدمت ته منل کېږي.

برابري د مدني حقونو بنسټ جوړوی، او له تبعیض پرته آزادي د برابرئ حالت په راوسټلو کې مرسته کوي. د افغانستان اساسي قانون له تبعیض څخه د آزادئ موضوع (همداشانې د تبعیض د نه شتون په نوم

له هغه یادونه شوی ده) په ۲۲ او ۵۰ مادو کې راغلې ده. تبعیض هغه وخت رامنځ ته کیږي چې د خلکو ترمنځ د ورته دریځ په شتوالي کې، متفاوت چلند وشي.

په یاد ولرئ چې ۲۲ او ۵۰ مادې یوازې د افغانستان د اتباعو د اعمالو په برخه کې د پلي کېدو وړ دي. دا پدې معنی دي چې د افغانستان حکومت د خپلو اتباعو تر منځ تبعیض نه مني، اما کېدای شي د دوو لاندینوی شرطونو په موجودیت کې، د افغاني اتباعو او بهرنیانو ترمنځ تبعیض رامنځ ته شي: (۱) وګړي د تابعیت د ترلاسه کولو لپاره د باور وړ ادعا لری، او (۲) اتباع له تبعیض پرته په سیاسي نظام کې د ګډون یا مشارکت اجازه ولري. تاسو به وګوری چې دا دوه شرطونه په ۴ او ۳۳ مادو کې چې دهغو په هکله وروسته بحث کیږي، تر سره شوی دی. په همدی توګه تاسو باید په پام کی ولری چې ۲۲(۱) ماده د افغانی اتباعو ترمنځ هر ډول تبعیض او توپیر منع کړی دی، پداسي حال کې چې ۲۲(۲) ماده په ځانګړي ډول جنسیتی تبعیض منع کوي. آیا لازم به نه وي چې ۲۲ (۱) ماده پر جنسیت باندې ولاړ تبعیض هم پخپل ځان کې را ولي؟ ستاسو په آند، ولې د اساسي قانون تدوین کوونکو د ۲۲ مادې ۱ او ۲ جزونه تسجیل کړي دي؟

تساوی یا برابری دوه جزونه لري: (۱) د قانون په وړاندې برابري، او (۲) د قانون یو شان پلي کول.[542] د قانون په وړاندې برابري د ټولو وګړو د حقوقي شخصیت درلودلو یا د قانون په وړاندې د شخص د حق پیژندلو په معنی دی. پداسي حال کې چې د افغانستان اساسي قانون حقوقي شخصیت په څرګند ډول نه یادوي، دا مفهوم له ۲۲ مادې څخه استنباط کیږي. د قانون یو شان پلي کېدل په دې معنی دي چې قانون باید د نژاد، جنسیت، مذهب، ژبې، سیاسی تړاو او نورو پر بنسټ له تبعیض پرته د ټولو وګړو سره په برابر شکل چلند وکړي. د قانون د یو شان پلي کېدو حق پدې معنی نه دي چې حکومت باید ټول وګړي او ډلې یو شان و ګڼي. ځیني وختونه نا برابر چلند د توجیه وړ وی. لکه، داچې یوازې ښځې ماشوم زیږوي، لدې امله حکومت د حاملګي په مهال ځیني روغتیایی آسانتیاوی د ښځو لپاره په پام کې نیسي چې نارینه یې نه لري. په ټولیز ډول، یوازې نا معقول یا ذهني توپیرونه منع دی.[543] د ۵۰ مادې یو بند وایی چې په دولت کې د خدمت په هکله د حکومت پرېکړې د "قانون له مخې" تبعیض نه کوي.ددې مادې حکم حکومت ته امکان ورکوي چې د ګمارنې پر مهال معقول او منطقي تبعیض څخه کار واخلي. د بیلګې په توګه، د قاضیانو او مدافع وکیلانو په ټاکلو کې چې د قوانینو سره سر او کار لري، دا خبره معقوله او منطقي ښکاري چې ددې کار ته غوښتونلیکونه ورکونکي باید باسواده او حقوقي زده کړی ولري، آن که دا شرط د هغو چا په وړاندې چې بې سواده دي او حقوقي تعلیمات و نه لري، تبعیض هم وګڼل شي.

د تبعیض ممنوعیت، مستقیم او غیر مستقیم تبعیض دواړه تر پوښښ لاندې نیسي.[544] مستقیم تبعیض هغه وخت رامنځ ته کیږي چې یو قانون په صراحت سره د مختلفو وګړیو ترمنځ توپیر ته اجازه ورکوي. داسې توپیر هغه مهال رامنځ ته کیږي چې که د مثال په توګه یو قانون حکم وکړي چې د هرات ولایت

[542] MandanaKnustRassekhAfshar, Max Planck Institute for Comparative Public Law & International Law, 2 Max Planck Manual on Afghan Constitutional Law: Constitutional Practice & Human Rights 55 (2007).
[543] *Id.* at 56.
[544] *Id.* at 57.

ماشومان ښوونځی ته تلای شي او د بلخ ولایت ماشومان ښوونځی ته نشي تلای. غیر مستقیم تبعیض هغه وخت رامنځ ته کېږي چې قانون په صراحت سره د یوې ډلې خلاف په تبعیض حکم نه کوي، اما د یوې ډلې په پرتله د قانون اغیز په بله ډله باندې زیات وي. د بیلګی په توګه، که یو قانون حکم وکړی چې نارینه کارکوونکی نشی کولای له دوو اونیو څخه زیات کورني اړوند رخصت واخلي، کېدای شي دا کار پر ښځو باندې چې له زیږون وروسته د بیا روغتیا موندني لپاره اوږد رخصت ته اړتیا لري، یو شان نه وي.

**د. د تابعیت حق**

| د افغانستان اساسي قانون |
|---|
| **۴ ماده** |
| (۴) د ملت هېڅ یو فرد د افغانستان له تابعیت څخه نه محرومېږي. |

۴ ماده د "ملت ټولو وګړیو" ته د تابعیت حق ورکوي. څرنګه چې مخکې یی یادونه وشوه، دا ماده حکومت ته یوازې هغه حقوق ورکوي چې په افغاني اتباعو پورې اړه لري، نه پردی اتباع. بیا هم باید ووایو چې ۴ ماده " د ملت وګړي" نه تعریفوي. داسي یو حکم ددې معلومول ګران کوي چې څوک د افغانستان د تابعیت تر لاس کولو حق لري. آیا هر هغه څوک چې په افغانستان کې زیږېدلی وی؟ هر هغه څوک چې مور او پلار یی افغانان وي؟ که چېرې یو بهرنی په افغانستان کې ۲۰ کاله ژوند وکړي او د افغانستان تابعیت وغواړي، دا موضوع څنګه ده؟ ستاسو له نظره، " د ملت وګړي" څرنګه تعریف کېدای شي؟ ولې؟

د مسایلو د ارزوني لپاره دا غوره ده چې د افغانستان د تابعیت له قانون څخه یادونه وکړو چې په ۱۹۳۶ کال کې تصویب شوی دی:

| **په افغانستان کې د تابعیت قانون** |
|---|
| **[۵۴۵]د ۱۳۱۵ کال د لړم ۱۶ [۱۶ نوامبر ۱۹۳۶]** |
| **لومړی فصل** |
| اصل تابعیت، اکتسابی تابعیت، د تابعیت حقوق |

[۵۴۵]. په لاندې انټرنېټي پته د لاس رسي وړ دي:
http://www.mpil.de/ww/en/pub/research/details/know_transfer/afghanistan_project/legal_documents/public_and_administrative_law.cfmand http://www.afghan-web.com/politics/.

١- په افغانستان کې ټول مېشت وګړي، افغان او افغان تبعه دي له هغو کسانو پرته چې د هغوی د تابعیت مدارک مصرح او مصدق دي او د افغانستان حکومت د هغوی د تابعیت پر مدارکو اعتراض نه لر ي.

٢ – ټول هغه وګړي چې هېواد کې د ننه او بهر له افغان مور او پلار څخه زيږېدلي وي، افغان او افغان تبه دي.

٣ – هغه وګړي چې د لقیط په شکل په افغانستان کې زيږېدلي وي، افغان او افغان تبعه دی.

۴ – هغه اشخاص چې په افغانستان کې له اجنبی مور او پلار څخه زيږېدلي وي پدې شرط چې د هغو له والدينو څخه يو يې په افغانستان کې زيږېدلی وي او په افغانستان کې دوامدرا ژوند کړی وي، افغان او افغان تبعه دی.

۵ – هغه وګړي چې په افغانستان کې له مور يا پلار او يا د خارجي تابعيت لرونکي والدينو څخه زيږېدلي وي او د بلوغ عمر ته رسېدلي وي او بيا وروسته ټول عمر په افغانستان کې اوسېدلي وي، افغان او افغان تبعه دي..

په ياد ولرئ چې د افغانستان تابعيت د اصل او نسب له لارې پر تابعيت باندې تمرکز لري. په بل عبارت، افغان مور او پلار خپل تابعيت اولادونو ته لېږدوي. دا کار معمولاً په اسلامي ملکونو کې دود دی. د هغه خلاف، ځينې لوېديز هيوادونه، له هغه جمله د امريکې متحده ايالات تابعيت د زوکړې د ځای له مخې تعريفوي. د بيلګی په ډول، هر هغه څوک چې د متحده ايالاتو په خاوره کې زيږېدلی وي، د هغه د مور او پلار له تابعيت پرته همد امريکا تبعه ګڼل کيږي.

### ه. د بهرنيانو حقونه

**د افغانستان اساسي قانون**

**۵۷ ماده**

(١) دولت په افغانستان کې د خارجی اتباعو خقوق او آزادی له قانون سره سم تضمينوی.

(٢) دا کسان د بين المللی حقوقو د قواعدو په حدودو کې د افغانستان د دولت د قوانينو په رعايت مکلف دی.

۵۷ ماد ه تصريح کوي سره له دی چې د د افغانستان اتباعو ته زيات حقونه ورکول شوی دي، حکومت بايد په افغانستان کې د بهرنيو اتباعو په وړاندی د چال چلبند په هکله هم يو څه حقوقو تضمين کړي. ۵۷ ماده حکومت ته ددې واک ورکوي چې د بهرنيانو د " حقونو او آزادي" په هکله قوانين تصويب کړي. اما تر ټول مهم ټکی دادی چې د ۵۷(٢) مادې له مخې د بهرنيانو د حقونو په هکله د افغانستان قوانين پر "د بين المللی حقوقو په مقرراتو" پورې محدود ګڼل شوي دي. دا پدې معنی دي چې افغانستان نشی

کولای د بهرنیانو د حقونو محدودکوونکي قوانین تصویب کړي چې د " بین المللي حقوقو د مقرراتو" خلاف وي. د مدنی او سیاسي حقونو بین المللي میثاق پدې اړه وایي چې "ددې میثاق اړونده خواووی ژمنه کوي چې خپل قلمرو او حاکمیت لاندې ټولو هستوګنو په اړه پدې میثاق کې مندرج ټول حقونه د نژاد، رنګ، جنس، ژبې، مذهب، سیاسی عقیدې او نورو باورونو، اصل او ملي یا ټولنیزې منشاء، شتمنې، نسب یا نورو وضعیتونو څخه پرته در ناوی او تضمین کړي.[546] دا پدې معنی دي چې د بین المللي حقوقو له مخې، افغانستان باید په هېواد کې د بهرنیانو د اساسی مدنی حقونو در ناوی وکړي." دا حقونه عبارت دی له : د ژوندانه حق، د آزادي حق او د جرمی تورنو ملاتړ. د مدنی او سیاسي حقونو بین المللي میثاق دا مشخص کوي چې سیاسي حقونه لکه د رای ورکولو یا د کوم مقام لپاره د کاندید کېدلو حق یوازې د اړونده هېواد د اتباعو لپاره بسیا دی،[547] او د افغانستان اساسي قانون په سمه دا حقونه د خپلو اتباعو لپاره په پام کې نیولي دي.

**د مباحثې پوښتنې:**

**له مشرانو جرګې څخه د خبریالانو شړل[548]**

د اکتوبر په ۲۳ نېټه، مشرانو جرګې ټول هغه خبریالان چې د بهرنیو خپرونو لپاره یی کار کاوه، د خپلو عمومي غونډو د خبرونو خپرولو څخه منع کړل. دا ممنوعیت د یو ایراني فلم جوړوونکي خلاف ځواب وو چې د مشرانو جرګې د عمومي غونډې خبرونه یی خپرول. ښاغلی بشیر صمیم (بدخشان)د دې ادعا کړې وه چې :" کېدای شی ځان وژونکي د خبریالانو په جامه کې جرګې ته ورننوزي." آیا د مشرانو جرګې دا پرېکړه د بهرنیانو په هکله د ۵۷ مادې د حکم سره سمون لری؟ آیا دا پرېکړه د ۵۷(۲) مادې له مخې د بین المللي حقوقو رعایت کوی؟ د خپل ځواب د دفاع لپاره د ځانګړو قانوني حکمونو په هکله فکر وکړی.

**و. د سفر آزادي**

**د افغانستان اساسي قانون**

**۳۹ ماده**

(۱) هر افغان حق لري د هېواد هر ګوټ ته سفر وکړي او استوګن شي خو له هغو سیمو څخه پرته چې قانون منع کړی دي.

(۲) هر افغان حق لري د قانون له حکمونو سره سم له افغانستان څخه بهر سفر وکړي او بېرته راستون

[546] ICCPR، ۲ ماده.
[547] د مثال په توګه وګوری،ICCPR، ۲۵ ماده.
[548] APAP Legislative Newsletter, Oct. 28, 2011, Vol. 6, No. 13, *available at* www.sunyaf.org

شي.

(۳) دولت له هېواد څخه بهر د افغانستان د اتباعو د حقوقو ساتنه کوي.

د سفر يا خوځښت آزادي د تابعيت د حق سره ډېره نژدې اړيکه لري. د تابعيت يوه برخه هم په ټول هېواد کې له خنډ پرته ګرځيدل راګرځېدل او پخپله خوښه په هېواد د استوګنې د غوره کولو آزادی او همدارنګه بهر ته د تګ او بېرته راستنېدو آزادی تشکيلوي. له بلې خوا، افغانستان کولای شی د بهرنيانو د حرکت او هېواد ته د هغوی د راتلو آزادي محدوده کړي. پدې اړوند د معمولو لارو څخه يوه هم د ورودي ويزو صادرول دی. ۳۹(۱) ماده د سفر استثناء او په هغو سيمو کې د استوګنځي غوره کول چې منع شوی وی بيانوی. تاسو څه فکر کوی چې دا په څه معنی دی؟ ستاسو له نظره حکومت په کومو سيمو کې ميشت کېدل او سفر منع کوي؟ د مدنی او سياسی حقونو بين المللي ميثاق هېوادونو ته اجازه ورکوي چې د ملی امنيت، عامه نظم، عامې روغيتيا يا عامه اخلاقو او د نورو د حقونو او آزادی د خوندي کولو په موخه، د خپلو اتباعو د حرکت پر آزادئ باندې محدوديت وضع کړي.[549] په ۳۹(۱) ماده کې استثناء ترديې هم لا پراخه ده او د افغانستان حکومت ته اجازه ورکوي د قانون جوړونې له لارې د هر څومره موديې لپاره که وغواړي، حرکت يا خوځښت محدودولای شی. د افغانستان په اساسي قانون کې د راغلي چلند په پرتله د مدني او سياسي حقونو د بين المللي ميثاق چلند څرنګه ارزوئ؟

## ز. د محرميت حق

**د افغانستان اساسي قانون**

**۳۷ ماده**

(۱) د اشخاصو د مخابری او ليکونو آزادی او محرميت که په ليکلي ډول وي يا د ټيلفون او تلګراف يا نورو وسيلو له لارې، له تېري څخه خوندي دي. .

(۲) دولت د اشخاصو د مخابرو او ليکونو د پلټنې حق نه لری، مګر د قانون له حکمونو سره سم .

د محرميت حق وګړيو ته د خصوصي حريم د درلودلو حق ورکوي چې دولت په هغه کې د مد اخلې حق نه لري. اوس مهال د خصوصي حريم حق د بشري حقونوپه ډېرو بين المللي سندونو او اساسي قوانينو کې تسجيل شوی دی او د فردي آزادئ د يو مهم اړخ په توګه په نظر کې نيول کيږي. فردي محرميت ته په احترام سره، دولت فردي آزاديو ته درناوی کوي.

په ياد ولری چې ۳۷ ماده نه يوازی د افغانستان د اتباعو خلاف، د ټول وګړيو په هکله د پلي کېدو وړ ده. ستاسو په نظر دا ولې داسې ده؟ آيا د حکومتي پلټنې څخه د ليکونو ساتل، ملي امنيتی پايلې لري؟ پام مو وي چې ۳۷(۲) ماده " مګر د قانون له حکمونو سره سم" يوه استثناء لري. دا ماده په احتمال سره اجازه

[549] Alex Conte, *Democratic and Civil Rights*, *in* Defining Civil & Political Rights: The Jurisprudence of the United Nations Human Rights Committee 68 (Alex Conte & Richard Burchill, eds. 2009).

ورکوي چې امنيتی ارګانونه د ملي امنيت د خوندی کولو په موخه شخصي ليکونه او مخابرات ولولي او ثبت يی کړي. سره ددې ، حکومتی مقامات کولای شي لدې استثناء څخه د لازمي ځاني او مقرراتو پرته په آسانی ناوړه ګټه واخلي.

### ح. د ملکيت حق

**د افغانستان اساسي قانون**

**۴۰ ماده**

(۱) ملکيت له تېري څخه خوندي دی.

(۲) هيڅوک د ملکيت د ترلاسه کولو او په هغه کې له تصرف کولو څخه نه منع کېږي، مګر د قانون د حکمونو په حدودو کې.

(۳) د هېچا ملکيت د قانون د حکم او د با صلاحيته محکمې له پرېکړې پرته نه مصادره کېږي.

(٤) د شخص د ملکيت استملاک يوازې د عامه ګټو د تأمين په مقصد، د مخکينۍ او عادلانه بديل په ورکولو، د قانون له مخې مجاز دی.

(٥) د شخص د شتمنۍ پلټنه او اعلان يوتزې د قانون په حکم کېدای شي.

**٤۱ ماده**

(۱) بهرنی اشخاص په افغانستان کې د عقاري مالونو د ملکيت حق نه لري.

(۲) د عقار اجازه د پانګې اچونې په منظور د قانون له حکمونو سره سم جواز لري.

(۳) د بهرنيو ملکونو ر سياسي نمايندګيو او پر هغو بين المللي مؤسسو چې افغانستان پکې غړيتوب لري، د عقاري مالونو پلورل د قانون له حکمونو سره سم جواز لري.

د ملکيت او محرميت حقونه يو د بل سره تړاو لري. دواړه له دولت څخه غواړي تر څو د ژوند د خصوصی اړخ د ساتلو لپاره د وګړو حقونو ته د درناوي کولو له لارې د فردی آزاديو درناوی وکړي. د ملکيت د خپلولو حق د پانګوالۍ د اساسي عنصرونو څخه ګڼل کېږي. د پام وړ خبر داده چې د مدنی او سياسی حقونو بين المللي ميثاق د تدوين پر مهال د هېوادونو ترمنځ د ايديولوژيک اختلاف له امله، په دغه تړون کی د ملکيت حق تسجيل نشو. په هغه وخت کې نړۍ په دوو متخاصمو بلاکونو يعنی پانګوالي (سرمايه داري) چې په سر کې يی د امريکی متحده ايالاتو قرار درلود او کمونيستی هيوادونه چې په سر

کې شوروی اتحاد وو، وېشل شوې وه. کمونیزم د خصوصي مالکیت مخالف وو او په همدې دلیل د مدني او سیاس حقونوپه بین المللی میثاق کې شامل نشو.[550]

د ملکیت حق د ملکیت درې مختلف ډولنه تر پوښښ لاندې نیسي: (۱) غیر منقول مالونه یا ځمکه، (۲) شخصی مالونه یا شتمنی، او (۳) معنوي ملکیت چې د اختراعاتو او هنری جوړونو حقوق په بر کې نیسی. د ملکیت مالکیت له مالونو څخه په وړیا توګه ګټه اخیستل، له هغو څخه برخمند کېدل او پخپل واک کې د مالونو د درلودلو په معنی دي. د تصرف یا خپلولو حق له مالونو څخه د نورو محروموول او په آزاد ډول د خپل ملکیت کارول او لګول دي.

د ۴۰ مادې (۳) او (۴) جزونه د ملکیت د اخیستلو په وړاندې د خلکو ملاتړ کوي یا کله چې حکومت د یو وګړي مالونه مصادره کوي او د بل چا په واک کې یې ورکوي. ۴۰(۳) ماده وايي حکومت د چا خصوصي ملکیت د قانون له حکم او یا د واکمني محکمې له پرېکړې پرته نشي مصادره کولای. ۴۰(۴) ماده زیاتوي چې حکومت یوازې د دوو لاندنیو شرطونو په موجویت کې د اشخاصو خصوصي ملکیت مصادره کولای شی: (۱) که مصادره د "عامه منافعو" په خاطر وي، او (۲) که حکومت د ملکیت خاوند د "مخکیني او عادلانه بدیل" پواسطه جبران کړي. لومړې خو دا پدې معنی ده چې حکومت د خلکو ملکیت یوازې دعامه منافعو په خاطر تصرف کولای شي. مثال، حکومت کولای شي د بزګر د ځمکې یوه برخه د ګاډي د پټلیو لپاره چې د ټول هېواد په ګټه ده، خپله کړي. سرهد دېهم، حکومت نشي کولای د حکومتي چارواکی لپاره د یو کور جوړول لپاره د یو بزګر ځمکه واخلي. دوهم، حکومت باید " مخکیني او عادلانه بدیل" د هغه ملکیت په بدل کې چې تصرف کېږي ورکړي. د معمول سره سم "مناسب جبران" په بازار کې د ارزش او نرخ له مخې ټاکل کېږي. پدې معنی چې حکومت باید د ملکیت له تصرف څخه د مخه د ملکیت قیمت په مارکېټ کې د ورځې د نرخ له مخې بزرګر ته ورکړي. د ملکیت پلورلو موضوع په ټوله نړۍ کې زیاته پېښېږي. د بیلګې په توګه، د امریکې په متحده ایالاتو کې د پام وړ مهمه پېښه په لانني بکس کې د کیلو د نوې لندن ښار په وړاندې په هکله ولولی:

**کیلو د نوي لندن ښار په وړاندې**[551]

د نوي لندن ښاروالۍ غوښتل د ځمکې یوه ټوټه پراخه کړي او د کار او بار یو مرکز جوړ او د ښار اوسېدونکو ته کار ومومي. پدې ځمکه کې یو کور چې په سوسیتو کیلو پورې یې اړه درلوده، موقعیت درلود. سره له دی چې د ښاروالۍ له خوا نوموړي ته دعادلانه قیمت وړاندیز وشو خو هغی د کور د پلورلو وړاندیز رد کړه..د امریکې متحده ایالاتو اساسي قانون وايي چې حکومت خصوصی ملکیت نشی تصرف کولای مګر دا چې د "عامه منفعت" لپاره وي او همدارنګه حکومت د هغه خاوند ته "مناسب جبران" وکړي. مېرمن کیلو قضیه و محکمې ته یوړه او استدلال یی کاوه چې د ملکیت حق یی نقض شوی او باور نه لري چې ښار به د ځمکې لدې ټوټې څخه د "عامه منفعت" لپاره ګټه واخلي. محکمې

[550] MandanaKnustRassekhAfshar, Max Planck Institute for Comparative Public Law & International Law, 2 Max Planck Manual on Afghan Constitutional Law: Constitutional Practice & Human Rights 80 (2007).
[551] 545 U.S. 469 (2005).

پرېکړه وکړه چې د اقتصادی پرمختیا دا پروژه د "عامه منفعت" په خاطر دی چې په دی توګه ښاروالي د میرمن کیلو د ملکیت حق نه دې نقض کړی. په پای کې ښاروالي موفقه وکړه چې د مېرمن کیلو کور یوه نوي ځای ته ولېږدوي او نوموړې او په محله کې د نورو کورونو خاوندانو ته د پام وړ جبران ورکړي.

**په افغانستان کې ناقانونه پلورل[٥٥٢]**

په اغېزمنه توګه د ملکیت د حقونو د تطبیق لپاره د قانون حاکمیت او کارنده قضایي سیستم ته اړتیا لري. د افغانستان په دولت او قضائیه قوه کې په لوړه کچه اداري فساد، په هېواد کې د ملکیت حق څخه دفاع کمزورې کړې ده. په څو وروستیو کلونو کې، ډېر راپورونو شتون درلود چې حکومتي مقاماتو د ګټې د لاس ته راوړلو په موخه د دولتي او خصوصي ځمکو کنترول په لاس کې درلود. په ۲۰۰۹ کال کې په افغانستان کې د بشري حقونو خپلواک کمیسیون د مالکیت د لانجو دا ډول ۵۰۰ شکایتونه تر لاسه کړي دی.

لکه، داسې شکایتونه موجود وو چې د کابل اوسېدونکي د خپل هستوګنځي او ملکیت څخه شړل شوي دي او د هغوی ځمکې د حکومت سیاسي متحدینو ته ورکړل شوې دي. په یو بل مورد کې، د قندهار ولایتی شورا دفاع وزارت پورې اړونده ځمکې نیولې دي او په هغو کې یې کورونه جوړ کړي دي. په قندهار کې په یوه بل مورد کې، ولایتی شورا د اوبو لګولو حقوق چې په یوه ځایي قبیله پورې یې اړه درلوده، پخپل کنترول کې اخیستي.

تاسو همدا اوس مطالعه کړه چې د افغانستان د اساسي قانون د ۴۰ مادې سره سم " د هیچا ملکیت د قانون له حکم او واکمنې محکمې له پرېکړې پرته نه مصادره کېږي."او حکومت" د شخص د ملکیت استملاک یوازې د عامه ګټو د تأمین په مقصد، د مخکینی او عادلانه بدیل په ورکولو" سره تصرف کولای شي. تاسو څه فکر کوی چې په افغانستان کې د ځمکې استملاک د اساسي قانون دا غوښتنې تر سره کوي؟

د افغانستان اساسي قانون ددې مستلزم دی چې حکومت د ملکیت له تصرف نه د مخه، د محکمې حکم تر لاسه کوي داسې چې بل لوبغاړی مطمئن شي چې حکومت یوازې د قانون سره سم پر ملکیت باندې کنترول لري. پداسې حال کې چې په اجرائیه او مقننه قواوو کې رېښه لرونکی فساد شتون لري، قضائیه قوه یوازې د اجرائیه قوې اجراآتو ته د مشورعیت ورکولو اکت کوي، البته د ګټې د یوې ټاکلې برخه د تر لاس کولو په بدل کې.

حکومت ددې موضوع د غور او ارزونې لپاره یو کمیسیون جوړ کړی او کمیسیون هغو چاته د جبران ورکولو سپارښتنه کړې ده چې ځمکې یې ضبط شوې دي. خو د راپورونو له مخې حکومت دا سپارښتنې

[552] Tom Bowman, *Karzai's Brother Tied to Corrupt Afghan Land Deals*, National Public Radio, Feb. 1, 2010, *available at* http://www.npr.org/templates/story/story.php?storyId=123223248.

نه دي عملي کړې.

پام مو وي چې ۴۰ او ۴۱ مادې د بهرنيو هېوادونو او بين المللي سازمانونو په استثناء، د افغانستان اتباعو لپاره د ځمکې مالکيت محدودوي. بهرني اتباع د ثابتې پانګونې په موخه يوازې غير منقول شتمني اجاره کولای شي. ستاسو په نظر ولې تدوين کوونکو دا ماده په اساسي قانون کې تسجيل کړې ده؟ زيات بين المللي اختلافونه هغه وخت منځ ته راځي چې يو بهرنی شرکت په يوه هېواد کې پانګونه وکړي، وروسته د اړونده هېواد حکومت د بهرني شرکت د ملکيت د پېرودلو، يا مصادره کولو پرېکړه کوي. دا کار په وروستيو کې د لاتينې امريکې په زياتو هېوادونو کې پېښ شوی دی، کله چې حکومتونه د تېلو د صنعت د ملي کولو پريکړه وکړه يا هڅه وکړه چې ټول صنعت تر خپل کنترول لاندې راولي، پداسي حال کې چې د تېلو خصوصي شرکتونو د تېلو صنعت فعال ساتلي وو.د دېکار د سرته رسولو لپاره، حکومتونه د شرکتونو ټول مالونه مصادره کړل. داسې کارونه کېدای شي د حکومتونو په ضدبين المللي قضاوتونو باندې پای ته ورسېږي، يا داچې بهرني پانګه اچوونکي پرېکړه وکړي په دې هېوادونو کې نوره پانګونه و نه کړي. آيا تاسو فکر کوی چې د ۴۱ مادې له مخې به بهرني پانګه اچوونکي ددې جرأت وکړي تر څو خپله شتمي د مصادره کولو او يا د حکومت له لوري د هغو د مالکيت د سلبېدو د ګواښ سره مخامخ کړي؟ آيا دا کار په هېواد کې د بهرنۍ پانګه اچونې د کمزوري سبب نه کېږي؟

**دريم: سياسی او دموکراتيک حقونه**

**الف. د فکر او بيان آزادي**

**د افغانستان اساسي قانون**

**۳۴ ماده**

(۱) د بيان آزادي له تېري څخه خوندي ده.

(۲) هر افغان حق لري چې خپل فکر د وينا، ليکنې، انځور او يا نورو وسيلو له لارې، پدې اساسي قانون کې د راغلو حکمونو په رعايت څرګند کړي.

(۳) هر افغان حق لري چې د قانون له حکمونو سره سم مطالب، بې له دې چې هغه مخکې له مخکې دولتي مقاماتو ته وښيي، خپاره او نشر کړی.

(۴) د مطبعو، راډيو او تلويزيون، د مطبوعاتو د خپرولو او د جمعي ارتباط په نورو وسايلو پورې مربوط حکمونه د قانون له لارې تنظيمېږي.

د بيان آزادي په دوديز ډول د دموکراسی غوره ارزښت ګڼل کېږي. د فکر حق لری ا وپه آزاده توګه د هغی بيانول د فکر او بيان د ازادۍ څخه د دولت د حمايت يوه بيلګه ده. د بيان د ازادۍ حق د وګړو او مطبوعاتو ددی حق ساتنه کوي تر څو په ازاده توګه د حکومت په کړنو نيوکه وکړي او په دی توګه په سياسي پروسه کی برخه واخلي او د حکومتي چارو د سرته رسولو په هکله خپل غوښتنی بيان کړي.

څرنګه چې تاسو مخکې د ۳۴(۱) او ۳۴(۲) مادو په ترڅ کې ولوستل، د افغانستان اساسي قانون نژدې په بشپړ ډول د فکر د آزادي او بیان څخه ملاتړ کوي. څرنګه، چې په ۳۴(۲) ماده کې راغلي دي، د فردی فکر او بیان اظهار یوازې "د دې اساسي قانون د حکمونو پورې" محدود دی. د ډېرو نورو حقونو په خلاف، د فکر او فردي بیان څرګندول چې د موضوعه قوانینو مطابق باید ولیکل شي، نه محدودېږي. د بیان آزادي په هکله د اساسي قانون نور حکمونه کوم دي؟

پداسې حال کې چې اساسي قانون د خصوصي فرد د بیان له آزادي څخه جدی ملاتړ کوي، په عمومي چاپېریال د بیان لا زیات تنظیم ته اجازه ورکوي. دولتونه په ټولیز ډول په عمومي چارو کې د بیان آزادی د محدودولو توان لري ځکه چې هغه نورو ته د با القوه زیان رسولو توان لري.ددې موضوع سره د ډېرو هېوادونو چلند داسې دی چې وګړیو ته اجازه ورکوي د هغو خپرونو خلاف شکایت وکړي چې د دوی په هکله ناسم معلومات خپروي او د هغوی شهرت ته زیان رسوي. د افغانستان اساسي قانون رسنیو ته د تنظیم لپاره حکومت ته په ۳۴(۴) ماده کې اجازه ورکوي.

سره ددې ، د افغانستان دولت جازه نه لري د رسنیو په هکله هر ډول مقررات تصویب کړي. ۳۴(۳) ماده له خپرولو د مخه سانسور او محدودیت منع کوي. مخکنی محدودیت هغه وخت رامنځ ته کېږي چې حکومت د ځانګړو مواردو د خپرولو څخه مخکی مانع شي او پدې ترتیب، د خپرولو او په ټولیز ډول د هغو له چاپولو څخه مخنیوی وکړي. حکومتونه دا کار په خپروونکي باندې د فشار راوړلو له لارې تر سره کوي تر څو د خپرولو څخه د مخهد دبکار اجازه تر لاسه کړي. په انګلستان کې په ۱۸ پېړۍ کې دولت مطبوعات له نشر څخه د مخه کنترول کول، پدې توګه د نشر څخه د مخه د محدودیتونو منع کول په انګلیسی او امریکایي حقوقی دود کې د مطبوعات بسټ جوړوي.[۵۵۳] تاسو په ۳۴(۳) ماده کې ولوستل چې د افغانستان اساسي قانون د خپرولو د مخه محدودیتونه د " قانون په رعایت سره" تنظیموي. ستاسو په نظر دا په څه معنی ده؟ کوم وخت د خپرولو څخه د مخه محدودیتونه د توجیه وړ وي؟

**د مباحثې پوښتنې: د بیان آزادي**

۱. فرض کړئ چې رونا د کابل ورځپاڼې په نوم د یوې خپرونې مسؤل مدیره ده، د عزیزې په هکله یوه مقاله خپروي چې پکې ډېر ناسم معلومات راغلي دي او په ټولنه کی د عزیزی شهرت ته زیان رسوي، آن تر دې چې نوموړې خپل دنده له لاس ورکوي. آیا حکومت دداسې مضرو او ناسمو خپرونو په ناقانونه کولو سره، د عزیزې څخه په دفاع باندې مکلف دی؟ پدې اړوند آیا حکومت اجازه لري رونا ته ووایي چې د ۳۴ مادې سره سم کوم شی نشر او نشر نه کړي؟ څرنګه دولت کولای شي په ورته وخت کې عزیزه لدې زیان څخه خوندي او د ۳۴ مادې سره سم د مطبوعاتو آزادي تأمین کړي؟

۲.ددې برخې له لوستلو وروسته په اساسي قانون کې د فکر او بیان آزادي، آیا اوس د پروېز کامبخش په

[553] 4 William Blackstone, Commentaries 151, 152 (1769).

هکله چې ددې څېرکې په لومړيو کې پرې بحث وشو، ستاسو په نظر کې کوم بدلون راولي؟ولي؟ او ولې نه؟

**په اسلامي حقوقو کې ارتداد او مقدساتو ته سپکاوی په هکله تبصره[٥٥٤]**

څرنګه چه تاسو د سيد پرويز کامبخش په قضيې کې وليدل، د بيان له آزادي څخه (ليبرالي ارزښت دی) ځيني وختونه کېدای شي د اسلامي فقهې له اصولو سره په تضاد کې راشي. د عام بحث وړ دوه مورده چې په اختلاف کې واقع کيږي عبارت دی له:

**مقدساتو ته سپکاوی:** په اسلامي حقوقو کې کفر ته ورته موارد دي چې، د يو دين يوه برخه تر پوښتنې لاندې راوستی او يا له هغه څخه انکار دی

**ارتداد:** په اسلامي حقوقو کې ارتداد، په بشپړ ډول د يوه دين پرېښودل دي.

په دوديز ډول د ارتداد په هکله د اسلامي فقهې اصول سخته ده.[٥٥٥] د منځنيو پېړيو په اوږدو کې ډېر حقوق پوهان پدې باور وو چې مرتد بايد محکمه شي او که چېرې توبه و نه کړي (په رسمي ډول د خپلې خبرې بېرته اخيستل)، بايد د اعدام په جزا باندې محکوم شي. يوازې يو څو حقوق پوهان د دې نظريې مخالف وو. مثال، ابراهيم ال نخاعی[٥٥٦] پدې باور وو چې مرتد بايد د اعدام په ځای تر نا ټاکلي وخته بندي شي تر څو ټولنه د هغو له مضرو نظرياتو څخه خوندي وي. سره ددې هم د تاريخ په اوږدو کې د ارتداد په وړاندې له معتدل چلند څخه کار اخيستل شوی دی. ځينی اوسني څېړونکي پدې باور دي چې مرتدان زياتره په اسلامي ټولنو کې پيداکيږي او تر هغه پورې چې د هغوی فعاليت ټولنې ته زيان نه وی رسولی، دخالت نه کوي.[٥٥٧] دا لاهم په اساسي قانون کې د بيان آزادي له ارزښت څخه توپير لري. د بيان آزادي حق يو ليبرالی ارزښت دی يا پدې باور باندې ولاړ يو ارزښت دی چې د فرد د بيان آزادي بايد د قانون او ټولنې د بنسټ په توګه بايد عمل وکړي. د افغانستان د اساسي قانون په زړه کې يو لانجمنه موضوع ده چې دواړه يعنی ليبرال ارزښتونه او د اسلام حقوقو اصول د ځان سره لري، پرته لدې توضيح څخه چې د دوی ترمنځ د اختلاف په رامنځ ته کېدو په صورت کې څه بايد وشي، شامل دی.

په ټوله نړۍ کې، د اسلامي فقهې پوهان د کفر او ارتداد سره د چلند د څرنګوالي په هکله متفاوت نظرونه لري. يو د څېړونکو څخه د د اسلامي علماو د بين المللي اتحاديې رئيس، يوسف القرضاوی دي چې د ۲۰۰۰ کال په لومړيو کې يې طالبانو ته وليکل چې د باميانو په ولايت کې د بودا مجسمې له منځه يو

---

[٥٥٤]. دا تبصرې د اسامه الاعظمي د پرينستون پ،هنتون د ديني چارو کې د دکتورا دورې محصل، د ستانفورد پوهنتون کې همکار څېړونکي نقيب احمد خپلواک او د افغانستان په امريکايي پوهنتون کې د حقوقو او سياسی علومو اسيستانت پروفيسور له لوري برابرې شوې دی.

[555] Abdullah Saeed& Abdullah; Hassan Saeed,*Freedom of Religion, Apostasy and Islam* 38-39 (Ashgate Publishing, 2004).

[٥٥٦]. ماجور کوفان د ۸ پېړۍ دلومړيو حقوق پوه د حنفي مذهب پر بنسټ ايښودونکي امام حنيف باندې ډېر اغېز درلود. همداشانې د ۸ پېړۍ نامتو حقوق پ،ه سوفيان الثوری پدې باور وو چه ارتداد الزاماً د اعدام موجب نه کيږي.

[٥٥٧]. د پرينستون په پوهنتون کې د پرمختللو مطالعاتو له انستيتوت څخه پاتريسيا کرون وايی چه د منځنيو پېړيو کې په اسلامي ملکونو کې ارتداد له مرګه نه وېره نه درلوده، البته د هغوی اندېښنې د هغه له نورو احتمالي پايلو لکه د نکاح فسخ او تبعيد څخه وی.

نسي. په هماغه وخت کې القرضاوی د ارتداد په هکله د منځيو پيريو د دود دفاع وکړه.[558] له بلې خوا، د اوس مهال نامتو مسلمان روڼ آندی، داکتر طارق رمضان، د مخالف نظر درلودونکی دی او وایی چې اسلامی سنت د داسې مثال شاهد دی چې د هغه له مخې مرتد د مرگ په جزا ندی محکوم شوی.[559] اوسني مسلمان څېړونکی، د سنت د څلورو مذهبونو د فقهی په شمول، د نظرونو مختلف ډولونه وړاندې کوي چې له هغو څخه په افغانستان کې د بیان آزادي او ارتداد ترمنځ د اختلاف د له منځه وړلو په برخه کې گټه اخيستل کېدای شي.

په افغانستان کې د ننه، د اسلامي قوانينو د سم کارولو یو تاریخي بحث وجود لري. د افغانستان اکثر وگړي د حنفی مذهب چې اهل سنت د څلورو مذهبونو څخه یو دي، پیروی کوي. سربېره پردې، په ۱۹۷۹ کال کې په افغانستان کې د شوروي سره د جگړې نه مخکې، ننه ته متمرکزعرفان، په افغانستان کې ډېر خپور وو. د پيتر تامسن په حواله "د افغانستان په قبایل کلتور کې تصوف په طبیعی ډول ځای نیولی وو."[560] د شوروی سره دجگړې په وخت کې "د عرب مبارزينو او افغان مجاهدينو ترمنځ مذهبی خړپړتیا ځای درلود.... د سعودي عرب ځينې اتباعو له افغانانو څخه ددې غوښتنه کوله چې د صوفي په طریقت کې د زیارتونو د لمانځلو څخه مخ واړوي. په ۱۹۸۹ کار کې، په قندهار کې یوې اسلامي محکمې اعلان وکړ چې وهابیان کافر دي."[561] سره ددې ، په تېرو ۳۰ کلونو کې په افغانستان کې د سلفی توب/وهابیت، دیوبندی توب او اخوانی توب ایدیولوژیو غوره والی درلود. هغه روحانيونو چه دا نوی ایدیولوژی یی خپروله، د هېوادپه ډېرو وگړو باندې یی نفوذ درلود. پدې توگه، په افغانستان کې د اسلام په هکله مخکنی بحثونه، په ۱۹۷۸ کې د شوروي اتحاد تر ملاتړ لاندې سوسیالیستانو له لوري د رئیس جمهور له راپرزېدو وروسته تر خپل اغېز لاندې راوستل او په نتیجه کې یی د افراطي خې ایدیولوژی گانو زور واخیست. د طالبانو رامنځ ته کېدل او له اسلام څخه د هغوی د سخت دریځ تفسیر دې ایولوژیو ته زیاتیدونکی قوت ور کړ.

### د بیان آزادی او مقدساتو د سپکاوي ترمنځ ترينگلتیا

د هغو حالاتو شننه او تحلیل چې په هغه کې قانوني قواعد پخپلو کې سره په ټکر کې واقع شي، دا ډېره مهم ده چې د هغه دودونو د تاریخ په هکله فکر وشي چې نوموړي قاعدی تری منځ ته راغلی. پدې هکله، دواړو یعنی په مذهب باندی د نیوکی حق او فردي ازادی، د لوېدیزې اروپا د سیاسي او حقوقي سیستمونو د رامنځ ته کېدو غوره لاملونه وو. پدې دلیل، د لیبرال حقوقی دود له نظره فردی حقوقي حمایت لکه د بیان محرمیت، له مذهب څخه د نیوکی اجازې په ترڅ کې، مهم گڼل کېږي. له بلې خوا، د

---

[558] وگوری:
Gudrun Krämer, *Drawing Boundaries: Yusuf Al-Qaraiwi on Apostasy*, in *Religious Authorities in Muslim Societies*(Gudrun Krämer& Sabine Schmidtke, eds., 2006).

[559] The Pew Forum on Religion & Public Life, A Conversation with Tariq Ramadan: Islam, the West and the Challenge of Modernity (April 27, 2010), http://www.pewforum.org/Politics-and-elections/A-conversation-With-Tariq-Ramadan.aspx.

[560] Peter Tomsen, *The Wars of Afghanistan* (2011), at xxi, 60.

[561] Peter Tomsen, *The Wars of Afghanistan* (2011), at 378-79.

اسلام حقوقو ددود په تولیزه توګه د ارتداد او مقدساتو ته د سپکاوي په ناقانونه اعلانیدو سره، د اسلام له سپېڅلو ارزښتونو څخه دفاع تر هر څه مهم بولي.

په زیاتره لیبرال ټولنو کې، د بیان آزادي خاص ډولونه کېدای شي تر ځانګړو شرایطو لاندې محدود شي. مثال په ۲۰۱۲ کال کې د بریتانیا شاهي کورنۍ د هغو مجلو څخه چې د دوک کمبریج ګیټ میدلټون نیمه لوڅ تصویرونه یی په ټوله نړۍ کې خپرول شکایت وکړ ځکه چې د شاهی کورنۍ له نظره دې تصویرونو د محرمیت حق نقض کړی دی. دا د عدالت غوښتنی یوه بېلګه ده چې څرنګه د لویدیز لیبرال قواعدو مطابق، د بیان آزادي د وګړي څخه د دفاع په خاطر محدودیږي د بیلګی په توګه په خصوصی شخصی محرمیت پوری تړل کېږي. دا چې له مذهبي بنسټونو باندی د نیوکی آزادي (پدې ځای کې مسیحي کلسیا) د لوېدیزې اروپا د حقوقی عرف په تاریخی پراختیا کې داسې یو مهم رول لوبوي، د لویدیز زیاتره لیبرال حقوقي سیستمونه د مقدساتو د سپکاوي لپاره د بیان آزادي ته استثناء اجازه نه ورکوي.

چې هماغه وخت کې چې بریتانیا شاهی کورنۍ د قانون له مخې د یاد شوو تصویرونو د خپرولو د مخنیوی په لټه کې وه، یو شمېر مسلمانانو د مسلمانانو څخه بې ګناهی تر نوم لاندې فلم نشر خلاف چې حضرت محمد (ص) پکې په ډېر منفي شکل سره انځور شوی دی، اعتراض کاوه. [٥٦٢]داچې د بیان آزادي په هکله زیاتره لیبرال حقوقي سیستمونه مقدساتو ته دسپکاوي استثناء قایل نه دي، ډېرو لوېدیزو هېوادونو لکه د امریکې متحده ایالاتو دا فلم وغانده اما وی ویل چې د فلم جوړوونکو خلاف هیڅ کار نشی کولای، که څه هم دا فلم له سپکاوي څخه ډک دي اما پدې هېوادونو کې د نافذو قوانینو هېڅ یو حکم نه نقض کوي. دا ډول چلند د مسلمانانو ځینې ډلې چې د هغوی په حقوقي عرف او دود کې مقدساتو ته سپکاوی د یوه جدي جرم په توګه ګڼل کېږي، ناامیده کړل.ددې خلاف، یو شمېر هیوادونه چې پخپلو حقوقي سیستمونو کې اسلامی اصول راوستی دي، د بیان په آزادی کې مقدساتو ته د سپکاوی استثاء وړاندی کوي اما نشی کولای چې له خصوصي حریم څخه د ملاتړ د بیان آزادي استثناء ولري.

## د مباحثې پوښتنه او ځواب

۱. د بیان په آزادي کې د استثناء په اړه د اسلام او لوېدیز چلند توپیرونو ته په پام سره، د افغانستان قوانین له اسلام څخه انتقاداتو ته څرنګه ځواب ویلای شي؟

۲. داسې فکر وکړی چې یو څوک د اسلام په هکله مقاله خپروي چې د زیاترو افغانانو په آند هغه لمسوونکی او سپکاوی نه لري. سره ددې ، په افغانستان کې محکمې دا تشخیص کړې ده چې د مقالې مواد کفر آمیز دي. دا موضوع څرنګه د بیان په آزادي اغېز کولای شي؟ د داسې شریطو سره د مقابلې تر ټولو ښه لار کومه ده؟

[٥٦٢]. پام مو وي چه د تخمین له مخې دا په نړۍ کې دا اسلامی ملکونو ۰۰۱،۰ سلنه جوړوي چه دفېلم خلاف یی اعتراض وکړ. وګوری *See*http://www.aljazeera.com/indepth/opinion/2012/09/20129168313878423.html.

## ب. د ټولنو او غونډو آزادي

**د افغانستان اساسي قانون**

**۳۵ ماده**

(۱) د افغانستان اتباع حق لري چې د خپلو مادي او معنوي غوښتنو د تأمین لپاره، د قانون د حکمونو سره سم، ټولنې جوړې کړي..

(۲) د افغانستان اتباع حق لري د قانو د حکمون سره سم، سیاسی ګوندونه جوړ کړي، پدې شرط چې:

د ګوند مرامنامه او اساسنامه د اسلام د سپیڅلي دین د حکمونو او په دې اساسي قانون کې د راغلو نصوصو او ارزښتونو مخالف نه وي

د ګوندتشکیلات او مالي منابع څرګند وي

نظامي او نظامي ډوله تشکیلات او هدفونه و نه لرِ

له بهرنیو سیاسی ګوندونو یا نورو بهرنیو منابعو سره تړلی نه وي.

(۳) د قوم، سیمې او فقهي مذهب پر بنسټ د ګوند جوړول او فعالیت کول، جواز نه لري.

(٤) هغه جمعیت او ګوند چې د قانون د حکمونو سره سم جوړېږي، د قانوني موجباتو او باصلاحیتې محکمې له حکم پرته نه منحل کېږي.

**۳۶ ماده**

د افغانستان اتباع حق لري چې د روا او سوله ایزو غوښتنو د تأمین لپاره له قانون سره سم بې وسلې غونډې او مظاهرې وکړي.

د یوې دموکراتیکی ټولنې جوړېدو لپاره د ټولنو او غونډو آزادي ډېره اړینه ده ځکه چې له دی لاری خلک کولای شي په حکومت کې د ګډون او د خپل غږ اورېدو لپاره کار وکړي. فکر وکړئ څه به پېښ شي که وګړي په سیاسي بهییر کې د ګډون لپاره د سازماندهي اجازه و نه لري. د یوه وګړي رایه د یو نوماند په ټاکلو کې به هومر مهمه ونده و نه لري. د یو ټاکلي کار یا یو ټاکلی مقام ته د یو نوماند ټاکلو لپاره به خلک د سیاسي ګوندونو او ذینفع ډلو په جوړولو باندې و نه توانېږي. څرنګه چې یو وګړی په حکومت او ټولنه باندی محدوده اغیزه لري نو که چیری وګړي د ګټورو ډلو جوړلو له لاری ګډی موخی ولټوي نو په دی توګه په سیاسي پروسه کی به ډیره اغیزه لرلای شي او غږ یی ښه اوریدل کیدای شي.

۳۵ ماده په افغانستان کې د غونډو موضوع تنظیموي. دا آزادي باید د "قانون د حکمونو سره" پلې شي. په ۳۵(۴) ماده کې راغلي دي چې حکومت اجازه نه لري حقوقي ټولنی منحل کړي مګر په دوو شرطونو سره: (۱) قانوني علت شتون ولري، او (۲) پدې برخه کې د واکمنې محکمې حکم شتون ولري. د مادې دا حکم د حکومت له لوري د ټولنو د خپل سري انحلال او یا د غیرعادلانه علتونو له مخې د غونډو له انحلال څخه مخنیوی کوي. ۳۵ (۲ او ۳) پر سیاسي ګوندونو باندې دا ډول محدودیت وضع کوي: (۱) هغوی د اسلام دین مخالف نه وي، (۲) د اساسی قانون خلاف نه وي، (۳) د هغوی مالي سرچینې رڼې وي، (۴)وسله وال ماهیت و نه لری، (۵) په بهرنیو ګوندونو پورې تړلي نه وي، او (۶) د قومیت، ژبې، سیمې او مذهبي فرقو پر بنسټ باندې نه وي جوړ شوی. ستاسو په نظر ولې تدوین کوونکو په اساسي قانون کې د ټولنو پر جوړولو باندې دا ځانګړي محدودیتونه تسجیل کړي دی؟ د (۱) او (۲) محدودیتونو څخه مراد ممکن په افغانستان کې د دوو عالي سرچینو یعنې اساسي قانون او اسلام څخه د پیروی اطمینان حاصلول وي. (۳)، (۴) او (۵) محدودیتونو څخه منظور د افغانستان د حاکمیت ساتل وی چې سیاسی ګوندونه د حکومت د نسکورولو توان و نه لري. د (۶) محدودیت موخه ممکن د ملی وحدت تأمینول وی. آیا تاسو د غونډو د آزادي محدودیت د نورو ممکنو انګېزو په هکله فکر کولای شی؟

د اساسي قانون (۳۶) ماده د غونډو آزادۍ څخه ملاتړ کوي. د غونډو آزادي د ټولنو جوړولو د آزادۍ سره نژدې تړاو لري. پداسې حال کې چې د ټولنو آزادي خلکو ته اجازه ورکوي تر څو د لاریونونو له لارې خپل ځانونه عام محضر ته وښیي. خلک پدې کار سره د حکومت له تګ لارو څخه خپل ملاتړ یا نارضایتی ښیي او پدې ترتیب د هېواد په سیاسی نظام کې مشارکت کوي. ۳۶ ماده د غونډو په کولو باندې درې محدودیتونه ایږدي: (۱) مظاهرې باید سوله ایزې وي، (۲) مظاهرې باید د قانون مطابق وي، او (۳) مظاهرې باید د "جایزو او سوله ایزو مقاصدو" لپاره وي. ستاسو په نظر ولې د تدوین کوونکو پر غونډو باندې دا ځانګړي محدودیتونه ایښي دي؟ ستاسو نظرددې محدودیتونو د معقولیت او مناسب والي په هکله څه دی؟ ولې؟ او ولې نه؟ آیا تاسو فکر نه کوي چې ددې هر ډول احتمال وجود لري تر څو حکومت د "جایزو او سوله ایزو مقاصدو" تر نوم لاندې د حکومت مخالف لاریونونو په ځپلو کې کار واخلي؟ ولې او ولې نه؟ آیا کولای شی د غونډو اړوند نورو ممکنو محدودیتونو په هکله هم فکر وکړی؟

**د غونډو او ټولنو آزادي په عمل کې: د عرب پسرلی**

د عرب پسرلی چې په ۲۰۱۰ کال کې پیل شو، د غونډو او ټولنو آزادی یی په بین المللي کچه مطرح کړه. په منځني ختیځ کې تکرارېدونکو پیښو ټول منځنی ختیځ په سر واخیست او د هغه معترضان د خپلو حکومتونو خلاف د لاریونونو د جوړولو د حق غوښتونکي وو، پداسې حال کې چې بیا حکومتونو د امنیت دلایلو له مخې لاریونونه ځپلې. د ۲۰۱۱ کال له جنوري میاشتې څخه پیل، لاریون کوونکي د قاهرې د تحریر په میدان کې د وخت جمهور رئیس حسني مبارک حکومت په اعتراض باندې را ټول شول. که څه هم لاریونونه په پیل کې په سوله ایز ډول پیل شوې، خو وروسته معترضانو د مالونو په لوټولو، تاوتریخوالي او ورانولو او د وسله والو ځواکونو سره اړ دوړ ته مخه کړه. لوټ کوونکو د بیلګې په ډول، په قاهره کې د مصر موزیم ته ور ننوتل او د فرعون مومیایی او نور لرغوني آثار یی وران

کړل[٥٦٣] او په ښځو باندې د وحشيانه جنسي تيريو راپورونه هم ورکړل شول.[٥٦٤] جمهور رئیس حسني مبارک د دولت امنیتی ځواکونو ته د لاريونونو د ځپلو امر وکړ او امنيتي ځواکونو له وسلو څخه په ګټه اخیستنې په وحشيانه توګه اعتراض کوونکي ځپل. د ۲۰۱۱ کال په اپرېل کې د حقیقت موندنی هیئت دا وموندله چې د پاڅون په اوږدو کې کم تر کمه ۸۴۶ تنه وژل شوي، ۶۴۰۰ کسان ټپی شوی دی. پدې ترڅ کې امنيتي ځواکونو د خلکو په وړاندې د مهماتو، د بامونو په سر په پوستو باندې یی ډزې کولې اوپه اعتراض کوونکو باندې یی یون کاوه.[٥٦٥]

د ۲۰۱۱ په جولای کې له پخواني جمهور رئيس حسني مبارک څخه ۵ میاشتې وروسته، د فبروري په ۱۱ بیا هم اعتراض کوونکو د تحریر میدان ته را ودانګل. دا ځل هغوی د وسله والو ځواکونو حاکمی عالی شور(SCAF)ا تر مشرتابه لاندې د ورو اصلاحات خلاف اعتراض کاوه.[٥٦٦] اعتراض یو ځل بیا په تاوتریخوالي، لوټماریو او د مالونو په خرابولو واوښت، اما (SCAF) د امنيتي ځواکونو په استولو سره مظاهرې کنترول کړلی. لدې پرېکړې څخه د دفاع په موخه، د (SCAF) غړي تورنجنرال عبدل اماره په یوه مطبوعاتی کنفرانس کې وویل: "موږ باید کوم کار تر سره کړو کله چې اعتراض کوونکي له قانون څخه سر غړونه کوي؟ آیا د هېواد د اداري لپاره موږ باید خلک له بهر څخه را و غواړو؟"[٥٦٧]

د مصر د ۱۹۷۱ کال اساسی قانون لاندې موارد بیانوي. خو په یاد ولرئ چې مصر د څو لسیزو په اوږدو کې د رسمی أضطراري حالت په شرايطو کې قرار درلود چې د اساسي قانون د ځینو مادو د تعلیق سبب شوی.

**د مصر ۱۹۷۱ کال اساسي قانون ۵۴ ماده**

اتباع له مخکنی اطلاع پرته د خصوصی سول ایز او بې وسلې غونډو حق لري. پداسې خصوصي غونډو کې د امنيتي ځواکونو وګړي د ګډون اجازه نه لري. عامه غونډې، ډله ایز خوځښتونه او غونډې د قانون په حدودو کې مجاز دي.

له انقلاب وروسته په ۲۰۱۱ کال کې، د مصر لنډ مهال اساسي قانون حسني مبارک له خپل مقام څخه ګوښه کېدو ته اړ کړ. پدې قانون کې لاندې مواردو ته اشاره شوې ده. پام مو وي چې ځینې جزئی ژبنې

---

[563] *Looters Destroy Mummies in Egyptian Museum*, Reuters, Jan. 29, 2011, *available at* http://www.reuters.com/article/2011/01/29/us-egypt-museum-idUSTRE70S1YU20110129.

[٥٦٤]. د مثال په توګه وګورئ:

***CBS News' Lara Logan Out of Hospital After Sexual Assault in Egypt*, ABC News, Feb. 15, 2011, *available at*http://abcnews.go.com/US/lara-logan-hospitalized-sexually-attacked-egypt-protesters-celebration/story?id=12925235#.TzvvysqfCR8.**

[565] *At least 846 Killed in Egypt's Revolution*, Associated Press, Apr. 19, 2011, *available at* http://www.egyptindependent.com/node/406169.

[566] *Egypt: Cairo's Tahrir Square Fills with Protestors*, BBC News, July 8, 2011, *available at*http://www.bbc.co.uk/news/world-middle-east-14075493.

[567] *Egypt Unrest: Cairo Clashes Reveal Deep Divisions*, BBC News, Dec. 19, 2011, *available at*http://www.bbc.co.uk/news/world-middle-east-16258290.

توپیر کېدای شی د ژباړې له امله رامنځ ته شوي وي.

**د مصر د ۲۰۱۱ کال لنډ مهال اساسی قانون، ۱۶ماده**

اتباع له مخکنی اطلاع پرته د خصوصی سول ایز او بې وسلې غونډو حق لري. پداسې خصوصي غونډو کې د امنیتي ځواکونو وګړي د ګډون اجازه نه لري. عامه غونډې، ډله ایز خوځښتونه او غونډې د قانون په حدودو کې مجاز دي.

**د مباحثې پوښتنې**

۱. که چېرې تاسو د لاریون کوونکو په محکمه کې چې اعتراض کوونکي د وهلو ټکولو او د مالونو په ورانولو باندی تورن شوی دي، قاضی یاستی، آیا تاسو به دا حکم صادر کړی چې د غونډو په هکله د هغوی کړنی د مصر د اساسی قانون مطابق تر سره شوی دی؟ ولې او ولی نه؟

۲. که چېرې تاسو د امنیتی ځواکونو د افسرانو په یوه محکمه کې چې د لاریون کوونکو خلاف تاوتریخوالی باندې تورن شوی دی، قاضی یاستی، آیا تاسو داسې حکم صادروی چې د هغوی کړنې پدې دلیل توجیه کوی چې مظاهرې په بشپړ ډول بې وسلې او سوله ایزې وې او یا " د قانون مطابق" نه وی؟

۳. څرنګه قانون باید د مصر انقلاب ته ورته شرایطو سره چې پاس یی یادونه وشوه او د هغه په ترڅ کې بې وسلې او سول ایز لاریون کوونکي د تاوتریخوالی سره مل لوټمارو سره یو ځای شول، قانون څنګه معامله وکړي؟آیا د دولت امنیتی ځواکونه باید له هر ډول مداخلې څخه ډډه وکړي تر څو اعتراض کوونکي د غونډو جوړولو حق عملي کړي؟ که څه هم د لاریون کوونکو په منځ کې یو شمېر کسان جنسی تېری تر سره کوي او لرغوني آثار ورانوي؟ آیا دولت مکلفیت نه لري اړونده ښځو او هنری آثارو له ورانولو څخه دفاع وکړي؟ که دولت دخالت کوي، بیا نو سوله ایزو غونډو د جوړولو په اړوند د اعتراض کوونکو د حق تأمین څرنګه دی؟ پداسې حال کې چې د تاوتریخوالی د کنترول اوددې تضمین چې مظاهرې سوله ایزې پاته کېږي که نه د " قانون په چوکاټ کې"؟

**په افغانستان کې د تاوتریخوالي سره مل اعتراضونه**

افغانستان هم د اعتراضاتو د ستونزې سره چې د هغه په ترڅ کې دواړه هم لاریون کوونکي او هم پولیس د تاوتریخوالی په اعمالولو کې ښکېل شوی دي، مخامخ دي. د ۲۰۱۲ کال په فبروری کې له هغه

وروسته چې د بګرام په هوايي اډه کې د قران شريف سوځول شوي نسخه پيدا شوه، په ټول افغانستان کې پراخه لاريونونه وشول. اعتراض کوونکو سره لاسي بمونه وو او پوليسو د هغو په وړاندې ډزې وکړې. زيات شمېر افغانان او بهرنيان ووژل شول. د پروان ولايت د پوليسو قوماندان، جنرال محمد اکرام بېګزاد وويل چې : " اساسي قانون هغوی ته د لاريونونو حق ورکړی دی، اما هغوی زور زياتی ته مخه کړه او د لارې په اوږدو کې هر څه چې وو د حکومتی ودانيو په شمول له منځ وړل."[٥٦٨] آيا تاسو د هغو نتيجه ګيري څخه چې د مصر له لاريونونو څخه مو تر لاسه کړه، د افغانستان په هکله د تطبيق وړ ده؟

**ج. د منتخب حکومت او سياسي مشارکت حق**

| قانون اساسی افغانستان |
|---|
| **۳۳ ماده** |
| (۱) د افغانستان اتباع د انتخابولو او انتخابېدلو حق لري. |
| (۲) لدې حق څخه د ګټې اخيستلو شرايطو او لارې د قانون له لارې تنظيمېږي. |

۳۳ ماده د افغانستان اتباعو ته د رای ورکولو او انتخاباتي مقاماتو د نوماندیدو له لارې په سياسي نظام کې د ګډون حق ورکوي. لدې امله، د تبعيض د نشتوالی اصل چې په ۲۲ ماده کې ياد شوی، له مخې يې اتباع بايد له تبعيض پرته د ټاکلو او ټاکل کيدو فرصت ولري. د سياسي مشارکت حق د يوې دموکراتيکی ټولنې د خوځښت لپاره ضروري ګڼل کېږي. سره ددې، ۳۳ ماده د ټاکلو او ټاکل کيدو نور جزئيات اړونده قانون ته پرېږدي. ستاسو په نظر ولې تدوين کوونکو دا کار کړی دی؟ آيا تاسو فکر کوی چې دا د سياسی مشارکت حق ته د نړديوالي غوره لار ده؟ ولې او ولې نه؟

**د. د اطلاعاتو آزادي**

| د افغانستان اساسي قانون |
|---|
| **۵۰ ماده** |
| (۳) د افغانستان اتباع حق لري د قانون د حکمونو په حدودو کې له دولتي ادارو څخه اطلاعات تر لاسه کړي. دا حق د نورو د حقونو او عامه امينت ته له زيان رسولو پرته، حدود نه لري |

د اطلاعاتو آزادي په يوه دموکراتيکه ټولنه کې ډېره مهمه موضوع ده، ځکه اتباعو ته فرصت ورکوي تر څو د حکومت د تګ لارو او کړنو په هکله خلکو ته معلومات وړاندې کړي. د اساسي قانون ۵۰ مادې دا

[568] Emma Graham Harrison, *Afghanistan Qur'an Burning Protests Leave Seven Dead*, The Guardian (London), Feb. 22, 2012, *available at*http://www.guardian.co.uk/world/2012/feb/22/afghanistan-quran-burning-protesters-dead.

حق تضمين کړی دی. په ورته وخت کې بايد په ياد ولرئ چې ۵۰ ماده دری محدوديتونه په ګوته کوي. لومړی، دا ماده وايي چې اطلاعاتو ته لاس رسی بايد د "قانون د حکمونو په حدودو" کې وي. دا پدې معنی ده چې اطلاعاتو ته د لاس رسي حق د قانون تابع ده چې د اساسي قانون د مسودې د تيارولو په وخت کې يی شتون نه درلود. دوهم، اطلاعاتو ته د لاس رسی حق نورو ته د زيان رسولو په صورت کې، محدود دی. دريم، اطلاعاتو ته د لاس رسي حق عامه امنيت ته د زيان رسولو په صورت کې محدود دی. دا ماده کېدای شی حکومت ته ددې امکان ورکړي چې د هغو حساسو اطلاعتو له خپرېدو څخه مخنيوی وکړي چې ملي امنيت ته زيان رسوي. آيا تاسو فکر نه کوئ چې دا محدوديتونه مناسب او معقول دی؟ ولې او ولې نه؟

## څلورم. اقتصادي، ټولنيز او کلتوري حقونه

**د اقتصادي، ټولنيزو او فرهنګي حقونو پلي کول: تدريجي تحقق**

د اقتصادي، ټولنيزو او کلتوري حقونو بين المللي ميثاق (ICESCR)دوهمه (۱) ماده وايي چې لاسليک کوونکي هېواد " ژمنه کړې چې د بين المللي مرستې له مخې به زيار باسي په ځانګړي توګه په اقتصادي او فني پلانونو کې به له خپلو موجود سرچينو څخه په زياته اندازه سره به په دغه ميثاق کې د پېژندل شوو ټولو حقونو د تدريجي عملي کېدو په لاره کې د اړتيا وړ وسيلو خصوصا د قوانينو د رامنځ ته کولو له لارې اقدام کوي." په اغېزناکه توګه، دغه ژبه بېلابېلي قانوني ژمني مختلفو هېوادونو ته رامنځ ته کوي، چې د هر هېواد د مالي او اقتصادي امکاناتو په اساس دټولنيزو، اقصادي او کلتوري حقونو د عملي کولو لپاره ټاکل کېږي. دا په دې معنی نه ده چې مخ پر ودې هيوادونه د دې ژمنو د پلي کولو په لاره کې هېڅ دنده نه لري. مخ پر ودې هيوادونه نه شي کولای چې د ترلاسه شوو حقونو په خلاف د بېرته تګ اقدامات وکړي، او د دې حقونو له پرمختيا سره هغوی مکلف دي چې د لا زياتو حقونو د پلي کولو لپاره بسپنه ځانګړې کړي.

### الف. د تعليم حق

<u>عامه تعليم حق</u>

**د افغانستان اساسي قانون**

**۴۳ ماده:**

(۱) زده کړه د افغانستان د ټولو اتباعو حق دی چې د ليسانس تر درجې پورې وړيا د دولت له خوا تأمينيږی.

(۲) دولت مکلف دی چې په ټول افغانستان کې د متوازن معارف د عامولو او د منځنیو اجباري زده کړو د تأمین لپاره غېزمن پروگرام طرح او تطبیق کړي او د مرنیو ژبو د تدریس لپاره په هغو سیمو کې چې پرې خبرې کېږي لاره هواره کړي.

**۴۴ماده:**

دولت مکلف دی د ښځو د زده کړو د پراختیا او توازن د ایجاد په منظور، د کوچیانو د زده کړو د ښه والي او په هېواد کې د بې سوادۍ د له منځه وړلو لپاره اغېمن پروگرامونه طرح او تطبیق کړي.

**۴۵ ماده:**

دولت د اسلام د سپېڅلي دین د حکمونو او ملي فرهنګ پر بنسټ او له علمي اصولو سره سم، واحد تعلیمي نصاب طرح او تطبیقوي او د ښوونځیو د دیني مضمونونو نصاب په افغانستان کې د شتو اسلامي مذهبونو پر بنسټ تدوینوي.

د اساسي قانون ۴۳ ماده د افغانستان د هرې تبعه لپاره د لېسانس تر کچې پورې وړیا تعلیمات تضمینوي، حکومت د افغانستان ټولو اتباعو ته د تعلیم د حق په برابرلو سره د تعلیم د اهمیت په اړه خپل موقف څرګند کړی. دغه نظر چې تعلیم امتیاز نه بلکه یو حق دی، ډیری ښیګڼی لري. د یو تحصیل یافته ټولنې لوړوالی، خلک په دې توانوي چې په یوه پراخه کاري فضا کې دنده اجراء او له اقتصادي ودې څخه حمایت وکړي. د کالج د محصلینو د شمېر زیاتوالی په ډېرو تخصصي ډګرونو کې د مسلکي وګړیو د زیاتوالي سبب کېږي چې دا د اقتصادي ودې لپاره ګټور دي. د تعلیم چټکتیا او د سواد زیاتوالی هم له بېوزلۍ سره د مبارزې او د افغانستان د وګړو د ژوند د کچې د لوړوالي یوه لاره ده. خو یو شمېر ستونزې شته چې د تعلیم له حق څخه د خلکو د ګټې اخیستنې مخنیوی کوي. د افغانستان په ډېرو کلیوالو سیمو کې محدود شمېر ښوونځیو او استادان د زده کوونکو د تدریس لپاره شته. په ځینو سیمو کې د تاو تریخوالي ادامه هم په منظمه توګه ښوونځي ته د شاګردانو د تګ په لاره کې د پام وړ ستونزې را منځ ته کوي. برسېره پر دې د افغانستان حکومت له محدودو سرچینو د ستونزی سره لاس او ګریوان دی. خو دا چې ټول ماشومان ښوونځیو او روزل شوو ښوونکو ته لاس رسی ولري په لنډ مهال کې یې برابرول ناشوني دي.[٥٦٩] سره له دې، ښوونځي ته د ماشومانو د تګ په شمېر کی زیاتوالي کې افغانستان بریالیتوبونه هم لري. د طالبانو د حکومت په وخت کې په کال ۲۰۰۲، کې د ثبت شوو ماشومانو شمېر په ښوونځي کې له یو مېلیون څخه کم و. تر ۲۰۰۹ م کال پورې له شپږو مېلیونو څخه زیاتو ماشومانو په ښوونځي کې خپل نومونه لیکلي وو.[٥٧٠] د یادولو وړ ده چې تر ټولو ډېره نوم لیکنه په ابتدایي ښوونځیو

[569] Human Rights Watch, *available at*http://www.hrw.org/sites/default/files/reports/afghanistan1209web_0.pdf.
[570] *Id.*

کې وه او هغه زده کوونکي چې په متوسطه دوره کې خپلو زده کړو ته ادامه ورکړي د پام وړ کموالی پکې راغلی.[٥٧١]

**موردي مطالعه: سویلي افریقا**

سویلي افریقا هم د تعلیم حق په خپل اساسي قانون کې تسجیل کړی دی. د سویلي افریقا د اساسي قانون جمله بندي تر یو حده د افغانستان د اساسي قانون سره توپیر لري چې په هغې کې راغلي : "هر څوک د، الف) اساسي تعلیماتو...او ب) د تعلیماتو د دوام حق لري چې دولت باید په تدریجي او مناسبه توګه د لاسرسي فرصتونه برابر کړي.".[٥٧٢] د سویلي افریقا د ښوونې د وزارت د سرچینو مطابق، تر نهم ټولګي پورې زده کړه اجباري ده. د زده کړو ادامه تر لسم ټولګي پورې او له هغې پورته پېژندل شوې اما اجباري نه ده.[٥٧٣]

سویلي افریقا د افغانستان په څېر خپلو ټولو اتباعو ته د فرصتونو په برابرولو کې د سرچینو له محدودیتونو سره مخ ده. دا ځکه چې په ډېرو سیمو په ځانګړې توګه فقیر مېشتو سیمو کې نیمه معیاري ښوونځي فعالیت کوي.[٥٧٤] حال دا چې اکثره خلک په دې فقیر مېشتو سیمو کې ژوند کوي، تور پوستي افریقایان دي. په دې هېواد کې مناسبو تعلیماتو ته نه لاسرسی له اوږدمهالو نژادي کړکېچونو سره تړاو لري.[٥٧٥] سره له دې د سویلي افریقا اساسي قانون دا نه مشخص کوی چې موجوده تعلیمات دې له معیاري کیفیت سره سمون ولري. دغه موضوع د بحثونو د زیاتوالي سبب شوه چې آیا د تعلیاتو د کیفیت ټیټوالی د اساسي قانون د تعلیماتو د حق د مندرجي مادې نقض دی او که نه؟[٥٧٦] د سویلي افریقا د اساسي قانون محکمې په دې اړه هېڅ مورد نه ده اورولی. خو د روغتیایي وقایې او معالجې د حق پر بنیاد یې د حکم له صدرو څخه ډېره کړې کوم چې حکومت د ملي روغتونونو لپاره د مشخصو سرچینو په ټاکلو توظیفوي، محکمې زیاته کړې چې، هغوی: د تعلیم د حق په اړه د سرچینو د کمښت په صورت کې حکومت مقصر نه ګڼي.[٥٧٧]

**د مباحثې پوښتنې**

١. تاسو د سویلي افریقا په اړه څه فکر کوئ؟ ستاسو په نظر آیا د تعلیم ټیټ کیفیت یا ځرنګوالی د تعلیم د حق نقض دی؟

[571] *Id.*
[572] South African Constitution, Chapter 2, § 29(1).
[573] Eric Berger, *The Right to Education Under the South African Constitution*, 103 Columbia L. Rev. 3 614 (2003).
[574] *Id.*
[575] *Id.*
[576] *Id.*
[577] *Id.*

۲. له دې وضعیت څخه په ګټه اخیستنه، که په افغانستان کې حکومت د ښوونځیو د لوړ کیفیت په منځ ته راوړلو کې د کافي سرچینو د نه موجودیت په دلیل په ځینو سیمو کې پاتې راشي، آیا دا به په اساسي قانون کې د تعلیم د حق د مندرجې مادې نقض دی؟

**مثال: د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقونو بین المللي میثاق**

**۱۳ ماده:**

د دې میثاق غړي هیوادونه تعلیم ته د هر چا حق په رسمیت پېژني، دغه هیوادونه موافقه لري چې د تعلیم موخه باید: د انسان کامل رشد، د حیثیت احساس، د بشر د حقونو پیاوړتیا او د اساسي آزادیو تأمین وي. برسېره پر دو، د دې میثاق طرفدار هیوادونه موافقه لري چې، تعلیم باید ټول وګړي د ګټور رول اداء کولو، زغمنه او دوستی ته راوبلي چې د ټولو نژادي، قومي او مذهبي ډلو تر منځ باید را منځ ته شي او د ملګرو ملتونو د سازمان د فعالیتونو وده د سولې د ساتلو په موخه تشویق کړي.[۵۷۸]

**مباحثه**

دغه نچوړ د ملګرو ملتو د اقتصادي، ټولنیز او کلتوري حقونو بین المللي میثاق د ۱۳ مادې برخه ده چې د تعلیم د حق د تضمین پر دلایلو تأکید کوي. د دې مادې تر شا لوری ورکوونکی ځواک، دغه نظرده چې تعلیم د بشر حقونو، انساني کرامت او په جنګ ځپلو ټولنو کې سولې ته احترام زیاتوي.

۱. آیا تاسو فکر کوئ چې د تعلیم لوړوالی د بشر د حقونو په ښه درک او احترام تمامېږي؟

۲. آیا تاسو فکر کوئ چې که ډېر خلک تعلیم یافته شي، نو دوامداره سوله به په افغانستان کې آسانه شي؟ آیا تاسو فکر کوئ چې د دې نظریاتو تر منځ هېڅ اړیکي نه شته؟

**د مباحثې پوښتنې**

۱. ستاسو په آند، آیا تعلیم داسي یو حق دی چې باید د اساسي قانون په واسطه سره یې حمایت وشي؟

۲. ستاسو نظر د ماشومانو د اجباري تعلیم په اړه څه ده؟ آیا تاسو فکر کوئ چې حکومت باید د دې غوښتونکی شي چې ټول ماشومان دې ښوونځیو ته لاړ شي؟

[۵۷۸] ICESCR.، ۱۳ ماده

۳. آیا تاسو فکر کوئ چې حکومت په عملي او اغېزناکه توګه د تعلیم له حق څخه حمایت کوي، که ستاسو په نظر په دې اړه څېنې تغییراتو ته اړتیا شته؟

*تعلیم د ټولو لپاره*

د اساسي قانون ۴۴ ماده وايي چې دولت په هېواد کې "د ښځو د زده کړو د پراختیا او توازن" او همدارنګه د کوچیانو د زده کړو د ښه والي او په هېواد کې د بې سوادۍ د له منځه وړلو لپاره د اغېزمنو پروګرامونو په طرح او تطبیق مکلف دی. دغه ماده د ټولنې د ډېرو برخو- له هغې جملې څخه تعلیم ته په دودیز ډول محدودو ډلو او ګروپونو لکه ښځو- لپاره د تعلیم د سطحې د ښه والي څرګندویه ده.

اساسي قانون دا نه ده تعریف کړې چې "د ښځو لپاره متوازن تعلیم" په څه معنی ده، هغه کولائ شو چې له مختلفو لارو څخه و ټاکو له هلکانو سره د تعلیم د برابرۍ، یا په ټولنه کې د هغوی د رول سره سم د نجونو لپاره ځانګړو تعلیمي پروګرامونو جوړول. په دې توګه د ښوونې وزارت تر ۲۰۰۹ کال پورې هدف ټاکلی دی چې د هغې په اساس به ٪۶۰ کې نجونې په ښوونځیو کې خپل نومونه ولیکي (په مقایسه د یو هدف ٪۷۵ کې له هلکانو سره).[۵۷۹] په کال ۲۰۰۹ کې، تر ٪۳۷ ماشومو نجونو په ابتدایه ښوونځیو او تر ٪۲۷ پورې نوم لیکونکې په متوسطه ښوونځیو کې نجونې وې.[۵۸۰] یو شمېر بېلابېل عوامل لکه د نجنو له تعلیم سره مخالفت، د نجونو د تعلیم لپارهد ښځو معلمینو کمبوداو د امنیتي تشویشونو زیاتوالی سبب کېدای شي چې ښوونځیو ته د لرونکو شرایطو نجونو د ټګ سلنه را ټیټوي.[۵۸۱]

**مثال: د افغاننجونو لپاره تعلیم**

په ورستیو کلونو کې، په څېنو سیمو کې د طالبانو ځواکونه د نجونو په ښوونځیو باندې یو زیات شمېر بریدونه کړي.[۵۸۲] چې دا کار د ښوونځیو د تړلو، د نجونو لپاره د متمایلو ښوونکو د کمښت او د یو داسې وضعیت د را منځ ته کولو سبب کېږي چې ښوونځیو ته د نجونو تګ که ناشونی نه وي نو ډېر سخت وې. په نتیجه کی یوه برخه نجونې نه شي کولائ چې د تعلیم له حق څخه چې اساسي قانون ورته ورکړی دی، ګټه واخلي.

**د مباحثې پوښتنې**

[579] Human Rights Watch, *available at*http://www.hrw.org/sites/default/files/reports/afghanistan1209web_0.pdf.
[580]*Id.*
[581]*Id.*
[582] Human Rights Watch, *available at*http://www.hrw.org/sites/default/files/reports/afghanistan1209web_0.pdf.

۱. آیا تاسو فکر کوئ چې د ښوونځیو په ساتلو او ښوونځیو ته د ټولو نجونو د تګ په لاره کې پاتې راتګ د نجونو د تعلیم د حق په اړه د اساسي قانون د مندرجې مادې نقض دی؟

۲. ستاسو په نظر له اساسي قانون سره سم، دولت تر کومې اندازې پورې د تعلیم له حق څخه د دفاع مکلفیت لري؟

*لوړې زده کړې*

**د افغانستان اساسي قانون**

**۴۶ ماده**

(۱) د لوړو عمومي او اختصاصي زده کړو د مؤسسو جوړول او اداره کول، د دولت وظیفه ده.

(۲) د افغانستان اتباع کولای شي د دولت په اجازه د لوړو عمومي، اختصاصي او د سواد د زده کړو مؤسسې جوړې کړي.

(۳) دولت کولای شي بهرنیو کسانو ته هم د قانون له حکمونو سره سم د لوړو، عمومي او اختصاصي زده کړو د مؤسسو د جوړولو اجازه ورکړي.

(۴) د لوړو زده کړو په دولتي مؤسسو کې د شاملېدو شرطونه او له هغو سره نورې مربوطې چارې، د قانون له لیارې تنظیمېږي.

۴۶ ماده د دې مستلزمه ده چې حکومت پوهنتونونه او نورې د لوړو زده کړو مؤسسې ایجاد او اداره کړي. چې دا د دولتي پوهنتونونو او مکتبونو د شبکې لپاره د افغانستان وګړو ته د مجاني (مفت) تعلیماتو د برابرولو په موخه یوه اړانه یا چوکاټ جوړوي.[۵۸۳] د لوړو زده کړو وزارت په ټول افغانستان کې د ملي پوهنتونونو څارنه او اداره کوي. په دې توګه، خصوصي پوهنتونونه لکه د افغانستان امریکایي پوهنتون هم له دولت څخه د اجازې په تر لاسه کولو رامنځ ته کېږي.

اساسي قانون څرګندوي چې حکومت خپل کنټرول د لوړو زده کړو د مؤسساتو پر تأسیس او اداري باندې ساتي. ۴۶ ماده وایي:"د لوړو زده کړو په دولتي مؤسسو کې د شاملېدو شرطونه او له هغو سره نورې مربوطې چارې، د قانون له لیارې تنظیمېږي."[۵۸٤] د لوړو زده کړو وزارت د محصلینو لپاره د تعلیماتو د

[۵۸۳]. د افغانستان اساسی قانون، ۴۶ ماده
[۵۸٤]. هماغه ځای

لوړو سټندرډونو د ترویج په موخه د جواز د صدور د سیستم په پراختیا باندې کار کوي[585] چې تر اوسه لا بشپړه شوې نه ده، او باید عملي شي.

د افغانستان د لوړو زده کړو سیستم د تېرو دېرشو کلونو جګړو او اشغال په ترڅ کې د پام وړ متضرره شوی دی. بنیادونه نړېدلي او ډېرو استاداند تاو تریخوالي له کبله په بهر کې د امن په لټه کې خپل هېواد پرېښی دی.[586] تر ۲۰۰۱ کال کې د لوړو زده کړو لپاره نوم لیکنه له (۸۰۰۰) تنو څخه کم شوی و.[587] په ۲۰۰۹ کال کې دغه شمېر له ۶۲۰۰۰ څخه زیاتو تنو ته ورسېد چې ۲۱٪ یې نجوني وې.[588] په نتیجه کې د لوړو زده کړو وزارت د غوښتنو د پوره کولو او د عالي تعلیماتو د وړاندې کولو په اړه له اساسي قانون سره سم د لیسانس تر کچې پورې مکلف دی. په ۲۰۰۹ کال کې د افغانستان د۲۲ دولتي پوهنتونونو بودجه یوازې ۳۵ مېلیونه امریکایي ډالره وه، او دولت یې مجبوراوه چې د بودجې د زیاتوالي لپاره نورې لارې ولټوي.[589]

**د مباحثې پوښتنې**

۱. تاسو د هغو مقرارتو په اړه چې د هغو په اساس هر څوک که غواړي د لوړو زده کړو خصوصي مؤسسه جوړه کړي، باید له حکومت څخه اجازه واخلي، څه فکر کوئ؟

۲. آیا تاسو فکر کوئ چې دا د ټیټ کیفیت لرونکو پوهنځیو د مخنیوي لپاره ښه لاره ده، که دا د تعلیم په لاره کې نورې ستونزې جوړوي؟

### ب. فرهنګي حقونه

**د افغانستان اساسي قانون**

**مادۀ ٤٧**

(۱) دولت د علم، فرهنګ، ادب او هنر د پرمختګ لپاره اغېزمن پروګرامونه طرح کوي.

(۲) دولت د مؤلف، مخترع او کاشف حقوق تضمینوي او په ټولو برخو کې علمي څېړنې هڅوي او ملاتړ یې کوي او د هغو له نتیجو څخه د اغېزمنې ګټې اخیستل د قانون له حکمونو سره سم عاموي.

[585]. د لوړو زده کړو وزارت ستراتېژیک پلان، د لاس رسی وړ په: .http://www.mohe.gov.af/?lang=en&p=plan
[586]. هماغه ځای
[587]. هماغه ځای
[588]. هماغه ځای
[589]. هماغه ځای

۴۷ ماده د دې هدف څرگندونه کوي چې: دولت د کلتو، هنر او نوښتونو حمایت کوي او همدارنگه د معنوي مالکیت د حقونو د نهاد یا بنسټ د پراختیا په موخه د مؤلف، مخترع او هنرمندانو له حقوقو څخه د دفاع ژمنه بیانوي. د ۴۷ مادې یوه بله اغېزه په افغانستان کې له هنري او کلتوري اثارو څخه حفاظت او ساتنه ده چې زیات د هغو په څو لسیزو جگړو کې له منځه تللی، لوټ شوی او یا متضرره شوی دی.[۵۹۰] د افغانستان د ملي پرمختیا ستراتېژی (ANDS) د یوې برخې په مصداق حکومت ژمنه کړې چې د ملگرو ملتو د پراختیا له پروگرام (UNDP) سره په افغانستان کې د موجودو تاریخي او داسې نورو هنري آثارو د تفصیلي لست د جوړولو او پراختیا لپاره یو ځای کار وکړي.[۵۹۱] همدارنگه حکومت د کابل موزیم د ساتلو او نورو سیمه ییزو او موضوعي موزیمونو د جوړولو لپاره په ټول افغانستان کې ژمن دی چې ژر تر ژره دغو اثارو ته د خلکو د لاسرسي ډاډ تر لاسه شي. د اوږد مهالو موخو یو بل هدف په ټول هېواد کې د تاریخي سایټونو جوړول او حفاظت دی.[۵۹۲]

په وروستیو کلونو کې په افغانستان کې د رسنیو چټکې ودې ته په پاملرنې سره له معنوي مالکیت څخه ملاتړ له ځانگړي ارزښت څخه برخمن دی. دا مهال له ۱۳۰ څخه ډېر د راډیو او ټلویزیون خپلواکې دستگاوې او همدارنگه گڼ شمیر خپلواکې ورځپاڼې د هیواد په گوټ گوټ کې شتون لري.[۵۹۳] د رسنیو او معنوي مالکیت په اړه د تقنیني اسنادو پرمختگ ورو ورو وده کوي، چې د هغه دلیل په یو ډول د منابعو او انساني پانگې کمښت او همدارنگه په اوس وخت کې امنیتي اندیښنې دي.[۵۹۴] افغانستان په ۲۰۰۶م کال کې د ټولیزو رسنیو قانون د دواړو رسنیو د تنظیم لپاره یعني په افغانستان کې د ننه د افغانانو او د بهرنیو اتباعو لپاره، تدوین کړ. همدارنگه په دغه قانون کې د اطلاعاتو او کلتور له وزارت سره د مؤلف د حقونو د خوندیتوب لپاره د کتابونو او لاربښودونو د ثبت په اړه اصول شامل دي، خو تر دې لاډیر ارزښتمن تقنیني سند یعني کپي رایت یا د چاپ حق لا تراوسه هم شتون نه لري.[۵۹۵]

**د مباحثې پوښتنې**

۱. آیا تاسو فکر کوئ چې د کلتور وده د دولت دنده ده؟یا تاسو فکر کوئ، چې حکومت باید کلتوري مسایل خلکو ته پرېږدي او اجازه ورکړي چې د افغانستان کلتور په طبیعي بڼه وده وکړي.؟

۲. د تاسو په آند د معنوي مالکیت د ساتنې لپاره حکومت باید کوم کار ترسره کړي؟

### ج. د کار حق

[۵۹۰]. د افغانستان د ملي پرمختیا ستراتېژي. د لاس رسي وړ په:
http://www.undp.org.af/publications/KeyDocuments/ANDS_Full_Eng.pdf, (2008).

[۵۹۱]. هماغه ځای

[۵۹۲]. هماغه ځای

[۵۹۳]هماغه ځای.

[۵۹۴]. هماغه ځای

[۵۹۵]. د افغانستان د رسنیو قانون، د لاس رسي وړ په :
thttp://www.unhcr.org/refworld/country,LEGAL,,LEGISLATION,AFG,4562d8cf2,4a5712902,0.html.

**د افغانستان اساسي قانون**

**۴۸ مادهٔ**

(۱) کار د هر افغان حق دی.

(۲) د کار د ساعتونو ټاکل او بامعاشه رخصتي، د کار او کارګر حقوق او له هغو سره نورې اړوندې چارې د قانون له لیارې تنظیمیږي. د قانون د حکومونو په حدودو کې د کار او کسب انتخاب آزاد دی.

۴۸ مادهٔ د هر افغان لپاره د کار حق تضمینوي او زیاتوي، چې حکومت د کار د ساعتونو او اجورې د تنظیم لپاره د کار قانون برابروي، ترڅو د هغوی د کار کماروونکو د ناوړې ګټې اخیستنې مخنیوي او د کار کونکو حقوق تضمین شي.[596]

په ټولیز ډول د کار د حق تفسیر په دې معنا نه دی، چې حکومت ټولو کسانو ته د کار او کسب موندلو دنده لري. بلکې په دې معنا ده چې حکومت د کارپر وړاندې د خنډونو د له منځه وړلو لپاره او د کار او جورې د وړ او معقولو شرایطو لپاره قوانین او تګلاره جوړوي.[597] همدرانګه دا په دې معنا ده چې حکومت د کارموندنې د تګلارو او پروګرامونو د ودې دنده لري.[598]

د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو د تضمین لپاره چې په اړه یې پورته خبرې وشوې، د نړیوال مقاومت سره سره، د کار حق په نسبي ډول چټك ملاتړ خپل کړی دی، ځکه دولتونه غواړي چې اتباعو ته ددندی د برابرولو په اساس اقتصادي وده چټکه کړي. همدارنګه د کار حق د امریکا په متحده ایالاتونو او ګڼ شمیر نورو هیوادونو کې او د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د کارګري خوځښتونو ترشا د ۱۹۰۰کلونو په لومړیو کې یو غښتلی ځواك و.[599] د کار د حق د ودې او د کار د نړیوالو ستندرډونو د پراختیا لپاره په ۱۹۱۹م کال کې د کار نړیوال سازمان (ILO) جوړ شو او په ۱۹۴۶م کې د ملګروملتونو په لومړۍ تخصصي اداره بدله شوه.[600] افغانستان په ۱۹۳۴م کال کې د کار له نړیوال سازمان سره یو ځای شو او

---

[596]. دافغانستاناساسيقانون،۴۸ماده

[597] V.M. Dandekar, *Making the Right to Work Fundamental*, 26 Economic and Political WeeklyMar. 1991, at 697; International Covenant on Economic, Social and Cultural Rights.International Commission of Jurists, *The Courts and the Legal Enforcement of Economic, Social and Cultural Rights*, 2008, *available at*http://www.icj.org/dwn/database/ESCR.pdf.

[598]V.M. Dandekar, *Making the Right to Work Fundamental*, 26 Economic and Political WeeklyMar. 1991, at 697; International Covenant on Economic, Social and Cultural Rights. International Commission of Jurists, *The Courts and the Legal Enforcement of Economic, Social and Cultural Rights*, 2008, *available at*http://www.icj.org/dwn/database/ESCR.pdf.

[599] John R. Ellingston, *Essential Human Rights: The Right to Work*, 243 Annals of the American Academy of Political and Social Science, Jan. 1946, at 27. V.M. Dandekar, *Making the Right to Work Fundamental*, 26 Economic and Political Weekly, Mar. 1991, at 697; International Covenant on Economic, Social and Cultural Rights. International Commission of Jurists, *The Courts and the Legal Enforcement of Economic, Social and Cultural Rights*, 2008, *available at*http://www.icj.org/dwn/database/ESCR.pdf.

[600]. د کار بین المللی سازمان په هکله وګورئ:

http://www.ilo.org/global/about-the-ilo/lang--en/index.htm.

د هغه له اتو تړونونو څخه يې درې تړونونه تصويب کړي دي: د برابرې اجورې تړون، د جبري کار د لغوه کولو تړون او په دندو او استخدام کې د تبعيض تړون.[۶۰۱]

په افغانستان کی په اوس وخت کې د بيکارۍ او نيمه بيکارۍ لوړه کچه شتون لري. داسي اټکل دی، چې د بيکارۍ د کچی سره د مبارزی لپاره (چې په ۲۰۰۸ کال کی ۳۵ – ۴۰ سلنه وه)[۶۰۲]د افغانستان حکومت او UNDP د افغانستان د ملي پرمختيا ستراتيژي (ANDS) په ۲۰۰۸م کال کې جوړه کړه، چې د لوړې پر کمښت او د دندو په رامنځته کولو ډير ټينګار څرګندوي. د ملي انکشاف د ستراتيژۍ د برنامې له مخې، حکومت په افغانستان کې د کانونو او د طبيعي غازو د زيرمو د راويستلو د ځانګړي ټينګار ترڅنګ د خصوصي سکتور څخه په ملاتړ ژمن دی.[۶۰۳] همدارنګه حکومت د افغانستان په وروسته پاتې سيمو کې اوسيدونکوته د عامه بوختياوو د رامنځته کولو لپاره د يو لړکاري برنامو پراختيا ته ژمن دی.[۶۰۴]

**بيلګه: د اقتصادي، ټولنيزو او کلتوري حقونو بين المللی ميثاق**

**۶ ماده**

(۱)د دې تړون اړوند هيوادونه د کار کولو حق چې د هرچا حق دی،د دېلپاره چې موقع په لاس ورشي او د هغه کار په وسيله چې په آزاد ډول يې انتخاب يا منلی، خپل معاش تامين کړي، په رسميت پيژني اود دېحق د خونديتوب لپاره به وړ ګامونه واخلي.

(۲) هغه کارونه چېد دېتړون پورې اړوند هيوادونه به يېد دېحق د پوره عملي کولو لپاره ترسره کړي، بايد فني او حرفوي لاربښوونې او فني برنامې او تګلارې پکې شاملې وي، چې د اقتصادي، ټولنيزو او کلتوري تلپاتي ودې له لوازمو څخه دي او دداسي شرايطو لاندې يې ترسره کړي چې د وګړيولپاره بنسټيزې سياسي او اقتصادي آزادي ګانې خوندي وساتي.[۶۰۵]

**مباحثه**

---

601 International Labour Organization, *available at*http://www.ilo.org/asia/countries/afghanistan/lang--en/index.htm.

602 CIA World Factbook, *available at*https://www.cia.gov/library/publications/the-world-factbook/geos/af.html. Afghanistan National Development Strategy, *available at*http://www.undp.org.af/publications/KeyDocuments/ANDS_Full_Eng.pdf, (2008).

۶۰۳. د افغانستان د ملي پرمختيا ستراتيژي. د لاس رسي وړ په: http://www.undp.org.af/publications/KeyDocuments/ANDS_Full_Eng.pdf, (2008) 34.

۶۰۴. د افغانستان د ملي پرمختيا ستراتيژي. د لاس رسي وړ په: *t*http://www.undp.org.af/publications/KeyDocuments/ANDS_Full_Eng.pdf, (2008) 34.

۶۰۵. ICESCR، ۶ ماده

**د اقتصادي، ټولنيزو او کلتوري حقوقو نړيوال تړون په ښکاره ډول د کار د پرمختګ، د کاري فرصتونو د اسانتيا او ودې لپاره د دولت مسؤليت بيانوي. همدارنګه دغه تړون له هيوادونو څخه غواړي، چې د کاري مهارتونو په پياوړتيا سره خلکو ته د کار پيدا کولو وړتيا وبښي.** د اقتصادي، ټولنيزو او کلتوري حقونو تړون همدارنګهد ډېلپاره دی، چې د حکومتونو او پروګرامونو هغه تګلارې چې د اقتصادي پرمختګ او ودې سره مرسته کوي، د نويو بوختياو لامل وګرځي. د افغانستان اساسي قانون په ځانګړي ډول دغو اړتياو ته اشاره نه کوي، خو له هغه ځايه چې افغانستان يو له هغو هيوادونو څخه دی، چې د اقتصادي، ټولنيزو او کلتوري حقونو نړيوال تړون يې لاسليك کړی، په زړه پورې به وي، چې وليدل شي چې آيا دوی دغه اړتياوې په پام کې نيسي يا نه.

۱. د کار د حق په هکله د اقتصادي، ټولنيزو او کلتوري حقونو بين المللي ميثاق په اړه تاسو څه نظر لرئ؟ د تاسو په نظر آيا لازم دی، ترڅو د کار د حق په اړه په اړوندو بحثونو کې ددغه تړون اضافي جزيات د افغانستان په اساسي قانون کې ځای پر ځای شي؟

۲. په څه ډول حکومت د کار له حقه په ګټه اخيستنې له خلکو سره مرسته کوی شي؟

**د مباحثې پوښتنې**

۱. آيا تاسو فکر کوئ چې د افغانستان حکومت د داسي تګلارو او پروګرامونو د جوړولو په حال کې دی، چې د افغانستان په ګوټ ګوټ کې د بوختياو او نويو دندو له رامنځته کيدوسره مرسته کوي؟ آيا تاسو فکر کوئ چې دغه کار د کار د حق د خونديتوب لپاره بسنه کوي؟

۲.آيا تاسو فکر کوئ چې حکومت په اغيزمنه توګه د سختو او ويره وونکو شرايطو پر وړاندې د کارګرو د ساتنې لپاره اصول برابر کړي دي؟

### د. د مخنيوي او درملنې حق

**د افغانستان اساسي قانون**

**۵۲ ماده**

(۱) دولت د ټولو اتباعو لپاره د ناروغيو د مخنيوي او د وړيا علاج وسيلې او روغتيايي آسانتياوې د قانون له حکمونو سره سم تامينوي.

(۲) دولت له قانون سره سم د خصوصي طبي خدمتونو او روغتيايي مرکزونو جوړول او پراختيا هڅوي او ملاتړ يې کوي.

(۳) دولت د سالمې بدني روزنې د پياوړتيا او د ملي او سيمه ييزو ورزشونو د پراختيا لپاره لازم تدبيرونه نيسي

**۵۳ ماده**

(۱) دولت د شهيدانو او لادرکو له پاتې کسانو، د معلولينو او معيوبينو د بيا ځواکمنی او په ټولنه کې د هغوی د فعالې ونډې اخيستنې په خاطر د مالي مرستو او روغتيايي خدمتونو د تنظيم لپاره د قانون له حکمونو سره سم لازم تدبيرونه نيسي.

(۲)دولت د متقاعدينو حقوق تضمينوي او له زړو کسانو، بې سرپرسته ښځو، معيوبينو او معلولينو او بې وسه يتيمانو سره د قانون له حکمونو سره سم لازمې مرستې کوي.

۵۲ ماده د روغتيا ملي خدمتونه يادوي، چې د افغانستان د ټولو اتباعو لپاره وړيا طبي ساتنی په پام کې لري.[۶۰۶]د اقتصادي، ټولنيزو او کلتوري حقوقو نړيوال تړون ۱۲ ماده وايي، چې خلك د ترلاسه کيدو وړ د بدني او رواني سلامتی د ټولو نه د لوړې کچې مستحق دي.[۶۰۷]

د روغتيا د نړيوال سازمان(WHO) د منابعو له مخې معلوميږي چې په نړۍ کې هر هيواد لږ تر لږه يو تړون چې د اتباعو د سلامتی پورې اړوند وي، تصويب کړی دی.[۶۰۸] د WHO اساسنامه لومړنی نړيوال سند دی، چې د بشر د حقونولپاره (د روغتيا لپاره د ترلاسه کيدو وړ ترټولو لوړ سټندرډ څخه برخمن کيدل) غوښتونکی دی."[۶۰۹] WHO روغتيا د "بدني، رواني اوټولنيزې پوره آرامی حالت) په توګه تعريفوي.[۶۱۰] دا يو ډيرعام تعريف دی او له نظري اړخه پراخه کيدلای شي. په دې معنا چې کوی شو د اوبو او خوړو او نورو ډيرو توکوحق چې د سالم ژوندانه لپاره د اړتيا وړ اصلي توکي دي، ورزيات کړو، ځکه له هغو پرته فزيکي سلامتي ناشوني ده. له دې سره د تعريف له عملي اړخه په کمه کچه دغه ټول شامليږي.

په اوس وخت کې افغانستان د روغتيايي شرايطو له مخې او د روغتيايي ساتنو له مخې په ډير ضعيف حالت کې واقع دی.افغانستان په نړۍ کې زيږون پر مهال د ماشومانو د د مړينې په برخه کې ترټولو لوړه کچه لري، اټکل کيږي چې په ۲۰۱۱م کال کې د نويو پيدا شويو ماشومانو مړينه په هرو ۱۰۰۰تنو کې د

---

[۶۰۶]. د افغانستان اساسي قانون، ۵۲ ماده

[۶۰۷]. ICESCR،۱۲ماده

[608]Alicia Ely Yamin, *The Right to Health: Assessing How Far the Discourse Has Evolved Internationally and Within the United States*, *in*Proceedings of the 104th Annual Meeting: American Society of International Law14 (2010).

[609] Max Planck Institute, *Access to Medication as a Human Right*, 8 Max Planck YBUN 101 (2004).

[610]*Id.*

۱۲۱شاوخوا وه.[611] په ۲۰۰۸م کال کې د میندو مړینه د زیږون پرمهال په هرو ۱۰۰۰۰۰کې ۱۴۰۰تنه بنودل شوې چې دا هم په نړۍ ترټولو لوړه کچه وه.[612]له شك پرته لوی لامل یې هغو کسانو ته چې روغتیایي ساتنو ته یې اړتیا وه، د ډاکترانو او نورو روغتیایي کارکوونکو او طبي مرستو کمښت دی. د روغتیا د نړیوال سازمان د معلوماتو پر بنسټ په ۲۰۰۹م کال کې په افغانستان کې هرو ۱۰۰۰۰تنو ته دوه ډاکترانو پنځه تنه روغتیا پالان (نرسان) شتون درلود.[613] طبي وسایل لږ دي او په ۲۰۰۹م کال کې په هیواد کې د هرو ۱۰۰۰۰تنو لپاره یوازې څلورو بسترونو په روغتون کې شتون درلود.[614] له دې ټولو سره سره په دې برخه کې په تیره لسیزه کې د پام وړ ښه والی راغلی دی، یعني د خلکو ۶۶سلنه وګړي د دوه ساعتونو په واټن کې په پلي تګ سره د لومړنیو صحي خدمتونو مرکز ته واقع دي او په سلو هغو جمعیتونو کې چې د UNDP د اساسي صحي خدمتونو له بستو څخه ګټه اخلي، د ۲۰۰۳ او ۲۰۰۶ کلونو ترمنځ له ۹ څخه ۸۲ سلنې ته پورته شوې ده.[615] سربیره پردې د ۲۰۰۴ او ۲۰۰۷ کلونو ترمنځ د لومړنیو صحي مراقبتونو امکانات د صحي مراقبت له ښځینه مرستندویې سره له ۲۶ سلنې څخه ۸۱ سلنې ته پورته شوې ده.[616]د افغانستان د ملي ستراتیژۍ له لارې حکومت ژمنه کړې چې د لاس رسي وړ روغتونونو په شمیر کې به زیاتوالی راولي او د ډاکترانو په روزنه او نورو صحي خدمتونوکې پام کوي.

**د مباحثې پوښتنې**

۱. د افغانستان د ملي روغتیایي درملنې د سیستم په اړه ستاسو څه نظر لرئ؟ آیا تاسو فکر کوئ چې حکومت روغتونونو او ډاکترانو ته د لاسرسي په برخه کې د خپلو ژمنو عملي کولو ته په کافي ډول کوښښ کوي؟

۲. د هر وګړي د وقایې او درملنې د حق د خوندیتوب له لپاره د اساسي قانون په رڼا کې کوم کار ترسره کوی شئ؟ آیا زیانمنو ډلو ته د روغتیایي خدمتونو د لاس رسي لپاره په اساسي قانون کې د حکمونو تسجیل موافقت لري؟

## ه. د کورنۍ حقونه / فامیل حقوق

**د افغانستان اساسي قانون**

611CIA World Factbook, *available at*https://www.cia.gov/library/publications/the-world-factbook/geos/af.html.
612*Id.*
613 World Health Organization, Country Statistics, *available at*http://apps.who.int/ghodata/?vid=3000&theme=country.
614*Id.*
615. د افغانستان د ملي پرمختیا ستراتېژي، د لاس رسي وړ: http://www.undp.org.af/publications/KeyDocuments/ANDS_Full_Eng.pdf.
616 http://www.undp.org.af/publications/KeyDocuments/ANDS_Full_Eng.pdf.

**۵۴ ماده**

(۱) کورنۍ د ټولنې اساسي رکن دی او د دولت تر پاملرنې لاندې ده.

(۲) دولت د کورنۍ او په ځانګړې توګه مور او ماشوم د جسمي او روحي روغتیا د تامین، د ماشومانو د روزنې او د اسلام د سپیڅلي دین له احکامو سره د مغایرو رسومو د له منځه وړو لپاره لازم تدبیرونه نیسي.

۵۴ ماده حکومت ته دنده سپاري ترڅو د افغانستان په ټولنه کې له کورنۍ څخه ملاتړ وکړي.[۶۱۷] د اساسي حقونو نړیواله اعلامیه هم د کورنۍ له رکن څخه ملاتړ کوي. د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو د نړیوال تړون په ۱۰ ماده کې راغلي(کورنۍ د ټولنې طبیعي او بنسټیز رکن دی. په کار ده چې له ډېر لوړ شوني ملاتړ او مرستې څخه برخمنه شي، په ځانګړي ډول د جوړښت لپاره یې تر هغه وخته چې د ماشومانو د ساتنې، روزنې او زده کړې دنده پرغاړه لري. واده باید آزادانه د دواړو لوریو په خپله خوښه چې اراده یې لري، ترسره شي.)"[۶۱۸] د مدني او سیاسي حقونو نړیوال تړون هم په ۲۳ ماده کې د کورنۍ د موضوع په اړه وایي: ((کورنۍ د ټولنې طبیعي او بنسټیز رکن دی او د ټولنې او حکومت د ملاتړ حق لري))."[۶۱۹]

د اساسي قانون ۵۴ ماده له دولت څخه غواړي، ترڅو په ټولنه کې له کورنۍ څخه د ملاتړ لپاره لازم تقنیني او بنسټیز تدابیر ونیسي.[۶۲۰] د کورنۍ قانون واده تنظیموي او له میندو، ماشومانو او د کورنۍ له واحده په ټولیز ډول ساتنه کوي.

د بشر د حقونو په اړه د قوانینو او څېړنو د مجموعې د ودې په مهمه برخه کې ډېری د لویدیځو ولسواکیو لکه د امریکا متحده ایالاتونو او د لویدیځې اروپا هیوادونو کې، ترډېره بریده پر فرد باندې د حقونو د حامل په توګه متمرکز و.[۶۲۱] خو پر وړاندې یې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې په ډېرو فرهنګونو کې د وګړیو پر ځای په عنعنوي ډول په کورنۍ او نورو ډلو متمرکز وې، چې د بشر د حقونو په بحث کې د بدلون لامل وګرځید او دغه هیوادونه په ځانګړي ډول د هغوی کلتور مطرح کوي. په پایله کې د عنعنوي ټولنیز واحد لپاره ځانګړې ساتنه یعني کورنۍ ساتل شوې ده.[۶۲۲] په اسلامي هیوادونو کې د بشر د حقونو په بحث کې د فرد پر ځای په کورنۍ باندې ټینګار د یو رکن په توګه دود دی. لکه چې په ادامه کې به یې تاسو وګورئ، د بشر د حقونو عربي تړون هم د قاهرې د بشر د حقوقو د اسلامې د اعلامیې په څېرد بشر د حقونو په اړه د کورنۍ د رکن ملاتړ او مقررات لري.[۶۲۳]

---

[۶۱۷]. دافغانستاناساسیقانون،۵۴ماده

[۶۱۸]. ICESCR، ۱۰ ماده

[۶۱۹]. ICCPR، ۲۳ ماده

[۶۲۰]. د افغانستان اساسی قانون، ۵۴ ماد ه

[621]OnumaYasuaki, *Towards an Intercivilizational Approach to Human Rights*, 7 Asian Y.B. Int’l L. 21 (1997).

[622]*Id*

[۶۲۳]. وګورۍ د بشري حقونو عربي منشور، ۳۸ ماد ه، د لاس رسي وړ:
Arab Charter on Human Rights art. 38, *available at*http://www.unhcr.org/refworld/docid/3ae6b38540.html.

**بيلګه: په اسلام کې د بشر د حقوقو په اړه د قاهرې اعلاميه (CDHRI)**

**۵ ماده**

(الف) کورنۍ د ټولنې د جوړښت ستنه ده او واده يې د رامنځ ته کيدو بنسټ دی، له همدې کبله نارينه او ښځينه د واده حق لري او هيڅ قيد او بند چې د نژاد يا رنګ يا قوميت پر بنسټ وي، نشي کولی، چېد دېحق مخنيوی وکړي.

(ب) ټولنه او دولت دنده لري، چې د واده پر وړاندې خنډونه له منځه ويوسي، لاره ورته آسانه کړي او له کورنۍ څخه ملاتړ وکړي.[٦٢٤]

**۷ماده**

(الف)هر ماشوم د زيږون له مهاله د ماشومتوب په دور کې د ساتنې، روزنې او د مادي، صحي او اخلاقي خونديتوب حق پرخپلو والدينو، ټولنه اودولت لري.ترڅنګ يې بايد له جنينو او مور څخه ساتنه وشي او په ځانګړي ډول ورڅخه ساتنه وشي.[٦٢٥]

**مباحثه**

په اسلام کې د بشر د حقوقو په اړه د قاهرې په اعلاميه کې له کورنۍ څخه د ساتنې مقررې شاملې دي، چې د افغانستان د اساسي قانون له مقررو سره ورته والی لري. په دې سره دا يوه اندازه نوره هم جوتيږي او د ښځې او نر پر وړاندې چې واده ته زړه ښه کوي او توان يې لري د خنډونو مخه نيسي. په اسلام کې د بشر د حقوقو په اړه د قاهرې په اعلاميه کې هم د نويو زيږيدلو ماشومانو، کوچنيانو او د هغو د ميندو د ملاتړ لپاره په څرګند ډول وړاندوينه کوي.

١. په اسلام کې د بشر د حقوقو په اړه د قاهرې د اعلاميې او د افغانستان د اساسي قانون د حکمونو سره پرتله کړئ. آيا فکر نه کوئ چې د کورنيو لپاره د حقوقو او ملاتړ د ضمانتو په اړه لا ډېر وضاحت ته اړتيا شته؟

٢.د همجنسه شريکانو موضوع په پام کې ونيسئ. آيا تاسو فکر نه کوئ چې په اسلام کې د بشرد حقوقو په اړه د قاهرې اعلاميه هغې ته ورته به د کورنۍ د رکن ملاتړ لپاره تسجيل کړي؟

**و. د اتباعو دندې**

[٦٢٤]. په اسلام کې د بشرى حقونو د قاهرې اعلاميه، ۵ ماده

[٦٢٥]. هماغه ځای۷ماده

د بشر د حقونو په بحث کې د اتباعو دندې د نړۍ په ځینو برخو له هغې جملې څخه په افغانستان کې مهم رول لري. دغه بحث د افغانستان په اساسي قانون کې د اتباعو حقوق او وجایب تر سرلیك لاندې تسجیل شوی دی. د بیلګې په توګه په لاتیني امریکا کې د امریکایي هیوادونو سازمان (OAS) د بشر د حقونو او دندو اعلامیه لاسلیك کړې ده.د دېاعلامیې په سریزه کې راغلي دي :" د هر وګړي له لوري د دندې ترسره کول د ټولو د حقونو لپاره لومړنی بنسټیز شرط دی. په هر ټولنیز او سیاسي فعالیت کې د انسان حقونه او دندې سره اړوندې دي. په داسې حال کې چې حقوق فردي آزادي پیاوړې کوي، دندې د آزادۍ منزلت ښیي." [٦٢٦] د بشر د حقونو اودندو د اعلامیې ۱ ځپرکی لړترلړه د تعلیم حق، د کار حق، د عادلانه محاکمې حق او د فارغ وخت د درلودلو او نورحقونه اود بشر د حقونو په اړه په نورو ټولو نړیوالو مهمو کنوانسیونونو کې درج شوي حقونه تضمینوي.[٦٢٧]

په همدې ترڅ کې ۲ځپرکی د حکومت اوهمکارو ټولنو د غړو پر وړاندې د خلکو د ځینو دندو جزیات بیانوي.دغه دندې په مستقیم ډول د اعلامیې د لومړي ځپرکي له ډیرو تضمین شویو حقونو سره تړاو لري. د بیلګې په توګه، اعلامیه د تعلیم حق او د هر تبعه د متناسبې دندې حق لږ ترلږه د لومړنیو زده کړو حق یادوي.[٦٢٨] پر دې سربیره د کار د حق په اړه هر فرد د کار کولو د متناسب (د موجودو ظرفیتونو او امکاناتو له مخې)حق درلودونکی دی.[٦٢٩] اعلامیه په ټولیزډول د ټولنې، کورنۍ او همدارنګه د دولت ځینې دندې: د رایې ورکولو دنده، د مالیې ورکولو دنده، ټولنې او ملت ته د خدمت دنده، له قانون څخه پیروي او په بهرنیو هیوادونو کې له سیاسي فعالیتونو څخه ډډه ورکول بیانوي.[٦٣٠] ټولنې او ملت ته د خدمت په دنده کې د ملي حکومتونود اړتیا وړخدمتونود ټول ډولونو ترسره کول شامل دي.[٦٣١]

لکه څنګه چې د بشر د حقونو د اعلامیې په سریزه کې راغلي، حقونه فردي آزادۍ خوندي کوي او دندې دغو آزادیو ته کرامت او مسؤلیت ورکوي. مراد دادی چې حقونه له ځینې ټاکل شوي مسؤلیتونه له ځان سره لري، چې تبعه یې د ترسره کولو دنده پر غاړه لري. په بله وینا که حکومت هر تبعه ته ښوونځی ته د تلو حق برابروي، اتباع مکلف دي، ترڅو دغه حق په خپله ګټه، ټولنې او دولت په ګټه په ټولیز ډول وکاروي. په همدې توګه ترکومه ځایه چې اتباع د رایې ورکولو او په حکومت کې د مشارکت حق لري، هغوی په سمه توګه ددغه حق د کارونې دنده لري.[٦٣٢]

---

[626] OAS Declaration of the Rights and Duties of Man, Preamble, *available at*http://www.hrcr.org/docs/OAS_Declaration/oasrights2.html.

[627] OAS Declaration of the Rights and Duties of Man, Chap. 1, *available at*http://www.hrcr.org/docs/OAS_Declaration/oasrights2.html.

[628] OAS Declaration of the Rights and Duties of Man, Chap. 2, Art.XXXI, *available at*http://www.hrcr.org/docs/OAS_Declaration/oasrights2.html.

[629] OAS Declaration of the Rights and Duties of Man, Chap. 2, Art.XXXI, *available at*http://www.hrcr.org/docs/OAS_Declaration/oasrights2.html.

[630] OAS Declaration of the Rights and Duties of Man, Chap. 2, *available at*http://www.hrcr.org/docs/OAS_Declaration/oasrights2.html.

[631] OAS Declaration of the Rights and Duties of Man, *available at*http://www.hrcr.org/docs/OAS_Declaration/oasrights2.html.

[632] OAS Declaration of the Rights and Duties of Man, Preamble, *available at*http://www.hrcr.org/docs/OAS_Declaration/oasrights2.html.

**د مباحثې پوښتنې**

۱. آیا تاسو فکر کوئ چې که یو تبعه د بشر د ځینو حقونولرونکی وي، دغه حقونه د اتباعو لپاره د دندو او ژمنولامل کیږي؟

۲.آیا تاسو له دې نظر سره توافق لرئ، چې حقوق د ټولنې او حکومت لپاره مسؤلیتونه رامنځته کوي؟

<u>عسکري مکلفیت</u>

**د افغانستان اساسي قانون**

**۵۵ماده**

له هیواد څخه دفاع د افغانستان د ټولو اتباعو وجیبه ده. د عسکري مکلفیت د دورې د تیرولو شرطونه د قانون له لیارې تنظیمیږي.

د افغانستان اتباع نه یواځې دا چې د اساسي قانون پر بنسټ د حقونو او امتیازونو درلودونکي دي بلکه، هغوی همدارنګه د اتباعو په توګه ځانګړې دندې لري، چې یو له هغې جملې څخه د اړتیا په صورت کی له افغانستان څخه دفاع دی. که څه هم په اوس وخت کې افغانستان د اجباري عسکري مکلفیت ټاکلې طرحه یا موده نه لري، د ۵۵مادې دوهمه جمله حکومت ته د دې ډول کار ترسره کولو واك ورکوي.

د جوړې شوې پروګرام له مخې په ۲۰۱۴کال کې د امریکا د پوځي ځواکونو وتلو ته په پام سره په اوس وخت کې عسکري مکلفیت یوه مهمه اوځانګړې مسله ده او د افغانستان د ملي امنیت له ځواکونو څخه غواړي، چې د افغانستان په دننه کې د امنیتي عملیاتو دنده پر غاړه واخلي. د ۲۰۱۲ کال په فبروري کې د افغان ملي ځواکونو شمیرچې د افغانستان ملي اردو (ANA)شمیر ۱۷۶۳۵۰تنه، د افغانستان د ملي پولیسو (ANP) شمیر تر ۱۴۳۰۰۰تنو ښودل شوی دی.[۶۳۳]افغان امنیتي ځواکونه د ۲۰۱۲ کال تر پایه تر ۳۵۲۰۰۰پورې د خپلو ځواکونو د شمیرد رسولوپه کار بوخت دي او د ناټو د منابعو له مخې ټاکل شوې دغه هدف له پلان شوي وخته مخکې پوره شي.[۶۳۴]د ۲۰۱۲ کال د جنوري تر پایه د افغانستان د ۵۰ سلنه خلکو او په هیواد کې دننه د عملیاتو او ځانګړو عملیاتو ۴۰ سلنه رهبري به د افغان امنیتي ځواکونو پر غاړه وه.[۶۳۵] همدارنګه افغان امنیتي ځواکونو د ۱۵۰۰ په شاوخوا کې په کاري یونیفورم کې ښځینه له

[633] North Atlantic Treaty Organization, *Afghan National Security Forces: Training and Development*, Feb. 2012, *available at*http://www.nato.int/nato_static/assets/pdf/pdf_topics/20120202_120202-Backgrounder_ANSF.pdf.

[634]*Id.*
[635]*Id.*

هغې ډلې څخه ۵تنه پیلوټانې پر دنده ګمارلې دي.[636] د ناټو د معلوماتو له مخې په نویو جذبوونکو کې درې سلنه ښځې دي، چې په پرله پسې ډول د ډیریدو په حال کې دي.[637]

اوس وخت کې افغان ملي پوځ یو داوطلبانه پوځ دی او په داوطلبانه ډول باید له وسله وال پوځ سره د یوځای کیدو لپاره اته پړاوونه له هغې جملې څخه سیمه ییزو مشرانو تصدیق، بیومتریکي څیړنې، روغتیایي او د مخدره توکو معاینات ترسره کړي.[638] دې ته په پام سره چې افغان امنیتي ځواکونه تر دې دمه خپلو موخو ته د رسیدو لپاره د کافي افغانانو په ګمارلو کې ستونزه نه لره، له کمې پلوه، د بیا اجباري مکلفیت طرحه اړینه نه بریښي، خو دا په راتلونکي کې کیدای شي بدلون ومومي، ځکه له کمیت یا د امنیتي ځواکونو د شمیر پرته د اجباري مکلفیت پورې اړوند خدمتونه هم خورا ارزښت لري.

**د مباحثې پوښتنې**

۱.آیا تاسو فکر کوئ چې افغانستان باید د ټولو اتباعو لپاره جبري عسکري مکلفیت ولري؟

۲.د یو داوطلب پوځ ښیګڼې او بدګڼې څه دي؟ آیا تاسو فکر کوئ چې د اوسني سیستم ځینې ستونزې د جبري عسکري مکلفیت په واسطه به حل یا کمزورې شي؟

۳.په افغان ملي امنیتي ځواکونو کې د ښځینه و د خدمت په اړه تاسو څه نظر لرئ؟

<u>د قانون حفظ او رعایت</u>

**د افغانستان اساسي قانون**

**۵۶ماده**

(۱)د اساسي قانون د حکمونو په پیروي، د قوانینو اطاعت او د عامه نظم اوامنیت رعایت د افغانستان د ټولو خلکو وجیبه ده.

(۲) د قانون له حکمونو څخه بې خبري عذر نه ګڼل کیږي.

[636] *Id.*
[637] *Id.*
[638] *Id.*

د افغانستان ټول اتباع د هيواد د قوانينو د اطاعت دنده لري. که افغان اتباع قانون ته درناوی نه کوي او له قانون څخه سرغړونه کوي، نو دولت واك لري چې د پوليسو او قضايي نظام په واسطه قوانين تطبيق کړي.

کله چې پوليس يو تن د افغانستان د قوانينو د نه منلو په تور نيسي او هغه په محکمه کې تر محاکمې لاندې راځي، د ۵۶(۲) مادې له مخې، له قانون څخه بې خبري ددفاع په توګه نه منل کيږي. که له قانون څخه د بې خبرۍ په دليل، اتباع د دفاع اجازه ولري او له جزا پرته خوشې شي، يو شمير ستونزې رامنځته کيږي او ګڼ شمير خلك له قانون څخه د بې خبرۍ پر بنسټ له ځانه دفاع وکړي.

له قانون څخه پيروي او ملاتړ له هغې نظريې څخه راولاړيږي چې اتباع يې دننه په هيواد کې د قانون او نظم څخه د اخلاقي پيروي او ملاتړ ژمنه لري.[639] حتی ځيني څيرونکي استدلال کوي، چې له قانون څخه پيروي طبيعي دنده ده، چې په ټولنه کې د يو شخص له ګډون څخه رامنځته کيږي او پرته له کوم ځانګړي الزامي حکم څخه د ورته مکلفيت رامنځته کوونکی شتون لري.[640] طبيعي دنده نه يواځې د حکومت پورې بلکې د ټولې ټولنې پورې اړه لري. له قانون څخه د ملاتړ د مکلفيت د بديل نظر دا دی، چې له هغه ځايه چې دولتونه د خپلو اتباعو دفاع، مصؤنيت او امنيت دنده لري، اتباع هم د هغې په متناسب ډول دنده لري، ترڅو د قانون او د خپل انډول خلکو د امنيت او مصؤنيت څخه سرغړونه ونه کړي.[641]

| د مباحثې پوښتنې |
|---|
| ۱. آيا تاسو فکر کوئ چې بې خبري بايد دفاع ومنل شي؟ |
| ۲. آيا وړاندې تر دې چې يو څوك په ګناه تورن شي، داسې قوانين شتون لري، چې په هغو کې د ناوړه کارونو په هکله ځانګړې پوهاوی شتون ولري؟ |
| ۳.آيا تاسو فکر کوئ چې خلك د خپل هيواد د قوانينو منلو ته اخلاقي ژمنتيا لري؟ |

## پنځم. د بشري حقونو بين المللی ژمنې

| د افغانستان اساسي قانون |
|---|

639 Kent Greenawalt, *The Natural Duty to Obey the Law*, 84(1) Mich. L. Rev.1 (1985).
640 *Id.*
641 *Id.*

**۷ ماده:**

دولت د ملګرو ملتونو د منشور، د بین الدول معاهدو، دنړیوالو میثاقونو چې افغانستان له هغو سره تړاو لري او د بشري حقونو د نړیوالې اعلامیې رعایت کوي.

اوومه ماده وايي چې افغانستان په خپلو داخلي قوانینو کې د بشر د حقونو بین المللي حقوقي اسناد رانغاړي. دا په دې معنی ده چې د افغانستان په اساسي قانون کې د ځانګړو یادو شوو حقونو د حمایت برسېره، حکومت په بېلابېلو بین المللی حقوقي اسنادو کې درج شوو بشري حقونو رعایت او احترام ته هم ژمن دی. افغانستان د بشر د حقونو ډېر نړیوال مهم تړونونه لکه د اقتصادي، ټولنیز او کلتوري حقونو بین المللي میثاق(ICESCR)، د مدني او سیاسي حقونو بین المللی میثاق(ICCPR)، د وحشیانه او غیر انساني شکنجو یا مجازاتو په وړاندې د مبارزې کنوانسیون، د هر نوع نژادي تبعیض د له منځه وړلو کنوانسیون، د ښځو په وړاندې د هر نوع تبعیض په وړاندې د مبارزې کنوانسیون(CEDAW)، او د ماشومانو د حقونو کنوانسیون(CRC)؛ یې تصویب کړي دي. د دې تړونونو له تصویب سره افغانستان د پراخو بشري حقونو د ساتنې او په رسمیت پېژندلو سره موافقه کړې ده.

په دې څپرکي کې لنډ بحث د بشر د حقونو د نړیوالې اعلامیې، د سیاسي او مدني حقونو بین المللي میثاق، د اقتصادي، ټولنیز او کلتوري بین المللی میثاق په اړه وړاندې کېږي.[٦٤٢] دغه درې تړونونه د مدني او سیاسي بین المللي حقونو د میثاق د دوو اختیاري پروتکلونو تر څنګ د بین المللي حقونو د منشور په نوم د بین المللي اسنادو ټولګه جوړوي.[٦٤٣] د بین المللي حقونو منشور، امضاء کوونکي هیوادونه د قانون له مخې د هغې په اجراء او د تړونونو د ګټو په رعایت او د خپلو اتباعو د بشري حقونو په ساتنه مکلفوي.[٦٤٤] له هېوادونو څخه غوښتل کېږي چې تقنیني اسنادو او بنسټیزو میکانیزمونو ته د تړونونو د حکمونو د پلي کېدلو په موخه پراختیا ورکړي.[٦٤٥] د بشر د حقونو د بین المللي اسنادو په اړه د تفصیلي بحث د تر لاسه کولو په موخه د افغانستان لپاره د بشر د بین المللي حقونو د مقدمې څلورم څپرکي ته مراجعه وکړئ کوم چې د افغانستان د حقونو د ښوونیزې پروژې له خوا برابر شوی دی.[٦٤٦]

## د ۷ مادې او د اسلام د حقونو تر منځ کړکېچ

[642] Each of these summaries is taken from Chapter 4: International Human Rights Law in *An I ntroduction to International Law for Afghanistan* by the Afghanistan Legal Education Project, *available at* http://alep.stanford.edu/?page_id=813.

[643] Henry J. Steiner, *International Protection of Human Rights*, *in* International Law(Malcolm D. Evans ed., 2d ed. 2006);Geoffrey Robertson, Crimes Against Humanity (Penguin Books, 3d ed. 2006); Jack Donnelly, Universal Human Rights in Theory and Practice (Cornell Univ. Press 2002) 9-27.

[644] Henry J. Steiner, *International Protection of Human Rights*, *in* International Law(Malcolm D. Evans ed., 2d ed. 2006); Geoffrey Robertson, Crimes Against Humanity (Penguin Books, 3d ed. 2006).

[645] Henry J. Steiner, *International Protection of Human Rights*, *in* International Law(Malcolm D. Evans ed., 2d ed. 2006); Geoffrey Robertson, Crimes Against Humanity (Penguin Books, 3d ed. 2006).

[646] *Available at* http://alep.stanford.edu/?page_id=813.

## يو روان بحث

د بين المللي اسنادو يوه برخه چې افغانستان هغه تصويب کړي دي، د اسلام د حقوقو له اصولو سره چې د اساسي قانون درېيمه مادی په اساس غوره والی او لومړيتوب لري، په ټکر کې ده. د بېلگې په توگه د مدني او سياسي بين المللی حقونو ميثاق ۱۸ ماده خلکو ته د فکر آزادي يا د يو مذهب يا عقيدې منل په خپل انتخاب سره ورکوي. په دغه بند کې بې له شکه د دين تغيير هم راتلای شي. لکه څنگه چې مختکې د ارتداد په اړه وويل شول، داسې ښکاري چې د اسلام حکم د هغو کسانو په اړه چې له اسلام څخه د عقيدې د بدلېدو ميلان کوي، نه بدلېدونکی دريځ لري. د بين المللي تړون او د اسلامي حکمونو د ټکر په صورت کی کوم اصول (قانون) بايد تطبيق شي؟

ډېر افغان حقوق پوهان استدلال کوي چې افغانستان هغه وخت د بين المللي تړونونو د موادو رعايت کوي چې له حنفي فقه سره سمون ولري. پروفيسور نصرالله ستانکزی، د کابل پوهنتون د حقوقو د پوهنځي استاد په دې باور ده چې دغه ټکر ته ځواب، د اساسي قانون قانون په دري نسخه کې پيدا کېږي. د هغه په وينا، د اساسي قانون انگليسي ژباړه، چې وايي: "دولت بين المللي تړونونو ته پابند دی"، يوه ناسمه ژباړه ده. د هغې په بدل، د دري نسخې اوومې مادې د «رعايت» د کلمې له کارولو سره چې په قانوني اډانه کې د "د قانون ساتل يا حفاظت، او يا د چا يا څه په وړاندې احترام ساتل دي" ژباړل کېږي.[٦٤٧] نو بناء پر دې، د ستانکزي ويناوو ته په کتنه، افغانستان مطابق د اوومې مادې بين المللي تړونونو ته په احترام ملزم ده نه هغو ته په پابندۍ. د هغه په نظر دا په دې معنی ده چې، حتمي نه ده چې افغانستان په دقيقه توگه د بين المللي تړونونو د ټولو مقررات پيروي وکړي، بلکه په عامه توگه بايد تړونونو ته احترام وکړي. هغه وايي چې، د رعايت کلمه عمداً د بين المللي اسنادو د هغې برخې د حق ساتلو د شرط لپاره کارول شوې چې له شريعت سره سمون نه لري. په دې اساس، د بين المللي تړونونو له مادو سره د تضاد په صورت کې، افغانستان له اسلامي اصولو څخه بايد پيروي وکړي.[٦٤٨]

د افغانستان اساسي قانون د تاريخي وضعيت په نظر کې نيولو سره چې يکې د افغانستان اساسي قانون تصويب شوی د افغانستان اساسي قانون د ورته تضادونو او ټکرونو لرونکی دی، د داسې بالقوه متناقضو بندونو لرونکی دی. د مسودې د برابرولو په وخت کې، د مسودې د برابرولو کميټه له يوې خوا د مذهبي روحانيونو او له بلې خوا د نړيوالی ټولنې تر فشار لاندې وه. چې د دواړو خواوو د خوښ ساتلو لپاره، هغوی دواړه بندونه په متن کې شامل کړل، چې دغه کار د بشر د حقونو ليبرال بنسټونو او اسلامي حقونو د اصولو تر منځ مخالفتونو ته پراختيا ورکوي. په داسې حال کې چې د دغه کړکېچ ډېرو نقاطو ته هېڅ آسان ځواب نه شته، دغه واقعيت چې په دې موضوعاتو يو فعال بحث شتون لري پخپله يو برياليتوب ده، په ځانگړې توگه د افغانستان معاصر تاريخ او د مذهبي روحانيونو قوي نفوذ ته په کتنه، چې په هېواد يې لري. د اسلام او د بشر د بين المللي حقونو د کړکېچ په اړه عمومي او آزادې خبرې اترې دا څرگندوي

---

[647] HasanAmeed, *FarhangeAmeed* at 654 (Sepehr Press, Tehran, 30 ed., 1383 (2004)).

[٦٤٨]. پروفيسور ستانکزی دا استدلال د درس ورکولو په مهال د کابل په پوهنتون کې وړاندې کړی دی.په ۲۰۰۸ کال کل کې فهيم برمکی د مدنی محکمو د اصولو په اړوند د پروفيسور ستانکزي ددې استدلال په برابرولو مرسته کړې ده.

چې افغانستان څومره پرمختګ کړی دی. په واقعیت کې افغانستان د ۲۰۱۳ کال د مطبوعاتو د آزادۍ په پېژندنه کې ۱۲۸ ځای خپل کړ، چې له هند، پاکستان، ترکیې، بنګلادیش، روسیې او داسې نورو ډېرو هېوادونو څخه مخکې شوی دی.[٦٤٩]

**د مباحثې پوښتنې**

کله چې د اوومې مادې او اسلام د حقونو د کړکېچ په اړه خبرې کېږي، د دې مسئلې په اړه د اسلام له نظره قانوني تفسیر څه دی؟

لکه څنګه چې مخکې د ارتداد او د اسلام مقدساتو ته د سپکاوي په بحث کې ورته اشاره وشوه، د افغانستان په دننه او بهر کې علماء او روحانیون یې په اړه بېلابېل نظریات لري. د کومې ډلې نظر د تعقیب وړ دی؟ څه باید وکړو، که د حنفي فقهې نظر له یو بین المللي تړون سره چې افغانستان هغه تصویب کړی په ټکر کې راځي، آیا نور نظریات له هغه سره په ټکر کې نه راځي؟

## الف. د بشر د حقونو نړیواله اعلامیه (UDHR)

د ملل متحد عمومي ټولنې د بشر د حقونو نړیواله اعلامیه په کال ۱۹۴۸م کې د ۴۸ موافقو او اتو ممتنعو (مستنکفو) (سعودي عربستان، سویلي افریقا او کمونیستو هېوادونو) په رایو سره تصویب کړه، دغه سند په دې کلماتو پیلېږي:"ټول وګړي آزاد دنیا ته راځي او د حیثیت او حقوقو له لحاظه یو له بل سره برابر دي".[٦٥٠] د بشر د حقونو دغه نړیواله اعلامیه، ګڼ شمېر مدني او سیاسي حقونه تسجیلوي. د غلام لرلو حق، غیر انساني سلوک، پخپل سر زنداني کول او پخپل سر په خصوصي ژوند کې مداخله منع کوي، دغه حقونه همدارنګه د نژاد، رنګ، جنس، ژبې، مذهب، عقیدې یا ټول سیاسي نظریاتو، ملي یا اجتماعي موقف، شتمنۍ او تولد یا مدني وضعیت په اساس توپیر منعه کړی دی. همدا ډول د بشر نړیواله اعلامیه د عادلانه محاکمې له حق، د قانون او جزایي محکمې د غوښتنو د مراحلو په وړاندې له برابرۍ، د تګ راتګ او اوسېدلو له آزادۍ، د سیاسي پنا اخیستلو حق، د تابعیت د تغییر او ترلاسه کولو، واده او ملکیت له حق، د عقیدې او عبادت له آزادۍ، د بیان او نظر له آزادۍ، د سوله ییزو غونډوی او ټولنو جوړولو له آزادۍ، آزادو انتخاباتو او دولتي او عامه مقاماتو ته د برابرو فرصتونو له لاسرسي څخه حمایت کوي.[٦٥١] همدا رنګه د بشر د حقونو نړیواله اعلامیه د اقتصادي، ټولنیز او کلتوري حقوقو لرونکې ده.

د UDHR ۲۹ ماده د خپلو اصولو د تطبیق د څرنګوالي په اړه هیوادونو ته د پام وړ اختیارات ورکړي. د هېوادونو د سخت قانوني الزامیت پر ځای، د بشر د نړیوالو حقونو اعلامیه د یو څواک حیثیت ته داسې سلوک لري چې هیوادونه د خپلو سلوکو ښه کولو ته هڅوي. د بشر د نړیوالو حقونو اعلامیه ځینې امکانات د خپلو موخو د ژر تر ژره لاس ته راوړلو لپاره خپله هېوادونو ته پرېږدي؛ د بشر د حقونو د

---

[649]. Reporters Without Borders, Press Freedom Index, http://en.rsf.org/press-freedom-index-2013,1054.html.

[٦٥٠]. د بشري حقونو نړیواله اعلامیه، ۱ ماده

[651]Universal Declaration of Human Rights, Dec. 10, 1948, GA res. 217(A) III.

نړيوالي اعلامي حقوق ممکن په"داسې محدوديت مشروطه وي چې د قانون په واسطه سره صرف د نورو آزاديو ته په احترام او رسميت پيژندلو او د اخلاقو د عادلانه غوښتنو د تأمين او په يوه د موکراتيکه ټولنه کې د عامه نظم او ټوليزې سوکالۍ د منځ ته راتګ په موخه وټاکل شي."

## ب د مدني او سياسي حقونو بين المليميثاق

که د بشر د حقونو اعلاميې د بشر د حقونو ده هيوادونو لپاره"ګډ سټانډرډونه" منځ ته راوړي، دوه ټرونونه چې د ملګرو ملتو سازمان يې مسوده په ۱۹۶۶م کال کې جوړه کړې وه، دغه سټانډرډونه يې په يوه قانوني الزام راوړونکي بڼه تبديل کړل.[٦٥٢] د مدني او سياسي بين المللي حقونو ميثاق(ICCPR)او د اقتصادي، ټولنيز او کلتوري حقونو بين المللي ميثاق[٦٥٣] (ICESCR)، د بشر د حقونو له نړيوالې اعلاميې سره يوځای، د بين المللي حقونو د اسنادو مجموعه جوړوي، چې «د بشر د حقونو د نړيوال منشور» په نوم سره يادېږي. دغه ميثاقونه چې په کال ۱۹۷۶م کې نافذ شول، د بشر د حقونو د نړيوالې اعلاميې مندرج اصول منعکس کوي، خو د ډېر الزاميت په پياوړتيا سره؛ افغانستان له دواړو کنوانسيونونو سره يو ځای شوی دی.

د مدني او سياسي حقونو بين المللي ميثاق شايد د قانوني الزاميت په دليل د بين المللي بشري حقونو مهمترين ټرون وي. يعنې هغو هېوادونو چې دغه ټرون تصويب کړی وي د خپلو داخلي قوانينو له لارې يې بايد مواد هم پلي کړي(د ۲ مادې(۲))، او همدارنګه په اغېزناکه توګه د دې حقونو د نقض جبران تأمينوي(د ۲ مادې(۳)).نن ورځ ۱۶۵ هېوادونو څخه زيات پکې ګډون لري چې افغانستان يې هم له جملې څخه دی. چې دا پخپله د زياتو حقونو د تضمين د شاملېدو ټرون دی. د دواړو بين المللی ميثاقونوICCPRاو ICESR لومړۍ مادې په عين کلماتو او جملو ليکل شوي چې د خپل برخليک د ټاکلو او په خپلواکه توګه د خپلو طبيعي سرچينو د ترلاسه کولو په اړه د خلکو حق تضمينوي. د مدني او سياسي حقوقو بين المللي ميثاق ۲ ماده په دې الزاميت سرهد عدم تبعيض منعکس کوونکې ده چې د دې ټرون مادې د نژاد، رنګ، جنس، ژبې، مذهب، عقايدو يا نورو سياسي نظرياتو، ملي يا اجتماعي موقف، ملکيت، تولد يا داسې نور موقعيتونه بې له کوم توپير څخه تضمينوي. ۳ ماده، دولتونه په دې موظفوي چې د دې ټرون له ټولو تضمين شوو سياسي او مدني حقونو څخه ګټه اخيستنه ښځو او نرو لره تضمين شي.[٦٥٤]

همدارنګه د مدني او سياسي حقونو بين المللي ميثاق د اساسي حقونو د ګڼ شمېر تضمينونو لرونکی دی. د بېلګې په توګه ۶ ماده د ژوند د حق د تأمين په اړه، پرته له جدي ترينو قضاياوو څخه په ټولو نور مواردو کې يې په هېوادونو باندې د اعدام جزا ممنوع کړې ده، خو له اتلس کلنۍ څخه په کم عمره وګړو او په اميدواره ښځو په هر صورت کې جواز نه ورکوي. ۷ او ۸ ماده ټول بېرحمانه، غير انساني او د

---

[652] ICCPR, Dec. 16, 1966, 999 U.N.T.S. 171.

[653] ICESCR, Dec. 16, 1966, 993 U.N.T.S. 3

[٦٥٤] ICCPR. ، ۱ ماده

سپکاوي مجازات او مرېتوب منع کوي، په داسې حال کې چې ۹ ماده د يو شخص د آزادۍ او امنيت حق تضمينوي. دا په دې معنی ده چې هيوادونه بايد له خپل سرې زنداني کولو څخه ځان وژغوري او زندانيانو ته اجازه ورکړي چې د بې طرفه قاضي په وړاندې په محکمه کې د خپل ځان د نيولو په ضد د اعتراض يا آزادېدلو فرصت ولري. په ۱۲ ماده کې د يو فرد د ګرځېدو آزادي په خپل هېواد تضمين شوې ده. همداسې د بشر د نړيوالو حقونو اعلاميه او د مدني او سياسي حقونو بين المللي ميثاق هم د نظر د آزادۍ حق، د وجدان او دين،[٦٥٥] او همدارنګه بې له مداخلې څخه د افکارو آزادي تضمينوي.[٦٥٦] ۲۱ او ۲۲ ماده د بشر د حقوقو په نړيواله اعلاميه کې د بيان او ټولنې جوړولو آزادي منعکسوي. بالآخره، ۲۵ ماده ځينو سياسي ديموکراسيو څخه حمايت په خپل ځان کې رانغاړي او زياتوي چې "هره تبعه حق لري...په عامه اداره کې په مستقيم ډول او يا د هغو نماينده ګانو له لارې چې په آزاده توګه ټاکل شوي وي ګډون وکړي" او"په دوره يي انتخاباتو کې رنه رايه ورکړي او وټاکل شي."

يوازې د افغانستان د اساسي قانون په څېر چې د هغو حقوقو په اړه کوم چې د اساسي قانون تر ۵۹ مادې لاندې او د اضطراري حالت له ۱۴۳ څخه تر ۱۴۸ مادې پورې د يو تعداد محدوديتونو اجازه پکې تضمين شوې ده، د مدني او سياسي حقونو بين المللي ميثاق په واسطه د يوه برخه اعلام شووو حقونو په ابطال او فسخې په اړه دي. دغه حقونه، د نيولو آزادۍ، د حرکت آزادۍ او يوه برخه سياسي حقونو څخه عبارت دي. څلورمه ماده د دغو حقونو ابطال ته اشاره کوي:

کله چې يو عمومي خطر د ملت موجوديت تهديدوي...په هغه کچه چې وضعيت د هغې غوښتنه کوي، پدې شرط چې دا تدابير به له ټولو هغو الزامونو سره مغايرت و نه لري کوم چې د بين المللي حقونو په اساس ورته ژمن وي د نژاد، رنګ، جنس، ژبې، مذهبي او اجتماعي اصل او منشأ په اساس د تبعيض سبب نه شي.[٦٥٧]

اضافي حقونه، لکه د مذهب آزادي په ۱۸ ماده کې هم په "هغو محدوديتونو چې د قانون په اساس پيش بيني شوي دي او د امنيت ساتنې، نظم، سلامتۍ يا عامه اخلاق يا حقوق او د نورو اساسي آزاديو " پورې مشروط دي.[٦٥٨] خو پام ولرئ چې هغه ټاکل شوي حقونه کوم چې د مدني او سياسي حقونو بين المللي ميثاق ترې حمايت کوي، هېڅ کله نه فسخ کېږي. دغه حقونه، د ژوند حق، د نه شکنجې يا غلامۍ ته نه اړايستلو حقونه دي. د مدني او سياسي بين المللي حقونو د ميثاق الزام دا دی چې اړوند هيوادونه د دغه سند ټولو مندرجو حقونو ته د "ژمنتيا او تأمين احترام" ولري. همدارنګه دولتونه له دغه مدني او سياسي بين المللي ميثاق څخه د وتلو حق نه لري.

[٦٥٥]. هماغه ځای ۱۸ ماده
[٦٥٦]. هماغه ځای ۱۹ ماده
[٦٥٧]. هماغه ځای ۴ ماده
[٦٥٨]. هماغه ځای ۱۸ ماده

## ج. د اقتصادي ټولنيز، او کلتوري حقونو بين المللی ميثاق

د اقتصادي ټولنيز، او کلتوري حقونو بين المللي ميثاق(ICESCR)د مدني او سياسي حقونو بين المللي ميثاق څخه وروسته ستر بين المللي تړون دی چې د نن ورځې ډېر د بشر حقونه مشخص کوي. دغه ميثاق د ملګرو ملتونو د سازمان عمومي ټولنې په واسطه د ۱۹۶۶کال د دسامبر په ۱۶ نېټه تصويب شوی دی. او د ۱۹۷۶کال د جنوري په ۳ نېټه نافذ شو.[٦٥٩]د ټولنيز، اقتصادي او کلتوري حقونو بين المللي ميثاق د ۲۰۱۲ کال په فبروري مياشت کې د ۱۶۰ هېوادونو او ۷۰ لاسليک کوونکو لرونکی و.[٦٦٠] له هغه ځايه چې اقتصادي، ټولنيز او کلتوري حقونه د مدني او سياسي حقونو په نسبت بحث زېږوونکي او کړکېچن دي، دغه تړون د مدني او سياسي حقونو نړيوال ميثاق څخه په بېل سند کې جوړ شوی دی.[٦٦١] د اقتصادي، ټولنيزو او کلتوري حقونو بين المللي ميثاق ډېرو حقونو ته شاملېږي، لکه: د تعليم او روغتيايي پاملرنې حق، د کار او په ځانګړو سټانډرډونو سره د ژوند کولو حق.[٦٦٢]

شايد د اقتصادي، ټولنيز او کلتوري حقونو بين المللي ميثاق يوه ډېره بحث هڅوونکې ماده يې لومړۍ ماده وي چې په هغې کې وايو: "ټول ملتونه د خپل اراديت د حق لرونکي دي. د دې حق په اساس ملتونه خپل سياسي وضعيت ټاکي او خپله اقتصادي، ټولنيزه او کلتوري وده په آزاد ډول تأمينوي.[٦٦٣]د خپل اراديت حق يو نظر دی چې خلک د خپل حکومت او ادارې د ټاکلو حق لري."[٦٦٤] د برخليک د ټاکلو حق د خپلواکی او بېلېدو غوښتونکو ډلو په واسطه، لکه چيچين، کوسوا او د عراق او ترکيې کردانو تر منځ ترې په شدت سره حمايت کېږي. په نتيجه کې ډېر هيوادونه، په ځانګړې توګه هغه هيوادونه چې په خپلو خاورو کې جدايي غوښتونکي ولايتونه او ډلې لري په شدت سره د خپل اراديت حق باندې انتقاد کوي او استدلال کوی چې دا نه بايد يو له بشري حقونو څخه په نظر کې ونيول شي. دا يو له دليلونو څخه دی چې د اقتصادي، ټولنيز او کلتوري حقونو بين المللي ميثاق د نورو کنوانسيونونو ملاتړ تر لاسه کړي کوم چې د حقونو بين المللي منشور جوړوي.[٦٦٥]

---

[659]ICESCR, *available at*http://www2.ohchr.org/english/law/cescr.htm.
[660]United Nations Treaty Collection, ICESCR Status, *available at*http://treaties.un.org/Pages/ViewDetails.aspx?src=TREATY&mtdsg_no=IV-3&chapter=4&lang=en.
[661]R.J. Vincent, Human Rights and International Relations (Cambridge Univ. Press 1986) 37-57; Jack Donnelly, Universal Human Rights in Theory and Practice(Cambridge Univ. Press 2002) 9-27.
[662]ICESCR, *available at*http://www2.ohchr.org/english/law/cescr.htm.
[663]*Id.* art. 1.
[664] Thomas M. Franck, *Individuals, Groups and States as Rights Holders in International Law*, Proceedings of the American Branch of the Law Association, 1999-2000; MarttiKoskenniemi, *The Politics of International Law*, 1 EJIL 4 1990; International Commission of Jurists, *The Courts and the Legal Enforcement of Economic, Social and Cultural Rights*, 2008, *available at*http://www.icj.org/dwn/database/ESCR.pdf.
[665] Thomas M. Franck, *Individuals, Groups and States as Rights Holders in International Law*, Proceedings of the American Branch of the Law Association, 1999-2000; MarttiKoskenniemi, *The Politics of International Law*, 1 EJIL 4 1990; International Commission of Jurists, *The Courts and the Legal Enforcement of Economic, Social and Cultural Rights*, 2008, *available at*http://www.icj.org/dwn/database/ESCR.pdf; International Commission of Jurists, *The Courts and the Legal Enforcement of Economic, Social and Cultural Rights*, 2008, *available at*http://www.icj.org/dwn/database/ESCR.pdf.

د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو بین المللي میثاق لږ مخ پر ودې هېوادونو ته اجازه ورکوي چې د ترون مادې په تدریج سره پلې کړي او د اړتیا وړ قوانینو د برابرولو لپاره زیات وخت هغوی ته ورکوي، خو له هغوی څخه غوښتل کېږي چې اقتصادي، ټولنیزې او کلتوري حقونو کمیټې ته منظم راپور ورکړي. دغه کمیټه د بشر د حقونو له ۱۸ کارپوهانو څخه چې د څلورو کلونو لپاره ټاکل کېږي جوړه شوې ده. برسېره پر دې، آن له ډېر کم پرمخ تللي هېواد څخه لاسلیک کوونکی غواړي چې ځینې چټک اقدامات په لاره واچوي.[٦٦٦] افغانستان په ۱۹۸۳ کالICSECR تصویب کړ.[٦٦٧]

د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو بین المللي میثاق یوه برخه دندې د دغه کنوانسیون تر چتر لاندې د آني اغېزو د مواردو په حیث ټاکلي دي.[٦٦٨]دا په دې معنی ده چې دولت د دې کنوانسیون د مندرجو حقونو د کامل تحقق په لور د یو سلسله مقرارتو او اقداماتو د اتخاذ دنده لري. لږ تر لږه د ټولنیز، اقتصادي او کلتوري حقونو د بین المللي میثاق له دواړو لورو څخه غواړي چې د کنوانسیون د ټولو مندرجو حقونو د پلي کولو د څرنګوالي په اړه د عمل مفصل پلان جوړ کړي. همدارنګه دغه پلان د څار یا نظارت کمیټې ته هم وړاندې شوی دی.[٦٦٩]

د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو د اجراء او د حقونو د بین المللي میثاق او د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو بین المللي میثاق د تصویب د تدریجي پرمختګ بل دلیل په غالبو لیدلورو دا دی چې د هغو پلي کول سخت کار دی او د محکمو سیستم د قضیو په اړه د تصمیم نیولو او له دې حقونو څخه د حمایت د تأمین لپاره کمزورې برابرې شوې دي.[٦٧٠] د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري بین المللي میثاق باندې نیوکګرانو په هغو هېوادونو کې چې تر اوسه یې دغه میثاق نه ده تصویب کړی له دې وېره لري چې چې ملي محکمی به د حکومت له خوا د بشري حقونو څخه د سرغړونی په تور د هغه کسانو له شکایتونو ډک شي چې : په غربت کی ژوند کوي، کار نه لري، او یا هم صحي خدماتو ته لاسرسی او د تعلیم حق نه لري. د اقتصادي، ټولنیز او کلتوري حقونو بین المللي میثاق طرفداران په عامه توګه په دې باور دي چې محاکمه باید د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو د اختلافاتو د وروستی حل لارې په څېر په نظر کې ونیول شي او د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو د پیاوړتیا او هغو ته د رسېدو په موخه د حکومت پروګرام او تګ لارې باید په مرکز کې توجه وشي.[٦٧١] هغوی په دې باور دي چې، که د بشر د

[666]Office of the United Nations High Commissioner for Human Rights, *Economic, Social and Cultural Rights Fact Sheet 33*, *available at*http://www.ohchr.org/Documents/Publications/FactSheet33en.pdf.
[667]*See* ICESCR; International Commission of Jurists, *The Courts and the Legal Enforcement of Economic, Social and Cultural Rights*, 2008, *available at*http://www.icj.org/dwn/database/ESCR.pdf.
[668] Office of the United Nations High Commissioner for Human Rights, *Economic, Social and Cultural Rights Fact Sheet 33*, *available at*http://www.ohchr.org/Documents/Publications/FactSheet33en.pdf; ICESCR.International Commission of Jurists, *The Courts and the Legal Enforcement of Economic, Social and Cultural Rights*, 2008, *available at*http://www.icj.org/dwn/database/ESCR.pdf.
[669]ICESCR; International Commission of Jurists, *The Courts and the Legal Enforcement of Economic, Social and Cultural Rights*, 2008, *available at*http://www.icj.org/dwn/database/ESCR.pdf.
[670]International Commission of Jurists, *The Courts and the Legal Enforcement of Economic, Social and Cultural Rights*, 2008, *available at*http://www.icj.org/dwn/database/ESCR.pdf.
[671]*Id.*

حقونو په بهبود او په دې ډګر کې د حکومت له خوا په دوامداره پرمختګ تأکید وشي، نو په محکمو باندې به د ګڼې ګونې مخ نیوی وشي. دغه ساتونکي همدارنګه په دې باور دي چې، محکمه کولای شي چې د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو د نقض د اړوندو مواردو په قضاوت او لاربښوونه کې په منځني وضعیت کې پاتې شي.

همدارنګه نور مهم توپیرونه هم د مدني او سیاسي حقونو بین المللي میثاق او د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو بین المللي میثاق تر منځ شته. په داسې حال کې چې دواړه میثاقونه د غړو هېوادونو لپاره الزام ښونکي دي، د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو بین المللي میثاق خپلو موخو ته د ژر رسېدلو د څرنګوالي په اړه تر یوې اندازې پورې دولتونو ته د پراخو اختیاراتو اجازه ورکوي. ۲ مادې ته په پام لرلو، د میثاق هر غړی هېواد «ژمن کېږي...چې خپل زیات نه زیاتې موجودې سرچینې د دې میثاق د پېژندل شوو حقونو د پوره پلي کولو په منظور په تدریجي ډول سره اقدام وکړي.»[٦٧٢] د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو بین المللي مثاق سره سم بېلګې ته اړتیا نه شته چې دولتونه باید داخلي قوانین د اهدافو د پلي کولو لپاره تطبیق کړي. دغې موضوع ځینې مفسرین دې نتیجې ته رسولي چې د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو بین المللي میثاق «غاښونه نه لري» حتی له دې ټولو سره سره ډېرو هېوادونو د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونوبین المللي میثاق تصویب کړی هم دی. په ۲۰۰۹ کال کې د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو بین المللي میثاق ۱۶۰ هېوادونو چې افغانستان یې هم له ډلې څخه دی تصویب کړی دی.

**د مباحثې پوښتنې**

۱. څرنګه چې افغانستان د اتباعو حقوق چې د افغانستان په اساسي قانون کې درج دي د هغوی له هغو حقوقو څخه چې په بین المللي تړونونو کې ورته ثابت شوي دي او افغانستان هم د هغو غړیتوب لري، څه توپیر لري؟

۲. د افغانستان اساسي قانون د مندرجو قوانینو او د مدنی او سیاسي حقونو بین المللي میثاق اود اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو بین المللي میثاق د مندرجو حقونو د اختلاف یا کړکېچ په صورت کې د حل لاره څه ده؟ کوم یو د هغو د اعتبار وړ ده؟ څرنګه دغه نتیجه ګیري صورت مومي؟

۳. د بشر د حقونو کمیټې چې د مدني اوسیاسي حقونو بین المللي میثاق د پلي کولو د څار خپلواکه ارګان دی، د خپلې ۳۱ ګڼې د تبصرې په اړه یې یوه بیانیه صادره کړې ده: "سره له دی چې د ۲ مادې، ۲ پاراګراف غړو هېوادونو ته اجازه ورکوي چې دداخلي قوانینو او پروسو سره په مطابقت ددی تړون احکام پرې تطبیق کړي خو د همدې مادی په اساس دولتونه حق نه لري چی د اساسي قانون د حکمونو سره د ټکر په دلیل او یا هم د کورنیو قوانینو د نورو وجوهاتو په بنا ددی تړون د حکمونو په تطبیق کی سستي وکړي یا یی تطبیق نه کړي." په عین حال کې یو شمېر هېوادونو د سیاسي او مدني حقونو بین المللي میثاق او ټول بین المللي حقوقي اسناد د یوه برخه ځانګړو مواردو په معافیت یا استثناء لاسلیک

[٦٧٢]. ICESCR، ۲(۱) ماده

کړي دي. څرګنه دغه معلومات، پورتنی دوهمې پوښتنې ته ستاسو ځواب بدلولای شي؟

**شپږم. په اساسی قانون کي د تضمین شوو حقونو اجرا**

په اساسی قانون کې ورکړل شوي حقونه به بی معنی وي مګر دا چې د هغو د تطبیق لپاره حکمونه شتون ولري. په یاد ولری چې حکومت په اساسي قانون کې د راغلو حقونو د تطبیقولو دنده لري. پردې اساس، حکومت د دې حقونو په نقض باندې هم قادر دی. نو د حکومت په وړاندې باید اساسی حقونه عملي شي. په ورته وخت کی د اساسي حقوقو د تطبیق واک او توان یوازی د حکومت سره دی. ددی معنی داده چې که حکومت د اساسي قانون احکام مراعات کوي نو د ا حکمونه او مقررات باید د ځان په خلاف تطبیق کړي. دا په دی معنی ده چې لیوه ته د میږو د ساتنی دنده ورکړو. اما اساسی قانون دا ستونزه د حکومت په د ننه کې د خپلواکو بنسټونو د جوړول له لارې حل کېدای شی چې د حکومت په وړاندې د بشری حقونو پر اجرا باندې څارنه کوي.

**د مدنی اوسیاسی حقونو بین المللي میثاق (ICCPR)**

**۲ ماده**

(۳)ددې میثاق هر یو ژمن دولت دنده لری چې :

(الف) د هر شخص لپاره تضمین کړي چې پدې میثاق کې د هغه پیژندل شوي حقونه او آزادی نقض شوې وي، د حق د ورکولو مطمئنه وسیله برابره شي که څه هم د حقونو نقض د داسي اشخاصو له لارې تر سره شوی وي چې د خپلو رسمي دندو د اجرا په حال کې وي.

(ب)ددې ضمانت وکړي چې واکمن قضایی، اداري یا تقنینی مقامات یا کوم بل مقام چې اړونده هېواد د قانونی مقرراتو له مخې واک ولري د درخواست کوونکی شخص (عارض) حقونه پر ځای کړي او همدا شانې د ظلم کولو امکانات قضایی مقاماتو ته ورسوي.

(ج)ددې تضمین وکړي چې واکمن مقامات دا ډول نیمګړتیاوې جبران کړي.[۶۷۳]

د مدنی او سیاسی حقونو بین المللي میثاق له ټولو هېوادونو څخه غواړي د دداخلی اجراآتو میکانیزمونه جوړ کړي چې د یو دولت په د ننه کې د بشری حقونو د نقض له امله د عدالت غوښتنې فرصت تر لاسه شي. میثاق د غړو هېوادونو څخه غواړي د حل او فصل لارې چارې له هغه جملې د حل قضایی لاره په ګوته کړي تر څو اتباع د بشری حقونو د دفاع له امله اطمینان تر لاسه کړي. افغانستان باید نه یوازی دا ډول لارې چارې په ګوته کړي بلکه هغه باید اغیزمنتیا هم ولري. البته، له هغه څخه مقصد نباید یوازې د کنوانسیون د الزاماتو تحقق وي بلکه باید داسي میکانیزمونه منځ ته راشي چې د افغانستان د اتباعو د

[۶۷۳]. ICESCR، ۲ ماده

حقوقو د نقض موارد جبران کړي. ټولیز اصل دادی مخکې لدې چې یو فرد د بشري حقونو له یو بین المللي ارګان څخه د عدالت غوښتنه وکړي، نوموړی (شکایت کوونکی) باید د محلي یا کورني لارو چارو څخه ګټه اخیستی وي. بیا هم، که دا اصلاحي تدابیر بې اغېزې یا نا مشروع وي، پدې صورت کې یو فرد د کورنیو مراحلو د تر سره کولو څخه پرته بین المللي نهاد ته د عدالت غوښتنې لپاره مراجعه کولای شي.

### الف. د اجرائیه قوې رول

د افغانستان اساسي قانون د دولت لپاره د اساسي قانون په پلي کولو، بشری حقونو په دفاع او په " بشپړې بې طرفۍ سره د خپلې دندې تر سره کول" عامه دنده په ګوته کوي. اما دا موارد هېڅ ځانګړي اجرائیوې میکانیزمونه نه په ګوته کوي.

| د افغانستان اساسي قانون |
|---|
| **۵ ماده**<br>ددې اساسي قانون او نورو قوانینود حکمونو تطبیق، له استقلال، ملي واکمنۍ، او ځمکنۍ بشپړتیا څخه دفاع او د هېواد د امنیت او دفاعی قابلیت تأمین، د دولت له اساسي وظایفو څخه دي. |
| **۶ ماده**<br>دولت د انسانی کرامت په ساتلو، بشری حقونو د ملاتړ، د دموکراسی د تحقق، ملي وحدت د تأمین، د ټولو قومونو او قبایلو ترمنځ د برابرۍ او د هېواد په ټولو سیمو کې د متوازنې پراختیا او ټولنیز عدالت پر بنسټ د یوې هوسا او پرمختللې ټولنې په جوړولو مکلف دی.. |
| **۵۰ماده**<br>(۱) دولت مکلف دی چې د یوې سالمې ادار ې او د هېواد په اداري سیستم کې د سمون د رامنځ ته کېدو لپاره، لازم تدبیرونه ونیسي.<br>(۲) اداره په بشپړه بې طرفۍ او د قانون له حکمونو سره سم عملي کوی. |

### ب. قضایی نظارت

په زیات شمېر هېوادونو کې، اساسی حقونه د هرڅه مخکې د قضائیه قوې له لارې چې د دولت له نورو قواو څخه په خپلواک ډول عمل کوي، تحقق مومي. د افغانستان اساسي قانون هم دا په ګوته کوي. د اساسي قانون ۱۱۶ ماده قضائیه قوه د "دولت د خپلواک رکن" په توګه تعریفوي او ۵۱ ماده د کړنې خصوصی حق چې په ترڅ کې یی شخص" له موجب پرته زیانمن کېږي" کولای شی د خسارې د جبران لاس ته راوړلو په خاطر په محکمه کې دعوا وکړي.

همدارنګه د ۵۱ مادې ۲ بند اضافه کوي چې دولت د واکمني محکمې له حکم پرته " د خپلو حقونو د تر لاس کولو لپاره" اقدام نشي کولای. ۲ بند ښيي چې د وګړيو په شان، حکومت هم باید خپل حقونه د قضایی قوې له لارې تر لاسه کړي. دا پدې معنی ده چې آن حکومت تر قانون لوړ نه دی، بلکه حکومت هم د وګړيو په شان باید محاکماتی سیستم ته مراجعه وکړي. د بیلګی په توګه، که چېرې حکومت د یو فرد په لټه کې شی، نو ورته ښایي چې دا کار د یوې واکمني محکمې له لارې و لټوي.

| قانون اساسی افغانستان |
|---|
| **مادۀ ۵۱** |
| (۱) هر څوک چې له اداري ځخه بې موجه زیانمن شی د تاوان اخیستلو مستحق دی او کولای شی د تاوان د ترلاسه کولو لپاره په محکمه کې دعوا اقامه کړي. |
| (۲) له هغو حالاتو پرته چې قانون ښوولي، دولت نشی کولای د باصلاحیته محکمې له حکم پرته د خپلو حقونو د تر لاسه کولو لپاره اقدام وکړي |

د افغانستان په اساسي قانون کې یاد شوي اجرائیوِی او قضایی میکانیزمونه د هغو سره چې د امریکې د متحده ایالاتو په اساسي قانون کې یادونه شوې ده، په ډېر کم توپیر سره ورته والی لري. د امریکې په متحده ایالاتو کې وګړي د معمول په توګه کله چې د حکومت له لوری د اساسي حقونو په نقض باندې متیقن شي، کولای شی د حکومت خلاف دعوا اقامه کړي. که چېرې محکمه مدعی حق په جانب و ګڼي، پدې صورت کې د موضوع د ځرنګوالي په نظر کې نیولو سره حکومت یا باید پخپل رفتار کې بدولو ن راولي او یا خساره جبران کړي. پدې اړوند لاندی یومثال راوړل شوی دی. په کیلو د نوي لندن ښار په وړاندې پورې تړلې یوه بله دوسیه ده چې تاسو یی په هکله ددې څپرکي په دوهمه برخه ولوستل.د دې امریکایي قضیي د مطالعې په مهال، د افغانستان او امریکې متحده ایالاتو قضایی اجراآتو ترمنځ د توپیر په هکله فکر وکړی.

| براون د توپکا معارف هیئت په وړاندې[٦٧٤] |
|---|
| د الیور براون بروت قضیه پدې باره کې ده چې لور یی لیندا له کور ځخه لیرې د ماشومانو یوې افریقایی – امریکایی ښوونځی ته تله، پداسې حال کې چې کورته نژدې د سپین پوستو ماشومانو لپاره مکتب موقعیت درلود ولی د نژادي ملاحظاتو له امله په نوموړې ښوونځی کې د لیندا له شاملېدو ځخه یی ډډه کوله. ښاغلي براون ادعا وکړه چې په نوموړي ښوونځی کې یی د لور نه شمولیت د امریکی متحده ایالاتو په اساسي قانون کې د "قانون په وړاندې د یو شان حق" د اصل نقض دی. په هغه وخت کې (۱۹۵۴) د امریکې متحده ایالاتو کې د افریقایی اصل امریکایی ماشومانو لپاره جدا او د سپین پوستو ماشومانو لپاره جدا ښوونځي وو. محکمې له ښاغلي براون ځخه ملاتړ وکړ او پرېکړه یی وکړه چې د |

[674]347 U.S. 483 (1954).

ښځو ښوونځیو شتون په اساسي قانون کې د " قانون په وړاندې د یو شان حق" اصل نقض کړی دی. لدې وروسته حکومت د افریقایی نژاد امریکایی ماشومانو او سپین پوستو لپاره د جدا ښوونځیو جوړولو اجازه نه درلوده.

تاسو ویلای شی چې د افغانستان او امریکې متحده ایالاتو د قضایی اجراآتو ترمنځ څه توپیر دی؟ په متحده ایالاتو کې که وګړي په لاندني محکمه کې خپله قضیه بایلی، کولی شي خپله موضوع د هېواد عالي محکمې ته وړاندی کړي. د مدیره هیئت په وړاندې د براون په قضیه کې، که چېرې براون په لومړی محکمه کې قضیه بایللې وای، نوموړی کولای شول هغه د استیناف غوښتنې په موخه د متحده ایالاتو عالی محکمې ته وړاندې کړي. اما په افغانستان کې د ۱۲۱ مادې په اساس د افغانستان ستره محکمه یوازې دا ډول قضیې د " حکومت یا محکمو د غوښتنې" په صورت کې تر څېړنې لاندې نیسي. دا پدې معنی ده چې د افغانستان د قوانینو په اساس که تحتاني محکمې د براون خلاف حکم صادر کړای وای، پدې صورت کې نوموړي نشو کولای له سترې محکمې څخه د قضیې د بیا کتنې غوښتنه وکړي، بلکه یوازې حکومت او یا یوې لاندنۍ محکمې کولای شو چې قضیه د بیا کتنې لپاره سترې محکمې ته ولېږي.

څرنګه چې تاسو د قضائیه قوې تر عنوان لاندې په ۶ څپرکي ولوستل، په افغانستان کې د محکمو رسمی سیستم د سرچینو د کموالي، فساد، په ټول هېواد کې د نا متناسب رفتار، تطبیق او نه باور څخه رنځ وړي. دې ننګونو ته په پام سره، آیا تاسو فکر نه کوی د افغانستان وګړي کولای شي د محکمو سیستم اړوند پر خپلو هغو حقونو باندې تکیه وکړي چې د اساسی قانون په ۵۱ ماده کې یادونه شوې ده؟آیا افغانستان د امریکې متحده ایالاتو او نورو هېوادونو ته ورته د قضایی اجراآتو سیستم تمه کولای شی؟ ښایی ددې مطلب په درک سره چې د رسمی محکمو د یو سیستم رامنځ ته کول ډېر وخت اړتیا لري، د اساسي قانون تدوین کوونکو د حقونو د تحقق لپاره په اساسی قانون کې یو بل میکانیزم یعنې د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون وړاندوینه کړې ده.

### ج. د د بشري حقونو خپلواک کمیسیون

**د افغانستان اساسي قانون**

**۵۸ماده**

(۱) دولت په افغانستان کې د بشری حقونو د رعایت د څارنې، ښه والي او ملاتړ لپاره، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون جوړوی..

(۲) هر څوک کولای شي د خپلو بشری حقونو د نقض په صورت کې دې کمیسیون ته شکایت وکړي.

(۳) کمیسون کولای شي د وګړو د بشری حقونو د نقض موارد، اړونده قانوني څانګو ته راجع کړی او د هغوی له حقونو څخه په دفاع کې مرسته وکړي

(٤)ددې کمیسون جوړښت او د کار ډول يې د قانون له لارې تنظیمیږي..

څرنګه چې تاسو ګوری، د افغانستان اساسی قانون د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون (AIHRC) ته واک ورکوي چې په افغانستان کې د بشری حقونو څارنه او مرسته وکړي.[٦٧٥] په هېواد کې د بشري حقونو موضوع لومړی په ۱۹۹۳ کال کې د ملګرو ملتو د ۴۸/۱۳۴ پرېکړه لیک، په ۲۰۰۲ کال کې د بن په هوکړه لیک او د د ۲۰۰۵ کال کی کمیسیون د تشکیل، دندو او واکونو قانون کی مطرح او کمیسون یی جوړ کړ.[٦٧٦]د AIHRC قانون له مخې د کمیسون لاندې اهداف لری: (۱) په افغانستان کې د بشری حقونو په رعایت څارنه، (۲) د بشری حقونو پرمختیاس او ورڅخه ملاتړ، (۳) بشری حقونو او آزادیو ته د وګړو د لاس رسي له وضعیت او څرنګوالي څخه څارنه، (۴) د بشر له حقونو څخه د سرغړونو او د نقض د مواردو څېړنه او تحقیق، او (۵) په هېواد کې د بشري حقونو د وضعیت د ښه کولو او پرمختیا په منظور د تدبیرونو نیول.

په ۲۰۰۴ کال کې د اساسي قانون له انفاذ وروسته، په افغانستان کې د بشري حقونو د څارنې او دفاع لپاره د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون فعالیت موده و غزېده.[٦٧٧] هر فرد کولای شي د بشری حقونو د نقض موضوع کمیسیون ته وړاندې کړي چې له هغه وروسته کمیسیون د ډول ادعا ګانې اړونده قضایی مراجعو ته استوي. همدارنګه د بشری حقونو خپلواک کمیسیون د شخص سره قضایي مراجعو ته د موضوع په ارایه کې مرسته کوي.[٦٧٨] د بشري حقونو په خپلواک کمیسیون کې شپږ څانګې شتون لري: د بشري حقونو د ښوونې او روزنې څانګه، د ښځو له حقونو څخه د ملاتړ څانګه، د ښځو له حقونو څخه د ملاتړ څانګه، د څارنې او څېړنې څانګه، د انتقالي عدالت څانګه، او د معلولو وګړو له حقونو څخه د حمایت څانګه.[٦٧٩]

کمیسون نهه غړي ("کمیشنران") لرى چې د جمهور رئیس له لوري ټاکل کېږي او د هغه په ترکیب کې ښاغلي او آغلې چې د بشري حقونو په برخه ک تجربه او کاري سابقه لري شامل دي.[٦٨٠] تر ټولو مهم داچې پداسې حال کې چې جمهور رئیس د ۵ کلنې دورې لپاره د کمیسیون د غړو د ټاکلو واک لري، خو د هغوی د ګوښه کولو ښیپږ واک نه لري. بیاهم د دندې د ناسمې اجرا او یا د قانون څخه د سرغړونی په صورت کې یو کمیشنر ګوښه کېدای شي او دا کار د کمیسیون د غړو ۲ پر ۳ رایو او د جمهور رئیس په تأیید سره تر سره کېږي.[٦٨١] دا طرح مهمه ده ځکه اجازه ورکوي ترڅو کمیسون د بشري حقونو په برخه کې د حکومت کړنې په خپلواکی او بې طرفی سره و ارزوي. دا کمیسیون اوس مهال له حکومت څخه په

٦٧٥. د افغانستان اساسی قانون، ۵۸ ماده

٦٧٦. د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د تشکیل، دندو او واکونو قانون

٦٧٧. د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کیمسیون د ۲۰۱۰ – ۲۰۱۱ کلنی راپور. د لاس رسي وړ په:
http://www.aihrc.org.af/media/files/Reports/Annual%20Reports/inside.pdf.

٦٧٨. هماغه ځای

٦٧٩. هماغه ځای

٦٨٠. د بشري حقونو د... قانون، ۷ ماده

٦٨١. هماغه ځای ۱۴ ماده

ځرګنده انتقاد کوي او وايي چې: "د بشري حقونو ښه کېدو لپاره د علاقې او سياسی ارادې نشتوالی، په پراخه پيمانه دود شوی فساد په ځانګړې توګه په قضايی ارګانو کې، له واک څخه ناوړه ګټه او د قانون د حاکميت نشتوالی او د مجازاتو د عفوي دوامداره کلتور هغه غوره خنډونه دي چې کميسيون ورسره مخامخ دي." د دېامکان شته چې جمهور رئيس په کميسيون کې د خپلو پلويانو په مرسته هغه کميشنران ګوښه کړي چې له حکومت څخه انتقاد کوي او پدې ترتيب کميسون تر خپل کنترول لاندې راولي. داسی ښکاري چې د بشرِ حقونو خپلواک کميسيون تر ډېره بريده ديو خپلواک بنسټ په توګه خپل رول لوبوي. بياهم، څرنګه چې تاسو به لاندې ولولی، په ۲۰۱۱ کال کې جمهور رئيس کرزي د يوبحث پاروونکي پريکړی په اساس په کميسيون کې د کميشنر نادر نادری د غړيتوب دوره تمديد نه کړه.

په همدی توګه دا کميسيون په هېواد کې د ۸ ساحوی او ۶ ولايتي دفترون په لرلو سره چې د ۶۰۰ په شاوخوا کې کارکونکي لري، فعاليت کوي.[٦٨٢] د بشري حقونوخپلواک کميسيون په افغانستان کې د بشري حقونو د څارنې مسؤليت لري له هغه جملې د بشري حقونو په برخه کې د حکومت د اجراآتو پر تثبيت او د بشري حقونو ستاندارډونو ته د احترام د تأمين، د توقيف خانو څخه ليدنه، د بشری حقونو ښوونه، ملي شورا او نورو حکومتی عاملينو ته د بشری حقونو په برخه کې د مشورو ورکولو، د ملګرو ملتو سره کار او د بشري حقونو اړونده مسلو په هکله د راپورونو خپرولو مسؤليت لري.[٦٨٣] پردې سربېره، کميسيون د وګړو شکايتونه اوري، شواهد را ټولوي، قضيې څېړي او د پلټنې په موخه يې اړونده افغانی قانونی مراجعو ته استوي.[٦٨٤] همدارنګه د بشری حقونوخپلواک کميسيون دنده لري چې د ماشومانو، ښځو، معلولينو او نورو زيانمېدونکو قشرونو د حقونو د ښه والي لپاره سپارښتني وکړي.[٦٨٥]

د يادولو وړ ده که څه هم د بشري حقونو خپلواک کميسيون اړونه قانوني مراجعو ته د قضيو د ارجاع کولو واک لري، خو په محکمه کې د قربانيانو د دعوا د اقامې کولو واک نه لري. د نتيجې په توګه، قربانيان بايد خپلې قضيې پخپله اقامه او د محکمو له لارې يې پر مخ بوزي. په ډېر شمې قضيو کې د بشری حقونو د سرغړونو قربانيان د منصفانه محکمې د جريان د تأمين لپاره لازمې وړتياوې او سرچينې په واک کې نه لري. د بشري حقونود سرغړونو قربانيان اکثره کم سواد او کم عايد لري. دا پدې معنی دي چې په محکمه کې د متهم د نمايندګې په خاطر مدافع وکيل ته د حق الزحمې ورکول له مالي پلوه ممکن په نظر نه راځي. پردې سربېره، کېدای شی قربانيان د حقوقي سيستم په هکله هم کافی معلومات و نه لري تر څو اطمينان حاصل کړي چې د هغوی دوسيې په عادلانه ډول او له فساد پرته پر مخ ځي. د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کميسيون د ولايتي دفترونو کارکوونکو سره مرکې ښيي چې په وروستيو کلونو کې ساحوی دفترونو ته د عدالت غوښتنې په هکله غوښتنليکونه کم شوي دي.ددې دليل دادی چې کميسيون د قربانيانو سره اړينه مرسته نشي کولای تر څو خپل شکايتونه اړونده قانوني مراجعو ته ورسوي.[٦٨٦]

---

[٦٨٢]. د بشري حقونو د ... د ۲۰۱۰ – ۲۰۱۱ کلنی راپور

[٦٨٣]. د بشري حقونو د... قانون، ۱۱ ماده

[٦٨٤]. هماغه ځای، ۲۳ ماده

[٦٨٥]. هماغه ځای ۲۶ ماده

[٦٨٦]. د هغه مرکی پر بنسټ باندې چه د د افغانستان امريکايی پوهنتون اسيستانت پروفيسور محمد اسحق زاده ترسره کړې.

په ۲۰۱۰ کال کې، د بشری حقونوخپلواک کمیسیون ۲۵۵۱ شکایتونه د جملی څخه نژدی، د بشري حقونو د نقض ۹۰۰ موارد تر لاس کړي دي.[۶۸۷] لدې څخه ۹۶۱ شکایت کوونکي مېرمني دي. د بشری حقونو خپلواک کمیسیون له ۹۰۰ موضوعګانو څخه ۷۶۱ څېړلي او پخپل کلنې راپور کې يې ذکر کړی دی چې ۳۵۵ قضېې يې حل او فصل کړې دي.[۶۸۸] نورې ۹۵ موضوعګانې يې تړلي او ۳۴۴ تر کار لاندې دي. د بشري حقونو کمیسیون په راپور کې راغلي دي چې ۱۶۸ مورده د شخصي امنیت، ۳۸۸ مورده د عادلانه محاکمې حق، ۷۴ مورده د ملکیت حق سرغړونې او ۵۴ مورده د واده کولو حق سره تړاو درلود.[۶۸۹] پدې موده کې د ښځو خلاف تاوتریخوالي باندې د اعتراض کولو کچه چې زیاتوالی موندلی چه د کمیسیون له نظره د هغه دلیل د خپلو حقونو په هکله د ښځو د پوهې زیاتوالی او ملاتړ دی چه قانون ورته په ګوته کړی.[۶۹۰] د ښځو خلاف تاوتریخوالي ٪۵۰ قضېې منځګړیتوب ته حواله شوې او یوازې ٪۲۰ يې د مرتکبینو په مجازاتو سره پای ته رسېدلي.[۶۹۱]

په افغانستان کې د بشري حقونو په هکله د کمیسون ارزونه څرګندوي چې يو زياته اندازه بې یقیني او ناامني شتون لري. او دا چې اوس مهال يو څه ستونزې داسې ننګونې دي چې د بشري حقونو څخه د اغېزمن ملاتړ څخه مخنیوی کوي. یوه تر ټولو لویه ننګونه امینت دی چې له ۲۰۰۹ کال راپدېخوا خراب شوی او په زیاتېدونکي توګه يې د بشری حقونو د خپلواک کمیسیون له لوري د بشري حقونو د ښه کولو پروګرامونه ستونزمن کړي دي.[۶۹۲] سربېره پدې، کمیسیون تر اوسه پورې د بودیجې کسر درلود چې د پروګرامونو د بندیدو سبب شوي. د کمیسیون د ۲۰۱۰ – ۲۰۱۱ کال راپور منځپانګه یا محتوا د حکومت د کړنو په هکله ډېره نیوکې کوي. پدې راپور کې راغلي دي: "د بشري حقونو د پرمختیا په هکله د علاقمندی او سیاسي ارادې نشتوالی، پراخه اوعام شوی فساد په ځانګړې توګه په قضایی ارګانو کې، له واک څخه ناوړه ګټه اخیستل او د قانون حاکمیت نشتوالی او له مجازاتو څخه د معافیت د دود دوام" هغه غوره خنډونه دي چې کیمسیون ورسره مخامخ دی.[۶۹۳] کمیسیون دا موندلي چې د بشری حقونو نقض په ځانګړي ډول د ښځو او ماشومانوخلاف تاوتریخوالی امنیتي وضع او سیاسي بحران لکه د ولسي جرګه لانجمن انتخابات، لا نور هم کړکېچن کړي چې دا پخپل وار سره په بشري حقونو باندې منفي اغېز درلود.[۶۹۴] د نتیجې په توګه، د بشري حقونو خپلواک کمیسیون پدې باور دی چې په افغانستان کې د بشري حقونووضعیت مخ په خرابېدو دی او داچې افغانان په اساسي قانون کې د مندرج بشري حقونو د نقض د درد او ربړ د زیات ګواښ سره مخامخ دي.

---

[۶۸۷]. د بشری حقونو د ... د ۲۰۱۰ – ۲۰۱۱ کلنی راپور، ۶۷ مخ، د لاس وړ په:
http://www.aihrc.org.af/media/files/Reports/Annual%20Reports/inside.pdf.

[۶۸۸]. هماغه ځای، ۶۸ مخ

[۶۸۹]. هماغه ځای

[۶۹۰]. هماغه ځای

[۶۹۱]. هماغه ځای، ۶۹ مخ

[۶۹۲]. د بشری حقونو د ... د ۲۰۱۰ – ۲۰۱۱ کلنی راپور، ۶۷ مخ، د لاس وړ په:
http://www.aihrc.org.af/media/files/Reports/Annual%20Reports/inside.pdf.

[۶۹۳]. هماغه ځای، ۷۴ مخ

[۶۹۴]. هماغه ځای

**د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون په وړاندې ننګونې: د کمېشنر نادري د بیا ټاکلو ناکامي**[٦٩٥]

داسې ښکاري چې د ۲۰۱۱ کال په دسمبر کې، جمهور رئیس کرزي د بشري حقونو یو نامتو فعال نادر نادري د بشري حقونو په خپلواک کمیسیون کې له خپل دندې ګوښه کړ. د نوموړي د ګوښه کېدو علت لاهم نامعلوم پاته دی. ښاغلي نادري کله چې کمیسیون په ۲۰۰۴ کال کې جوړ شو مقرر او د خپلې دندې لومړی دوره په ۲۰۰۶ کال کې پیل کړه. د نادر نادري د خدمت دوره د ۲۰۱۱ کال په دسمبر کې پای ته ورسېده. ښاغلي نادري په انتخاباتو کې د درغلي، د زور واکو له خوا د ځمکو غصب او د ناتو ځواکونو او طالبانو له لوري په ملکي تلفاتو باندې د نیوکو له امله څرګند شهرت موندلی وو. پداسې حال کې چې ښاغلی نادری د ډېر وخت لپاره د حکومت له انتقادوونکو څخه وو، خو داسې ښکاري چې له ۱۹۸۰ کال را پدې خوا په افغانستان کې د یوه ډله ایز جنایت په هکله د یوه راپور خپرولو جمهور رئیس کرزی د نوموړی ګوښه کولو ته اړ کړ. پدې راپور کې هغه کسان چې د مجرمینو په نوم یاد شوي دي زیات شمېر یې د حکومت لوړ پوړي چارواکي او هغه ارشد سیاستوال دي چې د شوروي سره یې د جهاد مشرتوب پع غاړه درلوده او د ۱۹۹۰ کلونو په کورنۍ جګړه کې فعال وو. په یوه مرکه کې ښاغلي نادر نادري وویل چې د راپور په جزئیاتو کې : "له ۱۸۰ څخه زیات ډله ایزو قبرونو څخه چې د ځینو شمېر یې زیات دی" یادونه شوې ده. دا راپور د نادری تر ګوښه کېدو پورې لا نه وو خپور شوی.

د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د تشکیل، دندو او واکونو قانون لاندې موارد و ړاندې کوي:

**۱۴ ماده : د غړو د ګوښه کېدو حالات:**

(۱) د کمیسیون غړي په لاندې حالاتو کې د مستندو او صریحو دلایلو د موجودیت په صورت کې د کمیسیون له غړیتوب څخه ګوښه کیږي:

۱. د سپارل شووچارو په اجراء کولو کې د کفایت نه درلود؛

۲ .د کمیسیون د اسرارو افشا کول؛

۳.ددې قانون له حکمونو څخه سرغړونه؛

(۲)د مستندو او صریحو دلایلو د موجودیت په صورت کې ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي غړي انفصال د کمیسیون د غړو د دوو ثلثو په وړاندیز او د جمهور رئیس په منظوری صورت نیسي.

**د مباحثې پوښتنه**

[٦٩٥]. ددې بکس معلومات له:

Matthew Rosenberg, *Afghan Rights Activist Nadery Ousted from Panel*, The New York Times (Dec. 22, 2011), *available at* http://www.nytimes.com/2011/12/23/world/asia/afghan-rights-activist-nadery-ousted-from-panel.html. اخیستل شوی دی

ستاسو له نظره آیا د کمېشنر نادري نادري ګوښه کول د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د اجراآتو د قانون د ۱۴ مادې د حکمونو سره اړخ لګوي؟

**د مباحثې پوښتنې**

۱. آیا تاسو فکر کوی چې د بشري حقونو خپلواک کمیسیون د بشري حقونو په برخه کې د حکومت د اجراآتو په بې طرفانه ارزونه کې له حکومت څخه په کافي اندازه خپلواکي لري؟څرنګه کولائ شو چې کمیسیون لا نور هم خپلواک کړو؟ په یاد ولری چې د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د ۲۹ مادې له مخې، کابینه باید ددې کمیسیون بودیجه د ملي بودیجې د یوې برخې په توګه تصویب کړي. آیا تاسو فکر کوی چې دا به د کمیسیون پر خپلواکي باندې منفي اغېز وکړي؟

۲. د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د کار او فعالیت د پام وړ برخه د راپورونو خپرول دي چې په افغانستان کې بشري حقونه مستند کوي. آیا تاسو فکر نه کوی چې دا د بشري حقونو د تحقق یوه مهمه او اغېزمنه طریقه ده؟ولې او ولې نه؟

۳. د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون ۲۳ مادې سره سم، دا کمیسیون واک لري چې قضیی " اړونده قضایی او غیر قضایی مراجعو ته راجع کړي." دا حکم فرض کوي چې قضایی مقامات د بشري حقونو د موادو د اغېزمن تحقق توان لري، څرنګه چې مخکې یې یادونه وشوه قضایی وړتیا او اراده د بشري حقونو د کمیسیون په وړاندې یوه لویه ننګونه ده. په نتیجه کې، د بشري حقونو خپلواک کمیسیون کله ناچاره کیږي، قضیې له رسمی قضایی سیستم څخه بهر د بخښنې یا خارج ته د وګړو په پټه لېږلو له لارې رسیدګی وکړي. د افغانستان اوسني قضایی سیستم ته په پام سره، د کمیسیون لپاره د شکایتونو د حل او فصل د نورو غوره او ښو لارو چارو په هکله فکر وکړی؟

۴. په افغانستان کې د بشري حقونو د څرنګوالي په هکله د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون ارزونه او داچې څرنګه افغان حکومت دې حالت ته رسیدګی کوي، په نظر کې ونیسی؟آیا تاسوددې سره موافق یاستی چې د سیاسی ارادی نشتوالی، له مجازاتو څخه د معافیت فرهنګ دوام او فساد په هکله د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون نظرتول په افغانستان کې د بشری حقونو د نقض د زیاتوالی سره مرسته کوي؟

**اووم. په اساسی قانون کې د تضمین شوو حقونو محدودیتونه**

د حقونو ډېره برخه چې پدې څپرکي کې یی یادونه وشوه، مطلق نه دي. داسې موارد شتون لري چې په هغو کې دولت اجازه لري د ټاکلو شرایط په شتون کې پر اساسي حقونو باندې محدودیت وضع کړي. په ټولیزه توګه، د دولت له لوری د اساسي حقونو په برخه کې محدودیتونه باید څرګنده او ښکاره وي. که چېرې دولتونه پر حقونو باندې پراخه او پیچلی محدودیتونه وضع کړي، نو ددې خطر شته چې دولتونه به دا محدودیتونه په خپل سر عملي او له هغو څخه ناوړه ګټه پورته کړي. تاسو پدې څپرکي کې د ځانګړو حقونو په اړه د محدودیتونو مطالعه وکړه. د بیلګی په توګه، تاسو پدې هکله چې کوم وخت کې دولت د یو فرد د آزادی پر حق باندې محدودیت وضع کوي یعنې دولت هغه وخت دا کار کوي چې د آزادي حق څخه ګټه اخیستل د نورو د حقونو یا عامه ګټو خلاف وي. همدارنګه د عامه ګټو لپاره د دولت له لوري د یو فرد د خصوصي ملکیت تصرف او دا چې دولت د استملاک څخه د مخه د ملکیت مالک ته باید عادلانه قیمت ورکوي، هم ولوستل. اوس تاسو د حقونو د اجرا په هکله د دوو عامو او کلي محدودیتونو په هکله چې د ټول اساسي قانون سره تړاو لري یعنې ۵۹ ماده او د اضطرار حالت په هکله معلومات تر لاسه کوی.

**الف. ۵۹ ماده**

| د افغانستان اساسی قانون |
|---|
| **۵۹ ماده** |
| هېڅوک نشي کولای پدې اساسي قانون کې د راغلیو آزادیو او حقونو څخه په ناوړه استفادې د هېواد د خپلواکی، ځمکنی بشپړتیا، ملي واکمنی او ملي وحدت پر ضد عمل وکړي. |

دولتونه د حاکمیت، یا د قوانینو په جوړولو او تطبیق کې د مطلق واک او په ټاکلي قلمرو کې د عدلي سیستم په پکارولو سره تعریف کیږي. اساسي حقونه او بشری حقونه د دولت واک او حاکمیت تر یوه بریده محدودوي تر څو له استبداد څخه مخنیوی وشي او اتباع په حکومت کې ګډون وکړي. ۵۹ ماده د اساسی حقونو او بشري حقونو په وړاندې د حاکمیت تعادل پدې بیان سره تأمینوی چې هیڅو ک نشي کولاۍ له خپلو حقونو څخه د هېواد د خپلواکی، ځمکنی بشپړتیا، حاکمیت او ملي وحت خلاف ګټه واخلي. آیا ستاسو له نظره په ۵۹ ماده کې مندرج حکمونه لازمي دي؟ آیا فکر نه کوئ چې دا ماده دولت ته د حقونو د محدودولو لپاره له حده زیات واک ورکوي؟ یا دا چې دولت د ملي حاکمیت د ساتلو لپاره باید ډېر واک ولري؟ آیا تاسو د ۵۹ مادې پر ځای بله کومه طرح لری؟

**ب. اضطراري حالت**

تاسو د اضطراری حالت په هکله د قواوو د تفکیک تر عنوان لاندې په دوهم څپرکي کی ولوستل. همدا رنګه اضطراري حالت د حقونو د تحقق لپاره هم د پام وړ پایلې لري. لدې امله د اضطراري حالت اړونده مادې له مختلفو اجزاوو څخه یادونه کوو:

| د افغانستان اساسي قانون |
|---|

**۱۴۵ ماده**

په اضطراري حالت کې جمهور رئیس کولای شي چې د ملي شورا او د سترې محکمې د رییسانو تر تأیید وروسته د اساسي قانون لاندیني حکمونه و ځنډوي او یا قیود پرې ولګوي:

۱ ــ د اوه ویشتمې مادې دوهمه فقره،

۲ ــ شپږدېرشمه ماده،

۳ ــ د اوه دېرشمې مادې دوهم فقره،

۴ ــ د اته دېرشمې مادې دوهمه فقره،

**۲۷ماده، ۲بند**

هېڅوک د قانون له حکمونو پرته تعقیبېدای، نیول کېدای او یا توقیفېدای نشي.

**۳۶ ماده**

د افغانستان اتباع حق لري چې د روا او سوله ایزو غوښتنو د تأمین لپاره له قانون سره سم بې وسلې غونډې او مظاهرې وکړي.

**۳۷ ماده، ۲ بند**

دولت د اشخاصو د مخابراتو او لیکونو د پلټنې حق نه لري، مګر د قانون له حکمونو سره سم.

**۳۸ ماده، ۲ بند**

هېڅوک د دولت په شمول نشي کولای د استوګن له اجازې یا د واکمنې محکمې له قرار پرته او بې له هغو حالاتو او لارو چې په قانون کې ښوول شوي، د چا کور ته ورننوزي یایې و پلټي.

بین المللي حقوق، په ځانګړې توګه د مدني او سیاسي حقونو بین المللي میثاق (چې افغانستان یی د لاسلیک کوونکو لورو څخه دی)، دقیق لارښود نه وړاندې کوي چې د هغه له مخې د اضطراري حالت ځنډول مجاز وي. د افغانستان په اساسي قانون کې د اضطراري حالت د ارزونی لپاره د مدني او سیاسی حقونو په بین المللي میثاق کې د اضطراري حالت د ځنډولو اړوند لارښود یادونه به یو ګټور تحلیلي تمرین وي.

**د مدني او سیاسی حقونو بین المللي میثاق**

**مادۀ ٤**

(۱) که چېرې په استثنایی(فوق العاده) توګه یو خطر کوم هېواد تهدید کړي او دغه خطر رسماً اعلان شي

| |
|---|
| د دغه میثاق غړي هیوادونه کولای شي د حالت له غوښتنې سره سم په لازمه اندازه د داسې کړنو تدبیرونه ونیسي چې په میثاق کې نه وي پدې شرط چه دا تدبیرونه د هغه دندو سره چې د بین المللي حقونو له مخې یی لري مغایرت و نه لري او په رنګ، نژاد، جنس، ژبې، اصل، مذهبي او ټولنیز توپیر پورې تړلي سرغړونې باندې تمام نه شي. |
| (۲) پورتنی حکم د (۶ – ۷) مادې د لومړۍ او دوهمې فقرې(پاراګراف) او (۸ – ۱۱ – ۱۵ – ۱۶ |

د مدني او سیاسی حقونو بین المللي میثاق ۴(۱) ماده په اضطراري حالت کې د حقونو پر ځنډولو باندې لاندنۍ اړین قیودات وضع کوي: (۱) اضطراري حالت یوازې د جګړې یا عام اضطرار اعلانېږي، (۲) دولت باید په رسمي توګه اضطراري حالت اعلان اوددې کار په هکله خبر ورکړي، (۳) دولت حقونه یوازې " په هغه محدوده کې چې په دقیق ډول شرایط د هغو غوښتونکي دي" ځنډولای شي. (۴) ځنډ نباید د کومې بین المللي حقوقي ژمنې سره په تضاد کې وي، او (۵) ځنډ یا تعلیق باید عادلانه وي."[۶۹۶]

د مدني او سیاسی حقونو بین المللي میثاق د انحراف وړ حقونو( هغه حقونه چې په اضطراري حالت کې د تغییر وړ وي) او غیر انحرافي حقونو (هغه حقونه چې په هېڅ ډول شرایطو کې د تغییر وړ نه دي) ترمنځ په توپیر قایل دی. پر هغو حقونو سربېره چې د مدني او سیاسی حقونو بین المللي میثاق په ۴(۲) ماده کې لېست شوي دي، د بشري حقونو کمېټې دا په ډاګه کړې ده چې د تورنو لپاره د بین المللي عرفي حقوقو د یوې برخې سره کړندودې تضمینات هم د تغییر وړ نه دې.[۶۹۷] څرنګه چې تاسو مخکې ولیدل، د افغانستان د اساسي قانون ۱۵۴ ماده د مدني او سیاسی حقونو د بین المللي میثاق د انحراف نه وړ حقونو ځنډول نه په ګوته کوي.

پردې سربېره، بین المللي حقوق معمولاً ددې غوښتونکی دي چې د حقونو د ځنډ یا محدودیت په صورت کې باید څلور اصله تر سره شي: (۱) د تقدیر حاشیې دکترین، (۲) محدودیتونه د "قانون پواسطه مقرر شوي وي"، (۳) د ضرورت او انډول اصل، او (۴) د عدم تبعیض اصل.[۶۹۸]

د تقدیر حاشیې دکترین پدې معنی ده چې دولت د اساسي حقونو د عملي کېدو په ټاکلو او د اضطراري حالت په اعلان کې یو څه د عمل آزادي لري.[۶۹۹] دا پدې معنی ده چې د افغانستان دولت تر یوه بریده د اساسي حقونو د عملي کېدو او اجرا لپاره د غوره او ښې لارې او طریقې او د اضطرارى حالت د مناسب اعلان د تعیین په برخه کې د عمل آزادي لري.

د محدودیتونو د وضع کولو غوښتنی چې د قانون پواسطه ټاکل کېږي پدې معنې دي چې پر حقونو باندې د دولت له لورې هر ډول محدودیتونه باید د مشروع قانون پواسط وضع شي.[۷۰۰] په بل عبارت، دولت

[696] Alex Conte, *Limitations to and Derogation from Covenant Rights*, *in* Defining Civil & Political Rights: The Jurisprudence of the United Nations Human Rights Committee 58-64 (Alex Conte & Richard Burchill, eds. 2009).
[697] *Id.* at 40-41
[698] Alex Conte, *Limitations to and Derogation from Covenant Rights*, *in* Defining Civil & Political Rights: The Jurisprudence of the United Nations Human Rights Committee 42 (Alex Conte & Richard Burchill, eds. 2009).
[699] *Id.* at 43-46.
[700] *Id.* at 46-47.

نشي کولای پر حقونو باندې داسي محدوديتونه وضع کړي چې په معتبرو قوانينو کې نه وي په ګوته شوي. مثال، سربېره پر هغو مواردو چې په ۱۴۵ ماده کې يادشوي دي، په اضطراري حالت کې د افغانستان دولت نشي کولای د نورو مادو د تعليق په هکله پرېکړه وکړي. دولت يوازې هغه حقونه ځنډولای شي چې د قانون پواسطه مجاز پېژندل شوي وي.

د ضرورت اصل دولتونو ته اجازه ورکوي چې حقونه يوازې "په هغه محدوده کې چې په دقيق ډول سره اضطراري شرايط يې غوښتونکی دی" محدود کړي.[701] د مثال په توګه، دا پدې معنی دي چې په اضطراري شرايطو کې، د افغانستانحکومت مظاهرې يوازې تر هغه پورې مخنيوی کوی چې ددې کار تر سره کول په هېواد کې د سولې د ټينګولو او نظم راوستلو لپاره اړين وي. د اندول يا تناسب اصل پدې معنی دي چې د انحراف د ضرورت له تثبيت وروسته، دولت د حد اقل محدودو وسايلو څخه په استفادې "چې د محدوديت هدف ته د رسېدو لپاره ورته اړتيا ده" يوازې د تثبيت شوو حقونو څخه انحراف کولای شي.[702] د ياد شوي مثال پر بنياد، دولت د لاريونونو د مخنيوي لپاره يوازې داسې اقدامات تر لاس لاندې نيسي چې په هغو کې د حد اقل ممکنو او محدودو وسيلو څخه استفاده وشي. دا پدې معنې دي چې که چېرې د لاستيکی ګوليو څخه په استفادې سره جمعيت د کنترول وړ وي نو بيا د جمعيت د کنترول لپاره د اصلي ګوليو کارولو ته اړتيا نشه.

د تبعيض د نشتوالي اصل پدې معنی دي چې دولت نشي کولای حقونه د تبعيض له لارې محدود او يا وځنډوي.[703] د مثال په توګه، د اضطراري حالت پر بنسټ باندې د افغانستان دولت نشی کولای چې د ښځو لاريون منع او د نارينه وو لاريونونو ته اجازه ورکړي.

د يو يادښت په توګه، د افغانستان د اساسي قانون ۱۴۵ ماده وايي چې په اضطراري حالت کې د قانون د مختلفو مادو څخه لاندې فقرې او اجزا ځنډېدلای شي.

**د افغانستان اساسي قانون**

**۲۷ماده، ۲بند**

هېڅوک د قانون له حکمونو پرته تعقيبېدای، نيول کېدای او يا توقيفېدای نشي.

**۳۶ ماده**

د افغانستان اتباع حق لري چې د روا او سوله ايزو غوښتنو د تأمين لپاره له قانون سره سم بې وسلې غونډې او مظاهرې وکړي.

**۳۷ ماده، ۲ بند**

[701] *Id.* at 47.
[702] *Id.* at 48-49.
[703] *Id.* at 50-51.

دولت د اشخاصو د مخابراتو او ليکونو د پلټني حق نه لري، مګر د قانون له حکمونو سره سم.

**۳۸ ماده، ۲ بند**

هېڅوک د دولت په شمول نشي کولای د استوګن له اجازې يا د واکمني محکمې له قرار پرته او بې له هغو حالاتو او لارو چې په قانون کې ښوول شوي، د چا کور ته ورننوزي يايې و پلټي.

**د مباحثې پوښتنې**

۱. آيا تاسو فکر کوی چې د افغانستان په اساسي قانون کې د اضطراري حالت اړوند حکمونه يا بندونه، د مدنی او سياسی حقونو بين المللی ميثاق د الزاماتو او د بين المللي حقوقو عامو اصولو سره چې مخکې يې يادونه وشوه مطابقت لري؟ولې او ولې نه؟

۲. ولې تاسو فکر کوی چې د اساسي قانون تدوين کوونکو، د ځنډولو په اړه په ۱۴۵ ماده کې ځانګړي حکمونه غوره کړی؟ ستاسو له نظره آيا دا حکمونه د حقونو د ځنډولو لپاره مناسب دي؟ ولې او ولې نه؟ آيا لازم نه دي چې د ياد شوو حقونو هر يو و ځنډول شي؟ آيا نور حقونه چې په ۱۴۵ ماده کې ياد شوي، د ځنډولو وړ دي؟

### اتم. نتيجه

په لاندې موردي مطالعه کې، د ټولو هغو مواردو څخه چې تاسوددې څپرکي په ترڅ کې زده کړي دي، کوښښ وکړي هغو پوښتنو ته چې لاندې راځي، ځواب ورکړي

**موردي مطالعه: په افغانستان کې د قېمتي وادونو منع کول**[۷۰۴]

په ۲۰۱۱ کال کې د عدليې وزارت د وادونو په مراسمو کې د اسراف د مخنيوی لپاره د قانون طرح وړاندې کړه چې له مخې يې د واده په مراسمو کې د مېلمنو شمېر ۳۰۰ او د هر مېلمانه لپاره د لګښت اندازه د ۷ امريکايی ډالرو معادل اټکل شوې. همدا شاني دا قانون د زوم کورنۍ له لوري د ناوی کورنۍ ته له اندازې زياتو ډاليو له برابرلو څخه مخنيوی کوی. پردې سربېره، دا قانون د ناوې لپاره دوه جامې

[۷۰۴]. ددې بکس معلومات له لاندې سرچينې څخه اخيستل شوي دي.
: Michelle Nichols & Hamid Shalizi, *Afghan Government Plans Expensive Wedding Ban*, Reuters (Jan. 15, 2011), *available at* http://in.reuters.com/article/2011/01/05/idINIndia-53934320110105; Kevin Sieff, *Afghan Government Seeks to Ban Costly Weddings*, Washington Post (July 15, 2011), د لاس ورسې وړ په : http://www.washingtonpost.com/world/afghan-government-seeks-to-ban-costly-weddings/2011/07/11/gIQAMufnGI_story.html. د متن يوه مرخه پخپله له ورځپاڼې څخه نقل قول شوی دی.

په ګوته کوي چې يوه جوړه د کوژدې او دوهمه جوړه د واده مراسمو ته په نظر کې نيول شوې ده. له قانون څخه د سرغړونې په صورت کې هر دواړه يعني هم د وادې لورى او هم د وادونو د سالون خاوندان جريمه او آن چې په بند محکومېږي. د په همدی توګه دا پيشنهادي قانون ښځې د اسلامی قانون خلاف جامو اغوستلو څخه منع کوي. "د څارنې کمېټې" چې له سياستوالو او بوروکراتانو څخه جوړې دي د لباس د ډول او څرنګوالي په هکله پرېکړه کوي.

د وزير معاون محمد هاشمزی وړانديز شوی قانون دا ډول بيانوی: "مراسم له کنترول څخه وتلي دي، خلک دومره پيسې لګوي چې توان يی نه لري او په نتيجه کې د کلونو لپاره پوروړی پاته کېږي. دا کار د ټولنې لپاره ښه نه دی." هغه زياتوي: "خلک له بهر څخه افغانستان ته راستنېږي او نوې کلتور وړاندې کوي. زموږ موخه داده چې د نظم او انضباط يوه برخه ټولنې ته را وګرځوو." د عدليې وزير حبيب الله غالب هم د وړنديز شوي قانون څخه په پلوي خبرې کوي: "د وادونو مراسم اوس د خلکو په منځ کې په سيالي بدل شوي.پدې سيالی کې هېڅوک نه غوړي وروسته پاته شي. بدای وګړي غواړي د وادونو په لويو سالونو کې سلګونو کسانو ته د ډوډۍ په ورکولو سره خپله شتمني ښيي.... کورنۍ د يوه داسې ناوړه دود قرباني کېږي او د داسې درووند بار منلو ته اړ کېږي.

ځيني نور بيا له دې قانون څخه انتقاد کوي "ولې بايد دولت خلکو ته ووايي چې خپلې پيسې څرنګه مصرف کړي؟" د کابل د وادونو سالون خاوند، محمد سلام برکی وويل. "که چېرې هغوی دا قانون تصويب هم کړي دا کار به د فساد سره مرسته وکړي او زه به دې اړ شم چې تفتيش ته پيسې ورکړم تر څو زيات شمېر مېلمنو ته اجازه ورکړي."

په ولايتونو کې د قبيلو لويانو او چارواکو د وادونو د لګښتونو د تنظيم لپاره ورته اقدام تر سره کړی دی. لدې د مخه په ۲۰۱۱ کال کې د جوزجان ولايت په شمال کې د څو کليو مشرانو ګران او ولور لرونکي وادونه منع کړل ځکه چې هغويد دېکار توان نه لري. د مقرراتو له مخې د واده لګښت بايد د زوم د اقتصادی توان سره متناسب وي. که چېرې کوم څوک ددی اصولو څخه سرغړونه وکړي، نوموړي به په کلي کې نورو وادونو ته نه بلل کېږي. "واده کول د ټولو حق دي او نبايد د ناوی او زوم لپاره يو ستر بار شي." دا ټکی د جوزجان د مشرانو څخه يوه څرګند کړ. "د زوم کورنۍ اړ ابستل چې د هر څه پيسې ورکړي او سلګونو کسانو ته ډوډۍ ورکړي، يوه لويه ګناه ده."

په جوزجان کې د يوې قبيلې د مشر دا وينا چې واده کول د ټولو حق دی، د يادولو وړ ده. پداسې حال کې چې د اساسي قانون ځيني حکمونه د واده کولو حق ته اشاره کوي[۷۰۵] د بشري حقونو بين المللي سندونه هم د واده کولو حق تسجيلوي. د افغانستان اساسی قانون داسې يو حکم نه لري. دې ته په پام سره، آيا تاسوددې سره چې واده کول د ټولو حق دي، موافق ياستی؟ که داسې وي، نو دا حق په کوم سند کې راغلی دی؟

که واده کول د افغانستان د اتباعو حق وي، آيا دا قانون د مالي توان په نظر کې نيولو پرته، د خلکو سره د وادونو په شونتيا کې مرسته کولای شی؟ يا، آيا دا قانون د هغې طريقې په محدودولو سره چې خلک په

[۷۰۵]. وګورئ د مثال په توګه، ICCPR، ۲۳ماده

دوديزه توګه د واده مراسم جوړوی، د واده کولو له حق څخه سرغړونه نه ده؟

ستاسو له نظره آيا دا قانون نور حقونه نقض کولای شی؟ د آزادي حق په هکله څه فکر کوي؟ د بيان آزادي د حق او د تولنو جوړول د حق په هکله څه فکر کوی؟ آيا د لويو وادونو جوړېدل د بيان آزادي يو شکل دی؟ آيا د ګرانو وادونو جوړول خلکو ته د ځان سره کوم ځانګړی پيام لري؟ په وادونو کې د مېلمنو د شمېر محدودول، د حکومت له لوري د ټولنو جوړولو له حق څخه سرغړونه نه ده؟ د تصرف او ملکيت لاس ته راوړلو په هکله څه نظر لري؟ آيا د زياتو جامو له پېرودلو څخه د زوم او ناوی مخنيوي د تصرف او د ملکيت لاس ته راوړلو د حق نقض نه دی؟

آيا حکومت خلکو ته ويلای شي چې خپلې پيسې څرنګه مصرف کړئ؟ که چېرې حکومت خلک دې ته اړ باسي چې خپلې پيسې داسې و لګوي چې په اوږد مهال کې د هغوی په ګټه وی، ستاسو نظر پدې باره کې څه دي؟ ځيني هيوادونه هره مياشت د خپلو اتباعو څخه يوه ټاکلې سلنه وضع کوي تر څو د متقاعدينو او بې عايده خلکو سره مرسته وکړي. آيا تاسو فکر نه کوی چې دا د کوم ډول حق نقض دی؟ يا دا چې د حق سره مرسته کوی؟

له بلې خوا، ۴۳ او ۵۴ مادې حکومت مکلف ګڼی تر څو په ټول هېواد کې د متعادلې ښوونې او روزنې پروګرامونه تطبيق او په دې توګه د کورنيو سوکالي خوندي کړي. کېدای شي استدلال وشي چې د خپلې دندې د ديوې برخې په توګه، د حکومت له لوري د ګرانو وادونو ممنوعيت د ياد شوو مادو له مخې د خپلو ژمنو د اجرا لپاره ضرور ده.که چېرې کورنۍ خپلې ټولې پيسې د واده په راسمو کې و لګوي، هغوی به د خپلو اولادونو د ښوونې او روزنې مصرف لپاره څه و نه لري. د هغو پيسو محدودول چې کورنۍ يې په وادونو کې مصرفوي، آيا دا به د ماشومانو د ښوونې او روزنې سره مرسته وکړي؟ آيا د واده پر لګښت باندې محدوديت، د کورنۍ د سوکالي لپاره د حکومت د دندې يوه برخه ده؟

که چېرې تاسو دې ټولو پوښتنو لپاره ځواب نه لری، نو بيا تاسو د يو حقوق پوه په توګه فکر نه کوی چې دا ستونزمنې پوښتنې دي او دهغو لپاره هېڅ يو آسان ځواب نشته. زياتره د يو وګړي د حقونو (پدې ځای کې د واده کولو حق) څخه د ملاتړ په نظر کې نيولو سره، استدلال کولای شو چې په ورته وخت کې، چې حکومت پدې اقدام سره د نورو وګړو حقونه نقض کوي( پدې ځای کې په زيات احتمال سره د بيان، ټولنو جوړلو يا د ملکيت حق). ببلا ببل حقونه همېش يو د بل سره په ټکر کې وي. له قانوني پلوه، تاسو دنده لري چې د حکومت د هر اقدام د احتمالي پايلو په هکله فکر وکړي چې کوم يو حق د تأييد وړ/خلاف دی او په نهايت کې داچې آيا د حکومت االقدام د اساسي قانون سره سمون لري او که نه؟

څرنګه چې تاسو پدې څپرکي کې ولوستل، د افغانستان اساسي قانون د مدنی او سياسي حقونو څخه د پياوړی ملاتړ وړاندوينه کوي، په بين المللي حقوقو کې يادشوې حقونه په کورنيو قوانينو کې تسجيل شوي اود دېحقونو په اجرا باندې يې حکم کړيدی. همداشانې، تاسو پدې څپرکي دا هم ولوستل چې په اساسي قانون کې د يادشوو حقونو تحقق کوم آسان کار نه دی. لومړی،ددې تعيينول چې څه شی په مناسب ډول د حقونو په رعايت سره پای ته رسيږي، ننګوونکی دی. زياتره، کېدای شي چې د يو فرد د حقونو تأمين د نورو په حق باندې تېری و اوسي. دا ترينګلتيا هغه مهال لا پېچلی کېږي چې تاسو نه يوازې اساسي قانون

او د بشر بین المللي حقونه بلکه مذهبي ارزښتونه په داسې یو هېواد لکه افغانستان کې هم په نظر کې ونیسی. دوهم، اساسي قانون د حقونو ډېر اړخونه په ځانګړې توګه د حقونو محدودول، تقنین ته پرېږدي. دا پدې معنی ده چې زیاتره قوانین باید د اساسي حقونو په هکله تصویب شي. درېیم، اساسي قانون تصریح کوي چې وګړي په محکمه کې له خپلو حقونو څخه دفاع کولای شي او د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون د بشري حقونو څخه د دفاع او ملاتړ مسؤلیت په غاړه لري. خو، په اساسي قانون کې د راغلو حقونو څخه د حمایت پر میکانیزم باندې څارنه او د هغه له اجراآتو څخه د اطمېنان حاصلول، یو ستونزمن او ورو بهییر دی. د حقوق پوهانو او د افغانستان د راتلونکو مشرانو په توګه هیله لرو چې تاسو به ددې بهییر د پرمختیا لپاره کار وکړی.

## اتم څپرکی: داتباعو اساسي حقونه ـ دجنايي متهمينو حقونه

### لومړی. سريزه

”ديو ملت لوی والی دهغه ملت له کمزورو غړو سره دهغه له چلند نه څرګندېږي“ مهاتما ګاندي

دمهاتما ګاندي وينا ”ديو ملت لوی والی دهغه ملت له کمزورو غړو سره دهغه له چلند نه څرګندېږي“ لکه څرنګه، چې دټولنې په نورو غړوپورې ارتباط لري په همغې اندازې په جرمي متهمينو پورې هم تړاو لري. د افغانستانپه محکمو کې دقضاياوو ډېره برخه جنائي قضاياوی جوړوي. دمدني قضيو پرخلاف، چې معمولاً ددوو لورو ترمنځ دپيسو پرسر خصوصي شخړه وي، جرمي دوسيې دهغو وګړو وګړو دمجازات کولولپاره، چې دټولنې پرضد د تخلفاتومرتکب شوي وي دټولنې په استازيتوب د حکومت له لوري تعقيبيږي.

داچې اساسي قانون او عادي قوانينو حکومت تهد دېواک ورکوي، څو وګړي زنداني او يا ورته دمرګ جزا ورکړي نو دې ټولوقضاياوو ته ډېر لوړمحافظتي رويشونه او لارې چارې په پام کې نيول شوي دي.ترنيولو وروسته حکومت مجرم له فزيکي پلوه ترخپل کنټرول لاندې لري.ډېری وختونه حکومتونه له خپل دې واک نه غلطه ګټه پورته کوي. د اساسي قانون له لومړنيو موخو څخه يوه يې وګړو ته دمتناسبو حقونو ورکول دي، چې بايد حکومت يې ساتنه وکړي.دغه اصل په ځانګړي توګه دجزا په حقونو کې دمتهمينو دحقونو په برخه کې سم ګڼل کيږي.

دجنايي متهمينو له حقونو نه د ملاتړ په وسيله ددې ډاډ ترلاسه کيږي، چې دجرم په اړه پريکړې په باوري شواهدو او قراينو ولاړې دي، چې په پايله کې يې دتيروتنو مخنيوی کيږي. دجنايي متهمينو له حقونو نه ملاتړد قانونـي سيستم په شفافيت او عدالت باندې دعامو خلکو دباور پيداکيدو سبب کيږي.

اساسي قانون له جنايي متهمينونه نه د ملاتړ لپاره کمه اندازه حمايت برابروي. د اساسي قانون دحقونو په دې برخه کې دجنايي متهمينو لپاره دبرائت اصل (۲۵ماده)، دغيرقانوني نيول کيدو دمخنيوي اصل (۲۷ماده)، دشکنجې مخنيوی (۲۹ او ۳۰ مادې)، دمدافع وکيل دنيولوحق (۳۱ماده) او د محاکمې علني والی (۱۲۸ماده) په پام کې نيول شوي او تربحث لاندې نيول کيږي.د محکمو لپاره دجزايي اجراآتو موقت قانون(ICCC) او دمدني او سياسي حقونوبين المللي تړون (ICCPR)جنايي متهمينو ته لا زيات حقونه په پام کې نيولي دي.

دويمه برخه په اساسي قانون کې دجنايي متهمينو د ملاتړ له اصولو سره پيليږي، په دريمه برخه کې دجزاګانو محدوديتونه څيړل شوي يعني حکومت کوم متهمين مجازات کولای نه شي، په څلورمه برخه کې د محاکمې پرمهال دجنايي متهمينو حقونه څيړل شوي دي او باالاخره په پنځم څپرکی کې هغه څه، چې په اساسي قانون کې ذکرشوي او هغه څه، چې په عمل کې پيښيږي څيړل شوي دي.

**دمباحثې پوښتنې**

په دې اړه فکر وکړی، چې کوم شیان جنایي متهمین په یوې ځانګړې زیانمنونکې ډلې بدلوي؟ آیا آزاد شوي مجرمین تر آزادیدو وروسته په ټولنه کې د نورو وګړو په شان مساوي حقونه لري؟په دې اړه ولې داډ ترلاسه کول مهم ګڼل کیږي، چې حکومت به دجنایي متهمینو په تړاو په اساسي قانون کې راغلي ژمنې نه ترپښولاندې کوي؟

**دوهم. دمتهمینو دحقونو اساس**

**الف.آزادي**

"د قانونموخه له منځه وړل او یا مخنیوی کول نه دي، بلکې موخه یې له آزادۍ نه دفاع او هغې ته پراختیا ورکول دي.ځکه آزادي له محدودیت نه دآزادیدو او د نورو له تیري نه دخوندیتوب په معنی ده او داهغه څه دي، چېډ قانون له شتون پرته به شتون ونه لري.داسې نه ده لکه څنګه، چې موږ ته ویل شوي، آزادي هغه څه ده، هرڅوک هرڅه یې چې زړه غواړي تر سره یې کړي ".*جان لاک*

که د قانون اصلي موخه دآزادۍ ساتنه وي، نو دجنایي متهمینو د اساسي حقونو بحث باید دآزادۍ له بحث سره یوځای پیل شي.دهر وګړي له آزادۍ نه ددفاع حق د اساسي قانون په ۲۴ ماده کې پیشبیني شوی.آزادي، خپلواکي اویا په خپله خوښه دیو کار دسرته رسولوو‌ړتیا ده.[706] هروګړی دغه آزادي په خپل ورځني ژوند کې دبیلابیلوغوراویو دانتخاب له لاري عملي کوي. دبیلګې په توګه دخوړلو لپاره دخوراکي توکوغوره کول او یا دملګرو او دوستانو غوره کول. همدارنګه آزادي له فزیکي محدودیت او خپل سري او استبدادي کنټرول نه دخلاصیدو په معنی ده.[707] داډول آزادي دمتهمینو په حقونوپورې تړلې ګڼل کیږي.

د اساسي قانون ۲۴ ماده دهر وګړي د آزادۍ ساتنه کوي.

**د افغانستان اساسي قانون**

**۲۴ ماده**

(۱)آزادي د انسان طبعي حق دی. داحق د نورو له آزادۍ او له عامه مصالحوپرته چې د قانون له لیارې تنظیمیږي حدود نه لري.

(۲)د انسان آزادي او کرامت له تیري خوندي دی.

---

706 Merriam-Webster's Dictionary, http://www.merriam-webster.com/dictionary/liberty.
707 Merriam-Webster's Dictionary, http://www.merriam-webster.com/dictionary/liberty.

(۳)دولت د انسان دآزادۍ او کرامت په ساتنه او درناوي مکلف دی.

په اساسي قانون کښ دېکليمي ذکر په څه معنی دی: "دولت د انسان دآزادۍ او کرامت په ساتنه او درناوي مکلف دی." لکه څنګه، چې اووم څپرکی دبشردحقونوپه اړه معلومات وړاندې کوي، حکومت دنده لري، څو له شکنجې او ځورولو نه ډډه وکړي. له دې پرته دافغان وګړو(همدارنګه دبهرنيانو او بې تابعيته وګړو) انساني کرامت ته زيان اړوي.

همدارنګه کيدای شي دا ماده يو قدم وړاندې وويل شي، دا چې آزادي د هرانسان حق او زيان نه منونکې ده، دولت يوازې خلک زنداني کولای شي او په ډېرو محدودو حالاتو کې هغوی له آزادۍ نه محرومولای شي. د اساسي قانون د۲۴ مې مادې لومړی بند دامسله محدودوي چې حکومت ولې او څرنګه د يو وګړي آزادي صلبوي. حکومت ولې ديو وګړي آزادي محدودوي؟ په ځواب کې بايد وويل شي، چې يوازې د نورو دآزاديو او عامه ګټو د اغيزمن کيدو په صورت کې حکومت د وګړو آزادي محدودوي. او داچې څرنګه يې محدودوي، نو بايد وويل شي، چې د وګړو د آزادۍ محدوديدل د قانون په وسيله تنظيميږي.

کوم ډول جرم او يا کوم ډول کړنه د يو وګړي د آزادۍ سلبول توجيه کولای شي؟ اساسي قانون دا موضوع نه ده مشخص کړې، ځکه دا موضوع خلکو ته سپارل شوې ده. په يوه دموکراتيکه ټولنه کې خلک د خپلو استازو له لارې پريکړه کوي، چې کوم شي بايد جرم وګڼل شي او دهغه جرم د جزا اندازه بايد څومره ووسي.

**د مباحثې پوښتنې**

(۱)ستاسې په آند له لاندنيو قضيو نه کومه يوه يې د توقيف د مجازاتو وړ جرم ګڼل کيږي او څومره موده جزا ورته ټاکی؟

- لارې ته د کثافاتو اچول؟

- په يو ساعت کې د ۱۶۰ کيلومترو په چټکتيا سره دموټر چلول؟

- يو چا ته سپکاوی کول؟

- د يو شخص ټپي کول؟

- له کوره تېښتيدل؟

- د خلکو دګټنه ګونې په سيمه کې دسکيټ لوبه کول؟

ـ ديوې ډوډۍ غلا کول؟

(۲)آيا اوس مهال په افغانستان کې کوم داسې جرم، چې جزا يې نيول وي او ستاسې په باور جرم نه وي وجود لري؟ آيا کوم داسې جرم وجود لري چې جزا يې له حده زياته سخته وي؟

لکه څنګه، چې په دريم څپرکي کې به په تفصيل سره پرې بحث وشي، د آزادۍ حق له اخطار نه پرته دشخصي حريم دساتني له حق او دجرم د ثبوت په موخه د حکومت له لوري د يو شخص د مال اخيستلو له حق نه دفاع کوي. نور قوانين لکه د پوليسو قانون او د محکمو لپاره دجزايي اجراآتو موقت قانون د جرم د تحقيق پرمهال په تفصيلي توګه د پوليسو او څارنوالانو فعاليتونه تنظيموي.[۷۰۸]

**ب. دبرائت اصل**

لکه څنګه، چې آزادي د انسان طبعي حق دی، همدارنګه اساسي قانون اعلانوي، چې "برائت ذمه اصلي حالت دی". دغه اصل په جزايي چارو کې د برائت د فرضئي په نوم مشهور دی، داپه دې معنی ده، چې هيڅوک ترهغې پورې چې د محکمې له لوري محکوم شوی نه وي مجرم نه ګڼل کيږي. په دې توګه اساسي قانون د مظنون (هغه څوک، چې په جرم متهم دی مګر تراوسه پورې دمحکمې له لوري محکوم شوی نه دی) او محکوم (هغه څوک چې دمحکمې له لوري په يو جرم محکوم شوی وي) ترمنځ توپير منلی دی.

**د افغانستان اساسي قانون**

**۲۵ماده**

(۱)د ذمې برائت اصلي حالت دی.

(۲) ترهغې چې د باصلاحيته محکمې په قطعي حکم متهم محکوم عليه ثابت نه شي، بې ګناه ګڼل کيږي.

د ذمې برائت اصل دوه حالتونه لري. لومړی دا د "د اثبات رسولو اصل" په بنه، چې دمتهم جرم له قانوني لارې ثابتوي، نه داچې متهم خپل ځان بې ګناه ثابت کړي. دويم داچې د ذمې برائت اصل ترمحکوميت وړاندې د مجازاتو په وړاندې يو ډول سپر دی.که چيرې متهم د جرم ترثابتيدو پورې بې ګناه وي، نو د ټولو شواهدو د نه وړاندې کولو په صورت کې نه شو کولای، څو هغه ته جزا ورکړو او يا يې دجزا ورکولو حکم صادر کړو.[۷۰۹]

---

[۷۰۸]. دمثال په توګه، د محاکمو لپاره د جزايي اجراآتو مؤقت قانون وايي چه د جرم تحقيق بايد د مظنون او د هغه د مدافع وکيل په حضور کې تر سره شي.

[709] FancoisQuintard-Morenas, The Presumption of Innocence in the French and Anglo-American Legal Traditions, 58 American Journal of Comparative Law 107, 149 (2010).

د ذمي برائت دلومړني حالت له مخې باید حکومت په محکمه کې یوه اندازه مدارک وړاندې کړي. که څارنوال دجرم په تړاو قاضي ته قناعت ورنه کړي، نو پدې صورت کې باید قاضي متهم خوشي کړي. که شواهد مساوي وي نو پدې صورت کې قضیه د متهم په ګټه فیصله کیږي.ددې ترڅنګ پولیس، څارنوالان او قاضیان باید یو مظنون بې ګناه وګڼي اود دویم ې محاکمې دپای ته رسیدو تروخته پورې باید نوموړی ګناهګار ونه بولي.[710]

**۱ بیلګه: ځورول او دبرائت اصل**

د پولیسو مشر تل له احمد قاسم سره کینه کوي. هغوی دواړه په یوه سیمه کې لوی شوي دي.دځوانی پرمهال یې په ښونځي کې له یوبل سره شخړه کړې وه. د پولیسو مشر د ښاغلي قاسم د آزار او ځورولو په موخه د نوموړي د نیولو پریکړه کوي او په هغه باندې په دروغو د شپې له خوا د ښاروال د کور د غلا کولو تور لګوي. قاسم دغه جرم نه دی ترسره کړی مګر سره له دې موضوع محکمې ته ځي.

د برائت له اصل نه پرته، ښاغلی قاسم کولای شي، څوخپل ځان بې ګناه ثابت کړي. دا چې نوموړي له کورنه وسله واله غلا نه ده کړې، کولای شي د جرم د منځ ته راتللو په وخت کې د خپلو دوستانو په وسیله د جرم د منځ ته راتللو په ځای کې خپل نه شتون ثابت کړي. مګر نوموړی مجبور دی، څو د خپلې بې ګناهی د ثابتولو او د قاضي د قناعت لپاره ډیر شواهد راټول کړي. د ذمي برائت د اصل له مخې د پولیسو مشر او څارنوال باید ثابته کړي، چې قاسم غلا کړې. نو پدې توګه څارنوال مجبور دی، څو شواهد راټول کړي، دا چې ښاغلي قاسم غلا نه ده کړې، نو له دې امله دڅارنوال لپاره به د شواهدو راټولول سخت وي.

البته هغوی کولای شي دروغ ووایي، مګر قاضي ترهغو پورې چې هغوی د غلا جرم د ثبوت لپاره کافي شواهد راټول کړي نه وي ښاغلي قاسم ته دتللو اجازه ورکوي.

پدې توګه د برائت اصل د څارنوال او پولیسو لپاره دا ډیره ستونزمنوي، څو یو فرد د آزار او ځورولو په موخه په جرم متهم کړي، له همدې امله څارنوال او پولیس اړدي، څو د اتهام د ثابتولو لپاره زیات شواهد او مدارک راټول کړي.

د برائت اصل دویم حالت له محکومیدو وړاندې د حکومت له لوري متهم ته د جزا ورکول ومخه نیسي. په محکمه کې ترمحکومیدو وړاندې نه شو کولای، څو متهم جریمې ورکولوته اړکړو، یایې زنداني کړو او یاورته جسمي جزا ورکړو.همدارنګه خبري رسنۍ د مجرم له محکومیدو نه وړاندې باید د نوموړي د ګناه په اړه د خبرونو له خپرولو ډډه وکړي.

[710] Alexandra H. Guhr, RaminMoschtaghi, MandanaKnustRassekhAfshar, Max Planck Manual on Fair Trial Standards in the Afghan Constitution, the Afghan Interim Criminal Code for Courts, the Afghan Penal Code and other Afghan Laws as well as in the International Covenant on Civil and Political Rights 19 (2009).

کیدای شي خبري رسنۍ دموضوع په اړه ګومانونه وکړي او ووايي، چې متهم ګنهګار دی، مګر دبرائت اصل له مخې متهم ترڅوپورې چې د محکمې له لوري محکوم شوی نه وي هغو پورې بې ګناه ګڼل کیږي. البته د محکمې له لوري د بې ګناه اعلانیدو سره سره، کیدای شي بد او منفي تبلیغات د یو شخص د شخصیت په اړه دايمي تصور له ځانه پریږدي.

**د مباحثې پوښتنه**

د شخصي تجربې پر اساس، آیا په عمل کې د بې ګناهۍ اصل ته د ګناه د ثابتیدو تروخته پورې درناوی کیږي؟ د بیلګې په توګه خبري رسنۍ له هغه فرد سره چې په جرم متهم دی څه ډول چلند کوي؟ (باید په یاد ولرو، چې اساسي قانون مطبوعات نه کنټرولوي، له قانوني پلوه ورځپاڼې اړې نه دي، څو ۲۵ ماده په پام کې ونیسي).

پنځمه برخه. لاندې د اساسي قانون داصولو او هغه څه ترمنځ توپیرڅیړو، چې په عمل کې پیښیږي.

حکومت له محاکمې وړاندې د جنائي متهمینو د تیښتې څخه د مخنیوي لپاره هغوی نیسي. حکومت باید شکمن اشخاص د محاکمې د تحقیق پرمهال د پوښتنو او ځوابونولپاره په بند کې وساتي. په ځانګړو حالاتو کې حکومت خلک د هغوی او د نورو خلکو د مصونیت لپاره نیولای شي. آیا دا ډول نیونې جزا ګڼل کیدای شي؟

که څه هم دا ډول نیونې د جزا ورکولو په موخه نه ترسره کیږي، مګر په عمل کې له زنداني کیدو سره کوم توپیرنه لري. حکومت اوس هم په جرم باندې د متهم آزادي محدودوي. اساسي قانون په ښکاره توګه نه وايي چې دا ډول نیونې په کوم وخت کې اجازه لري؟ مګر دا زیاتوي چې دا ډول اقدام باید د قانون په وسیله تنظیم شي. لاندې مثال په پام کې ونیسی.

**۲مثال: نیول کیدل او دبرائت اصل** [711]

د نشه یي توکو په وړاندې د مبارزې قانون په ټول افغانستان کې د نشه یي توکو پرضد د مبارزې په موخه په کابل کې یوه مرکزي محکمه جوړه کړې ده.[712]

هغه شکمن چې له کابل نه بهر له یوه اندازه نشه یي توکوسره یوځای نیول کیږي( د نشه یي توکولیږدول دنشه یي توکو پرضددمبارزې قانون نه سرغړونه ګڼل کیږي) باید په ۷۲ ساعتونو کې دهغې ولسوالۍ ابتدائیه څارنوالي ته، په کومه ولسوالۍ کې چې دی نیول شوی دی ولیږدول شي. لازمه نه ده، څود نشه یي توکو پروړاندې د مبارزې پولیس د۷۲ ساعتونوله پای ته رسیدو نه وړاندې تحقیقات پیل کړي. مګر

[711] Alexandra H. Guhr, RaminMoschtaghi, MandanaKnustRassekhAfshar, Max Planck Manual on Fair Trial Standards in the Afghan Constitution, the Afghan Interim Criminal Code for Courts, the Afghan Penal Code and other Afghan Laws as well as in the International Covenant on Civil and Political Rights 34-35 (2009).

[712]. د نشه اي توکو سره د مبارزې قانون ۳۷(۹)

هغوی باید په ۱۵ ورځو کې شکمن له ټولوشواهدو سره یوځای کابل ته ولیږي.که چیرې چارواکي د تحقیقاتو لپاره له ۱۵ ورځو نه زیات وخت ته اړتیا ولري، نو پدې صورت کې باید هغوی د نشه یي توکو پهوړاندې دمبارزې ځارنوالی ته خبر ورکړي او یاشکمن پریږدي.

له یوه لوري، دغه قانون د بدګومانی او د قاضي له تایید نه پرته، د۱۵ ورځولپاره دمظنون د نیولو اجازه ورکوي. پرته له دې او داچې تاسي د۱۵ ورځو لپاره د یومظنون د نیول کیدو د مودې دزیاتوالي او معقولوالي په اړه څه ډول فکر کوی. دا ډول نیول د اساسي قانون دبرائت د اصل ترپښولاندې کول دي. که تاسي فکر کوی چې دقاضي له اجازې پرته د۱۵ ورځو لپاره د یوشخص بندي کول یوه اوږده موده ده، نوستاسو له نظره دا جزا ده او د همدې دلیل له مخې دا کار د اساسي قانون له ۲۵ مې مادې نه سرغړونه ګڼل کیږي. که د شواهدو د څیړلو لپاره ۱۵ ورځې مناسبه موده وي نوپه دې صورت کې بیا دغه کارنه جزا ده او نه هم د اساسي قانون له ۲۵ مادې نه سرغړونه ګڼل کیږي. په پایله کې تاسې د برائت اصل په رڼا کې له دې دو نظریو نه کومه یوه یې منی؟

د محاکمو لپاره د جزایي اجراآتو د موقت قانون ۴ ماده په ډاګه کوي، چې تر محاکمې وړاندې کوم ډول نیول کیدل مجاز دي :

**د محکمو لپاره دجزایي اجراآتو موقت قانون**

**۴ماده**

دجزایي دعوی داقامه کولو له پیل څخه د جرمي مسوولیت تر تثبیت پورې چې شخص د محکمې په وروستني حکم محکوم علیه بلل کیږي بې ګناه ګڼل کیږي. که چیرې فیصله دشخص د بشري حقونو د سلب یا محدودیت باعث کیږي، باید پرهغو قانوني دلایلو بنأ وي چې دحقیقت په کشف پورې محدود وي.

آیا د پراخوالي له پلوه (د شواهدو د راټولولو او د حقیقت دتثبیت لپاره) دغه قانون د برائت اصل سره په کافي اندازه مطابقت لري.آیا تاسي فکر نه کوی، چې له آزادئ نه دا ډول بې برخې کیدل د اساسي قانون ترپښولاندې کول نه دي؟ آیا پدې اړه زماني محدودیت ته اړتیا نه لیدل کیږي؟

د محکمو لپاره د جزایي اجراآتو د موقت قانون ۴ مه ماده د پاکستان د اساسي قانون له موازي حکمونو سره مقایسه کړی:

**د پاکستان اساسي قانون**

**۱۰ ماده (احتیاطي توقیف)**

(۴) هیڅ یو قانون د احتیاطي توقیف لپاره نه تدوین کیږي، مګر د هغو وګړو پهوړاندې د اقدام په صورت کې، چې د پاکستان او یا د هغه د یوې برخې ځمکنی بشپړتیا، امنیت او دفاع له ګواښ سره مخامخ کړي او یا د پاکستان بهرنی چارې، عامه نظم، تدارکات او خدمتونه ګډوډ کړي نوپه دې ډول حالتونو کې بیا تدوین کیږي.

دهیڅ یو قانون له مخې یو شخص له درې میاشتو نه د زیاتې مودې لپاره نه شي بندي کیدی، مګر دا چې د څیړنو پلاوی یې مناسب وګڼي. په خپله له شخص نه داوریدلو د وخت برابرولو او د قضیې او راپور د څیړلولپاره هره دوره درې میاشتې یاده شوې. د هغوی په اند ددې ډول نیول کیدو لپاره کافي دلایل وجود لري. کله چې یو فرد دامر او حکم له مخې احتیاطاً توقیف کیږي.

د نیولو د حکم صادرونکی مقام باید د نیول کیدو له نیټې نه وروسته د۱۵ ورځو په موده کې اړونده شخص ته د هغه دنیول کیدو دلیل ووایي.ددې ډول حکم پروړاندې باید نوموړي ته له ځانه د دفاع شرایط برابر کړي. مقام کولای شي دعامه ګټو دخوندیتوب لپاره د حقایقوله ښکاره کولو ډډه وکړي. د حکم صادرونکی مقام باید د دوسیې اړوند ټول اسناد او مدارک دپلټنې پلاوي ته وسپاري. مګرکه د حکومت سکرتري د اسنادو او مدارکو سپارل له عامه ګټو سره په ټکر کې وبولي نو پدې صورت کې بیا دحکم صادرونکی مقام نه شي کولای، څواسناد او مدارک د پلټنې پلاوي ته وسپاري.

(۷) په یوې څلور ویشت میاشتنی دوره کې چې د قانون له مخې د صادر شوي حکم پر اساس د احتیاطي توقیف لپاره د لومړي ځل نیول کیدو له تاریخ څخه پیل کیږي، د دې حکم له مخې هیڅ یو شخص د عامه نظم د ګډوډولو د اتهام په تور له (۸) اتو میاشتو نه د زیاتې مودې لپاره باید بندي نه شي او په بل هرتور باید یوشخص له (۱۲) دولسو میاشتو نه د زیاتې مودې لپاره بندي نه کړی شي.

د پاکستان اساسي قانون دقاضي له لیدنې وړاندې د وړاندې نیول کیدو ترنامه لاندې د یو مظنون یا شکمن د نیول کیدو دقیق دلایل او دقیقه موده محدودوي. ددې حکم سختوالی ګټې او زیانونه له ځانه سره لري. ګټې یې عبارت دې له (۱) ښکاره والی ـ متهمین په دقیقه توګه پدې پوهیږي چې څه وخت له قاضي سره ګوري اوکوم حقونه لري. (۲) جوړجاړی ـ حکومت به ددې وړتیا ونه لري تر څو له وګړو سره په خپل چلند کې توپیروکړي.

ځکه چې محدودیتونه په ډیره دقیقه توګه څرګند شوي دي. له بل لوریډ دې ډول سختوالي نیمګړتیاوې او زیانونه دا دي چې له ځانګړي وضعیت سره جوړجاړی نه شي کولای.که حکومت ډیر وخت ته اړتیا ولري، نوپه دې صورت کې باید څه وشي؟ آیا نیول شوي کسان باید خوشي کړی شي؟ د افغانستان اساسي قانون په بشپړ ډول د دې پرخلاف دی. دغه اساسي قانون دقیق وخت او زمان ته اشاره نه کوي. نو پدې توګه د حکومت له اړتیاوو سره سم د بدلیدو وړ کنټل کیږي. مګر سره له دې د جنایي متهمینو د حقونو یوڅرګند فهرست نه وړاندې کوي.

څیړونکي حسین غلامي وړاندیزکړی چې د اساسي قانون د برأت ذمې اصل په لاندې شرایطو کې حکومت جوړجاړي ته اړ کوي :

ـ د تحقیق دفتر دنده لري تر څو د متهم په اړه شواهد راټول او هغه وړاندې کړي (د هغو قضیو بندول، چې د قانون له مخې یو شخص اړ نه دی، څوهغه په پام کې ونیسي)

ـ د اثبات په موخه د متهم د مجبورولو مخنیوی کول/ بې ګناوالی یا شهادت ورکول او د خپل ځان پرضد اعتراف کول

ـ متهم ته باید د اتهام پرضد د اعتراض لپاره کافي وخت او فرصت ورکړل شي.

ـ د عادلانه محاکمې لپاره باید قوانین او مقررات جوړ کړی شي.

ـ هر ډول شک باید د متهم په ګټه وکارول شي.

ـ یوازې په استثنایي حالاتو کې د متهم د نیولو امر ورکولای شو.

ـ قضایي مقام باید په هغو قضایاوو کې لکه دعدلي تعقیب مرحلې او یا هم د لومړنیو تحقیقاتو مرحله، چې متهم په کې له آزادۍ نه بې برخې شوی وي مداخله وکړي.

ـ د موقت نیول کیدو پروړاندې د شکایت او د دې ډول شکایت د جبران لپاره باید د متهم د شکایت حق نه د ملاتړ لپاره دقیق او څرګند مقررات وضع شي.

ـ د محکمې له لوري د بې ګناه والي له پریکړې وروسته باید متهم خوشې کړی شي.

ـ دولت باید ټولوهغو کسانو ته چې بې له کوم دلیل نه توقیف شوي جبران د خسارې ورکړي.[٧١٣]

| د مباحثې پوښتنه |
| --- |
| آیا تاسې موافق یاست چې د اساسي قانون برائت ذمه له پورتنیو شرایطو نه هر یوه ته اړتیا لري؟ |

## ج. د قانوني تشریفاتو په پام کې نیول

د قانوني تشریفاتو په پام کې نیول، د جنایي متهمینو د ملاتړلپاره اساسي جوړښت په ډاګه کوي. د قانوني تشریفاتو په پام کې نیول تضمینوي چې هرفرد له یوشان کړندود نه د ګټې اخیستلو حق لري او پروړاندې یې د حکومت له لوري یو ډول اقدام ترسره کیږي. مخکې تر دې چې هغه مجازات شي، د محکمو د اصولو سیستم په څلورو مرحلو ویشل کیږي : ١- د جرم کشف چې پدې مرحله کې د جرم په اړه وګړي خبر ورکوي او یا پولیس جرمي فعالیتونه معلوموي او مظنونین نیسي. ٢- تحقیقات چې په دې مرحله کې

[713] HosseinGholami, *Basics of Afghan Law and Criminal Justice*, pg. 157 (2006).

پولیس او مستنطقین چې د جرم په اړه د شواهدو د راټولواو د جرم د ځیرلو مسولیت پرغاړه لري، خپل تحقیقات ترسره کوي. ۳- محاکمه، په دې مرحله کې یو بې طرفه قاضي د ټولو شواهدو ترڅیړلو وروسته د جرم مسولیت ټاکي.

۴- د محکمې پریکړه او دهغې تطبیق، د محکمې د پریکړې په اساس جنایي متهم ته جزا ورکول کیږي. [۷۱۴]د جزایي اجراآتو قانون، له هغې جملې نه د محکمو لپاره د جزایي اجراآتو موقت قانون، پورتنۍ څلورګونې مرحلې تنظیموي، چې باید پولیس، څارنوالان، قاضیان او د زندان مسولین هغه په پام کې ونیسي. که چیرې پولیس، څارنوال، قاضي او د زندان مسولین د جزایي محکمو د اصولو قانون په پام کې ونه نیسي او یا د متهم په اړه له څلورو مرحلو نه یوه یې په پام کې ونه نیسي، نوپه دې صورت کې موږ ویلای شو، چې یوفرد د متهم قانوني تشریفات ترپښولاندې کړي دي.

په عمومي توګه قانوني تشریفات په پام کې نیول کیږي، هرفرد یې پروړاندې مساوي ګټل کیږي. په جرم باندې هرمتهم شخص پرته له دې چې د جرم سختوالی او ښکاره والی یې په پام کې ونیول شي، د یو شان اصولوتابع دی. هرشخص له فساد نه د پاک تحقیق، د عادلانه محاکمې حق، د مدافع وکیل د نیولو حق او د قاضي له لوري، د بري الذمه په حیث د پیژندلو حق لري. قاضي د هغه ټول شواهد ارزیابي کوي. د اساسي قانون له مخې دغه قواعد مطلق دي نه مصلحتي. د قانوني تشریفاتو د پام کې نیولو په اړه هردول مصلحت قاضي او څارنوال ته بې حده زیات واک ورکوي. پدې صورت کې به هغوی پریکړه کوي چې څوک او څه ډول محاکمه شي. د مطلق ممنوعیت له مخې نه شوکولای، څو یو شخص تعقیب کړو، یا یې ونیسو او یا یې توقیف کړومګر د قانون د حکم پراساس.[۷۱۵] او د باصلاحیته محمکې له حکم نه پرته چا ته جزا نه شي ورکول کیدای.[۷۱۶] دغه قواعد د ټولو وګړو په وړاندې یوشان تطبیق کیږي، نو په دې توګه هر وګړې د خپل سري پریکړو له خطر او د څارنوال او پولیسو له فساد نه خوندي ساتي.

| د افغانستان اساسي قانون |
| --- |
| **۲۷مه ماده** |
| (۲)هیڅوک د قانون له حکمونه پرته تعقیبیدای، نیول کیدای او یا توقیفېدای نه شي. |
| (۳)هیچا ته سزا نشي ورکول کیدای مګر د باصلاحیته محکمې په حکم او د هغه قانون له حکمونو سره سم چې د اتهام وړ فعل ترارتکابه مخکې نافذ شوی وي. |

کله چې حکومت د یو جنایي متهم د قانوني تشریفاتو حق په پام کې ونه نیسي (د بیلګې په توګه د مدافع وکیل د نیولو حق). نو په دې صورت کې حکومت قانون په ځانګړي توګه د اساسي قانون ۲۷ ماده ترپښولاندې کړې. په عمل کې حکومت په تکراري توګه د متهم د قانوني تشریفاتو حق ترپښولاندې کوي. واقعیت دادی چې د دې کار د غیرقانوني والی ماهیت بدلون نه مومي. که څه هم د قانون ترپښو

[714] HosseinGholami, *Basics of Afghan Law and Criminal Justice*, pg. 163 (2006).

[۷۱۵]. دافغانستاناساسيقانون،۲۷(۲) ماده

[۷۱۶]. د افغانستان اساسي قانون، ۲۷(۳) ماده

لاندې کول په جرم باندې د متهم د محکومیدو سبب هم شي. د قانون له مخې بې اعتباره او باطل اعلانیږي. څکه حکومت نه شي کولای د معافیت پراساس اساسي قانون تر پښو لاندې کړي.[۷۱۷]

د قوانینو د نه رعایت په صورت کې د جزایي محکمو د اصولو قوانین ځانګړې حل لارې پیش بیني کوي. د بیلګې په توګه د محکمو لپاره د جزایي اجراآتو د موقت قانون ۷ ماده وایي "هغه دلایل او شواهد چې د قانون د حکمونو له په پام کې نیولو پرته راټول شوي وي، داعتبار وړ نه دي، محکمه نه شي کولای د هغو په استناد حکم وکړي." دغه اصل یا قاعده د انحصاري قاعدې په نوم شهرت لري او د همدې قاعدې په وسیله غلط او نا سم شواهد له جریان نه ایستل کیږي. له انحصاري قاعدې نه د ګټې اخیستلو په صورت کې، د محاکمې له جریان نه د شواهدو وتل د اړونده متهم په ګټه دي. د انحصاري قاعدې موخه د پولیسو له لوري د شواهدو د راټولولو په مهال د غیرقانوني کړنو مخنیوی دی.

یوه له هغو لارونه، چې اساسي قانون یې د قانوني تشریفاتو د جوړښت د تضمین په موخه تعقیبوي، هغه د پولیسو او د حکومت له نورو برخو نه د څارنوال د دفتر جلا کول دي. د څارنوال دنده یوازې د ټولنې ساتنه او د افغانستان د قوانینو پروړاندې د جرایمو قانوني تعقیب نه دی، بلکې هغوی خپلواکه دي، څو د جرایمو د تعقیب پرمهال د جمهور رئیس او نورو حکومتي چارواکو د نفوذ مخه ونیسي. اساسي قانون روښانه کوي :

| د افغانستان اساسي قانون |
|---|
| **۱۳۴ ماده** |
| (۱) د جرمونو کشف د پولیسو په وسیله او د جرمونو تحقیق او په محکمه کې پرمتهم باندې د دعوا اقامه د څارنوالۍ له خوا، د قانون له حکمونو سره سم کیږي. |
| (۲) څارنوالي د اجرائیه قوې برخه ده او په خپلو اجراآتو کې استقلال لري. |
| (۳)د څارنوالۍ تشکیل، صلاحیت او د اجراآتو څرنګوالی د قانون له لیارې تنظیمیږي. |
| (۴)د وسله والو ځواکونو، پولیسو او د ملي امنیت د کارکونکو د وظیفوي جرمونو کشف او تحقیق د خاص قانون له لیارې تنظیمیږي. |

د اساسي قانون دا مقررات پر څارنوالۍ حاکم دي، ترڅو دا اداره له ټولو حکومتي ارکانو څخه بیله او خپلواکه وساتي. همدارنګه اساسي قانون څارنوالۍ له پولیسو بیلوی، ترڅو د پولیسو پر کار، د څارنوالۍ د صادقانه څارنې لپاره، یوه جوړښتي انګېزه، رامنځته کړي. آن اوس مهال، پولیس او څارنوالي، په ریښتوني توګه، له فساده په تشویش کې دي او د خلکو په محکومولو معامله کوي. که دفترونه یې ګډ وی، نو د همکارۍ لپاره انګیزه او د شواهدو له منځه وړل به یې، آن له هغه نه زیات قوي وو.

---

717 HosseinGholami, *Basics of Afghan Law and Criminal Justice*, pg. 155 (2006).

په تېرو څپرکو کې د فردي حقونو د ملاتړ لپاره د څپلواکۍ رول او د فساد او نفوذ له اعمال څخه، د مخنيوي لپاره د قواوو تفکيک اهميت، تر بحث لاندې ونيول شول. دا مطلب د څارنوالۍ دفتر په اړه هم صدق کوي. له قضايي قوې نه د څپلواکي او له پوليسو څخه د جلا رول په لرلو سره، د حکومت هيله له څارنوالۍ داده، چې څپل تصميمونه په څپلواکه توګه، د حقايقو پر اساس ونيسي، نه د فساد پر اساس. دا څپلواکي مهمه ده، ځکه د څارنوالۍ دفتر د مصلحت په پام کې نيولو سره پريکړه کوي، ترڅو يوه قضيه له قانوني او تحقيقي تعقيب لاندې ونيسي يا يې حتا پيل کړي.[718] زيات حکومتونه څارنواليو ته د قضيو د ارزښت او نه ارزښت لرلو د تشخيص واک ور کوي. که څارنوالۍ تبريه کوونکي شرطونه پيدا کړي، قضيه ترلې شي. خو دا مصلحت هم، د فساد لپاره دروازه پرانيزي، ځکه چې څارنوالۍ کولی شي، د يوې قضيې د تعقيب يا ترلو تصميم، د نا روا دليلونو پر اساس ونيسي.

**د اساسي قانون په استدلال کې تمرين**

هغه څه چې لاندې يې لولۍ، د څارنوالۍ د واکونو موافق او مخالف دليلونه دي. د څارنوالۍ واکونه، داسې يو سيستم بيانوی، چې څارنواليو ته اجازه ورکوي چې کومې قضيې او مجازات تعقيب کړي.

د څارنوالۍ د واکونو د ملاتړ دليلونه: د څارنوالۍ واکونو پلويان استدلال کوي چې دا کار د څارنوالۍ د منابعو د لا په کار راتللو منتج کېږي، ځکه چې هغه يوازې د هغو ارزښت لرونکو قضيو په تعقيب پسې ده، چې د پام وړ شواهدو پر اساس ولاړې دي.

د څارنوالۍ د واکونو خلاف دليلونه: د څارنوالۍ د واکونو نيوکه کونکي دليل راوړي چې دا ډول واکونه د څارنوالۍ له لوري د تبعيض او فساد لامل کېږي.

ددې څپرکي له موادو څخه په ګټې اخيستنې سره، تاسې د څارنواليو د واکونو د ملاتړو يا مخالفو دليلونو په اړه، چې د متهمينو له حقونو سره مرسته کوي يايې نه کوي فکر وکړئ. لکه د "قانوني مراحلو په بهير" کې به، څارنوال له څپلو واکونو څخه، په کومو قضيو کې ګټه واخلي؟ کېدای شي د هغه په پلوي ووايئ چې کېدای شي د څارنوالۍ واکونه، د قانوني مراحلو تيرولو تقويه کړي، ځکه چې د پوليسو ناوړه چلند د څارنوالۍ له خوا څارل کېږي او بې ګنا خلک چې هيڅکله بندي شوي ندي، خوشې کوي. د څارنوالۍ د واکونو خلاف دليلونه دا هم کېدای شي چې د څارنوالۍ واکونه د اړينو قانوني مراحلو تېرول لږه کوي، ځکه څارنوال کولی شي چې د رشوت، کورنيو اړيکو او حتی د قوميت له عواملو څخه پدې اړه، چې کومه قضيه دې تعقيب شي او کومه نه، ګټه واخلي.

---

[718] HosseinGholami, *Basics of Afghan Law and Criminal Justice*, pg. 168 (2006).

خپل دليلونه له هغه ګډون کونکو سره چې د موضوع خلاف فکر کوي، ګډ کړئ. آيا تاسې هغه قانع کولی شي؟

### د. له قانون پرته هيڅ جزا نشته

د "له قانون پرته هيڅ جزا" حقوقي مفهوم څه نا څه په هر نوي اساسي قانون کې پيدا کېدای شي. يعنې، هيڅ څوک نشي کولی د يو اقدام په خاطر مجازات شي مګر داچې په ځانګړې توګه قانون د اړونده اقداماتو ترسره کول منع کړي وي. همدارنګه دا مفهوم ځينې وختونه د "قوانين چې تېر ته نه ګرځي يا ما قبل ته رجعت نه کوي" په نامه يا هغه قوانين چې تېر ته په ګرځېدلو پېژندل شوي وي، هم يادېږي، يعنې که قانون تصويب شي او عمل چې وروسته رامنځ ته کېږي غيرې قانوني ده. په دې اړه، د افغانستان اساسي قانون ۲۷ماده(۱) داسې وايي:

| |
|---|
| **د افغانستان اساسي قانون** |
| **۲۷ ماده** |
| (۱) هيڅ عمل جرم نه ګڼل کېږي خو د هغه قانون له مخې چې د جرم تر ارتکاب دمخه نافذ شوی وي. |

د بېلګې په توګه، کېدای شي يو څوک نن ورځ يو عمل ترسره کړي، چې د کوم قانون په واسطه غيرې قانون يا ناجايز نه وي ګڼل شوی. پداسې حال کې که چېرې سبا مقننه قوه تصميم ونيسي چې د قانون په تصويب سره اړونده عمل غير قانوني او جرم وګڼل شي، موږ نشو کولای هغه څوک چې پرون پدې عمل مرتکب شوی و، مجازات کړو ځکه هغه مهال داسې يو عمل غيرې قانوني نه ګڼل کېده. همدارنګه قاضي نشي کولی، چې يو نفر پداسې جرم چې قانون منع کړی نوي، مجازات کړي. قاضي نشي کولی نوي قوانين وليکي ځکه چې دا کار يوازې د مقننه قوې دنده ده. (که قاضي قوانين جوړوي، نو دا کار به د قواو د تفکيک نقض وي). بلآخره څارنوال او پوليس نشي کولی له خپل تحقيقي واک څخه د هغو اقداماتو په څېړلو او پلټلو کې چې جرم نوي پېژندل شوی، ګټه واخلي. د هغه عمل تحقيق هم چې جرم نه وي پېژندل شوی، "له قانون پرته د هيڅ جزا" د اصل نقض ګڼل کېږي.

په ياد يې ولرئ چې د اساسي قانون۱۳۰(۲)ماده حکم کوي: "هرکله چې د رسيدنې لاندې قضيې په اړه په اساسي قانون يا نورو ټولو قوانينو کې حکم موجود نه وي، محکمې د حنيفي فقهې د احکام په پيروي او د هغو حدودو په د ننه کې چې دغه اساسي قانون وضع کړي دي، قضيه داسې حل او فصل کوي چې عدالت په ښه توګه سره تأمين شي." اوس د افغانستان جزا قانون لاندې مادې ته پام وکړئ:

| |
|---|
| **د افغانستان جزا قانون** |
| **۱ ماده** |

(۱) دا قانون تعذيري جرمونه او جزاوې تنظيموي.

(۲) د"حدودو"، "قصاص" او" ديت " جرمونو ترسره کوونکي د اسلامي شريعت د حنفی فقهې د حکمونو مطابق مجازات کېږي.

په افغانستان کې اسلام د قوانينو د پس منظر په توګه کارول کيږي پدی معنی چې د وضعي قوانينو اساس له اسلام څخه اخيستل کيږي. خو آيا دا په دې معنا ده چې قاضي کولی شي يو نفر له اسلامه په داسې سر غړونه چې د افغانستان په موضوعه قوانينو کې سرغړونه نه وي ګڼل شوې، مجازات کړي؟ داسې معلومېږي چې ځواب يې مثبت دی. خو دا ډول چلند د اساسي قانون له ۲۷(۳)مادې سره په تضاد کې راځی ځکه چې په قانون کې نه پيشبيني شوي مجازات منع کوي. د جزا قانون يوازې تعذيري جرمونه پيشبيني کوي او حدودو او قصاص مذهبي قانون ته پرېږ دي.[۷۱۹] آيا کولی شو چې له اساسی قانون څخه داسې دليل را وباسو چې د هغه پر اساس ټول شريعت د افغانستان په قوانينو کې شامل کړو؟ پدې حالت کې د نا مسلمانو موضوع څرنګه کيږي؟

**۳بېلګه: هغه جرايم چې جرم نه دي**

په عمل کې داسی مثالونه پېښېږي چې د "له قانون پرته هيڅ مجازات نشته" اصل نقض کوي. مثال، د حقوقي سيستمونو د څارنې پروژې دفتر(LSOP) داسې راپورونه تر لاسه کړي دي چې پر دې حقيقت سربېره چې له کوره تېښته او ټولنيز مسايل جرمي عمل نه دي، بيا هم له دې امله ښځې او نجونې تر قانوني تعقيب لاندې نيول کيږي.[۷۲۰]

ورته مطلب د شريعي جرايمو لکه مرتد کېدلو د مجازاتو او محاکمې په اړه، صدق کوي. مثلاً په ۲۰۰۷کال کې ورځپاڼه ليکونکي احمد غوث زلمی د قرآن دري ژباړه چاپ کړه. ديني عالمانو او رهبرانو ددې ژباړې نشر کفر وباله او دا عمل يې وغانده او غوث زلمی يې محکمې ته راکش کړ. څارنوال نوموړی مقدساتو ته په توهين تورن او د اعدام جزا يې ورته وغوښته. د ابتدائيه محکمې حکم د محکمې له خوا تائيد او هغه يی په ۲۰کاله بند يې محکوم کړ.[۷۲۱]

[719] Alexandra H. Guhr, RaminMoschtaghi, MandanaKnustRassekhAfshar, Max Planck Manual on Fair Trial Standards in the Afghan Constitution, the Afghan Interim Criminal Code for Courts, the Afghan Penal Code and other Afghan Laws as well as in the International Covenant on Civil and Political Rights 115 (2009).

[720] TilmannRoder, *Human Rights Standards in Afghan Courtrooms: The Theory and Reality of the Right to a Fair Trial*, Islam and Human Rights 338-39 (2010).

[721] TilmannRoder, *Human Rights Standards in Afghan Courtrooms: The Theory and Reality of the Right to a Fair Trial*, Islam and Human Rights 340 (2010).

۱. د یادې قضیې په اړه، په ورو ډلو کې بحث وکړئ. د دې مثالونو او اساسي حقونو ترمنځ څه اړیکه موجوده ده، له دوی نه یې کوم یو د قانوني مراحلو له تېرولو پرته مجازاتو او له هغو مجازاتو چې د موضوعه قوانینو له خوا سرغړونه نه وي ګڼل شوې په برخه کې، د خلکو ملاتړ کوي؟

۲. که دا اقدامات د اساسي قانون له حکمونو سره سم د افغانستان په محکمو کې مجازات کېدای نشي، کولی شو هغه په بل ځای کې مجازات کړو؟ آیا غیرې رسمي قضایي سیستم " له قانون پرته هیڅ مجازات نشته" له اصل سره سم عمل کوي؟

تېر ته د قانون د نه رجعت یا تیر ته د قانون د رجعت په اړه ټاکونکی دلیل د خبرتیا موضوع ده. له دې څخه مخکنۍ خبرتیا چې یو شمېر ټاکلي اقدامات غیرې قانوني دي، د خبرتیا په معنا ده. دا امر کیدای شي غیر منصفانه وي چې یو څوک د یو داسې جرم له امله چې د هغه د غیرې قانوني والي په اړه هیڅ معلومات نه لري، مجازات شي. له هغه ځایه چې اکثره مسلمانان (او په همدې دلیل زیات خلک په افغانستان کې) د حدودو او قصاص د جرایمو د نه ترسره کېدو په اړه پوهېږي، آیا دا د دوی لپاره د کافي خبرتیا په معنا ده؟

**د زیاتي مطالعي سرچینې**

دزیاتو اطلاعاتو د راټولولو د قانوني مراحلو د تېر ولو د حقونو د تقاطع او د اسلام په وړاندې د مجازاتو په اړه وګورئ: د افغان د ارتداد قضیه ـ د افغانستان په اساسي قانون کې د اسلام د حقوقو او د بشر د حقونو ترمنځ د یوې عادلانه محکمې له حق څخه برخمن کېدل، ماندانا کروست راسیخ افګار، عامه تطبیقي حقوق او بین المللي حقوق و د ماکس پلانک موسسه (۲۰۰۶).

همدارنګه د افغانستان اساسي قانون د هغه جرم له امله مجازات چې بل شخص په هغه مرتکب شوی وي، خو د تحقیق په بهیر کې نور مجرم کوي، د شکمن نیول او توقیف منع کوي.[۷۲۲] په زیات ګمان سره، له دې حکم څخه موخه د اجباري اعتراف لپاره، د پولیسو یا څارنوالۍ له تهدید څخه د شکمن د کورنۍ ساتنه ده. ځکه چې پولیس له دې تکتیکونو څخه د ګټې اخیستلو تمایل لري، د اساسي قانون لیکونکو یوازې هغه غیرې قانوني اعلان کړی دي.

**د افغانستان اساسي قانون**

**۲۶ ماده**

(۱) جرم یو شخصي عمل ده.

---

[۷۲۲]. د افغانستان اساسي قانون، ۲۶ ماده

(۲) د متهم تعقیبول، نیول یا توقیفول او پر هغه باندې د جزا تطبیق بل هیچا ته سرایت نه کوي.

دا موضوع ساده معلومېږي، خو په عمل کې زیاته پېچلې ده. په خیانت آمیزه شرایطو کې، کله چې د خلکو یوه ډله په ډله ییز جرم مرتکب شي، څه به پېښ شي؟ د بیلګې په توګه، د نشه یي توکو د وېش یوه کړۍ. که یو نفر نشه ای توکي برابروي او هغه د لېږد په غرض بل ته ورکوي او وروسته درېیم شخص ته د خرڅلاوو لپاره، پدې صورت کې د هر یو د مسؤلیت موضوع څه ډول ده؟ آیا دا ټول د یو عمل په جرم ملامت دي، یا داچې متعدد جرمونه شته او هر یو په خپله برخه کې له لویې ګناه څخه مسؤلیت لري؟ شوني ده، هر فرد، د هغه څه لپاره چې ترسره کړي یې دي او شوني ده په هغه صورت کې، چې له بل شخص سره یې د جرم په کولو کې مرسته کړې ده، د جرم د مرستیال په توګه تر تعقیب لاندې ونیول شي.

**درېیم. پر مجازاتو ممنوعیت**

د مجازاتو تعداد او د پلټنو او استنطاق ټاکلي وسایل په مطلق ډول، د اساسي قانون او بین المللي حقوقو له خوا منع شوي دي. ۲۸ماده د افغان اتباعو استرداد منع کوي، مګر داچې دا کار د بین المللي حقوقو پر اساس منل شوی وي. دا امر له افغان اتباعو څخه له هېواده د باندې د نه مجازات کولو په برخه کې چې کېدای شي په هغه کې بین المللي موافقتنامې او اساسي قانون د پلي کېدو وړ نه وي، ملاتړ کوي.

**د افغانستان اساسي قانون**

**۲۸ماده**

د افغانستان هیڅ یو تبعه په جرم باندې د متهم کېدو له امله، بهرني دولت ته نه سپارل کېږي، مګر د ورته معاملې او د هغو بین الدول تړونونو له مخې چې افغانستان ورسره تړاو لري. هیڅ افغان د تابعیت په سلبېدو او په افغانستان کې دننه یا بهر په شړل کېدو نه محکومېږي.

همدارنګه مه ۲۸ماده، د جرم ارتکاب د درندوالي په نظر کې نه نیولو سره، حکومت د اشخاصو له تابعیت نه د انکار یا له هېواده د یو نفر د شړلو څخه منع کړې ده. د تابعیت نه لرل سخت مجازات دي، ځکه چې خلک د اساسي قانون له خوا له ورکړل شوو حقونو څخه بې برخې کوي. پدې اساس، اساسي قانون د مجازاتو دا شکل په مطلقه توګه منع کړی ده.

**د افغانستان اساسي قانون**

**۲۹ماده**

(۱) د انسان تعذیب منع دی.

(۲) هیڅوک نشي کولی د بل شخص څخه حتی د حقایقو د ترلاسه کولو لپاره که څه هم تر تعقیب، نیونې یا توقیف لاندې وي او یا په جزا محکوم وي، د هغه د تعذیب لپاره اقدام وکړي یا یې د تعذیب امر ورکړي.

(۳) د انساني کرامت مخالفي جزا ټاکل منع دي.

په اساسي قانون کې بل ممنوعیت صراحت نه لرینه لري. ۲۹(۲)مادې"شکنجه" منع کړې ده، خو دا په څه معنا ده؟ د شکنجې او د ټولو بې رحمانه مجازاتو او رفتارونو او غیرې انساني یا توهینونکو مجازاتو کنوانسیون، شکنجه داسې تعریفوي:

هر عمل چې د جسمي یا رواني درد او رنج لامل کېږي او عمداً له یو چا څخه د اطلاعاتو د لاسته راوړلو لپاره یا د دریېم شخص اړوند یا اعتراف، مجازات کول یې د هغه عمل په واسطه چې په خپله دی یا دریېم شخص پرې مرتکب شوی وي یا یې په ترسره کولو مظنون وي یا یې منځګړیتوب کړی وي یا د ده او یا د دریېم شخص اړ ایستل یا د هر دلیل پر اساس چې پر تبعیض باندې ولاړ وي یا هر ډول چې وي، کله چې دا درد او رنځ د یو حکومتي مقام یا د بل شخص له خوا چې په حکومت کې کار کوي رامنځ ته شي یا په تحریک یا په خوښه یا توافق وارد شوی وي. د درد او رنځ دا تعریف چې لامل یې ذاتي یا اتفاقي وي کېدای شي د قانون د حکمونو تابع وي، نه شاملېږي.[۷۲۳]

د دې تعریف پر اساس آیا شکنجه حتماً په فزیکي تاوتریخوالي کې راځي؟ د ناوړه رواني ګټې اخیستنې موضوع چې بې حسه کول ، ډار اچونکي درمل او د شدیدو رواني فشارونو یو شمېر ډولونه پکې راځي، څرنګه ده؟ د شکنجې ضد کنوانسیون ته په پام سره، آیا دا د شکنجې له معیارونو سره ورته والی لري؟ په دې اړه د افغانستان اساسي قانون څه حکم کوي؟ ۲۹(۲)مادې "د انساني کرامت خلاف جرمونه" منع کړي دي. آیا دا حکم له شکنجې پورته منع شویو تکنیکونو ته پراخوالی ورکوي؟ که داسې وی، ولې دې مادې، شکنجه هم منع کړې ده؟ آیا ۲۹ماده په عام محضر کې سپکاوی منع کوي؟

### الف. د غیرې قانوني تفتیش منع والی

اساسي قانون آن د حکومت له خوا "د چا کور ته داخلېدل" منع کوي. پداسې حال کې، دولت (چې په دې ځای کې مراد معمولاً له پولیسو څخه دی، خو کېدای شي، نظامي چارواکي یا نور حکومتي مامورین هم په هغه کې راشي) کېدای شي د پلټنې لپاره، د محکمې د تائید له اقدامه وروسته، شخصي کور ته داخل شي.

**د افغانستان اساسي قانون**

[۷۲۳]. افغانستان د شکنجې، ظالمانه مجازاتو او انساني ضد یا د سپکاوي چلند پر خلاف کنوانسیون د ۱۹۸۵ کال د فبرورې په تصویب او د ۱۹۸۷ کال د جون په ۲۶ نافذ شو.

**۳۸ماده**

(۱) د شخص استوګنځی له تیري څخه خوندي دی.

(۲) هیڅوک د دولت په ګډون نشي کولای د استوګن له اجازې پرته او بې له هغو حالاتو او لارو چې په قانون کې ښوول شوي، د چا کور ته ورننوزي یا یې وپلټي.

(۳) د څرګند جرم په مورد کې مسؤل مامور کولای شي د محکمې له مخکینۍ اجازې پرته د شخص کورته ورننوزي یا هغه وپلټي. نوموړی مامور مکلف دی کور ته له ننوتو یا پلټنې وروسته، په هغه موده کې چې قانون یې ټاکي د محکمې قرار ترلاسه کړي.

هغه بحث"چې له قانون نه پرته هیڅ مجازات نشته" په یاد راوړئ (شاته د قوانینو نه ګرځېدل) په دوهم بخش کې.۴ پورته. که پولیس د یو چا د کورو له پلټنې وروسته، د محکمې اجازه تر لاسه کړي، آیا دا "له قانون نه پرته هیڅ مجازات نشته" د اصل نقض نه دی؟ ۳۸ماده د قاضي له تأیید وړاندې د پلټنې د اقداماتو اجازه پولیسو ته ورکوي، خو په هغه صورت کې چې جرم "مشهود" وي. آیا تاسې فکر نه کوئ د محکمې له اجازې پرته د پلټنې د ترسره کولو لپاره دا محدودیت د پولیسو د توانایي لپاره بس دی؟په عمل کې، پلټنه تر زیاته په غیرې قانوني توګه تر سره کېږي. دا عمل په ځانګړې توګه د کور له محدودې څخه د باندې واقعیت لري. که پولیس د جرم له ارتکاب: د نشه یي توکو یا د وسلې له موجودیت نه ډاډه وي، د موټر د پلټنې لپاره له قضایي مقاماتوڅخه د اجازې اړتیا نشته.[٧٢٤] ولې آیا په عمل کې هم دا سې ده؟ د اساسي قانون ۳۸ماده دوه ځلې ولولئ. اساسي قانون یوازې د اوسېدو له ځایونو ساتنه کوي، نه له موټرو څخه.

### ب. د شکنجې پواسطه د اعتراف اخیستلو ممنوعیت

په ځانګړې توګه ۲۹ماده څرګندوي، چې حکومت " آن د حقایقو پیداکولو په موخه" د شکنجې حق نه لري. د اساسي قانون لیکونکو په وضاحت سره په پام کې لرل چې اعترافونه باید د شکنجې او د زور د نورو شکلونو په واسطه نوي.

**د افغانستان اساسي قانون**

**۳۰ماده**

(۱) له متهم یا بل شخص څخه په زور ترلاسه شوې څرګندونې، اقرار یا شهادت اعتبار نه لري.

(۲) په جرم اقرار د متهم هغه اعتراف ته وایي چې په بشپړه خوښه او د عقلي روغتیا په حالت کې یې د باصلاحیته محکمې په وړاندې کړی وي.

[724] HosseinGholami, *Basics of Afghan Law and Criminal Justice*, pg. 272-83 (2006).

۳۰ماده کی د شکنجې منع واضح کوي، او زياتوي، چې ټول "اظهار، اقرار يا شهادت" چې د زور او اکراه له لارې په لاس راغلي وي، "اعتبار"نه لري[۷۲۵]. دا امر له شکنجې څخه د ګټې اخيستنې لپاره د حکومت انګيزه له منځه وړي ځکه چې له دې لارې په لاس راغلي شواهد، د عدلي تعقيب لپاره اعتبار نه لري.

د دې مادې حکم " اقرار" زيات معرفي او تعريفوي "په جرم اقرار د متهم هغه اعتراف ته وايي چې په بشپړه خوښه او د عقلي روغتيا په حالت کې يې د باصلاحيته محکمې په وړاندې کړی وي."[۷۲۶] دا تعريف څلور برخې لري: (۱) په خپله خوښه اقرار؛ (۲) د باصلاحيته محکمې په وړاندې؛ (۳) د متهم له لوري او (۴) د روغ عقل په حالت کې. لومړی، اقرار بايد " داوطلبانه اعتراف" وي، يعنې د شکنجې، تهديد او يا رشوت نتيجه نه وي. دوهم، بايد اقرار "د يوې باصلاحيته محکمې پر وړاندې" وي دا د امنيتي حوزې يا د سرک پر مخ نه، بلکې په محکمه کې تر سره کېږي او متهم په امنيتي حوزه کې خپل اقرار په محکمه کې تکراروي. درېيم، " د متهم له لوري"، پدې معنا چې له متهم پرته به هيڅوک په جرم اعتراف نه کوي. د جرم شريک بل شخص په جرم ور ګډوي، خو په محکمه کې ويلی نشي چې متهم په هغه اعتراف کړی ده. کله چې يو بل نفر هغه څه چې له متهمه يې اورېدلي دي، په محکمه کې څرګنده کړي، شايعه بلل کېږي.

شايعه د شواهدو په توګه د لږ اعتماد وړ ده، ځکه قاضي نشي کولی د اصلي خبرې کونکي اعتبار ارزيابي کړي. شايعه د قرار اساس نه جوړوي، ځکه ۳۰(۲) ماده دا اړينه بولي چې متهم خپل اقرار په خپله څرګند کړي. بلآخره څلورم، متهم بايد د روغ عقل په حالت کې وي يعنې بايد ليونی نه وي او يا رواني تکليف ونه لري او نه هم بايد د رواني تکليف رامنځته کوونکو درملو تر اغېزې لاندې وي.

**د مباحثې پوښتنې**

۱. خليل د نشه يي توکو پر قاچاق تورن شوی او په کابل کې د نشه توکو پر وړاندې د مبارزې په محکمه کې د محاکمې انتظار باسي. امنيتي مسؤلين پر دې پوه شوي چې دی سګرېټ څکوي او د بنديتوب له مهاله يې تر اوسه سګرټ نه دي څکولي. آيا پوليس يا څارنوال کولی شي د نشه توکو د قاچاق کوونکو د شبکې په اړه د شواهدو د لاس ته راوړلو لپاره متهم ته سګرټ ورکړي؟

۲. عبدل په قتل تورن دی. کله چې پوليس هغه په حوزې کې د توقيف په ځای کې ساتي، پوليس له متهمه غواړي که د ويلو لپاره څه لرې او هغه پدې ترڅ کې په خپل جرم اعتراف کوي، آيا د اساسي قانون د حکم پر اساس دا اعتراف يا اقرار د اعتبار وړ ده؟

## ج. د اعدام مجازات

---

[۷۲۵]. دا حکم د ايران د اساسی قانون د ۳۸ اصل ته ورته دی

[۷۲۶]. د افغانستان اساسي قانون ۳۰ (۲) ماده

**د افغانستان اساسي قانون**

**۱۲۹ماده**

(۲) د محکمو د ټولو قطعي فیصلو عملي کول واجب دي خو د شخص د مرګ د حکم په حالت کې د جمهور رئیس منظوري شرط ده.

د اعدام د جزا د موثریت او اغیزمنتیا په اړوند د بین المللی ټولنې تر منځ د نظر همغږي نشته. که څه هم زیات دولتونه د اعدام جزا نه عملي کوي، خو یو شمېر یې (لکه متحده ایالات او چین) عملي کوي. نړیواله ټولنه پر دې باور لري چې د اعدام جزا باید په نویو ځوانانو، حامله ښځو او پداسې خلکو چې ذهني بې کفایتي لري پلې نشي. (د مدني او سیاسي حقونو بین المللي میثاق ۶ماده). افغانستان د سختو مجازاتو لپاره د اعدام سزا عملي کوي. له هغه ځای چې د اعدام جزا نه راګرځېدونکې ده، نو ډېره مهمه ده د جزایي عدالت په ټوله مرحله کې د متهمینو حقونه تأمین شي چې پکې چې د محاکمې ټول بهیر، چې د اعدام جزا د پرېکړې د پلي کېدو لامل ګرځي، شامل دي.

کېدای شي چې د شکنجې منع او د اعدام د مجازاتو ټاکلي شکلونه د افغانستان د قوانینو یا بین المللي حقوقو نقض کړي. د مثال په توګه، د سنګسار اعدام په پراخه توګه د شکنجې د بین المللي ممنوعیت د نقض په توګه تر نیوکو لاندې راغلی دی. ۱۲۹(۲)ماده د افغانستان جمهور رئیس ته واک ور کوي چې د اعدام حکم تائید یا رد کړي، پر دې اساس باندې هغه په یو داسې موقعیت کې راځي چې کولی شي په ټولو هغو قضیو کې چې په هغو کې د اعدام د تطبیق وسایل، د شکنجې ممنوعیت نقض کوي، د اعدام له تائید څخه مخ واړه وي.[۷۲۷]

**څلورم. د متهمینو مثبت حقونه**

د افغانستان اساسي قانون د یوشمیر اصولي تضمینونو لرونکی دی. لکه څرنګه چې پورته بحث وشودا بهیر دا اړینه بولي چې د هر چا قضیی په اړه ددې اصولو سره سم چلند وشي.

**د افغانستان اساسي قانون**

**۳۱ماده**

هر څوک کولی شي چې له نیول کېدو سره سم له ځانه د اتهام د لرې کولو او یا د حق د ثابتولو لپاره مدافع وکیل وټاکي. متهم حق لري چې له نیولو سره سم له منسوب اتهام یا تور څخه ځان خبر کړي او د هغې مودې د ننه چې قانون یې ټاکي، په محکمې کې حاضر شي. دولت په جنایي پېښو کې د بې وزله متهم لپاره مدافع وکیل ټاکي. د متهم او د هغه د وکیل ترمنځ مکالمات، مراسلات او مخابرات له هر ډول تعرض څخه خوندي دي. د مدافع وکیلانو وظایف او واکونه د قانون له لیارې تنظیمېږي.

[727] Alexandra H. Guhr, RaminMoschtaghi, MandanaKnustRassekhAfshar, Max Planck Manual on Fair Trial Standards in the Afghan Constitution, the Afghan Interim Criminal Code for Courts, the Afghan Penal Code and other Afghan Laws as well as in the International Covenant on Civil and Political Rights 118 (2009).

۳۱ماده د دې حقونو يوشمير لکه: (۱) د مدافع د حق لرل ("هر نفر کولی شي يو مدافع وکيل د ځان لپاره وټاکي") او د مدافع وکيل سره د خبرو محرم ساتل؛ (۲) د فوري محاکمې حق(" د اتهام له ماهيت نه د اطلاع د ترلاسه کولو حق او د قانون په واسطه په ټاکل شوي وخت کې په محکمه کې حضور ").

**الف. د مدافع وکيل د لرلو حق**

هر وګړی حق لري چې مدافع وکيل ولري، دا په دې معنا ده چې هر څوک د مدافع وکيل د ټاکلو حق لري، چې له قانون سره بلدتيا ولري، حقايق درک او قضيه د متهم په استازيتوب په ښه شکل وړاندې کړي. خو پداسې هېوادونو کې چې هلته د مدافع وکيلانو شمير له اندازې زيات لږ وي او د پيسو کمه اندازه حق الزحمه ورکول کېږي، د استازيتوب چارې په درسته توګه په مخ نه ځي. نو ځکه اساسي قانون او د محکمو لپاره د جزايي اجراآتو موقت قانون، هغو متهمينو ته چې خپل خصوصي وکيل نه شي نيولی، وړيا وکيل ټاکي او پيسې يې د حکومت له خوا ور کول کېږي.[۷۲۸] د وکيل د لرلو په حق کې: د تحقيق په ټولو مرحلو کې د پلټنې په صورت، د شهود د مقابلې او هغه وخت چې د پوليسو له خوا يا په هره قضايي جلسه کې له تحقيق لاندې راځي د وکيل حضور لرل راځي.[۷۲۹] همدارنګه دا حق اړينه بولي چې مدافع وکيل حقوقي اسنادو، مدارکو او شهودو ته چې شونې ده، د دوسيې لپاره ګټور وي، لاسرسی ولري.[۷۳۰] وکيل ته بايد د بشپړې دفاع د وړاندې کولو، شواهدو او شاهدانو ته د رسيدنې اجازه ورکړل شي.[۷۳۱]

د افغانستان قوانين په هغه صورت کې، چې متهم پيداکېدای نشي، د غيابي محکمې د دايرېدو اجازه ورکوي. که متهم خپله محاکمې ته حاضر نشي، وکيل يې بايد په استازيتوب حاضر وي. د متهم له ګټو څخه له استازيتوب پرته د محکمې اجازه منصفانه نه ده او د برائت ذمه د اصل خلاف ده. پدې اساس، د محاکمې غوره طريقه د متهم د شتون اړينوالی ده. د محکمو لپاره د جزايي اجراآتو موقت قانون متهم ته حق ورکوي چې د محاکمې په جريان کې استازی ولري ـ او زياتوي چې که هغه نشي کولی پيدايې کړي، څارنوال بايد ابلاغيه د ده په وروستي پته ولېږي.[۷۳۲]

د وکيل د لرلو حق، د ټولې ټولنې په ګټه دی. که متهمين د ښو قانوني استازو لرونکی وي، ټولنه له دې څخه چې بېوازې د جرمونو ترسره کوونکي مجازات کېږي، ډاډمنه کېدای شي. دا کار نه يوازې بې ګناه خلک له ناروا مجازاتو ساتي، بلکې پوليس او څارنوال تشويق کوي چې د جرمونو د تحقيق پر مهال زيات دقت وکړي. پدې حالت کې، پوليس او څارنوال پوهېږي چې هغه به له يو صالح او مسلکي وکيل سره سر او کار ولري، نو پردې اساس باندې به په تحقيق او د صورت دعوا په ترتيب کې ښه او هر اړخيزه تياري نيسي. همدارنګه که څارنوال او مدافع وکيل دواړه د قضيې په برابرولو کې ښه کار

[۷۲۸]. د محاکمو لپاره د جزايي اجراآتو مؤقت قانون، ۱۹ ماده
[۷۲۹]. د محاکمو لپاره د جزايي اجراآتو مؤقت قانون، ۳۸ ماده
[۷۳۰]. د محاکمو لپاره د جزايي اجراآتو مؤقت قانون، ۴۳ ماده
[۷۳۱]. د محاکمو لپاره د جزايي اجراآتو مؤقت قانون، ۵۳ ماده
[۷۳۲]. د محاکمو لپاره د جزايي اجراآتو مؤقت قانون، ۴۱، ۱۷ او ۵۳(۲) مادې

وکړي، قاضي کولی شي، د ټولو وړاندې شویو حقایقو پر اساس قضیه حل او فصل کړي. مدافع وکیل په ښه توګه کولی شي چې د څارنوال د صورت دعوا نیمګړتیاوې پیدا او متقین شي چې یوازې متهمین په واقعیت سره په مجازاتو د محکومېدو وړ بلل کېږي.

**ب. د فوري محکمې حق**

له محکمې پرته، د اوږد وخت لپاره له توقیفولو څخه د ناوړه ګټې اخیستنې د مخنیوي لپاره، ۳۱ماده د متهمینو حقونه له منسوبو اتهاماتو څخه د خبرېدو او "دهغه معیاد په دننه کې چې قانون ټاکلی" په محکمه کې د حضور حق تضمینوي. دا وخت د محکمو لپاره د جزایي اجراآتو موقت قانون ۱۵ورځې ټاکلي.

**د محکمولپاره د جزايي اجراآتو موقت قانون**

**۳۶ماده**

که چېرې نیول د پولیس له خوا ترسره شوي وي او دڅارنوال له خوا تائید یا د توقیف قرار د څارنوال په واسطه صادر شوی وي او دغه قرار په خپل قوت باقي پاتې وي او څارنوال د نیولو له نېټې څخه په(۱۵)ورځو کې صورت دعوې محکمې ته وړاندې نه کړي، تورن خوشې کېږي، مګر داچې د څارنوال په وخت غوښتنې په اثر، د توقیف موده د نورو (۱۵) ورځو لپاره تمدیدشوې وي.

**۴۲ماده**

محکمې د صورت دعوا دترلاسه کولو وروسته، پرته له ځنډه، ابلاغیه پاڼه چې دمحکمې دنېټې او ورځې لرونکې وي، صادره وي.

که حکومت له ژمنو سره سم عمل ونکړ، اساسي قانون یې د حل لارې نه ټاکي، خو د محکمو لپاره د جزایي اجراآتو موقت قانون ته په پام سره، که له ټولو شویو اتهاماتو څخه متهم ته خبر نوي ورکړ ل شوی او په مناسب وخت کې محکمې ته نوي دعوت شوی توقیف شوی نفر خوشې کېږي. خو په عمل کې، دا حالت هیڅ شی هم نشي تضمینولی. یوې مطالعې ښودلې ده چې نیول شوي خلک مخکې له دې چې په محکمه کې حاضر شي، آن که کوچنی جرم هم وي، تردېره د څو میاشتو لپاره په توقیف کې ساتل کېږي.[733]

پداسې حال کې چې د فوري محکمې حق باید د جرم د تحقیق پر مهال د حکومت د اړتیاوو او د شواهدو په راټولولو او د وړ دفاع په تیارولوکې د متهم د اړتیاو د په پام کې نیولو سره توافق ولري. د وخت دقیق

[733] *Afghanistan: Re-Establishing the Rule of Law*, 14 August 2003, AI Index: AA 11/021/2003, p. 25 (cited in Alexandra H. Guhr, RaminMoschtaghi, MandanaKnustRassekhAfshar, Max Planck Manual on Fair Trial Standards in the Afghan Constitution, the Afghan Interim Criminal Code for Courts, the Afghan Penal Code and other Afghan Laws as well as in the International Covenant on Civil and Political Rights 75 (2009)).

ټاکل، د قضيې د ماهيت په نظر کې نيولو سره، توپير لري. هر ډول زماني ځنډ بايد د قضيې د پيچلتيا، په لاس کې د شته شواهدو د اندازې، د متهم او نورو شاهدان د همکارۍ، د جرم د شدت او هر ډول نورو تخفيف ورکونکو شرايطو پر اساس وسنجول شي.

### د آزادي حکم (*Habea Corpus*)

په يوشمېر ټولنو کې اوږده توقيفونه د آزادي د حکم د بهير د مکانيزم له لارې حل او فصل کېږي. دا يو لاتيني عبارت دي، چې د " بدن خوشې کړئ " په معنا ده. له قانوني پلوه، دا په دې معنا ده چې يو توقيف شوی مجرم کيدای شي د خپل توقيف قانوني والی وننګوي او بايد حکومت يې توقيف توجيه کړي. که په جرم متهم محکمه پر دې قانع کړي چې د توقيف ټاکل شوې ۱۵ورځې يا يې بل قانون نقض کړی، حکومت يې بايد آزاد کړي. خو د افغانستان اساسي قانون د دې ملاتړي تدبير په حق کې نه راځي، پدې اساس د وګړو د حقونو له هيڅ بهير څخه چې په غيرې قانون توګه نيول شوی وي، دفاع نه کوي.

### ج. د عامه اورېدنې حق

د افغانستان اساسي قانون علني محاکمې تضمينوي، تر څو عام خلک د يو اضافي عامل په توګه، د حکومت پر اعمالو څارنه وکړي. عام خلک کولی شي، له فساد، بې عدالتۍ او له اساسي قانون سره د خيانت مظاهر وګوري. رسنۍ د مهمو ليدونکو په څېر، د راپور د وړاندې کولو له لارې د محکمو عادلانه والی تامينولی شي. که څه هم چې قاضيان نه انتخابېږي او خلک له دفتر نه د هغه د اېستلو امکان نه لري، خو عامه افکار هم کولی شي قاضيان د تبليغاتو له لارې تر جدي فشار لاندې راولي او پدې ترتيب هغوی هم په ټولنه کې د خپل احترام د لاسته راوړلو په موخه اړ دي، چې د خلکو اواز ته غوږ ونيسي.

| |
|---|
| **د افغانستان اساسي قانون** |
| **۱۲۸ماده** |
| (۱) د افغانستان په محکمو کې محکمه په علني ډول دايرېږي او هر څوک حق لري د قانون له حکمونو سره سم په هغې کې ګډون وکړي. |
| (۲) محکمه کولی شي، پداسې حالاتو کې چې په قانون کې څرګند شوي يا د محاکمې سري توب ضروري وګڼل شي، سري غونډې دايرې کړي خو د حکم اعلان بايد علني وي. |

اساسي قانون په ټاکلو حالاتو کې د پټو محکمو د ترسره کېدو اجازه ورکوي، لکه څرنګه چې د افغانستان د اساسي قانون ۱۲۸(۲) ماده حکم کوي. د ايران اساسي قانون هم ورته حکم کوي:

**د ایران اساسي قانون**

**۱۶۵ماده**

محکمې، ښکاره ترسره کیږي او د خلکو شتون له موانعو پرته ده، خو داچې د محکمې په تشخیص سره، د هغه ښکاره والی د عمومي عفت یا عمومي نظم منافي وي یا د دعوا دواړه لوري دا غوښتنه وکړي چې محاکمه دې ښکاره نوي.

د دې دوو مادو توپیر په څه کې دی او کومه یوه یې د ښکاره محاکمې زیات ملاتړ کوي؟

- په افغانستان کې، کوم وخت چې " پټ ترسره کېدل اړین وي" محاکمه پټه ترسره کیږي.
- په ایران کې، محکمې یوازې هغه مهال پټې ترسره کیږي، چې (۱) "چې ښکاره ترسره کېدل یې د عمومي عفت یا نظم نفې کونکی وي" یا (۲) د دعوا لوري یې غوښتنه وکړي.

په افغانستان کې څوک، یعنې قاضي که د دعوې لوري " د محاکمې پټ ترسره کېدل" ټاکي؟

ټول قوانین زیاتې لاربښونې په دې اړه وړاندې کوي: د محکمو لپاره د جزایي اجراآتو موقت قانون ۵۲(۲) ماده "عامه نظم"، د استثناء په توګه را وړي، په دې معنا، چې په محکمه کې د عامو خلکو شتون، د عدالت د اغیزمنې اداري څخه مخنیوی کوي. د محاکمې د پټ ترسره کېدو د اجازې یوه بله استثناء د "ملي امنیت" د ګټو له امله ده. دا استثناء، د تروریستانو د محاکمې او یا په بالقوه توګه، د حکومتي مقامات د پټو اطلاعاتو له لرلو سره اړوندیږي. بلاخره "اخلاقي" استثناء پټو محکمو ته، چې په هغه کې له قانوني عمرڅخه ټیټ( د کوچنیانو سرغړونو ته د رسېدنې قانون۳۳ماده) یا جنسي جرمونه څېړل کیږي، اجازه ورکوي[۷۳٤]. آیا تاسې فکر کوئ، دا انعطاف مننې، قاضي ته اجازه ورکوي، چې د اړتیا په صورت کې او له دلیل نه پرته، محکمې پټې دایرې کړي، یا داچې دا واک له حده زیات عام ده او له هغه ناوړه ګټه اخیستنه کېدای شي؟

### د. د لیکلې یا شفاهي ژباړې حق

اساسي قانون تضمینوي، چې متهم ور پورې د تړولو اتهاماتو په اړه د بشپړ معلوماتو د لرلو حق لري. البته، په زیاتو محکمو کې په دري یا پښتو ژبه خبرې کیږي، خو که متهم یوازې په ازبکي او ترکمني خبرې کوي او محاکمه هم په کابل کې دایریږي، څه باید وکړي؟ دا اطلاعات او د محاکمې بهیر باید په هغه ژبه چې خبرې پرې کوي وژباړل شي، تر څو په بشپړ ډول قضیه درک او له ځانه دفاع وکړي.

---

734 Alexandra H. Guhr, RaminMoschtaghi, MandanaKnustRassekhAfshar, Max Planck Manual on Fair Trial Standards in the Afghan Constitution, the Afghan Interim Criminal Code for Courts, the Afghan Penal Code and other Afghan Laws as well as in the International Covenant on Civil and Political Rights 81 (2009).

**د افغانستان اساسي قانون**

**۱۳۵ماده**

که د دعوې لوری په هغه ژبه چې محاکمه پرې کېږي ونه پوهېږي، د قضيې پر موادو او اسنادو د اطلاع او په محکمه کې په خپله مورنۍ ژبه د خبرو کولو حق د ترجمان په وسيله ورته تأمينېږي.

### ه. د منطقي پريکړه نيولو حق

برائت ذمه، د ثبوت بار(پېټی) څارنوالۍ ته پرېږدي، ترڅو قاضي قانع کړي، چې پر متهم وارد شوي تهمتونه صحيح دي. که د قاضي قناعت ترلاسه نشو، متهم خوشی کوي. خو که د قاضي قناعت د متهم د ګناه په اړه ترلاسه شو، نو بايد په صراحت سره خپل دلايل په پرېکړه کې ذکر کړي، په داسې توګه چې متهم، عام خلک او لوړې محکمې د هغه د استدلال اساس وګوري.

**د افغانستان اساسي قانون**

**۱۲۹ماده**

(۱) محکمه مکلفه ده د خپل صادرکړي حکم اسباب په فيصله کې ذکر کړي.

(۲) د محکمو د ټولو قطعي فيصلو عملي کول واجب دي خو د شخص د مرګ د حکم په حالت کې د جمهوررئيس منظوري شرط ده.

همدارنګه منطقي پريکړه نيونه بايد په ليکلي توګه برابره شي. ليکلي پرېکړه متهم ، څارنوالۍ چې د حکم غوښتونکې ده او د استيناف محکمی ته اجازه ورکوي، چې په دقيقه توګه د قاضي د تصميم او د هغه د دليلونو په اړه پوه شي. حکم بايد څرګند، ساده او له ابهام پرته، خو د قانون پر اساس وي.[۷۳۵]

د منطقي پريکړه نيولو د حق پر اساس، هر متهم د بياکتنې د غوښتنې حق لري او د قضايي تېروتنې په صورت کې، له لوړې محکمې نه د مرستې غوښتنه کولی شي. هيڅ قضايي سيستم بشپړ نه دی، او امکان لري چې يو قاضي په تېروتنې سره يو بې ګناه شخص محکوم کړي. پدې دليل، قضائيه قوه د سلسله مراتبو لرونکې ده چې د هغه پر اساس ستره محکمه او استيناف محکمه د ټيټو محکمو پر پريکړو څارنه کوي.[۷۳۶] دا جوړښت، غيرې قانوني محکوميتونه په دوو ډولونو سره راکموي: لومړی، لاندېنۍ محکمې په هغه صورت کې چې پوه شي د دوی تصميمونه له بيا کتنې لاندې راځي، له زيات احتياط نه به کار اخلي، او دوهم، لوړې محکمې ممکنه ده، د وړو يا لاندينيومحکمو عمدي يا غيرې عمدي تېروتنې

[735] HosseinGholami, *Basics of Afghan Law and Criminal Justice*, pg. 201 (2006).

[۷۳۶]. د افغانستان اساسي قانون، ۱۱۶ ماده

ونيسي. لوړې محکمې د غيرې قانوني پرېکړو د اصلاح او بيا ګرځول، د فرد د خوښې کولو واک لري او/يا د پيسو شرط د هغه د خوښې کولو لپاره وضع کولی شي.[٧٣٧]

### پنځم. د فساد او رشوت خوړنې د عمل په رواندې اصول

هغه اصول او معيارونه چې په اساسي قانون کې مشخص شوي دي، په عمل کې تل نه مراعت کېږي. څېړونکي تيملن رودر(TilmannRoder) د هرات ولايت په محکمه کې د قتل د جرم يوه محاکمه ليدلې ده[٧٣٨]. هغه له دوو جرمي متهمينو سره ليدنه کړې وه او هغوی ده ته ويلي وو چې له حملې لاندې له نيولو وروسته، دفاعيه جلسې ته راوړل شوي دي. هغه ويلي و چې متهمينو د ادعاد د اثبات په اړه، د خپل ځان د دفاع لپاره هيڅ شاهد نه درلود ځکه چې دا ډول "دوستان" دباور وړ نه دي. متهمينو مدافع وکيل نه درلود او هغوی ته د وکيل د حق لرلو يا د چوپ پاتې کېدلو د حق په اړه څه نه وو ويل شوي. وسله والو پوليسو عام خلک له محکمې نه و ايستل . بلآخره، قاضاينو دواړه د اعدام په جزا محکوم کړل. متهمين د بياکتنې د غوښتنې له حقه خبر نه وو او پدې اړه خپله مرکه کوونکې دا معلومات راتول کړي دي.

ولې داسې وشول؟ څرنګه چې په ۶څپرکي کې د قضائيه قوې ترعنوان لاندې واضاحت ورکړل شوی ده، د قضايي خپلواکي، فساد او وړتيا ستونزې د افغانستان د قضائيه قوې په هر سطح کې شته. قاضيان ښه حقونه نه لري، د ولسوالۍ په کچه يو قاضي معمولاً ۱۰۰۰۰زره افغانۍ (۲۰۰امريکايي ډالره) مياشتنی معاش لري[٧٣٩]. دا کار په ځانګړی توګه د عادلانه محاکمې په اړه په محکمه کې د متهمينو په حق باندې منفي اغېزې لري، ځکه چې قاضيان او څارنوالان د لږ معاش لرونکي دي او زيات د فساد د ترسره کولو په حال کې دي. فساد کولی شي د قرباني له کورنۍ ناشي وي، که هغه د متهم لپاره د درنې جزا غوښتونکي وي يا له متهم څخه، که هغه په کافي اندازه پيسې ولري، نو خپله ګناه اخيستلی شي.

**د مباحثې پوښتنې**

د قضايي خپلواکي دوه شکله چې په ۶څپرکي کې د قضائيه قوې تر عنوان لاندې پرې بحث وشو، يعنې اداري خپلواکي او د تصميم نيول خپلواکي يو ځل مطالعه کړئ.

۱ له دې دوو شکلونو کوم يو، د متهم د حقونو د ساتنې لپاره له زيات اهميت څخه برخمن ده؟

---

[٧٣٧]. د د محاکمې د جريان په اړه د استيناف اختياراتو ، د لاندېنيو محکمو د پرېکړو او تعديلاتو معلومانو په هکله وګورئ: HosseinGholami, *Basics of Afghan Law and Criminal Justice*, pg. 179-198 (2006).

[738] TilmannRoder, *Human Rights Standards in Afghan Courtrooms: The Theory and Reality of the Right to a Fair Trial*, Islam and Human Rights 329-30 (2010).

[739] TilmannRoder, *Human Rights Standards in Afghan Courtrooms: The Theory and Reality of the Right to a Fair Trial*, Islam and Human Rights 336 (2010).

۲ آیا تاسې فکر نکوئ، چې څارنوالان او مدافع وکیلان همدې ډول خپلواکي ته اړتیا لري؟

د تاوتریخوالي او د تاوتریخوالي د ګواښ راپورونه، د جزا په قضایي سیستم کې د قضایي خپلواکۍ د لویې ستونزې په توګه ښکاري.

د یو راپور جزئیاتو ښودلې ده، چې د یو سیمه ییز پولیس د قوماندان د زوی د نه خوښې کېدو له امله، هغه ته نېږدې کسانو د قاضي د وژلو هڅه کړې وه.[٧٤٠] د فساد او قدرت په دود کې، هغه کسان چې نورو ته د زیان رسولو توان لري، کولی شي له خپل قدرته څخه د هغو پر خلاف چې قضایي قدرت لري، په ښه توګه استفاده وکړي.

بډې یا رشوت ورکول، فساد او د سیاسي زوروااکانو له خوا مداخلې، د تعصب په تغذیه د جزایي عدالت نظام، په سیستم کې د پلویتوب او د متهمینو ترمنځ د نابرابري رامنځته کول، د جزا قضایي سیستم فاسدوي. دا کار، چې آیا متهمین قاضي یا د محکمې نورو مامورینو ته د بډې ورکولو وړتیا او منابع لري یا نه، د توپیر وړ زیاتو پایلو لامل ګرځي. بډې په ټولو سطحو کې وجود لري، بډې د محکمې له کاتب نه د قضیې د پیل، ځنډولو یا لوړې سطحې ته د بیاکتنې د غوښتنې لپاره پیل کېږي او بیا له زندان څخه د متهم تر آزادۍ پورې دوام لري.[٧٤١]

**۴مثال: بډې[٧٤٢]**

د هرات په ولایت کې یو نظامي قوماندان یو بې ګناه سړی په مرمۍ و ویشت او وروسته یې ادعا وکړه، چې هغه د نشه یي توکو قاچاق کونکی و. وسله وال قوماندان ونیول شو او توقیف شو. د بې ګناه مقتول کورنۍ د زندان مامورینو ته د قاتل د ورسپارلو لپاره بډې ورکړه. وروسته د مقتول کورنۍ وسله وال قوماندان له ځان سره یو وړ او د مقتول پر قبر یې په ګولۍ و ویشت او مړ یې کړ.

آیا تاسې فکر کوئ چې د محاکمې کوم بهیر یا تضمین کولای شو د یادې فاجعې خنډ شي؟ د کورنۍ د جبران لپاره څه باید په نظر کې ونیول شي؟ آیا پر قاتل سربېره، له حکومت څخه د زیان ادعا کېدای شي؟

---

740 TilmannRoder, *Human Rights Standards in Afghan Courtrooms: The Theory and Reality of the Right to a Fair Trial*, Islam and Human Rights 336 (2010).
741 TilmannRoder, *Human Rights Standards in Afghan Courtrooms: The Theory and Reality of the Right to a Fair Trial*, Islam and Human Rights 336 (2010).
742 TilmannRoder, *Human Rights Standards in Afghan Courtrooms: The Theory and Reality of the Right to a Fair Trial*, Islam and Human Rights 336 (2010).

## اصطلاحات

**مجمله ارزونه:** د اساسی قانون په محکمه کې د یوې قضیی د وړاندې کولو حق عالی دولتي ارګانو اورسمی مقاماتو،(جمهور رئیس، جمهوري ریاست، کابینه)، د پارلماني ډلو (یعني پارلماني اپوزیسیون)، او ورته ارګانونو لپاره خوندي دی. د اساسي قانون سره د نورو قوانینو مطابقت په مجمل یا عام طور تر څېړني لاندې نیول کېږي نه دا چې هر مورد په جلا توګه.

**ځواب ویل:** موضوع چې په حساب ورکولو پورې تړلې وي، د ځواب ورکول. د حکومت په اړه، داسې ویل کېږي چې د حکومت ارګانونه یو د بل په وړاندې باید ځواب ورکړي. پدې معنی چې هر رکن د بل په وړاندې ځواب ویونکی دی.

**د واک ورکول یا تفویض:** چاته په رسمي توګه واک سپارل یا دهغه تأییدول.

**اداري حقوق:** د اداري بنسټونو له لوري رامنځ ته شوي طریقې (د ښارونو حکومتي ادارو، ولایت، ایالت یا فدرال حکومت)چې اصول، مقررات، د کارولو لارې چارې، جواز، لایسېنس، د لاس رسي وړ اطلاعات، د استماعیې غونډې، بیاکتنه ا و پرېکړه نیول پکې شامل دي.

**د افغانستان ملي شورا:** د افغانستان مقننه قوه چې له علیا او سفلی جرګو څخه جوړه ده.

**ادعا شوی:**د یوې قضیې په سموالي باندې ټینګار کول، په چا پورې له محکومولو د مخه تورلګول یا د هغه تأیید.

**ارتداد:** له مذهبي ایمان څخه مخ اړول.

**خپل سري:** (الف) د واک په عملي کولو کې اختیاری عمل کول: د مطلق واک سره حکومت کول("استبدادي حکومت")؛(ب) له نامحدود واک یا استبداد څخه را ولاړ شوی(" له ناقانونه یا خپل سري ګرفتارولو او توقیف څخه ساتل").

**آرماني:** له قانوني الزام پرته د هیلې یا قصد څرګندول.

**د قدرت انډول یا موازنه:** د حکومت د بېلابېلو برخو تر منځ د قدرت داسې توزیع چې د هېڅ یوه اساسي ګټې د جدي ګواښ سره مخامخ نه شي.

**دوه جرګه ایزه مقننه قوه**: په یوه حکومت کې د مقننه قوې د څرنګوالي د توصیف لپاره کارول کېږي او په هغه کې قانون جوړوونکي په دوو ډلو وېشل کېږي.

**الزامیت:** د قانوني اعتبار درلودونکی، د اطاعت وړ.

**د مقدساتو سپکاوی:** د الله (ج) په وړاندې سپکاوی، بې احترامي یا بې پروایي.

**د اوزالید چاپ یا کلي طرح:** مفصل پلان یا د عمل پروګرام.

**رکن (څانګه):** د یوه سازمان یا اداري برخه. د یو مرکزي حکومت په چوکاټ کې، اجرائیه قوه، مقننه قوه، او قضائیه قوه هر یو د حکومت له ارکانو څخه دي.

**د څرګندې کربښې قاعده:** د پرېکړې کولو یوه حقوقي قاعده ده چې په ځانګړې توګه پیچلی مسلې په ساده، بې پرې کله هم د اطمینان د حصول په خاطر د انصاف په قرباني سره، حل او فصل ته تمایل لري.

**بودیجه:** د هغو پیسو اندازه چې د حکومت او دهغه اړونده مختلفو ادارو د کلنې لګښت لپاره ځانګړې کېږي.

**د اثبات پېټی:** هغه مطالبات چې څارنوالي یی د یو ټاکلي ستاندارد له مخې ښيي چې په محکمه کې د بریالیتوب لپاره ټول حقایق وړاندې شوي او احتمالاً سم دي.

**بوروکراسي:** د نامنتخب وګړو لوی شمېرچې د حکومتي چارو د پرمخ بېولو دنده په غاړه لري.

**کابینه:** د دولت د رئیس سلاکار ارګان دی.

**سانسور:** د اعتراض وړ موادو د رزونه.

**متمرکز کول:** په مرکز یا مرکزي اداره کې د قدرت او اقتدار د اعمال له لارې متمرکز کول.

**جرګه (مجلس یا اتاق):** مقننه او قضائیه قوه، په ځانګړې توګه د دوه جرګه ایزې مقننه قوې هر یو مجلس.

**څارنه او انډول (نظارت و توازن):** هغه سیستم دی چې اجازه ورکوي د حکومت هر رکن د بل رکن کړنی د اصلاح یا وېټو له لارې داسې وڅاري چې له بریده زیات قدرت څخه یی مخنیوی وکړي.

**د مدني قانون سیستم:** د مدني قانون په نظام کی قاضیان د قضایاوو په هکله د اړونده قانون پر بنسټ پرېکړه کوي. یوازې په ډېرو کمو مواردو کی دا اوړده او مفصل قوانین ټاکلی قضیه تر پوښښ لاندې نه نیسي بلکه قاضي اړونده اصول د نظر وړ قضیی په برخه کې تطبیقوي.

**یو د بل سره برابر:** هغه چې یو د بل سره برابر وي.

**اعلی سرقوماندان:** د یو هېواد جمهور رئیس یا د وسله والو ځواکونو د قوماند عالي رتبه.

**د کامن لا حقوقي سیستم:** د کامن لا په حقوقي سیستم کې، قاضیان د قوانینو په تفسیر کې اساسي رول لوبوي او په تېرو قضایی حکمونو تکیه کوي نه قانون د لاربنووني لپاره. کله چې یوه قضیه نوی موضو ع مطرح کوي، قاضي د نوي قانون د جوړولو په مو خه د نورو قضیو سره دهغه د مقایسې او اختلاف پر بنسټ باندې استدلال کوي.

**وړتيا (قضايي وړتيا):** د يو ټاکلي عمل د اجرا لپاره د نافذ قانون قدرت او اقتدار. يعنې د قضيې ډول چې محکمه يې د قانون له مخې اوري. همدارنګه وګورى – د قضايي واک حوزه.

**ټاکلی يا اتفاقي څېړنه:** د اساسي قانون په عالي محکمه کې په اساسي قانون پورې تړلي مواردو څېړنه چې د لاندنيو محکمو له لوري راجع شوي وي. په زياترو سيستمونو کې، که چېرې يوه محکمه و مومي چې د د قانون د تطبيق وړ يو حکم د اساسي قانون د حکمونو سره مطابقت لري، بايد په اساسي قانون پورې د اړونده مواردو څخه و ګڼل شي.

**د ګټو اختلاف:** (الف) په يوه اداري موقف کې د يو شخص د خصوص ګټو او رسمي مسؤليتونو تر منځ د ګټو ټکر، (ب) يو داسې موقعيت چې په کې يو شخص له يوه څخه زياتو اشخاصو په وړاندې دنده لري، خو نشي کولای د هغو ترمنځ بالقوه متضاد منافع او عدالت تأمين کړي. پدې کې هغه موارد راځي چې د يو وګړي شخصي ګټې يا اندېښنې د اخيستونکي د قناعت سره په اختلاف کې وي، يا کله چې د يو حکومتي مقام شخصي ګټې د عامه چارو خلاف/مطابق وي. وکيل، محاسب، د کار او بار سلاکار يا د ملکي معاملو دلال د لانجې د دواړو لورو استازيتوب نشي کولای او آن داچې د نښتې د رامنځ ته کېدو مخنيوی وکړي.

**حوزه:** د هغو اتباعو شمېر چې د يو استازي انتخابولو حق لري( لکه د اجرائيوِی يا تقنيني ارګان).

**مشروطيت:** لزوماً د اساسي قانون په موجوديت پورې تړلی نه دی، اما د حکومت په اساسي محدوديتونو او جوړښتونو پورې تړلی دی.[743]

**د اساسي قانون له مخې شکايت:** دا طريقه افرادو ته اجازه ورکوي چې د اساسي قانون محکمې ته لاس رسی ولري. هغو کسانو چې په عادي محکمو کې يې دوسيه بايللې وي، د خپلو حقونو د نقض په هکله د اساسي قانون محکمې ته شکايت کولای شي.

**محکوم (يا محکوم شوی مجرم):** هغه شخص چې د جرم په خاطر محکوم يا مجازات شوی وي.

**په عمل کې (دی فاکتو):** د يوشی د توصيف لپاره چې عملاً موجود وی اما په رسمي ډول په رسميت نه وي پېژندل شوی.

**له قانوني لحاظه (دې جوری):** د قانون له مخې د يو کار يا عمل تر سره کول.

**له سره (دې نوا):** د ټولو حقايقو په نظر کې نيولو سره، د يوې قضيې په هکله له سره پرېکړه کول (د دوهم ځل لپاره)، نه يوازې پر دې باندې نظر اچول چې ابتدائيه محکمې قانون په سمه عملي کړی دی او که نه.

[743] Gerhard Casper, Occasional Papers from The Law School Number 22: Constitutionalism 16 (The University of Chicago Apr. 6, 1987).

**بې مرکزه کول:**د دندو او اختیاراتو ویشل یا توزیع کول، په ځانګړې توګه له مرکز څخه ځايي یا سیمه ایزو مقاماتو ته د واک لېږد.

**د پریکړه نیوني خپلواکي:**د قضیې اړونده حقایقو او قانون پر بنسټ باندې له فساد او خارجي نفوذ پرته د قضایي حکمونو صادرول.

**انځورول:** توصیف، مصور کول، یا په دقت او جزئیاتو سره د یو مورد بیان.

**بې برخې والی (محرومیت):** د یو داسې څیز نه درلود چې خلک ورته اړتیا لري.

**عدول:**د قانون له یوې قاعدې څخه معافیت.

**مستقیم:**د سم خط سیر تعقیبول.

**محرمیت:** د عامو قانوني کړندودونو په محدوده کې د مختلفو مسلو په هکله د خپل نظر له مخې دیو قاضی د پرېکړه کولو واک. مثال: الف) یو قاضي کولای شي د جریمې د اندازې په تعیین یا د محاکمې د دوام په هکله پرېکړه وکړي یا، ب) څارنوال کېدای شي ددې اختیار ولري چې یو جرم د جنحې یا جنایت په توګه اقامه کړي.

**بې اندوله اغېز:** د ناوړه عمل اغېز چې پخپل قصد کې بې طرفه دی اما سره ددې هم یو شمېر افراد په متفاوت اندازه متأثر کوي.

**تمایز یا توپیر:** هغه ځانګړتیا چې د څیزونو مجموعه یو له بل څخه بېلوي.

**د مسودې جوړوونکي:** هغه څوک چې د نظر وړ سند لومړې طرح جوړوي.

**د قانوني پراوونو وهل یا طی کول:** (الف) د خصوصي حقونو له هغه جملې د قضیې په هکله په واکمنه محکمه کې د اطلاع او عادلانه محاکمې حق د تحقق او ملاتړ لپاره د اصولو او قواعدو مطابق د قانوني اقداماتو تر سره کول، (ب) ټول قانوني پراوونه چې د قانون او محکمې له لوري ټاکل شوي وي، له هغه جملې له حقونو څخه اطلاع باید د هر یو وګړي په هکله مراعات شي داسې چې په غیرعادلانه او متفاوت رفتار منجر نشي.

**دنده:**اخلاقي یا قانوني ژمنتیا.

**تأیید او لاسلیک:** (د یو چا یا کوم څیز) په عام یا رسمي ډول تأیید.

**تنفیذ:** په اغېزمنتیا سره سرته رسول.

**مستحق:** د یو شی قانوني ادعا درلودل.

**د انحصار قاعده:** هغه قاعده یا اصل چې د هغه پر بنسټ باندې د قانوني وسیلو له لارې شواهد ساتل کېږي او دا چې بد باور په محکمه کې جرم نه ګڼل کېږي.

**په فرد پورې تړلی:** په یو فرد یا ډلې پورې تړل شوی.

**اجرا کول:** په بشپړه توګه د یو کار یا امر سر ته رسول؛ په بشپړ ډول عملي کول.

**مخکې (ما قبل) ته د قانون رجعت:** د لاتیني اصطلاح" ایکس پوست فکت یا له واقعیت څخه وروسته" چې هغو قوانینو ته اشاره کوي کوم چې د واقعیتونو له وقوع وروسته تصویبیږي او هغه غیر قانوني کوي که څه هم د تصویب په مهال هم قانونی وو، یا د جرم له وقوع وروسته دهغه جریمه زیاتوی. پدې ترتیب، نوی قوانین د هغو جرایمو په هکله د تطبیق وړ نه دی کوم چې د هغو د مخه تصویب شوي وو.

**فدرال:** د حکومت له بڼو څخه یوه ده چې په هغه کې قدرت د مرکز او محلي اداري واحدونو تر منځ ویش شوی وي.

**امانتي دنده:** امانتی قانوني دنده چې د اخیستونکي ګټې په ښه توګه تر سره کوي.

**رسمي عدلي سیستم**: همدارنګه د قضائیه قوی په نوم هم یادیږي او دا سیستم رسمي دولتي محکمې په بر کې نیسي.

**د لارې پر سر هلک:** د لارې پر سر نوی زیږیدل شوی او پرېښودل شوی ماشوم.

**د والي له لورې:** د والی له لوري یا په هغه پورې تړلی.

**د آزادي حکم:** د توقیف یا زندان په ځای کې قاضي ته د عدالت غوښتنې لیک، او قاضي پدې هکله چې آیا په زندان یا توقیف کې د تورن د ساتلو لپاره کوم قانوني بنسټ شته، محکمه دایروي. د آزادي حکم د ناقانونه بند په وړاندې دی کله چې یو تورن له تور پرته په بند کې ساتل کیږي.

**شایعه:** دوهم لاس شواهد چې په هغه کې خپله عامل هغه څه چې پوهیږي نه وایي بلکه هغه چې نورو ده ته ویلي دي خلکو ته وایي.

**افقي اثرات:**د خصوصي اتباعو تر منځ اړیکې.

**د قواوو افقي تفکیک:** د فدرال حکومت د مختلفو ارکانو ترمنځ د قدرت تفکیک دی.

**بشری حقونه:** هغه بنسټیز او څرګند حقونه دي چې یو فرد یوازې د انسانیت له مخې له هغو څخه برخمن دی.

**د بشري حقونو مباحثه(ګفتمان):** د سیاسی،علمي او فعالو ټولنو له لوري د بشري حقونو بحث او خبرې اترې.

**حکمي اشخاص**: "حکمي" د جسم یا بدن نشتوالی، د نه حس کولو وړ، له فزیکي موجودیت پرته مفهوم ورکوي. دا اصطلاح زیاتره په سازمانونو او ادارو او کار او بار پورې تړل کیږي چې د قانوني موخو لپاره د "شخصیت" درلودونکی وي.

**غیر مستقیم:** له مستقیمې لارې څخه کړوالی.

**د غیر رسمي عدالت سیستم:** که څه هم کېدای شي د لور او زوی ترمنځ دشخړې د حل او فسل لپاره د مورد او پلار پرېکړه غیر رسمي عدالت وګڼل شي، دا اصطلاح په دودیز ډول د اختلافونو د حل او فصل لپاره جرګو، شوراګانو او همدا شانې نورو دودیزو او قبیلوی لارو چارو ته اشاره لري.

**انفراسترکچر (تاسیسات):**بنسټ یا بنسټیز چوکاټ، په ځانګړې توګه د عامو کارونو لپاره لکه سړکونه او پلونه.

**تېری:** د نورو په حق باندې لاس اچول چې قانون منع کړي وي.

**وسیله:** (په حقوقي متن کې) رسمي قانوني سند ته ویل کېږي.

**ټړل:** د بل څیز/فرد سره د ټکر مخنیوی یا د یو څیز آزمویل: مثال، شرکت هڅه کوي تر څو په سیمه کې ځان له سیاسي اړ او دوړ څخه جدا وساتي.

**د بشري حقونو بین المللي تړونونه او اعلامیې:** د بشري حقونو نړیواله اعلامیه، د مدني او سیاسي حقوقو بین المللي میثاق، د اقتصادي ؛ ټولنیزو او کلتوري حقونو بین المللي میثاق. په ټوله کې هغه د بشري حقونو بین المللي منشور په توګه یادول کېږي.

**د مدني او سیاسي حقوقو بین المللي میثاق (ICCPR)**: دا لوی تړون د مدنی او سیاسی حقونو جاج اخلي او په ۱۹۷۶ کال کې نافذ شو.

**د اقتصادي،ټولنیزو او کلتوري حقوقو بین المللي میثاق(ICESCR**:د لوی تړون اقتصادي، ټولنیز او کلتوري حقونه څېړی او په ۱۹۷۶ کال کې نافذ شو.

**استیضاح:**د رسمي اقدام او یا تګ لارې او رفتار په هکله رسمي پوښتنې کول (مثال بهرنیو چاورو له وزیر څخه).

**تفسیر:** د معنی یا د یو څیز د اهمیت تثبیت یا توضیح.

**واټن:**د پېښو ترمنځ موده.

**قضایی خپلواکي:**یوه نظریه ده چې قاضیان په انفرادي ډول او قضائیه قوه د کل په توګه باید خپل کار د نورو له نفوذ پرته ترسره کړي. همدارنګه دا اصطلاح، په یو شمېر قانوني ضمانتونو لکه د ملاقاتونو قرار، د محکمې او تصدي احضار کولو ته اشاره لري چې د خارجیانو په وړاندې قرار لری.

**د قضایی واک حوزه:** دا اصطلاح په محکمه کې په دوه مفهومه کارول کېږي: په عام مفهوم، په ټاکلو مواردو کې د خپل واک د عملي کولو لپاره د یوې محکمې مجمل حق، (۲) په خاص مفهوم، په یوه ټاکلې

موضوع کې د یوې محکمې د واک د عملي کولو حق ته وایي. په بل عبارت، د نظر وړ موضو ع،د ملکیت پر سر لانجه، او یا د یو حکم یا فرمان تفسیر په هکله د یوې محکمې واک یا صلاحیت.

**توجیه شوی:** درست اثبات شوی، په حق یا معقول.

**قانون:** قانون یا د قوانینو ټولګه چې د مقننه قوې له لوري تصویبیږي.

**مسؤلیت:** د یو شي لپاره قانوني مسؤلیت.

**لیبرالیزم:** یو سیاسی او اقتصادي دکترین دی چې په فردی حقونو آزادی ګانو او د حکومت د قدرت پر محدودولو باندې ټینګار کوی.

**قضایی دعوا:** د قضایی یا محکمه ای سیالی له لارې حقوقي رقابت.

**لویه جرګه:** ځانګړی ارګان دی چې د ملي شورا د دواړو جرګو له غړو، او د ولایتونو او ولسوالیو له مشرانو څخه جوړه ده. دا بنسټ د لویو مسلو ارزوني او په اساسي قانون کې د تغییر راوستلو واک لري.

**قیمومیت:** د کړني واک چې رای ورکوونکی یی خپلو انتخاب شوو مشرانو ته ورکوي.

**میکانیزم:** یو بهیر یا سیستم دی چې د یوې ټاکلې نتیجې د تولید لپاره کارول کیږي: (الف) پوهان د بدن میکانیزم د وزن د کنترول په مقصد مطالعه کوي، (ب) هیڅ میکانیزم د نوي قانون د تطبیق لپاره نشته، (ج) د لابیستانو (مرکچیانو،استازو) د ناعادلانه نفوذ څخه د مخنیوی لپاره قانوني میکانیزم.

**مشرانو جرګه:** د افغانستان د ملي شورا علیا مجلس یا جرګه.

**منفی حقونه:** د یو شخص له لوری د یو عمل د تر سره کولو په لاره کې د خنډ د نه رامنځ ته کولو په اړوند د دولت مکلفیت.

**ثابت یا د نه فسخ کیدلو وړ حقونه: دا** حقونه هومره مهم دي چې آن د جګړې یا اضطراري حالت په مهال هم د محدودولو وړ نه دي. دا حقوق عبارت دي له: (الف) د ژوندانه حق، (ب) له شکنجې یا د سپکاوي اوغیر انساني رفتار یا مجازاتو څخه د آزادئ حق، (ج) له مرېتوب یا غلامي څخه د آزادئ حق او (د) اومخکې ته د قانون عطف له کارولو څخه آزادي.

**قواعد:**د رفتار، عمل یا سیاست په برخه کې عام منل شوي ستاندار‌دونه یا معیارونه.

**د عدالت غوښتنه:**د رسمي دعوا او د هغه ضد دعوا یو ډول چې په متناوب ډول د طرفینو له خوا په یو حقوقي اقدام کې عنوان کیږي. د عدالت شفاعت غوښتنه معمولاً لیکل شوی بڼه لري.

**عمومی (غونډه):** په ټولیزه توګه په یوه ناسته کې حاضرېدل یا د غونډې جوړېدل د ټولو کسانو له لوري چې پدې کې مسؤلیت لری.

**اکثریت:** په هغو انتخاباتو کې چې له دوو نوماندو څخه زیات کسان ګډون کوي د یو نوماندی یا کاندید لپاره د رایو مجموعي ته ویل کېږي. دا رایې لزوماً له نیمایی خخه زیاتې نه وي بلکه د کاندیدانو ترمنځ یو تربله اکثریت وي.

**د حکومت کولو طریقه:** یو سیاسی سازمان یا سمون شوی سیاسی زمان ته ویل کېږي.

**د خلکو حاکمیت:** په سیاسی بحث کې یوه نظریه ده چې د هغه له مخې حکومت د خلکو د ارادې له مخې جوړ او په هغو پورې تړلی وی.

**مثبت حقونه:** د یو چا لپاره د یو کار تر سره کولو په اړه د دولت مکلفیت.

**پخوانی (قضایی رویه):** ویل شوی یا تر سره شوی یو کار چې د یو کار د ترسره کولو یا دورته یو عمل د توجیه لپاره د بېلګې په توګه کارول کېږي. په قانوني مفهوم یوه فیصله شوې قضیه ده چې د ورپسی ورته حقایقو او مسلو درلودونکي قضیو د ټاکلو لپاره بنسټ جوړوي.

**تجویز:** د یو لاربنود یا طرز العمل په توګه وضع کول.

**د بی ګناهی اصل:** په جرم باندی د تورن وګړي اساسي حق د محکمی تر پریکړی پوری بی ګناه ګڼل کیږي. څارنوال باید په یقیني توګه د شواهدو په اساس د تورن جرم په اثبات ورسوي.

**تدریجي پلي کول:** داسې یو الزام دی چې له مخې یې حکومت باید په چټکۍ او اغېزمنتوب سره د اقتصادي، ټولنیز او کلتوری هدف د تحقق په لوري حرکت وکړی او دا یقیني کړي چې په شا تګ ته هېڅ حرکت نه شته.

**متناسب:** هغه شمېر چې د یوې ډلې د ونډې سره انډول دی. له کل متناسبه ونډه.

**دفاع یا ساتنه:** د ټپی کېدلو، زیان رسېدلو یا تخریب له ګواښ څخه تر پوښښ لاندې راوستل.

**ولایت:** د نظر وړ موضوع یا سیمه چې په هکله یی فرد معلومات لري یا ښکېل وي، معمولاً پدې مفهوم سره په مفرد حالت کې کارول کېږي: (الف) دا یوه حقوقي پوښتنه ده چې زما له ولایت څخه د باندې قرار لري(یعني دا چې زما په مسلکي معلوماتو پورې اړه نه لري)، (۲) په هغه عرصه کې مطالعه یو وخت د پوهانو انحصاري ولایت وو.

**حکم:** په یوه سند یا قانون کې له یو جز یا بند څخه عبارت دی چې د یوې ټاکلې موضوع په هکله بحث کوی.

**د نصاب حد:** د یو سازمان د چارو د پرمخ بېولو لپاره د یو بنسټ یا نهاد د غړو ټاکلې او ضروري شمېر. د ملي شورا د غړو حد اقل شمېر چې د یو قانون د تصویب لپاره اړین وي.

**ونډه:** د قانون له مخې د اړتیا وړ شمېره.

**تصويب:** د تأييد يا تحريم رسمي عمليه.

**ټول پوښتنه:** د مقننه قوې يا د عامه ابتکار له طريقه د خلکو د نظر او تأييد لپاره د يو اصل يا عمل تر سره کېدو موضوع وړاندې کول.

**مقررات:** د حکومتي بنسټونو له خوا په ملي او ځايی کچو باندې صادر شوو اصولو او قواعدو ته وايي.که څه هم هغه قوانين نه ګڼل کېږي خو د قانون اعتبار لري ځکه چې هغوی د موضوعه قوانينو د اعتبار له مخې صادرېږي او زياتره د سرغړونو د مجازاتو لپاره وي.

**متناقض:** مخالف يا د ... سره نه پخلاکېدونکی، يا ... متناقض("د محکمې تفسير د قانون د جمله بندی سره صريح متفاوت وو.")

**ترميمي عدالت:** د اختلاف حل پداسې طريقه چې هدف يې د متخلف او قرباني او همدارنګه د متخلف او ټولنې ترمنځ د اړيکو بيا جوړونه وي.

**بډې کول:** هر عمل چې د محدودولو او د کوم څيز د مخنيوی لپاره تر سره کېږي.

**وروستنی سيالي:** وروستنی مسابقه، رقابت يا د مخکنيو بې پايلو انتخاباتو په هکله پريکړه کول.

**ضمانتونه:** د وګړو او د هغو د ګټو د دفاع لپاره احتياطي اقدام.

**خود کاره معاملې:** آزادې مالي معاملې، په ځانګړي ډول د يو فرد له لوري يو شرکت څخه پور اخيستل يا پور ورکول داسې چې د هرڅه مخکې پخپله د فرد په ګټه وي.

**ځان بداينه:** د يو شخص د سرچينو د زياتوالي عمل يا بهير.

**حاکميت:** په يوه قلمرو کې تر ټول لوړ قدرت.

**تخصص يا کارپوهي:** په ټاکلي فعاليت، عرصه يا عمل کې د يوه فرد هلې ځلې.

**شطرنجي:** په بېلا بېلو ځايونو کې د څيزونو ځای په ځای کول او يا په مختلفو و ختونو د يوعمل تر سره کول.

**غړي هېوادونه:**هغه هېوادونه چې بين المللي تړون يا د کنوانسيون لاسليک او تصويب کړي.

**ذهنی:** تر شخٌصی ليد، تجربې يا پسمنظر تر اغيز لاندې راتلل.

**رانسکورول:** (۱) د يو حکومت، سياسي نظام او داسې نورو د چپه کولو يا خرابولو لپاره پټې هلې ځلې(" هغوی د حکومت د چپه کولو لپاره توطيه وکړه")، (۲) کوم څيز کمزوری يا بې اغېزې کول.

**اضافی:** چې ورته اړتيا نه وي، له بريده زيات.

**شکمن:** په جرم یا سرغړونې باندې تورن شخص.

**د ځنډولو سیستم:** په مؤقت ډول تم کول، د یو قانون یا یوې قاعدې لنډ مهاله ځنډ.

**تېکېت:** د نوماندی یا انتخاباتو لپاره نوماندي.

**معیار:** بنسټیزه برخه یا ځانګړتیا.

**استبداد:** ځپونکی قدرت چې د حکومت له لوري اعمالیږي.

**یو مجلسه مقننه قوه:** هغه مقننه قوه چې یو مجلس ولري.

**یو اړخیز:** د یو فرد یا یو ګوند له لوري اجرا شوی.

**د بشر حقوقو نړیواله اعلامیه (UDHR):** د بشري حقونو نړیواله اعلامیه چې په ۱۹۴۸ کال کې تصویب شوه.

**عمودي لاملونه:** د دولت او خصوصي اتباعو تر منځ اړیکې.

**د قدرت عمودي تفکیک:** د فدرالي او ځایي حکومتونو ترمنځ د قدرت بېلتون.

**د وېټو حق:** د یوې ادارې یا رکن د پروژو د اجرا د مخنیوي یا دایمی یا مؤقت ممنوعیت لپاره د یوې ادارې یا د حکومت د یوه رکن واک، په ځانګړې توګه اجرائیوِی مدیر ته د مقننه قوې له خوا د تصویب شوو اقداماتو د عملي کېدو دایمي یا مؤقت مخنیو په خاطر د واک سپارل.

**ولسي جرګه:** د افغانستان ملي شورا لاندېنی مجلس.